د سرلیکنې پرځای:

ننګرهــار پــوهنتون؛

د لوړتیا او پرمختیا پړاوونه وهي

دا یو څرګند او ټولمنلی حقیقت دی، چې پوهنتونونه د یوه هېواد په رغښت او پرمختګ کې بنسټیز رول لري، او په یاده برخه کې یې له اغېزمنتیا سترګې نشي پټېدلی؛ ننګرهار پوهنتون هم د یوه ستر پوهنیز مرکز په توګه د تاسیس له مهاله تر دې دمه د لسګونو زرو علمي کادرونو په روزلو سره د هېواد د رغنیز بهیر او پرمختګ په برخه کې رغنده او برخلیک ټاکونکی رول لرلی او لاهم پر دې ډګر چټک ګامونه اخلي، چې له وروستیو نوښتونو او لاسته راوړنو یې په لنډه توګه یادونه کوو:

- د حقوقو او سیاسي علومو په پوهنځي کې د ماستری دورې پیل او پرانیسته
- د شرعیاتو پوهنځي کې د ماستری د دویمې دورې پیلېدل
- د اقتصاد، ژبو او ادبیاتو او دغه راز د شرعیاتو پوهنځي د فقهې او قانون په څانګه کې د یاد پروګرام د پیلېدو هڅې
- د ښوونې او روزنې، حقوقو او اقتصاد په پوهنځیو کې د شپې پوهنځي د پروګرام پیل
- د لسګونو په شمېر کې د ځوانو علمي کدرونو تقرر او د ماستری او دوکتورا په موخه د نړۍ معتبرو پوهنتونونو ته د یو شمېر نورو استاذانو لېږل
- په روان کال کې په بېلابېلو مسلکونو کې د دوه زره علمي کادرونو فارغول او د (۴۵۰۰) نویو محصلینو جذب او منل
- د څوارلسم پاسانو د اختصاصي کانکور اخیستل، چې په پایله کې (۳۷۲) تنه د ننګرهار، کونړ او لغمان پوهنتونونو ته بریالي شول.
- د کرنې او ادبیاتو پوهنځیو د ودانیو جوړېدل
- د لیلیې لپاره د درېوو سترو بلاکونو د جوړېدو د چارو پیل
- د پوهنتون د انکشاف او د استاذانو ښارګوټي لپاره د درې سوه هکټاره ځمکې ترلاسه کول
- د شرعیاتو پوهنځي لپاره د ودانۍ جوړېدو پیلامه

او ګڼې نورې پوهنیزې بریاوې او رغنیزې لاسته راوړنې هغه څه دي چې د ښې او روښانه راتلونکې زیری راکوي، چې په دې برخه کې د قدرمنو او معززو استاذانو، اداري کارکوونکو او مرستندویه ادارو د نه ستړي کېدونکو هلو ځلو مننوی یو؛ او مونږ ډاډمن یو چې دا بهیر به لا پیاوړی او پرمختللی شي. په پای کې د پوهنتون پر اداري کارکوونکو، استاذانو او محصلینو غږ کوم چې د خپلو مسوولیتونو په درک او ترسراوي خپل رسالت د خدای (ج) او ولس په وړاندې په ښه توګه ادا کړي.

په هېواد کې د تلپاتې سولې او پرمختګ په هیله

دوکتور محمدصابر

د ننګرهار پوهنتون رئیس

پوهنمل دوکتور عزيزالرحمن (مکي)
شرعياتو پوهنځی- اسلامي تعليماتو څانګه

د نارينه او ښځينه مساوات د (ناقصات عقل و دين) حديث په رڼا کې

لنډيز:
په دې ليکنه کې چې د نارينه او ښځينه مساوات د (ناقصات عقل و دين) حديث په رڼا کې تر سرليک لاندې ليکل شوې، په جهنم کې د ښځو د زياتوالي وجوهات، د عقل او دين نيمګړتيا او د هغې دلايل، د نوموړو نيمګړتياوو اړوند شرعي احکام څېړل شوي دي. دغه راز د بحث او څېړنې په پای کې د حديث په هکله يو څو شبهات ذکر او د هغې ځوابونه ويل شوي دي.

سريزه:
اسلامي شريعت دی چې ښځه يې د کرامت او عزت څښتنه ګرځولې، اسلام ښځې ته د عزت او مقام له لحاظه هيڅ نه دي کم کړي، بلکې هغه يې د مکمل انسان په ډول مکرمه وګرځوله. د ښځې د عقل او دين نيمګړتيا په هکله چې په نبوي سنتو کې کومه لارښوونه شوې، هغه د ښځو پر وړاندې کوم عيب او د بدۍ خبره نه ده، بلکې يو حقيقت دی چې د تکوين او خلقت له مخې پکې د ښځې کمي او نقصان ته اشاره شوې ده. الله جل جلاله ښځې ته ځانګړی خلقت او صفات ورپه برخه کړي او نارينه ته ځانګړی خلقت او صفات چې د دنيوي او اخروي مسئوليتونو په هکله دواړه يو ډول حقوق لري.
دا چې په حديث شريف کې ښځو ته د عقل او دين د نيمګړتيا نسبت شوی، دا خبره د اسلامي شريعت د توهين او بې عدالتۍ لپاره کارول يوه بې ځايه خبره ده، ځکه چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم حديث (ويناوې او کړنې) د اسلامي شريعت دويم مصدر او الهي وحې ګڼل کېږي؛ هلته چې الله جل جلاله يې په اړه داسې فرمايي: ((وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوَى. إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَى)). (۱)
ژباړه: او (محمد صلی الله عليه وسلم) له هوی او هوس څخه خبرې نه کوي، قرآن او حديث د الله د وحې څخه پرته بل څه نه دي چې هغه ته کېږي. (۲)
نو ددې پر ځای چې دين ته د سپکاوي او نيمګړتيا نسبت وکړو، بايد چې د حديث په اصلي مفهوم او د اسلامي شريعت پر اصلي روح او حقايقو ځان پوه کړو، تر څو د دنيا او آخرت د کاميابيو مستحق وګرځو. د يادو ملحوظاتو په منظور مې په حديث کې ذکر شوې موضوع د څېړنې لپاره غوره کړه چې په اړه يې د علماوو په نظرونو او صحيحو څېړنو پوه شو.

موخې:
ددې بحث څخه موخه او مقصد د عصري ټکنالوژۍ او علمي څېړنو پر بنسټ د يو شرعي حقيقت اثبات او د اسلام د مقدس دين څخه دفاع ده او پر هغو کسانو رد دی چې د اسلام د مقدس دين حقايقو ته د شک او تردید په سترګه ګوري.
د نارينه او ښځې مساوات د (ناقصات عقل و دين) حديث په رڼا کې:
نبوي احاديث د اسلامي شريعت دويم مصدر او الهي وحې ده، ځکه چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم وينا.... او د الله تعالی د حکم سره سم د اسلامي شريعت تمثيل کوي چې په اړه يې پروردګار فرمايي: ((وَ مَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوَى. إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَى)). له دې کبله کوم شی چې په نبوي مقبولو احاديثو ثابت وي، هغه حق دی. په ښځو کې د عقل نقصان يو له هغو شرعي حقايقو څخه دی چې په صحيحو احاديثو ثابت دی او د يو بديهي حقيقت بڼه يې غوره کړې ده او نننيو علمي څېړنو هم ثابت کړی دی، خو په نننۍ نړۍ کې چې د نارينه سره د ښځو د مساوات موضوع ډېر رواج موندلی، داسې کسان شته چې د دواړو جنسونو تر منځ په تفاوت باور نه لري او په دې عقيده دي، که چېرته ښځې ته د نر په څېر زمينه برابره شي، د نارينه په شان

کردار به اداء کړي. يو شمېر مسلمانان هم ددغه ډول افکارو تر اغېزې لاندې راغلي او دغو شرعي حقايقو ته د شک په سترګه ګوري، له دې کبله مې وغوښتل چې په دې هکله يوه ليکنه وکړم او په دې هکله د علماوو اقوال او د ښځې او نارينه ترمنځ د توپيرونو په اړه تازه علمي څېړنې ذکر کړم.

د (ناقصات عقل و دين) حديث تخريج او ژباړه:

نوموړی حديث د ابوسعيد خدري، عبدالله بن عمر، ابوهريرة او عبد الله بن مسعود رضی الله عنهم څخه روايت شوی دی چې دلته يوازې د ابوسعيد خدري رضی الله عنه روايت د متن په ذکر کولو او د نورو رواياتو په تخريج سره اکتفاء کوو:

((عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ خَرَجَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم فِي أَضْحًى. أَوْ فِطْرٍ إِلَى الْمُصَلَّى فَمَرَّ عَلَى النِّسَاءِ فَقَالَ يَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ تَصَدَّقْنَ فَإِنِّي أُرِيتُكُنَّ أَكْثَرَ أَهْلِ النَّارِ فَقُلْنَ وَبِمَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ تُكْثِرْنَ اللَّعْنَ وَتَكْفُرْنَ الْعَشِيرَ مَا رَأَيْتُ مِنْ نَاقِصَاتِ عَقْلٍ وَدِينٍ أَذْهَبَ لِلُبِّ الرَّجُلِ الْحَازِمِ مِنْ إِحْدَا كُنَّ قُلْنَ وَمَا نُقْصَانُ دِينِنَا وَعَقْلِنَا يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ أَلَيْسَ شَهَادَةُ الْمَرْأَةِ مِثْلَ نِصْفِ شَهَادَةِ الرَّجُلِ قُلْنَ بَلَى قَالَ فَذَلِكَ مِنْ نُقْصَانِ عَقْلِهَا أَلَيْسَ إِذَا حَاضَتْ لَمْ تُصَلِّ وَلَمْ تَصُمْ قُلْنَ بَلَى قَالَ فَذَلِكَ مِنْ نُقْصَانِ دِينِهَا)).

ژباړه: ابو سعيد خدري رضی الله عنه وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم د لوی (يا کوچني) اختر په ورځ د اختر د لمانځه د اداء کولو لپاره ولاړ، (د لمانځه له اداء کولو وروسته) د ښځو د ناستې ځای ته ورغی او هغوی ته يې داسې وعظ او نصيحت وکړ: ای ښځو! صدقه وکړئ، ځکه چې ماته را وښوول شوی چې د دوزخيانو زياته برخه تاسې ياست؛ ښځو د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه چې ولې موږ زياتې دوزخيانې يو؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته په ځواب کې وفرمايل: تاسو لعنت ډېر وايئ او د مېړه (خاوند) نافرماني کوئ، ما ستاسو په شان بل داسې ناقص العقل او ناقص الدين مخلوق نه دی ليدلی چې د قاطعيت او جديت خاوند (نارينه) ته فريب ورکوي؛ ښځو پوښتنه وکړه: زموږ د عقل او دين نقصان په څه کې دی؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل: آيا د ښځې شاهدي د نارينه د شاهدۍ په نيمايي نه ده؟ هغوی وويل: هو همداسې ده، رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل: دا يې د عقل نقصان دی او د حيض په وخت کې لمونځ نه کوئ او روژه نه نيسئ، همداسې نه ده؟ ښځو وويل: هو، رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل: دا يې د دين نقصان دی. دا حديث امام بخاري (٩م ١١٢)، امام ابن خزيمة (٥ج٣/م٢٢٨) ، امام ابن حبان (٣ج ٧/ م٤٩٩) او امام ابوبکر البيهقي (١١ج١/م٣٠٨) روايت کړی دی. د عبدالله بن عمر حديث، امام مسلم (٢٤م م٨٧-٨٢)، امام ابوداود (٧ج٣/م م٢٢٠-٢١٩)، امام ابن ماجه (٢م١٣٣٢) او امام احمد بن حنبل (٨ج٢/ م٦٦) روايت کړی دی. د ابوهريرة حديث امام ترمذي (١٢ج٥/م١١) او امام ابن خزيمه (٥ج٢/ م١٠١) روايت کړی او د عبدالله بن مسعود حديث امام حاکم (١٣ج ٤/م م٢٠٣-٢٠٢) روايت کړی دی. د يادونې وړ ده چې ددغو احاديثو په منځ کې يوازې د ابوسعيد خدري په حديث کې د وخت ذکر راغلی چې هغه د اختر ورځ وه او په نورو احاديثو کې بيا دا خبره نشته.

د عقلي نقصان حقيقت او په دې هکله د علماوو نظريات:

په ذکر شوي حديث کې د ښځې نقصان د نارينه په پرتله په دوو شيانو کې ذکر شوی، په عقل او دين کې او دواړه ډوله نقصانونه په حديث کې تفسير شوي هم دي.

د عقلي نقصان حقيقت:

عقل عربي کلمه ده او په عربي ژبه کې د نيولو، تړلو او بندولو معنی لري، په عربي ژبه کې وايي: عَقَلَ البَعِيرَ، يعنې اوښ يې ونيو، ويې تاړه او بندي يې کړ. (١٥ج٣٠/م٣٩)

له دې کبله عقل خپل خاوند د خطا او ښويېدنې څخه ساتي او عاقل هغه چاته ويل کېږي چې د رشد، حکمت او قاطعيت خاوند وي، د خپل نفس کنترول وکولای شي او د نفسي خواهشاتو له پيروۍ يې وژغوري. امام ابوالعباس القرطبي په دې هکله وايي: ((د عقل تقاضا په چارو کې ډاډمن کېدل، څېړنه او اوچتې مرتبې ته له رسېدلو څخه عبارت دی، چې ښځې غالباً په دې چارو کې د نارينه سره اختلاف لري)). (١٩ج٤/م٣٢)

د همدې تعريف په اساس د ښځو عقلي قوه د نارينه په پرتله يوه درجه کمه ده چې دغه نقصان په حديث شريف کې د ښځې د حافظې په کمزورۍ تعبير شوی دی، يعنې دا چې د ښځې حافظه د نارينه په پرتله کمزورې ده او معلومات هغسې نه شي

حفظ کولای چې نارینه یې حفظوي، بلکې ترې هیرېږي، نو له دې کبله د ښځې شاهدي د نارینه په نیمایي ده، ځکه د هغې عقلي کنټرول د نارینه په پرتله کم دی، هغسې چې په آیت شریف کې په صراحت سره راغلي دي: ((أَنْ تَضِلَّ إِحْدَاهُمَا فَتُذَكِّرَ إِحْدَاهُمَا الْأُخْرَى)). (۱سورت البقرة۲۸۲آیت)

د آیت معنی داده که چېرته ښځه د شاهدۍ ورکولو په وخت کې ځینې هغه تفصیلي جزئیات هیر کړي چې د صحیحې شاهدۍ تقاضا ده، نو بله ښځه به یې ورپه یاد کړي. په ښځو کې د هیرېدو علت د انفعال غلبه ده، انفعال د ښځو له ځانګړتیاوو څخه یوه ځانګړتیا ده، تر څو وکولای شي چې د هغې پورې اړوندې چارې ترسره کړي، ځکه هغه د کور دننه د چارو سمبالوونکې او مهربانه مور ده او په دې دواړو چارو کې د کامیابۍ راز د انفعال په صفت کې نغښتی دی، چې ثمره یې پر ماشوم مهرباني او د پلار پالنه او د ژوند د مشکلاتو ګالل او په پراخه سینه د مورتوب او ښځېتوب د تکلیفونو تحمل دی. (۲۳م۷)

البته په اوسني عصر کې ځینو دغه نقصان په عقل باندې د عاطفې پر غلبې سره تفسیر کړی (۱۷م ۱۴۷)، یعنې دا چې الله تعالی نارینه ته داسې عقلي قوه ورکړې چې کولای شي خپله عاطفه او نفسي خواهشات تر کنترول لاندې راولي، خو ښځې بیا ددې برعکس دي، د هغوی پر عقل عاطفه غالبه ده. البته نوموړی نقصان د مجموع په اعتبار دی، نه دا چې د هرې ښځې عقل د هر نارینه څخه کم دی، ځکه چې ډېرې داسې ښځې شته چې پر ډېرو نارینه و برتري لري او دا دلیل ته اړتیا نلري. د عقل بله معنی داده چې (هغه روحاني قوت چې نفس پرې ضروري او نظري علوم درک کوي). (۱۵ج۳۰/م۳۹)

امام غزالي بیا عقل د روح، زړه او نفس د معنی سره مساوي ګڼي، هغه د روح په هکله وایي: ((هغه د انسان په بدن کې لطیفه نړۍ او درک کوونکی جز دی، دا د پروردګار یو عجیب امر دی چې زیات عقلونه او ذکاوتونه یې د حقیقت له ادراک څخه عاجز دي)). (۱۸ج۸/م۷)

ددې دوو پوهانو له نظره عقل د انسان په بدن کې ادراک کوونکی جز دی او که د دوی د تعریف پر بنسټ د عقل حقیقت ته وګورو او بیا یې د نارینه او ښځې پر واقعي حالت تطبیق کړو، وبه ګورو چې د نارینه د ادراک قوت د نوعیت له لحاظه د ښځې په پرتله زیات دی، چې علمي څېړنو هم دغه حقیقت د یو شمېر نورو حقایقو سره ثابت کړی دی چې په لاندې ډول بیانېږي:

یوه علمي طبي څېړنه رابنیي چې د ښځې د عضلاتو مجموعي شمېره د نارینه په پرتله کمه او د قوت له مخې د دریمې برخې په اندازه کمزوري دي؛ د ښځې زړه د متوسط نارینه په پرتله وړوکی او وزن یې ۲۰ ګرامه کم دی، نارینه د زیات ذکاوت او ادراک خاوند دی، خو ښځه بیا ډېره انفعالي ده.

دوو نورو څېړونکو نیکولیس او بیلیه لیکلي چې د ښځې پنځګوني حواس د نارینه په پرتله کمزوري دي او د متوسط نارینه ماغزه د ښځې په پرتله ۱۰۰ ګرامه زیات دي، د نارینه ماغزه د هغه د بدن څلو ښتمه برخه تشکیلوي، په داسې حال کې چې د ښځې ماغزه د هغې د بدن څلورڅلو ښتمه برخه تشکیلوي. (۱۰م۲۴۰)

د کالیفورنیا پوهنتون ته ډاکترې الیانور ماکوبي یو څېړنیز بحث وړاندې کړی چې په هغې کې یې د ښځې او نارینه ترمنځ عقلي اختلافات بیان کړي دي، په بحث کې راغلي: (نتایجو ښودلې چې په هلکانو کې د ذکاوت کچه د نجونو په نسبت لوړه ده، څېړونکي ددې سبب د ښځو په عقل کې د تحلیلي صفاتو کموالی ښیي). (۲۱ م۴۳۰)

دغه راز یو څېړنیز بحث چې آن موير (Anne Moir) او دیوید جیسیل (David Jessel) د (د دماغ جنس Sexo Cerebral) تر عنوان لاندې په یو کتاب کې خپور کړی او په هغې کې یې د دواړو جنسونو ترمنځ د توپیرونو په هکله تازه څېړنه کړې او نوي حقایق یې بیان کړي، ما د نوموړي کتاب عمده مطالب د هغې د عربي ژباړې (جنس الدماغ) څخه راخیستي؛ د کتاب په سریزه کې راغلي (نارینه د ښځې سره توپیر لري او دواړه جنسونه په بشري جنس کې د عضوي مشترکاتو پرته نور هیڅ سره مساوي نه دي او دا ادعاګانې چې دواړه جنسونه په توانونو، مهارتونو او سلوکیاتو کې سره ورته والی لري، ددې معنی لري چې موږ د داسې یوې ټولنې په جوړولو بوخت یو چې بنسټ یې بیولوژیکي او علمي درواغ دي. دواړه جنسونه سره توپیر لري، ځکه چې دماغونه یې سره توپیر لري، دماغ چې په ژوند کې اداري او عاطفي چارې کنترولوي، په دواړو

جنسونو کې يې ترکيب سره توپير لري، له دې کبله يې د معلوماتو سره د تعامل طريقه هم توپير لري چې په پای کې په مفاهيمو او اولويتونو او سلوک کې د اختلاف سبب ګرځي. د څېړنې غټ ټکي دا دي:

۱- د نارينه او ښځې د دماغ ترکيب او شکل سره توپير لري.

۲- د نارينه د دماغ ترکيب د ښځې په پرتله محکم او فعال دی، کولای شي چې بصري، مکاني او رياضي تفکير اړوند معلومات ښه تحليل کړي او د ښځې دماغ بيا د دقت، تعقيب او ژر خبرو کولو خواص لري او د دماغ د دواړو اړخونو ترمنځ يې تړاو قوي دی، چې اغېزه يې په هغو لاسې مهارتونو کې څرګند ېږي چې د دواړو لاسونو استعمال ته په کې اړتيا وي، خو دغه تړاو کله کله بيا د ګډوډۍ او ځينو خنډونو سبب هم ګرځي.

۳- البته له دې سربېره د دواړو جنسونو ترمنځ نور توپيرونه هم شته چې د ښځې په پرتله د نارينه برتري ښيي، هغوی په دې هکله ليکلي چې د نارينه د جسم حجم د ښځې په پرتله غټ، اسکليټ يې قوي او غاښونه يې کلک دي. نوموړيو په پای کې ددې يادونه هم کړې چې کېدای شي ځينې سياستمداران او د دواړو جنسونو ترمنځ د مساوات پلويان به ددې څېړنې د تصديق ترديد وکړي). اهـ(۲م۱۰۲)

له دې څېړنو جوته شوه چې په ښځو کې د عقل نقصان د کميت او کيفيت په لحاظ موجود دی.

ددې نقصان وجوهات:

ښځه د دلايلو په ارايه کولو کې د نارينه په پرتله کمزورې ده او کله چې د دليل په ارايه کولو کې پاتې راشي، نو خپله نيمګړتيا په اوښکو سره جبيره کوي. د نقصان بله وجه يې په زياتو مواردو کې د چل- ول او درواغو څخه کار اخيستل دي، تر څو د رقيب د منطقي قوت پر وړاندې خپله نيمګړتيا تعويض کړي. (۲۳م۷)

ديني نقصان: د دين د نقصان څخه مراد د عبادت نقصان دی، ځکه د حديث د صريحو الفاظو مطابق ښځه د حيض او نفاس په وخت کې لمونځ نه کوي او روژه نه نيسي او د لمانځه قضايي بيا نه راوړي؛ له دې کبله يې عبادت د نارينه په پرتله کم دی، نو دا يې د دين نقصان دی. (۱۹ج۴/م۳۲)

په عبادت کې نقصان د ښځې له اختياره وتلی شی دی، ځکه چې الله تعالی پرې مبتلا کړي او الله تعالی پرې هغه نه نيسي.

د نوموړو نقصانونو اړوند شرعي احکام:

په اسلامي شريعت کې اصل دادی چې نارينه او ښځه د شرعي احکامو په وړاندې يو شان دي، مګر په هغه صورت کې چې شرعي نصوصو د دواړو ترمنځ توپير رامنځته کړی وي. د شرعي نصوصو په رڼا کې ښځه په پنځو شيانو کې د نارينه په نيمايي ده:

۱- شاهدي (ګواهي): دا موضوع د ذکر شوي حديث په مختلفو رواياتو کې په صراحت سره ذکر شوې ده او ددې علت يې د ښځې د حافظې کمزوري ښوولې ده، ځکه چې ښځه معلومات هغسې نشي حفظ کولای چې نارينه يې حفظوي، بلکې ترې هيرېږي او د بلې کومک ته اړتيا لري او له دې کبله يې شاهدي (ګواهي) هم د نارينه په نيمايي ده، ځکه کېدای شي ښځه موضوع هيره کړي، يا ترې کمی او زياتی وشي، نو بله به يې ورپه ياد کړي، هغسې چې الله تعالی فرمايي: ((أَنْ تَضِلَّ إِحْدَاهُمَا فَتُذَكِّرَ إِحْدَاهُمَا الْأُخْرَى)). (۱سورت البقرة ۲۸۲ آيت)

ذکر شوې شاهدي يوازې په مالي حقوقو کې ده.

۲- ميراث: ښځې ته الله تعالی په ميراث کې د نارينه په نيمايي حق ورکړی دی، الله تعالی فرمايي: ((لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ)). (۱سورت النساء،۱۱آيت) يعنې د نارينه حق د ښځې دوه چنده دی.

۳- آزادول (عتق): يعنې دا چې د وينځې آزادول د مريي د آزادولو نيمايي اجر او ثواب لري او د دوو وينځو آزادول د يوه نارينه مريي د آزادولو سره برابر دي، په حديث کې راغلي دي: ((أَيُّمَا امْرِئٍ مُسْلِمٍ أَعْتَقَ امْرَأً مُسْلِمًا كَانَ فَكَاكَهُ مِنَ النَّارِ يَجْزِي كُلُّ عُضْوٍ مِنْهُ عُضْوًا مِنْهُ وَأَيُّمَا امْرِئٍ مُسْلِمٍ أَعْتَقَ امْرَأَتَيْنِ مُسْلِمَتَيْنِ كَانَتَا فَكَاكَهُ مِنَ النَّارِ يَجْزِي كُلُّ عُضْوٍ مِنْهُمَا عُضْوًا مِنْهُ وَأَيُّمَا امْرَأَةٍ مُسْلِمَةٍ أَعْتَقَتْ امْرَأَةً مُسْلِمَةً كَانَتْ فَكَاكَهَا مِنَ النَّارِ يَجْزِي كُلُّ عُضْوٍ مِنْهَا عُضْوًا مِنْهَا)). (۱۲ج۴/ م۱۱۷)

ژباړه: کوم مسلمان بنده چې يو مريي ازاد کړي، د دوزخ له اور څخه به ازاد شي، د آزادوونکي بنده هر اندام د آزاد شوي بنده د هر اندام بدله ده او کوم مسلمان بنده چې دوه وينځې آزادې کړي د دوزخ له اور څخه به آزاد شي، د دواړو آزادو شوو وينځو هر اندام د آزادوونکي بنده د هر اندام بدله ده او کومې مسلمانې ښځې چې کومه وينځه آزاده کړه، د دوزخ له اور څخه به آزاده شي، د ازادې شوې وينځې هر اندام د آزادې کوونکې ښځې د هر اندام بدله ده.

۴- عقيقه: په حديث کې راغلي دي: ((عَنِ الغُلامِ شَاتَانِ وَعَنِ الجَارِيَةِ شَاةٌ)). يعنې د هلک عقيقه دوه پسونه او د نجلۍ عقيقه يو پسه دی. (۲۲ج۷/م۱۲۵)

۵- ديت: په څلورو واړو فقهي مذهبونو کې د ښځې ديت د نارينه د ديت په نيمايي دی. (۱۲ج۷/م۲۲۵)

خو نورې داسې چارې شته چې په هغو کې ښځه د نارينه سره برابره ده، لکه روايت او دغه راز د يوې ښځې شاهدي په هغو چارو کې چې د ښځو پورې ځانګړې دي، لکه د ولادت او رضاع اثبات. (۲۵م۵۹۷)

د حديث په اړه ځينې شبهات او د هغې رد:

ومو ليدل چې حديث صحيح دی او له مختلفو لارو روايت شوی دی، خو سره له دې هم د حديث په هکله ځينې شبهې ذکر شوې دي. د شبهاتو او د هغو د ځوابونو د ذکر کولو دمخه د ښځو د عقل او دين د نقصان په هکله د حافظ ابن حجر عسقلاني د نظر ذکر کول لازم بولم، هغه وايي: ((په ښځو کې د نقصان د ذکر کولو څخه مقصد دا نه دی چې هغوی په دې ملامتې کړئ، دا ځکه چې دا د هغوی په اصل خلقت کې موجود شی دی؛ بلکې مقصد ترې دې ته پام اړول دي چې هغوی فتنې ته متوجې اوسي او له دې کبله يې په حديث کې ذکر شوی عذاب د هغوی په ناشکرۍ (کفران) او نورو امورو مرتب کړی، نه د هغوی په ذکر شوي نقصان، او ديني نقصان په هغه څه پورې منحصر نه دی چې د ګناه په نتيجه کې رامنځته کېږي، بلکې له دې نه عام دی. امام نووي وايي چې ذکر شوی نقصان نسبي دی، ځکه چې اکمل د کامل ناقص دی او له دې کبله ښځه د حيض په موده کې د لمانځه په ترک کولو نه ګناهګارېږي، خو هغه د لمونځ کوونکي په پرتله ناقصه ده. (۴ج۱/م۵۳۶)

لومړی شبهه: د حديث راوي د پېښې وخت په دقيقه توګه نه دی حفظ کړی، چې دا لوی اختر و، که کوچنی؟

ځواب يې دادی چې حديث امام بخاري په خپل صحيح کې روايت کړی او راوي د اختر ورځې څخه متاکد دی، خو دا چې کوم اختر و، په دې هکله يې شک ښکاره کړی او دا ددې معنی نلري چې د ټول حديث په هکله شک رامنځته کړي، ځکه چې د هغې پورې د احکامو هيڅ تړاو نشته او له دې کبله شايد راوي هم ورته ډېره توجه نه وي کړې.

دويمه شبهه: دا حديث نبي عليه السلام د ټوکې (مزاح) په ډول ويلی دی، نه د کوم شرعي حقيقت د اثبات په خاطر.

ددې شبهې په ځواب کې بايد ووايو چې دغه ډول څرګندونې له حقيقت څخه ډېرې لرې دي، ځکه چې هغه مقام د ټوکو او مزاح نه، بلکې د وعظ او نصيحت مقام و؛ هغسې چې د حديث په الفاظو کې په صراحت سره ذکر شوي دي (فوعظهن) او که فرضاً دا ومنو چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ټوکې کولې، نو د هغه ټوکې هم حق او رښتيا دي او د هغه ويناوې له هر ډول درواغو څخه پاکې او بري دي. که خبره يې د ټوکو په مقام کې کړې وي او که د جديت په مقام کې، د خوشحالۍ په مناسبت کې يې کړې وي او که د قهر او غصې په حالت کې، لکه چې له هغه صلى الله عليه وسلم څخه وپوښتل شول:

عن أبي هريرة قال: (قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّكَ تُدَاعِبُنَا قَالَ إِنِّي لا أَقُولُ إِلا حَقًّا). (۱۲ج۴/م۳۵۷)

ژباړه: ابوهريرة رضى الله عنه وايي: صحابه و رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وويل چې ته زموږ سره ټوکې کوې، رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته په ځواب کې وفرمايل: ((زه له حق پرته بل څه نه وايم)). عبدالله بن عمرو بن العاص وايي: ما به د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه هر حديث چې اورېده، هغه به مې ليکه؛ قريشو زه له دې کار څخه منعه کړم، رسول الله صلى الله عليه وسلم ته مې دا خبره وکړه، هغه راته وفرمايل: ((اُكْتُبْ فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ مَا خَرَجَ مِنِّي إِلا حَقٌّ))، او په بل روايت کې راغلي چې ((إِنِّي لا أَقُولُ فِي الْغَضَبِ وَالرِضَا إِلا الحَقَّ)). (۱۴م۱۵۲)

له دې کبله رسول الله صلى الله عليه وسلم که کومه ټوکه کړې ده، هغه حقيقت دی، لکه يوه صحابي ته يې چې وويل: ((د اوښې په بچي به دې سپور کړم))، هغه په دې خفه شو او ويې ويل د اوښې په بچي څه وکړم؟ نو رسول الله صلى الله عليه

وسلم ورته وفرمايل: ((آيا اوښان له اوښې نه دي زېږېدلي؟!)). (۱۲ج۴/م۳۵۷)، نو د رسول الله صلى الله عليه وسلم ټوکې حق دي او درواغ په کې نشته.

دريمه شبهه: د عقل او دين د نقصان خبره يو ځل په حديث کې ذکر شوې او د کوم شرعي مستقل حقيقت د اثبات معنى نه لري.

ددې ځواب دادى چې آيا په نبوي احاديثو کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم له خوا بيان شوي احکام ټول په مکرر ډول بيان شوي دي او دا حتمي ده چې د احکامو اړوند احاديث بايد مکرر بيان شوي وي، دا خبره چا او په کوم کتاب کې کړې ده؟، د محدثينو په نزد د حديث ثبوت مهم دى او دا حديث ثابت دى، ځکه ومو ليدل چې په صحيح البخاري او صحيح مسلم او د حديثو په نورو کتابونو کې روايت شوى دى، نو ددې ډول شبهاتو رامنځته کول بې معنى دي.

پايله:

له پورته څېړنې دې پايلې ته رسېږو چې ښځه د نارينه سره شرعا او عقلاً مساوي نه ده، ځکه چې د ښځې عقل د نارينه په پرتله په مجموع کې کم دى. د عقل نوموړى نقصان په حديث کې د حافظې په کمزورتيا تفسير شوى او د اوسني عصر د علماوو له نظره پر عقل باندې د عاطفې پر غلبه تفسير شوى او په علمي تازه څېړنو کې د ښځې په عقل کې د تحليلي صفاتو پر کموالي تفسير شوى دى. په اسلامي شريعت کې ښځه په مطلق ډول د نارينه په نيمايي نه ده، بلکې دا نيمايي والى په ځينو مواردو کې دى چې عبارت دي له شاهدۍ، ميراث، ديت، عقيقه، آزادي (حريت)، خو ښځه په اسلامي شريعت کې په روايت او هغو چارو کې چې د دوى ځانګړتيا ده لکه ولادت او رضاع په مسايلو کې له نارينه سره برابره ده. د ښځينه و د جسمي کمزورۍ څخه دا هم نه جوتېږي چې ګڼې شريعت د ښځو پر حقوقو تيرى کړى، بلکې اسلامي شريعت ښځو ته په بشپړه توګه خپل حقوق ورکړي او د هغوى ټولو ارزښتونو ته يې درناوى کړى، د ميراث، مال، علم او کرامت څښتنه يې ګرځولې؛ ښځې له يې پر خاوند او خاوند له يې پر ښځه يو ډول حقوق او وجايب ټاکلي چې د دواړو پر معنوي ارزښتونو دلالت کوي. شرعي ثابت نصوص کله هم د علمي حقايقو سره په ټکر کې نه وي، ځکه چې دواړه حق دي او حق کله هم د حق سره په ټکر کې نه وي.

وړانديزونه:

۱- د شرعي حقايقو د صحيح بيان لپاره افرادو او علمي ټولنو ته په کار دي چې د خپل توان تر حده په دې هکله کوښښ وکړي.

۲- د اسلام د مقدس دين د حريم څخه دفاع د هر مسلمان ديني وجيبه ده او هر مسلمان سره بايد ددې احساس موجود وي.

۳- د اسلامي نړۍ علمي مراکزو ته په کار دي چې د اسلام د حقايقو په خپرولو او له هغو څخه په دفاع کې خپله فعاله ونډه واخلي او مسلمانان ددې څخه وژغوري چې په هر څه کې د نورو تابع وي.

خلاصة البحث: تضمن هذا البحث النقاط التالية:

- أن سبب كثرة دخول النساء النار هو كثرة اللعن وكفران العشير.
- تفسير نقصان العقل والدين، من منظور الشرع والعقل، والأدلة النقلية و العقلية على ذلک.
- الأحكام المتعلقة بالنقصان المذكور وهى أن المرأة على النصف من الرجل فى خمسة أمور: الشهادة، الميراث، الدية، العتق و العقيقة، أما ما عدا ذلک فالمرأة مساوية للرجل إزاء التكاليف الشرعية.
- وتضمن البحث كذلک ذكر الشبهات المثارة حول نقصان العقل و الإجابة عنها.

اخځليکونه:

۱- قرآن کريم

۲- آن موير، ديويد جيسيل ( ). جنس الدماغ

۳- ابن حبان، محمد بن حبان. (۱۹۹۲). صحيح ابن حبان. ترتيب: على بن بلبان بن عبدالله، علاء الدين الفارسى، المنعوت بالأمير (المتوفى: 739هـ). مؤسسة الرسالة

۴-ابن حجر العسقلانی، احمد بن علی. (۱۹۸۳). فتح الباری شرح صحیح البخاری. القاهره: طبعة دارالریان للتراث
۵- ابن خزیمة، محمد بن اسحاق. (۱۳۹۰هـ). صحیح ابن خزیمة، تحقیق: د. محمد مصطفی الأعظمی. بیروت: المکتب الإسلامی
۶-ابن ماجه، محمد بن یزید. (۱۹۵۲). سنن ابن ماجه. بیروت: طبعة الرسالة- دار احیاءالکتب العربیة
۷-ابوداود، سلیمان بن الاشعث. (۱۳۸۸هـ). سنن ابوداود. بیروت: دار الکتاب العربی، دارالکتب
۸-احمد بن حنبل. (۱۹۹۹).مسند الامام احمد. القاهرة: مؤسسة الرسالة
۹-البخاری، محمد بن اسماعیل. (۱۹۸۷). صحیح البخاری، تحقیق: مصطفی دیب البغا. بیروت: دار ابن کثیر
۱۰-البهنساوی، سالم بن علی. السنة المفتری علیها. ص۲۴۰
۱۱-البیهقی، احمد بن الحسین. (۱۳۴۴هـ). السنن الکبری، الطبعة الأولی. حیدر آباد-الهند
۱۲-الترمذی، محمدبن عیسی. (۱۳۹۸هـ). سنن الترمذی ۱۱/۵؛ حدیث شمېره ۲۲۱۳ او ویلي یې دي چې صحیح غریب دی. مصر: مطبعة الحلبی
۱۳- الحاکم، محمد بن عبدالله. (۱۴۱۱هـ). المستدرک علی الصحیحین، تحقیق: مصطفی عبدالقادر عطا. بیروت: دارالکتب العلمیة
۱۴-الخطیب البغدادی، احمد بن علی. (۱۹۷۴). تقیید العلم، تحقیق: یوسف العش. مصر دار إحیاء السنة النبویة
۱۵-الزبیدی، محمدمرتضی. (۱۹۹۴). تاج العروس من جواهر القاموس. دار الهدایة ۳۰/ ۳۹. بیروت: دارالفکر
۱۶-الزحیلی، وهبه. (۱۹۸۵). الفقه الاسلامي وادلته. دمشق: دارالفکر
۱۷-الغزالی، محمد. ( ). من هنا نعلم. مصر: دار نهضة
۱۸-الغزالی، محمد بن محمد ابوحامد. (۱۹۷۵). احیاء علوم الدین، لومړی چاپ. بیروت: دار الفکر
۱۹-القرطبی، احمد بن عمر ابو العباس. (۱۹۹۶). المفهم لما أشکل من تلخیص کتاب مسلم
۲۰- القرطبی، محمد بن احمد. (۱۳۸۴هـ). الجامع لاحکام القرآن، تحقیق: احمد البردونی و إبراهیم أطفیش. القاهره: دارالکتب المصریة
۲۱-مجلة الجامعة الاسلامیة ( ). المدینة المنورة
۲۲- مجموعة من العلماء، التفسیر المیسر، اشراف وزارة الشؤون الاسلامیة والاوقاف والدعوة والارشاد. المدینة المنورة. مطابع مجمع الملک فهد
۲۳-محمد سلامة جبر. (۱۹۸۹). هل هن ناقصات عقل و دین. الکویت: دار الاستامبولی للنشر و التوزیع
۲۴-مسلم بن الحجاج. ( ). صحیح مسلم، تحقیق: محمد فؤاد عبدالباقی. بیروت: دار إحیاء التراث العربی
۲۵-المیدانی، عبدالرحمن. ( ). اجنحة المکر الثلاثة و خوافیها. دمشق: دارالقلم
۲۶-النسائی، احمدبن شعیب. (۱۹۸۶). سنن النسایی، تحقیق: عبدالفتاح أبوغدة. حلب: مکتب المطبوعات الإسلامیة

پوهـــــاند مـحمد طاهـــــــر
پوهـــیالـی عـصمت الله(درانی)
کرنې پوهنځی- اګرانومي څانګه

د غنمو د دوو ورایټیو د کرنیز تخم د اندازو ارزونې څېړنه

لنډیز:

څېړنه په RBD ډیزاین سره په لسو چلندونو او درې تکرارونو کې د ننګرهار پوهنتون د کرنې پوهنځي په څېړنیز فارم کې د دوه ډوله غنمو یعنې للمي۲- او مزار۹۹- څخه د تخم په توپیر ډوله اندازو یعنې ۱۸، ۲۲، ۲۵، ۲۸ او ۳۲ کیلو ګرامه په جریب کې ترسره شوې او نور ټول پارامیترونه د څېړنیزو نورمو سره سم په نظر کې نیول شوي. نتیجو وښودله چې د للمي-۲ غنمو ۲۸ کیلو ګرامه او د مزار۹۹- غنمو ۳۲ کیلو ګرامه د تخم اندازه په یو جریب کې لوړ حاصل ورکړی؛ د ارقامو د تحلیل په نتیجه کې جوته شوه چې خپله د غنمو د تخم د اندازو ترمنځ د کتنې وړ توپیر موجود نه و، مګر د دوه ورایټیو ترمنځ د کتنې وړ توپیر موجود و. د اقتصادي او غذایي ارزښت له مخې په څېړنه کې جوته شوه چې که څه هم د للمي۲- د کرنیز تخم ۲۸ کیلو ګرامه په سیمه کې غوره ځای نیولی، مګر د څېړنیزو نورمونو له مخې (۲۰ – ۲۵ کیلو ګرام) دا د تخم لوړې اندازې که له یوې خوا اقتصادي نه بریښي، له بلې خوا یوه زیاته اندازه غذایي مواد په خاورو کې د تخم په منظور استعمالېږي او ضایع کېږي. په اخر کې دې ټکیو ته رسېږو چې نوې ورایټۍ باید د زړو ځای ونیسي، تر څو د غوره خواصو له لارې په یو جریب کې د استعمالېدونکي تخم مقدار کم شي.

سریزه:

غنم د هغه غلو دانو له جملې څخه دي چې په نړۍ کې په زیاته پیمانه استعمال او کرل کېږي، حتی په وچو ځایونو کې هم کرل کېږي. انسانانو له ډېرې پخوا زمانې څخه ددغې غلې- دانې د کرلو سره اشنایي درلوده چې د وخت په تېرېدو او د نفوسو په زیاتېدو د هغه په کرنه کې هم زیاتوالی راغی او ډېرې ساحې یې د کښت لاندې ونیولې چې په دې وروستیو کلونو کې هڅه وشوه چې په في واحد د ځمکې کې د حاصل زیاتوالی راولي. په دې لړ کې د غنمو نوې ورایټي رامنځته شوه. دهقانان او متخصصین په دې هڅه کې وي چې تر ټولو زیات حاصل لاسته راوړي، نو دې هدف ته د رسېدو لپاره ډېر لګښتي عناصر (Agri input) هم په مصرف رسېږي، لکه قلبه، ابیاري، سرې، افت وژونکې، د تخم اندازه او داسې نور. دا ډېره ضروري خبره ده چې یو دهقان په دې وپوهېږي چې په کومه اندازه تخم وکرل شي چې لوړ عاید لاسته راوړي، ددې هدف لپاره لازمه ده چې د زراعت متخصصین د تخم د اندازې تجربې د سر ته رسولو وروسته دهقانانو ته هغه مناسبه اندازه تخم سپارښت کړي چې د کار په کولو سره کولای شو چې مونږ د ملیونونو کسانو لپاره غذا سپما کړو. زمونږ په دغه څېړنه کې چې د ننګرهار پوهنتون په څېړنیز فارم کې په ۱۳۸۸ – ۱۳۸۹ هـ ش کال کې ترسره شوې، پوهیالي عصمت الله (دُراني) او د څلورم ټولګي د اګرانومي د څانګې څو تنو محصلینو زیاته ساحوي همکاري کړې او د نتیجو، ارزیابي او تحلیل څخه یې هم عملاً برخمن شوي.

موخې:

دا چې په سیمه کې ډول ډول ورایټي توپیر ډوله حاصل ورکوي، نو مونږ ددې هدف په لټه کې شو چې د دوو مهمو مروجو ورایټیو کوم مقدار تخم په زړه پورې لوړ حاصل ورکوي. دا به د بې ځایه لګښت د مخنیوي یوه مهمه طریقه وي او لاسته راغلې نتیجې باید د دهقانانو ترمنځ مروجې شي.

تېرو څېړونو ته کتنې:

1.د غنمو اقتصادي ارزښت:

په اوسنۍ نړۍ کې غنم اساسي غذايي محصول ګڼل کېږي چې د ټولې کرنيزې ځمکې له ۳۰ فيصدو څخه زياته ساحه د غنمو کښت نيولې ده؛ (تقريباً ۲۳۸ ميليونه هکتاره له ۷۲۰ ميليونه هکتاره څخه). غنم د انسانانو عمده غذا ده چې په مختلفو شکلونو يې استعمالوي، د مثال په ډول ډوډۍ، مختلفې شيريني ګانې، نشايسته يي مواد، پروتيني مواد او داسې نور. (۹،۵)

غنم د هغو نباتاتو څخه دي چې په نړۍ کې په زياته پيمانه استعمالېږي، حتی په وچو سيمو کې هم کرل کېږي. د غنمو اقتصادي اهميت هم د توليد له نظره او هم د تغذيې له نظره د نورو کرنيزو محصولاتو په پرتله خورا زيات دی. په نړۍ کې د غنمو توليد په لومړۍ درجه د انسانانو د تغذيې لپاره، په دويمه درجه کې د الوتونکو او حيواني تغذيې لپاره او همدارنګه د صنعتي مقاصدو او مصارفو لپاره هم پکار وړل کېږي. د ځينو راپورونو په اساس زمونږ په هېواد کې د يو تن د اوړو کلنی مصرف ۱۲۰ کيلو ګرام اټکل شوی دی او د يو کس د ډوډۍ مصرف په کال کې ۱۵۳ کيلو ګرام اټکل شوی دی. د راپورونو په اساس زمونږ په هېواد کې په ۱۳۴۰ لسيزه کې د غنمو توليد تقريباً ۴.۲ مليونه ټنه په يو کال و چې په ۱۳۵۰ لسيزه کې دغه مقدار په کلني حساب سره ۵.۲ مليونه ټنه و چې په ۱۳۶۶ کې دغه مقدار د غذا د نړيوالې اتحاديې د راپور له مخې ۷.۹ مليونه ټنه و چې دغه مقدار د غنمو له ۲۷۲۵۰۰۰ هکتاره ابي ځمکې او پاتې برخې يې له للمي ځمکو څخه په لاس راغلی و. نور اقتصادي ارزښت هم لري، لکه کېک، کلچه، حيواني تغذيه، د کاغذ جوړول او داسې نور.

د غنمو درې نوعې زيات اقتصادي ارزښت لري:

۱. Triticum vulgare: چې د ډوډۍ په مقصد په کار وړل کېږي.
۲. Triticum durum: چې د مکروني په جوړولو کې استعمالېږي.
۳. Triticum compactum: چې د بسکېټو په جوړولو کې استعمالېږي.

د غنمو د محصولاتو زياتېدل ځينې عواملو پورې اړه لري چې په لاندې ډول دي:

۱. د تخم انتخاب
۲. د تخم بستر
۳. د سرې استعمال
۴. ابياري
۵. څارنه او مراقبت
۶. د ناروغيو او حشراتو مخنيوی (۷،۱)

۲.د غنمو غذايي ارزښت:

غنم له ډېر پخوا زمانې څخه د ډېر مصرفېدونکي کرنيز نبات په حيث د انسانانو د غذايي موادو د منبع په توګه استعمالېږي چې علتونه يې په لاندې ډول دي:

۱. د کرلو او توليد اسانتياوې
۲.د نورو غذايي موادو لږوالي په اساس
۳.د حمل و نقل اسانتياوې
۴. په اسانۍ سره د زياتې مودې لپاره زېرمه کېدل
۵.د اوبو د کموالي په صورت کې هم کرل کېږي

هغه اوړه چې د غنمو څخه لاس ته راځي، په زياته اندازه ورڅخه د ډوډۍ لپاره استفاده کېږي چې ۲۰–۷۰ برخو پورې انرژي تامينوي چې ډوډۍ د انسانانو د اوليه خوراکي موادو څخه عبارت ده. د غنمو اهميت د موادو فزيکي او کېمياوي خواصو پورې هم اړه لري. د غنمو څخه په مختلفو شکلونو لکه ډوډۍ، بسکېټ او نورو ګټه اخستل کېږي. (۳، ۴، ۱۲)

د پخلي له نظره د غنمو اوړه نسبت نورو غلو دانو ته زيات غذايي ارزښت لري، غنم په خپل ترکيب کې ګلوتين لري چې د غنمو ګلوتين ۸۵ برخې پروتين، ۸.۳ برخې شحميات، ۲ برخې نشايسته او ۰.۷ برخې معدني مواد لري. د FAO د يو راپور په اساس په نړۍ کې په اوسني عصر کې د ۸۵ مليونه ټنه پروتين په مصرف رسېږي چې ۴۰ مليونه ټنه يې له غلو دانو خصوصاً له غنمو څخه تر لاسه کېږي.

په غنمو کې د ضروري موادو اندازه په لاندې ډول ده:

غذايي مواد	تخم (٪)	وابنه (٪)
اوبه	۱۲–۱۵	۱۲–۱۵
نشايسته	۵۷–۷۲	۲۰–۳۰
پروتين	۸–۲۵	۱.۵–۲
شحميات	۱.۵–۲	۱.۵–۲
سلولوز	۱–۲	۳۰–۵۰
منرال	۱–۲	۴–۵

غنم په خپل ترکيب کې په کافي اندازه ويټامينونه لري، لکه ويټامين A، D، B1، بيوتين، فوليک اسيد او معدني مواد هم لکه کلورين، سوديم، اوسپنه، مګنيزيم، فاسفورس، کلسيم، جست او نور لري. (۵، ۹، ۱۲)

2. د غنمو د کرنيز تخم اندازې ارزښت:

تخم يو توليدي او لګښتي عامل دی چې دهقانان ددې لپاره سرمايه لګوي، ترڅو لوړ حاصل لاسته راوړي. ځينې وختونه داسې هم کېږي چې دهقان تخم په کمه اندازه د تخم د اندازې په حيث انتخابوي، مګر لوړ حاصل نشي تر لاسه کولی او ځينې وختونه داسې هم کېږي چې دهقان تخم په زياته اندازه انتخاب کړی وي او د نامساعدو شرايطو لکه د خاورې حاصلخيزي، نامساعده اقليمي شرايط او د اوبو د کمښت په صورت کې هم لوړ حاصل نشي ترلاسه کولی او خپل لګښت هم نشي پوره کولی. د تخم د اندازې اهميت په دې کې دی چې د يوې کروندې لپاره مناسبه اندازه تخم سپارښت شي، ترڅو د اقليمي شرايطو او خاورې حاصلخيزي په نظر کې نيولو سره لوړ حاصل ترلاسه کړي. که چېرې مونږ د يوې څېړنې (seed rate research) په نتيجه کې په في متر مربع ساحه کې لس ګرامه تخم سپما کړی وي، نو دغه سپما شوی تخم که چېرې د ولسوالۍ، بيا ولايت او بيا هېواد په سطحه محاسبه کړو، نو څومره تخم به مو سپما کړی وي.

مواد او کړنلاره:

ډيزاين: RBD موقعيت: د ننګرهار پوهنتون څېړنيز فارم

د چلندونو شمېر: 10 د ورايټي نومونه: (مزار ۹۹- او للمي ۲-) چې په لاندې ډول ترتيب شوي دي:

(A1 B1 ,A2 B1 ,A3 B1 ,A4 B1 ,A5 B1 ,A1 B2 ,A2 B2 , A3 B2 ,A4 B2 ,A5 B2)

يادښت: A د تخم اندازې (a1= 18, a2= 22, a3= 25, a4= 28, a5= 32 kg) او B د ورايټي نومونه يعنې (b1= مزار ۹۹- او b2= للمي ۲-) دي.

د تکرارونو شمېر: درې

فاصله: الف: د کتارونو اوږدوالی = ۵ متره ب: د دوه کتارونو فاصله = ۲۵ سانتي متر

ج: ۷۰–۸۰ تخمونه يو متر لپاره د: په يوه کتار کې د بوټو مجموعي شمېر = ۳۷۵ بوټي

ر: د چلند مجموعي اندازه = ۲.۲۵ متر مربع ط: ټول د کرلاندې څېړنيزه ساحه = ۴۱۴ متر مربع

ع: د کتارونو شمېر = ۵ سرې په جريب (حيواني ۴ ټنه، DAP ۲۲ کيلو ګرامه او يوريا ۴۵ کيلو ګرامه)

د اوبه خور طريقه: بيسن طريقه

د آفاتو او امراضو کنترول: په مشاهدې سره

د هرزه ګياوو کنترول: ميخانيکي

حاصل ټولونه: ميخانيکي

1. د څېړنيز پلان ساحوي نقشه (۱- جدول)

لمړی تکرار	T2 21	T6 22	T9 23	T8 24	T1 25	T10 26	T7 27	T5 28	T3 29	T4 30
دويم تکرار	T9 20	T5 19	T6 18	T7 17	T1 16	T2 15	T8 14	T3 13	T4 12	T10 11
درېيم تکرار	T4 1	T1 2	T8 3	T9 4	T5 5	T2 6	T6 7	T3 8	T10 9	T7 10

پايله:

د څېړنې په جريان او اخر کې ټول ارقام د عدد يا رقم په څېر وخت په وخت جمع شوي او يو د بل سره پرتله شوي چې نتيجې يې په دويم جدول کې ښودل شوي.

۱. د ساحې څخه ټول شوي ارقام (۲- جدول)

شمېره	چلندونه	د ټوکېدنې نېټه	د ودرېدو فيصدي	د فرعي ساقې شمېر	حشرات	ناروغي	د پاڼې رنګ	لوړوالي cm	د ږوي اوږدوالي	وږه کې	د بندونو فاصله
۱	A1 b1	1/1/2010	94	7	سپېږي	ناروغي نه وه	شين رنګ	93.5	16.2	20	5
۲	A2 b1	1/1/2010	94	7				93.5	16.2	20	5
۳	A3 b1	1/1/2010	94	7				93.5	16.2	20	5
۴	A4 b1	1/1/2010	94	7				93.5	16.2	20	5
۵	A5 b1	1/1/2010	94	7				93.5	16.2	20	5
۶	A1 b2	30/12/2010	95	8				89.6	18.1	21	5
۷	A2 b2	30/12/2010	95	8				89.6	18.1	21	5
۸	A3 b2	30/12/2010	95	8				89.6	18.1	21	5
۹	A4 b2	30/12/2010	95	8				89.6	18.1	21	5
۱۰	A5 b2	30/12/2010	95	8				89.6	18.1	21	5
۱۱	A1 b1	1/1/2010	94	7				93.5	16.2	20	5
۱۲	A2 b1	1/1/2010	94	7				93.5	16.2	20	5
۱۳	A3 b1	1/1/2010	94	7				93.5	16.2	20	5
۱۴	A4 b1	1/1/2010	94	7				93.5	16.2	20	5
۱۵	A5 b1	1/1/2010	94	7				93.5	16.2	20	5

۱۲	A1 b2	30/12/2010	95	8				89.6	18.1	21	5
۱۷	A2 b2	30/12/2010	95	8				89.6	18.1	21	5
۱۸	A3 b2	30/12/2010	95	8				89.6	18.1	21	5
۱۹	A4 b2	30/12/2010	95	8				89.6	18.1	21	5
۲۰	A5 b2	30/12/2010	95	8				89.6	18.1	21	5
۲۱	A1 b1	1/1/2010	94	7				93.5	16.2	20	5
۲۲	A2 b1	1/1/2010	94	7				93.5	16.2	20	5
۲۳	A3 b1	1/1/2010	94	7				93.5	16.2	20	5
۲۴	A4 b1	1/1/2010	94	7				93.5	16.2	20	5
۲۵	A5 b1	1/1/2010	94	7				93.5	16.2	20	5
۲۶	A1 b2	30/12/2010	95	8				89.6	18.1	21	5
۲۷	A2 b2	30/12/2010	95	8				89.6	18.1	21	5
۲۸	A3 b2	30/12/2010	95	8				89.6	18.1	21	5
۲۹	A4 b2	30/12/2010	95	8				89.6	18.1	21	5
۳۰	A5 b2	30/12/2010	95	8				89.6	18.1	21	5

ددې ترڅنګه د حاصل پخېدنې په وخت کې حاصلات د ساحو څخه راټول شوي او په لاندې ډول جمع شوي:

۲. د حاصل د اوسطونو جدول:

د حاصلاتو د اوسطونو واحدونه په درېيم جدول کې ښودل شوي، دا جدول مونږ ته په واضحه توګه دا راښيي چې په هر متر مربع ساحه کې مو څومره حاصل اخستی، يعنې په جريب او همدارنګه په يو هکتار کې مو څومره حاصل اخستی چې دا ټول مو د ګرام په حساب سره په جدول کې ځای په ځای کړی دی.

د حاصلاتو اوسطونه (۳- جدول)

شمېره	چلندونه	اوسط ګرام په متر مربع	اوسط ګرام په جريب	اوسط ګرام په هکتار	د زرو تخمونو وزن په ګرام
۱	T1 (a1 b1)	355.43	710860	3554300	39.10
۲	T2 (a2 b1)	356.86	713720	3568600	40
۳	T3 (a3 b1)	357.83	715660	3578300	40.1
۴	T4 (a4 b1)	367.2	734400	3672000	40.2
۵	T5 (a5 b1)	397.06	794120	3970600	43.2
۶	T6 (a1 b2)	342.3	684600	3423000	38
۷	T7 (a2 b2)	359.03	718060	3590300	40.2
۸	T8 (a3 b2)	377.46	554920	3774600	42
۹	T9 (a4 b2)	392.4	784800	3924000	44.3
۱۰	T10 (a5 b2)	386.6	773200	3866000	43

۳. د څېړنې د تخم د اندازو په اساس د نورو تخمونو د اندازو حاصل په فيصدي:

د څېړنې د تخم اندازې په اساس د نورو تخمونو د حاصل اندازه چې په فيصدي سره ښودل شوې ده، په نړۍ کې عموماً په څېړنه کې ۲۵ کيلو ګرام تخم استعمالوي. په دې جدول کې مونږ په هر تخم اندازې کې حاصل يو بل سره مقايسه کولی شو.

شمېره	د تخم اندازه	مزار ۹۹ فيصدي	للمي۲- فيصدي
۱	18 kg	99.32	90.68
۲	22 kg	99.72	95.12
۳	25 kg	100	100
۴	28 kg	102.61	103.95
۵	32 kg	110.96	102.42

۴. د اوسطونو په اساس د حاصل اندازه په في جريب کې:

په دې جدول کې مونږ د دواړو ورايټيو پنځو واړو د تخم د اندازې حاصلات په في جريب کې د يو بل په مقايسه ښايو چې مونږ ددې جدول نه په اسانۍ سره د دواړو ورايټيو مقايسه کولی شو چې کوم يو يې اقتصادي دي.

د کرنيز تخم استعمال په مختلفو اندازو کې په جريب کې د حاصل اندازه په کيلو ګرام سره ښودل شوي دي.

د تخم اندازه / ورايټي	۱۸ کيلو ګرامه	۲۲ کيلو ګرامه	۲۵ کيلو ګرامه	۲۸ کيلو ګرامه	۳۲ کيلو ګرامه
مزار۹۹-	710.86	713.72	715.66	734.40	794.12
للمي۲-	684.60	718.06	754.92	784.80	773.20

پورته جدول کولی شو په لاندې ډول په ګراف کې وښايو.



د ارقامو تحليل او تجزيه:

1. د RBD ډيزاين جدول: په دې (۴- جدول) کې د هر تکرار د تريتمنټونو حاصل په ديکا ګرام ښودل شوی دی:

شمېره	تريتمنتونه	تکرارونه			د تريتمنتونو مجموعه	اوسط
		لومړی	دويم	دريم		
۱	T1(a1 b1)	27.44	35.78	43.41	106.63	35.543

۲	T2(a2 b1)	46.44	41.77	18.75	107.06	35.686
۳	T3(a3 b1)	31.62	36.16	39.57	107.35	35.783
۴	T4(a4 b1)	32.88	37.62	39.66	119.16	35.72
۵	T5(a5 b1)	37.24	37.9	43.98	119.12	39.706
۶	T6(a1 b2)	38.4	32.3	32.00	102.7	34.23
۷	T7(a2 b2)	37.14	30.5	40.07	107.71	35.903
۸	T8(a3 b2)	44.36	40.7	28.18	113.24	37.746
۹	T9(a4 b2)	42.88	35.6	39.24	117.72	39.24
۱۰	T10(a5 b2)	36.11	39.49	40.4	106.00	38.66
	∑ R	374.51	367.92	365.26	1107.7	

2. د متقابلو اغېزو جدول:

په دې (۵- جدول) کې د (a*b) متقابلې اغېزې ښودل شوي او پرتله شوي دي:

ورايټي	د تخم اندازه					∑ var.B
	A1	A2	A3	A4	A5	
B1	106.63	107.06	107.35	110.16	119.12	550.32
B2	102.7	107.71	113.24	117.72	116	557.37
د تخم د اندازې مجموعه	209.33	214.77	220.59	227.88	235.12	G= 1107.7

$$c = \frac{G^2}{Rt} = \frac{1107.7^2}{3*10} = \frac{1226999.29}{30} = 40899.97$$

3. د تفاوتونو جدول (۲):

توکي	د مربعاتو مجموعه	د ازادۍ درجه	د مربعاتو اوسط
ټولو مربعاتو مجموعه	915.7311	Rt-1 = 29	
د تکرارونو د مربعاتو مجموعه	3.8	r-1 = 2	1.9
ټولو چلندونو مجموعه	88.76	t-1 = ab-1 = 9	9.86
د A فکتور مجموعه	69.335	a-1 = 4	17.33
د B فکتور مجموعه	-1.68	b-1 = 1	-1.68
د A,B متقابلې اغيزې	844.7161	(a-1)(b-1) = 4	211.7161
د غلطيو مجموعه	823.1711	(r-1)(t-1) = 18	45.73

د F لپاره ټيستونه:

د پاملرنې وړ نه دي: $1.\ F \text{ for treatment} = \frac{treatment\ MS}{error\ MS} = \frac{9.86}{45.73} = 0.21 < 2.46$

د پاملرنې وړ دي: $2.\ F \text{ for } A*B = \frac{(A*B)MS}{E\ MS} = \frac{211.71}{45.73} = 4.62 > 2.93$

د پاملرنې وړ نه دي: 3. F for A factor = $\frac{(A)MS}{EMS} = \frac{17.33}{45.73} = 0.378 < 2.93$

د پاملرنې وړ نه دي: 4. F for B factor = $\frac{(B)MS}{EMS} = \frac{-1.68}{45.73} = 0.036 < 4.41$

اوس د LSD% تيسټ تر سره کوو: $LSD_P\% = t_P\% \frac{\sqrt{2*EMS}}{r} = 2.78 * 5.48 = 15.2344$

۴. د پايلو جدول (۷):

څلورم جدول	د حاصل اوسط په ديکا ګرام				
	د A فکتور د تخم اندازه				
	A1	A2	A3	A4	A5
B1	35.534	35.68	35.78	36.72	39.7
B2	34.23	35.90	37.74	39.24	38.66
B1- b2	1.31	-0.22	-1.96	-2.52	1.04

LSD 5% for A factor = nil
LSD 5% for B factor = nil
LSD 5% for A*B factor = 15.2344

ارزونه او سپارښتنې:

دغه څېړنه په دوو ورايټيو کې د پنځو مختلفو تخمونو د اندازو لپاره ترسره شوې وه چې په ۲۰۰۹/۱۲/۱۲ تاريخ کې مو کښت کړي او په ۲۰۱۰/۵/۱۰ کې مو حاصل اخستی دی. دغه لس تريتمنتونه مو په درې تکراره کې ځای په ځای کړي وو چې په وده ييزو مرحلو کې ډېره پاملرنه ورته شوې ده او په هر قسم ناوړو حالاتو کې مو صحيح او په وخت عملي کړنې ترسره کړې دي. دغې کرونده په وده ييزو مرحلو کې د امراضو څخه پاکه وه، ولې متاسفانه د سپړيو تر حملې لاندې راغلې وه چې د Amida chloropride درمل په استعمال سره مو د سپړيو مخه ونيوله او په پای کې يې زمونږ حاصلات تر دوه فيصدو پورې راټيټ کړي دي. ددې څېړنې په پای کې مونږ دې نتيجې ته رسيدلي يو چې للمي۲- د مزار۹۹- په پرتله ښه توافق ښودلی دی، که څه هم په وروستي حاصل کې دومره ډېر تفاوت نشته، ولې بيا هم دا بايد ووايو چې په ۲۸ کيلو ګرامه تخم اندازه کې يې ډېر حاصل ورکړی دی او پاتې د تخم اندازو کې وروستی عايد دومره زيات نه دی. ددې علت دا دی چې په کم تخم اندازه کې د دوو بوټو ترمنځ فاصله زياته وي او د فرعي ساقو شمېر ډېر وي او په ډېره اندازه د تخم کې د فرعي ساقو شمېر کم او د دوو بوټو ترمنځ فاصله هم کمه وي چې په دې اساس حاصل يې کمېږي، ولې چې د لمر رڼا او د هوا چلښت په کې کم صورت نيسي او شايد چې چپه کېدنه هم رامنځته کړي او په نتيجه کې حاصل کم کړي.

Abstract:

This research has done between two varieties to evaluate fife different seed rate, this research was started in 12/12/2009 and harvested in 10/5/2010 which had three treatments and ten replications. We had special attention on vegetative stage, but unfortunately our yield come under attack of Aphides, to prevents aphides we used Amida chloropride insecticides, but at the end we loosed 2 % of our yield. In the result of this research we had got to this point. Lalmi-2 was high in adaptation than Mazar-99, however the last yield was about to equal, but must to say that in 28 kg of seed rate of lalmi-2 we had got high yield than other seed rates. Because in low seed rate there are more distance between two crops and the number of tiller was also more and in high seed rate the distance between two crops was low and the number of tiller was less, in this time the sun shine and air exchange are less for this crops, so in this time we will have less yield and also logging.

اخځليکونه:

۱. اذرخ. ا. (۱۳۲۹ هـ ش). خاکشناسی عمومی و خصوصی. ايران: ارومیه

۲. ثمين ع. ق. او عالمي م. ع. (۱۳۲۱ هـ ش). د خاورې کېميا او د نباتاتو تغذيه. کابل پوهنتون

۳. طاهر، م. ط. (۱۳۸۸ هـ ش). خاوره، نبات او سره. ننگرهار پوهنتون
۴. طاهر م. ط.(۱۳۸۴ هـ ش). د خاورې حاصلخيزي او د نباتاتو تغذيه. ننگرهار پوهنتون
۵. نړيوال خوراکي پروگرام افغانستان. درې مياشتنی راپور. جنوري- مارچ. ۲۰۰۴
۶. وطن هـ(۱۳۸۸ هـ ش). طريقه بهتر توليد تخم بذری گندم. کابل- افغانستان

1. Paul E, N. Clark F, E. Soil microbiology and biochemistry. 2. Edition California USA, 1996
2. Soil fertility (Hungarian). Budapest, 1972
3. Shafi. N. crop production. Islamabad, 1994
4. Svab. J. Biometrical methods in research (Hungarian). Budapest, 1981
5. The national risk and vulnerability assessment 2003. Rural Afghanistan
6. Western fertilizer hand book. 2 hort. Edition. California USA, 1998

پوهاند محمد طیب- پوهنځی زراعت
دیپارتمنت اقتصاد و ترویج زراعـتی

رشد نفوس و کمبود مواد غذایی در ممالک رو به انکشاف

خلاصه:

معضله تزید نفوس در ممالک رو به انکشاف از یک جهت و پرابلم کمبود مواد غذایی برای نفوس موجود این ممالک که منجر به مرگ، سوی تغذی و تحت تغذی ملیون ها تن انسان در روی زمین میگردد ، از جهت دیگر موجب گردیده است تا توجه مردمان صاحب نظر و اگاه را در سطح جهان بخود معطوف بدارد. محوه گرسنگی از سطح جهان از تدابیر شخصیت های باعاطفه و بشردوست در سطح ملی و بین المللی بوده و حل این معضله در محراق توجه آنها قرار دارد و مصمم اند که باید در جهان این قابلیت و توانایی ایجاد گردد ، تا نفوس موجوده خود را بخوبی تغذیه نماید ؛ محوه گرسنگی از جهان از آرزوهای والای انسانی است.

مقدمه:

افزایش روز افزون نفوس نسبت به مواد غذایی برای نفوس در حال تزاید جهان به مشابه عمده ترین پرابلم در سکتور زراعت از قدیم وجود داشته است. حق مسلم هر فرد از افراد جامعه اعم از مرد و زن و طفل است، تا از مشکل گرسنگی و سو تغذی بخاطر انکشاف کامل رشد دماغی در امان باشد ، چون جهان امروز دارای منابع طبیعی کافی است و ضرورت به منجمنت درست و تطبیق تکنالوژی عصری دارد تا از این منابع استفاده موثر بعمل آید. امروز در جهان به اندازه غذا تولید می گردد ، که میتواند هر باشنده کره زمین را بخوبی تغذیه نماید ، اگر غذای تولید شده جهان بصورت مساویانه توزیع گردد ، در آن صورت غذا برای هر شخص نه تنها کافی خواهد بود ، بلکه اضافتر از ضرورت انسانها می باشد. (۱ص۲۰۰)

از تاثیرات پیشرفت های تکنالوژی در ساحه زراعت مثل ماشینی ساختن زراعت، استعمال تخم های بزری اصلاح شده، تربیه نسل های بهتر حیوانات شیری و گوشتی، پروژه های مرغداری و تربیه ماهی و زنبور عسل، توسعه بخشیدن زمین های قابل زرع و بالا بردن حاصلات از لحاظ کمیت و کیفیت، استعمال کود کیمیاوی به اندازه کافی، سیستم بهتر ابیاری، مجادله علیه امراض و آفات هر کدام به نفس خود ضربه قاطع و محکم علیه محوه گرسنگی و سوتغذی در جهان محسوب می گردد.

اهداف:

- امحای گرسنگی از طریق بلندبردن حاصلات زراعتی در فی واحد تولید.
- استفاده از تکنالوژی زراعتی به منظور ازدیاد تولید از لحاظ کمی و کیفی.
- ازدیاد محصولات زراعتی و صادرات آن به کشورهای که با کمبود مواد غذایی مواجه میباشند.

تهدید گرسنگی:

گرسنگی در قدم اول از همه بیشتر اطفال را تهدید می کند:

۱- اطفال: در هر سال **۱۵**ملیون طفل به موجب گرسنگی و عوامل مربوط آن می میرند ، به این معنی که هر روز در سراسر جهان چهل هزار تن طفل می میرند ؛ نسبت تلفات انسان از ناحیه گرسنگی به همان اندازه است، که از ناحیه تخریبات بم اتم در جنگ دوم جهانی در هیروشیمای جاپان از خود بجا گزاشت.

۲- ساکنین دهات: در ممالک رو به انکشاف خصوصاً در ساحه دهات مردم فقیر به تعداد بیشتر به مشاهده می رسد ، گرچه مردم دهات اکثراً در عملیه تولید مواد غذایی مستقیماً دخیل اند ، ولی با وجود آن در شرایط تحت تغذی زندگی می کنند. دهات و قصبات در اوقات بحرانی و کمبود مواد غذایی جاهای اند ، که به سختی مواد غذایی و سایر اشیای مورد ضرورت در آنجا میرسند. 2/3 حصه نفوس جهان در ممالک رو به انکشاف مسکن گزین اند و این وضع بشکل دوامدار ادامه دارد و مشخصات عمده ساکنین چنین ساحه ها فقر و حالات غیر صحی و بی کاری می باشد. (۷ص۵)

۳- مواجه شدن یک کشور به معضله کمبود مواد غذایی است. موجودیت غذای کافی در یک مملکت و ارسال مواد غذایی اضافه از ضرورت آن به مملکت ایکه کمبود غذایی در انجا محسوس است، بنا بر علل ای مثل عدم موجودیت راهای انتقالاتی، کمبود وسایل ترانسپورتی نمیتوانند چنین ممالک را در اوقات بحرانی بغیر از کمبود مواد غذایی در حالات زلزله، سیلاب و حریق کمک نمایند. مبارزه علیه کمبود مواد غذایی باید اغاز یابد ، هیچ سیستم اجتماعی، مفکوره ای، یا اساسات عدالت اجتماعی با ارزش تر و مهمتر و برجسته تر از نگاه مادی و معنوی به اندازه نجات دادن ملیونها تن انسان از فقر و گرسنگی نخواهد بود. برای از بین بردن گرسنگی و عوامل ایکه گرسنگی را به بار می آورد ، سازمان ملل متحد پروگرامی را بنام مبارزه علیه کمبود مواد غذایی روی دست گرفته است، که در آن اشتراک فوری و عاجل تمام ملل جهان روی موضوعات ذیل خواسته شده است:

۱- ازدیاد تولید و صادرات مواد غذایی به ممالک ایکه با کمبود مواد غذایی دست به گریبان اند.

۲- بهتر ساختن وسایل توزیع مواد غذایی.

۳- سرعت بخشیدن تولیدات زراعتی در ممالک رو به انکشاف.

۴- بیمه مطمین در حالاتیکه کمبود مواد غذایی رخ میدهد.

۵- زیاد ساختن تولید حبوبات در سطح جهان.

تا زمانیکه مردم از اثر قحطی و گرسنگی مزمن به هلاکت مواجه باشند ، ممالک صادرکننده مواد غذایی باید از قدرت نهایی خود در برابر تولید مواد غذایی مضایقه نکنند. ایالات متحده امریکا در ازدیاد تولیدات زراعتی خویش گامهای مثمر برداشته است و در حدود ۱۲۷ میلون ایکر زمین را برای بذر حبوبات که تخمین ۳۲٪ تزید را در ساحه زراعت نشان میدهد ، اماده ساخته است و میخواهد تمام موانع را که باعث ازدیاد قیم محصولات زراعتی میگردند ، از میان بردارد ؛ تولید زیاد سرمایه قابل ملاحظه را ضرورت دارد. (۴ص۲۵)

تشریک مساعی بین ممالک صادرکننده مواد ارتزاقی به منظور تشویق پلان گزاری ملی و تزیید در حاصلات مجموعی یک مثله اساسی می باشد ، باید به خاطر این کار آمادگی صورت گیرد و با دیگر ملل صادرکننده مواد غذایی مشترکاً گام گذاشته شود ، که حاصلات از نگاه کمیت و کیفیت ازدیاد یابد ، تا بتوانیم ذخایر مواد غذایی مطمین در اختیار داشته باشیم. در ممالک رو به انکشاف ملت های وجود دارد ، که پرابلم فقدان مواد غذایی با سرعت در آن رونما می گردد ، مگر خوشبختانه دارای بزرگترین ظرفیت هستند ، که می توانند تولید مواد غذایی را سرعت بخشند. این ممالک دارای بزرگترین ساحه زمین های لا مزروع و مقدار کافی آب می باشد ، این ممالک ۳۵٪ اضافتر زمین های زرع حبوبات را نظر به ممالک انکشاف یافته در اختیار دارند و ۲۰٪ کمتر از ان حاصل بدست می اورند. در ممالک رو به انکشاف خالیگاه در تناسب عرضه و تقاضا در حالت رشد است، در حالت موجود کمبودات از ناحیه تولید حبوبات در حدود ۸۵ ملیون تن رسیده است، ایجاب می نماید که اوسط حاصلات از ۲،۵٪ به ۳،۵ فیصد در فی واحد تولیدی تزید بعمل اید. (۲ص۷)

بخاطر رسیدن به این هدف (از بین بردن کمبود مواد غذایی) دو نکته اساسی وجود دارد ، که عبارت اند از تحقیقات در ساحه جدید و سرمایه گزاری های جدید می باشد.

میتودولوژی:

در نوشتن این اثر تحقیقی معلومات دقیق و پیشرفته و آخرین اقداماتیکه در مورد بلند بردن حاصلات زمین های زراعتی از لحاظ زراعت تشدیدی و وسعت بخشیدن زمین های قابل زرع از لحاظ زراعت توسعوی که توسط سازمان FAO و جهان پیشرفته صورت گرفته است، استفاده بعمل آمده است. در میتود و روش کار تحقیقي بنا بر خصلت موضوع هیچ نوع فرضیه ارایه نگردیده، بلکه از روی ارقام و احصاییه و معلومات جدید از منابع بین المللی FAO و جهان پیشرفته که موضوع امحای گرسنگی و بلند بردن حاصلات زراعتی را در فی واحد تولید در صدر فعالیت های تحقیقاتی و پلان های اساسی خود قرار داده اند ، پایه های اساسی این تحقیق را تشکیل میدهد.

نتیجه گیری و پیشنهادات:

محوه گرسنگی یکی از اهداف اساسی تمام انسانهای با عاطفه در سطح بین المللی خصوصاً ممالک انکشاف یافته و ممالک دیگریکه این هدف والا را شعار خود ساخته اند ، می باشد. در کنفرانس بین المللی منعقده روم که در آن از ۱۳۲ کشور جهان اشتراک نموده بودند ، در آن تاکید بعمل آمده که جهان باید قابلیت این را پیدا کند که نفوس موجوده خود را تغذیه نماید ، به این شیوه ها: (۳ص۴)

- انتقال مواد غذایی از ممالک انکشاف یافته که مواد غذایی صادر می کنند ، به ممالک رو به انکشاف که در آن قلت مواد غذایی محسوس است.
- ذخیره مواد غذایی در ممالک غنی بخاطر فاجعه های ناگهانی و قحطی.
- نایل شدن به استقرار قیم مواد غذایی در جهان.
- پیدا کردن یک ترکیب مناسب از تکنالوژی و پالیسی که به تاسی از ان می توان در مورد تولید مواد غذایی و صورت توزیع آن در ممالک رو به انکشاف اصلاحات قابل ملاحظه بوجود آورد.

اگر ممالک رو به انکشاف با پروگرام تشدیدی در زراعت در صورت موجودیت سرمایه گذاری کافی اقدام نماید و حاصلات فی هکتار زمین را از نظر کمیت و کیفیت بالا ببرد و ساحه جدید را شامل زمین های زراعتی بنمایند ، در آن صورت جهان آماده خواهد شد که برای ده الی دوازده ملیارد نفوس غذا تهیه نماید ، با تطبیق روش های ذیل:

۱- استفاده از ماشین آلات زراعتی.
۲- استفاده از تخم های بذری اصلاح شده.
۳- استفاده از ادویه ضد آفات و امراض که از اثر عدم استعمال آن در حدود ۱/۴ حصه حبوبات از بین میرود.
۴- استفاده از کود کیمیاوی به اندازه کافی.
۵- توسعه بخشیدن زمین های مزروعی.
۶- سرمایه گزاری کافی در سکتور زراعتی.
۷- منیجمنت درست زراعتی.
۸- آبیاری منظم.
۹- رعایت تناوب زراعتی.
۱۰- انتخاب و نسل گیری حیوانات شیری و گوشتی که حاصل شان بلند و مقاوم تر اند.
۱۱- انکشاف پروژه های مرغداری، زنبور داری، پروژه های تربیه ماهی.
۱۲- حفاظه (از لحاظ تخنیکی و کیفیت) اصلاح خاک های زراعتی.
۱۳- اعمار ذخیره خانه های عصری.

تولید مواد غذایی جهانی برای انسانها در سال 2000

کته گوری	مقدار تولید به تن
الف: حبوبات	۱۹۲۷۰۰۰۰۰۰ تن
ب: نباتات ریشه یی	۲۱۰۰۰۰۰۰۰ تن
ج: نباتات لگیومی	۲۰۰۰۰۰۰۰ تن
د: سبزیجات	۲۰۰۰۰۰۰۰ تن
ه: نباتات تیلی	۳۲۱۰۰۰۰۰۰ تن
و: میوه جات	۲۷۴۰۰۰۰۰۰ تن
جمله	۳۴۳۲۰۰۰۰۰۰ تن

بر علاوه ارقام فوق در حدود ۳۰۰۰۰۰۰۰۰۰ تن غذای حیوانی هر سال تولید میگردد. (۵ص۱۳۰)

مناقشه:

نفوس جهان به سرعت افزایش می یابد، متکی به احصاییه ملل متحد تعداد نفوس جهان در سال ۱۹۹۰ به (۵.۲) ملیارد نفوس در سال ۱۹۹۵ به (۵.۷) ملیارد و در سال ۲۰۰۰ به (۶.۲) ملیارد نفر رسیده است و نفوس فعلي جهان در حدود ۷ ملیارد تخمین شده است. تزئید در رشد نفوس از ٪۲ در سال گذشته به ٪۳ در یک سال نمایانگر رشد فوق العاده سریع نفوس در جهان میباشد. تخمینی یک ملیارد انسان در هر پانزده سال به نفوس جهان افزوده شده، به این معنی که در هر دقیقه ۱۷۰ نفر در هر روز ۲۴۰۰۰۰ نفر، در هر سال اضافه تر از ۹۰ ملیون و در هر ۱۱ سال یک ملیارد نفوس بروی کره زمین علاوه میگردد. (۶ص۱۱)

معضله پروبلم نفوس زمانی طغیان میکند که نفوس موجوده جهان در ارتباط منابع موجوده در جهان از تعادل خود خارج شود، یعنی منابع موجود توانایی تغذیه این نفوس را در خود نداشته باشد و یا وقتیکه رشد نفوس به حدی سریع گردد که دولت ها و موسسات ملل متحد از رسیدگی به امور صحی غذا، تهیه مسکن، تعلیم و تربیه و بالاخره استخدام آنها در کار ها عاجز بمانند. به اساس احصایه های ممالک پیشرفته جهان ازدیاد نفوس دارای یک منحنی فراز و نشیب و همیشه در حال صعود نمی باشد و نظریه مالتوس که گفته است، نفوس به اساس تصاعد هندسي مواد غذایی به اساس تصاعد حسابی افزایش می یابد، ضعیف و بی بنیاد ثابت میشود. مالتوس امکانات پیشرفت تکنالوژی و علوم و همچنان قدرت خلاق بشر را خیلی کمتر از واقعیت تصور کرده است. تجربه کشور های پیشرفته جهان ثابت ساخته است، که تحت شرایط مناسب و مساعد افزایش محصولات زراعتی از یک افزایش سریع نفوس سبقت میجوید، اصلاحات اراضی توزیع عادلانه مزد و عاید در بهتر ساختن سطح زندگی مردم مفید واقع میگردد. نظریه مالتوس دانشمند انگلیسی باوجودیکه مایوس کننده بوده، ولی یک نظر مهم راجع به نفوس شمرده میشود و توجه دانشمندان رابخود معطوف داشته است، مگر عقیده مالتوس را علمای مابعد به دلایل گوناگون رد کرده، بعضی به دلایل اینکه علوم و تکنالوژی امکانات وسیع را برای توسعه و تزئید محصولات زراعتی فراهم میکند، موجودیت زمین های قابل زرع، موجودیت آب و موجودیت منابع بشری در بلند بردن امکانات محصولات زراعتی و حل پروبلم گرسنگی یک نکته عطف شمرده میشود. ممالک پیشرفته جهان در حل پرابلم گرسنگی و رساندن مواد غذایی در کشور های نادار نقش کلیدی دارند، تا زمانیکه کشور های رو به انکشاف جهان این قابلیت را پیدا کنند، که با استفاده از تکنالوژی معاصر بتوانند حاصل خود را از لحاظ کمیت و کیفیت در فی واحد تولیدی بلند ببرند، که نه تنها متکی بخود شوند، بلکه توانایی آنرا پیدا نمایند که مواد غذایی اضافه از ضرورت خود را به جاهای دیگر صادر نمایند. به گونه مثال در ایالات متحده امریکا صرف 3%-2 مردم در زراعت مصروف کار اند، که میتوانند هر نفر آن برای 40- 50 نفر مواد غذایی تهیه نماید. افغانستان که یک کشور زراعتی است و اضافه تر از ٪۷۰ مردم آن در زراعت مصروف اند، هنوز ۳۰-۴۰٪ مواد غذایی مورد ضرورت خود را از کشور های همسایه تهیه مینماید. (۱ص۷)

بناءً تطبیق تکنالوژی معاصر در ساحه زراعتی میتوانند پرابلم گرسنگی را از ریشه بردارند و جهان رو به انکشاف با تطبیق آن ظرفیت آنرا پیدا کنند که متکی بخود گردند و در نهایت امر قدرت صادر کردن مواد غذایی اضافی را در خود ایجاد نمایند.

Abstract:

Population growth and the food crisis, By Professor Mohammad Tayeb department of Agriculture Economics and extension Faculty of Agriculture Nangarhar University.

During the second half of the 20th century, the human population increased rapidly to 6 billion, with most of expansion occurring in the less developed countries, especially in Asia. Recent projection show that world population growth will slow dramatically in the next 25 years in that the human population will stabilized, probably at 8 to 9 billion sometimes between 2050 and 2075. The current favorable dynamic balance between food supply and demand was not inevitable. It's the result of successful enter action among farmer'sand an over whelmingly publicity supported research in extension input supplierssystem that has furnished innovation in a relevant knowledge for free. Continued strong performance in research and innovations is needed to maintain this balance cover the next half century.

References:

1- Agriculture development in eastern Asia, FAO the UN. 1998.
2- A.T. musher, 1989, to create a model agricultural organization and planning (N.Y) Agriculture Development Council.
3- F.A.O production year book 1990, U.N, New York, N.Y, 1007.
4- Grigg David, 1980, The Harsh Land, studies in Agricultural development Great Britain.
5- Maarten J. 2003, plants, genes, & Crop Biotechnology Library Congress U S A.
6- Population development, 1990, from work for research planning.
7- Population growth and the food crisis, research paper 2009.
8- Valenty, D.I, 1985, the theory of population progress publisher Moscow.

پوهنوال خلیل احمد (بهسودوال)
پوهنمل محمد عظیم (عظیمي)
طب پوهنځی- پتالوژي
او بیوشیمي څانګه

د وینې پر لیپید پروفایل او قند د روژې مبارکې میاشتې د لوږې اغېزو څېړنه

لنډیز:

زمونږ دا څېړنه د ننګرهار طب پوهنځی د هستوپتالوژي او بیوشیمي څانګو کې په ۱۳۹۱المریز کال د روژې په مبارکه میاشت کې ترسره شوې ده، مونږ د وینې د قند، شحمیاتو (کولسترول، ترایګلیسرایډ، LDL,HDL) کچه د روژې میاشتې په بېلابېلو ورځو کې ټاکلې ده، چې په دې څېړنه کې د وینې د قند سویه په څرګند ډول د لوږې په حالت کې راښکته شوې چې لومړی نمونه مو د روژې د پیل څخه یوه ورځ مخکې اخیستې ده، نوموړې 78.55±1.94، بله نمونه مو په ۱۵ ورځ، درېیمه مو په ۲۸ ورځ اخیستې ده چې په هره نمونه کې د پام وړ بدلون تر سترګو کېږي. (Mean±SD)69.15±1.31همدارنګه په کولسترول او ترایګلیسرایدونو، HDL، LDL کې بدلون رامنځته کېږي، یعنې د نوموړو سویه هم په وینه کې راښکته کېږي. په دې څېړنه کې دا څرګنده شوه چې د روژې د مبارکې میاشتې روژه د روغتیا ته ډېره ګټه رسوي.

سریزه:

روژه د اسلام د سپېڅلي دین درېیم بنسټ او سخت ځاني عبادت او ځانګړی ځای لري چې ګڼ شمېر معنوي، مادي، ټولنیزې او طبي ګټې او ارزښتونه هم لري. معنوي ارزښت یې د الله(ج) د حکم پرځای کول دي چې دا یې تر ټولو ستره برخه ده، ټولنیز ارزښت یې دادی چې په ټولنه کې د غریبو او فقیرو خلکو له حال څخه خبرېدل دي او یو ډول مساوات هم په ټولنه کې رامنځته کېږي او بله دا چې د ټولنې شتمن خلک د غریبو خلکو سره مرستې کولو ته هڅول کېږي. طبي ارزښت ته د ټولې نړۍ د ساینس پوهانو هغه که د اسلامي ټولنې او یا غیراسلامي ټولنې دي، دې موضوع ته یې پام راوښتی دی چې ایا دا روژه ګټه لري او که نه؟ او د اسلامي نړۍ ساینس پوهان چې روژه د یو الهي امر په حیث یې پرځای کول اړین بولي، په دې لټه کې دي چې د غیراسلامي ټولنو خلکو ته دا څرګنده کړي چې روژه علاوه له دې چې مذهبي ارزښت لري، ګڼ شمېر طبي ارزښتونه هم پکې نغښتي دي، او د غیراسلامي نړۍ پوهان ددې لپاره د روژې په طبي اغېزو باندې څېړنه کوي چې دا به یو غیرضروري عمل وي. په دې علمي څېړنیزه مقاله کې به دا څرګنده شي چې روژه د ګڼ شمېر ناروغیو د مخنیوي او د ناروغیو د کمېدو لامل کېږي. نن چې په نړۍ کې ډېر انسانان د زړه، شکرې او چاغوالي له ناروغیو ستونزې ګالي، نو د نړۍ ساینسدانان هم په دې لټه کې دي چې ددې ناروغیو څخه په څه ډول انسانان خلاص او وژغوري، نو یوه لاره هم چې دوی ناروغانو ته وړاندیز کوي هغه د Fasting څخه عبارت ده چې لوږه یا Fasting کولای شي چې د دا ډول ناروغیو مخه ونیسي، خو دا لوږه له روژې سره توپیر لري؛ لومړی دا چې نوموړې لوږه کوم مذهبي ارزښت نه لري او بله دا چې دا لوږه د ځینو ځانګړو غذایي توکو څخه وي. د پورته ټکو په پام کې نیولو سره دا چې مونږ هم ددې نړۍ اوسېدونکي او په مذهب ولاړه ټولنه کې اوسېږو او په دې برخه کې بې ونډې پاتې نشو، نو د هستوپتالوژي او بیوشیمي څانګې دا وپتېیله چې د روژې مبارکې میاشتې د لوږې اغېزې د هغې شونتیا په پام کې نیولو سره چې مونږ یې په واک کې لرو، وڅېړو؛ نو مونږ هر یو پوهنوال خلیل احمد بهسودوال د څېړنې د کړنلارې، ډاټا راټولولو، پایلې او مناقشې په برخه کار وکړ او پوهنمل محمد عظیم (عظیمي) د څېړنې په طبي ادبیاتو، وړاندیزونو او د ډاټا انالایز کولو په برخه کې کار وکړ. مونږ په ډېر اخلاص

او ريښتينولۍ پر دې مذهبي او طبي موضوع د روژې په مبارکه مياشت کې خپله څېړنه پيل کړه او د کوچني اختر په ۱۰ورځ مو خپله ټوله راټوله شوې Data په ګډه د ځانګې د محترمو غړو په همکارۍ تحليل او تجزيه کړه چې دادی اوس يې د درنو هېوادوالو او روغتيايي کارکوونکو په مخکې ږدو.

موخې:

- د ټولنې ټولو پرګنو ته د روژې د مذهبي ګټو څخه علاوه د طبي ارزښتونو څرګندول.
- د زړه رګونو، شکرې او چاغوالي ناروغيو په کنترول کې د روژې د مبارکې مياشتې د روژې نيولو د اغېزو څرګندول.
- ډېره مهمه باارزښته موخه معنوي اړخ او د اخروی ګټې ترلاسه کول دي.

طبي ادبياتو ته کتنه (Review of Medical literatures):

روژه د نورو هغو لوړو سره چې د ډاکټرانو له خوا يې ناروغانو ته سپارښتنه کېږي او يا هم ځينې خلک د نه خوړلو اعتصاب کوي، توپير لري؛ هغه په دې ډول چې يو بالغ، مسلمان، عاقل، مقيم به د سبا راختلو څخه تر لمر پرېوا ته پورې هيڅ ډول خواړه (مايعات او غذا) نه خوري. لوړه چې له دې سره توپير لري، په لاندې توګه ترې يادونه کوو:

Fasting: تغذي کولی شو چې په دوه برخو وويشو، يو يې مثبت او بله برخه يې منفي ده، يا په بل عبارت په ترتيب سره د غذا د خوړلو او نه خوړلو (د غذا د خوړلو بنديز) څخه عبارت ده. منفي تغذي حالت يا Negative nutrition کې د Fasting، Inanition (د انرژي نشتوالی) او Starvation اصطلاحات کارول کېږي. د Starvation او Fasting دواړه ځانګړې پېښې دي چې يو د بل سره توپير لري او Inanition پورتنۍ داوړه پروسې په بر کې نيسي. د Fast کلمه د Angle Saxon ژبې د Feast د کلمې څخه اخيستل شوې چې د Fixed يا ثابت معنی لري. په عمل کې پرته د غذا د خوړلو څخه د يو ځانګړې وخت لپاره ژوند وکړي، دې ته لوړه وايي، يا په بل عبارت چې يو شخص د خپل ځان د غذا د خوړلو څخه منع کړي. (Fasting يا لوړه د بيوشمي له نظره داسې تعريفوو: د هغه حالت څخه عبارت دی چې په هضمي لاره کې د جذب لپاره غذايي مواد شتون ونلري، خو د ځيګر ذخيروي ګلايکوجن موجود وي او کولی شي چې د وينې ګلوکوز نورمال وساتي چې د استراحت په حالت دوه فکتورونو په وسيله دماغ او نورو حياتي غړو ته ګلوکوز برابرېږي چې عبارت دي له Glycogenolysis او Gluconeogenesis څخه)، او ستارويشن د هغه حالت څخه عبارت ده چې د ځيګر ګلايکوجن ذخيرې په دې حالت کې له منځه تللې وي او يوازې د ګلوکونيوجنيس له لارې د وينې د ګلوکوز څه ناڅه نورمال ساتل کېږي چې د ژوند تهديدوونکی حالت دی. (۲،۷)

لوړه يا Fasting يو بيوشيميکه اصطلاح ده چې د ۱۴-۱۲ساعتونو پورې هيڅ ډول انرژي توليدوونکي توکي او مايعات نه اخلي، د اسلام په سپېڅلي دين کې روژه په مطلق ډول د سهار د راختو څخه د لمر تر ډوبېدو پورې هيڅ نه خوړل کېږي. د روژې مبارکې مياشتې د روژې د نيولو په وخت کې په وينه کې د ګڼ شمېر بيوشيميکو بدلونونو لامل کېږي، لکه په غذايي رژيم کې د قندونو د نه اخيستلو له کبله په وينه کې د قندونو کچه راښکته کېږي او د کولسترول جوړېدل د لوړې په حالت کې کمېږي او همدارنګه د ترايګليسرايدونو جوړېدل هم کمېږي چې ميخانيکيت يې په لاندې ډول ښودل شوی دی:



پورتني بدلونونه د وينې د بيوشميکي منظرې د بدلون لامل کېږي، لکه د قندونو او شحمياتو د بدلون څخه يادونه کوو. په دې څېړنه کې چې د ننگرهار طب پوهنځي هستوپتالوژي او بيوشيمي څانگه کې په۱۳۹۱ لمريز کال کې ترسره شوې ده، دا څرگنده شوې چې د روژې د مبارکې مياشتې روژه د وينې په بيوشيمي باندې اغېزه کوي. (۲،۲)

د لوږې په حالت کې استقلاب: د لوږې په حالت کې استقلاب نظر نورمال حالت ته يو پر څلور يا دوه پر پنځه ځلې کمېږي چې دا کمېدنه د لوږې په لومړني پړاو کې چټکه وي، ترڅو چې نورمال حالت ته راگرځي. استقلابي پروسې په څه ناڅه منځنۍ کچه پرمخ ځي، که چېرې د ناروغ لوږه له منځه لاړه نشي، د استقلاب چټکتيا نوره هم کمېږي او ځينې وخت پتالوژيک حالت ته ورگرځي. د لوږې په حالت کې يو شمېر بدلونونه منځته راځي، لکه:

- د ميتابولېزم د سرعت کمېدل، د اکسيجن د لگښت کموالی او د کاربن دای اکسايد جوړېدولو کموالی.
- همدارنگه د کاربوهايدريتونو د استقلاب د بدلون سره يوځای د پروتينو او شحمياتو په استقلاب کې هم بدلون منځته راځي.
- په کوچنيانو کې د گلايکوجن زيرمې لږې وي، په دې ډول د انرژۍ د منبع په ډول د پروتينو څخه گټه اخلي، نو ځکه د لوږې په حالت کې ورځ په ورځ د نايتروجن اطراح پکې زياتېږي. (په نورمال حالت کې په کوچنيانو کې امينو اسيدونه د انساجو د جوړېدنې لپاره کارول کېږي او اطراح يې کمه وي، خو د لوږې په حالت کې يې اطراح ځکه زياتېږي چې امينو اسيدونه د انرژۍ لپاره کارول کېږي).
- همدارنگه دوامداره لوږې څخه وروسته د ځينو غدواتو په دندو باندې هم اغېزه کوي چې د دوی د دندو د زياتوالي لامل کېږي، لکه د تايرايډ غده او گوناډونه چې په استقلاب باندې مستقيمه اغېزه لري، وروسته د لوږې څخه يې وظايف زياتېږي. (۲،۴،۵)

د لوږې حالت (The fasting state): لوږه د غذا د خوړلو څخه دوه يا څلور ساعته وروسته پيلېږي (کله چې د وينې گلوکوز نورمال حالت راوگرځي او بېرته د بيا غذا خوړلو څخه وروسته لوړوالي ته اماده وي). د غذا د خوړلو څخه يو ساعت وروسته د وينې د گلوکوز کچه په ښکته کېدو پيل کوي، په همدې وخت کې د انسولين کچه هم ښکته کېږي او د گلوکاگون سويه لوړېږي. په وينه کې د هورمونونو دا بدلون ددې لامل کېږي چې په بدن کې د زيرمه شوې انرژۍ توليدوونکي مواد د انرژۍ د توليد لپاره په لگښت ورسېږي.

- د ځيگر گلايکوجن د وينې د گلوکوز د نورمال ساتلو لپاره د گلايکوجينولايزيس د پروسې له لارې ټوټه کېږي او په پايله کې د ځيگر د گلايکوجن زېرمې کمېږي (د ځيگر حجرات د Glucose-6-Phosphatase انزايم د لرلو له کبله کولای شي د وينې دوران ته گلوکوز واچوي).
- کله چې لوږه اوږده شي، نو په شحمي انساجو کې زېرمه شوي ترايگليسرايډونه د لايپولايزيس د پروسې په اساس ټوټه کېږي او د وينې دوران ته ازاد شحمي اسيدونه او گليسرول اچوي چې شحمي اسيدونه د انرژۍ د توليد لويه سرچينه ده. (استراحت په حالت کې د همدې لايپولايزيس د لارې لاسته راغلي گليسرول د گلوکونيوجنيزيس استقلابي لارې په وسيله په گلوکوز بدلوي چې په دې ډول د وينې گلوکوز کچه نورماله وساتي او حياتي اعضاوو لکه دماغ ته گلوکوز برابر کړي چې دا پروسه زياتره د شپې له خوا په لوږې حالت (Overnight fasting) کې صورت نيسي).

Fuel oxidation: د لوږې په حالت کې گلوکوز د گلوکوز پورې تړلو انساجو، دماغ او د وينې د سرو حجرو په وسيله د انرژۍ د توليد لپاره کارول کېږي (نوموړي انساج Glucose dependant انساج دي، دا ځکه چې نوموړي خپله انرژي د گلوکوز څخه برابروي) او نور انساج لکه ځيگر او عضلات خپله انرژي د شحمي موادو د اکسيديشن څخه لاسته راوړي. شحمي اسيدونه د عضلاتو په وسيله په بشپړ ډول په اکسيديشن رسېږي او په انرژي، کاربن ډای اکسايډ او اوبو باندې بدلوي او ځيگر په قسمي توگه شحمي اسيدونه په استقلاب رسوي او په کيټون باډي (Ketone body) باندې بدلوي او د وينې دوران ته ازاد ېږي او نوموړي توليد شوو کيټون باډي څخه عضلات، پښتورگي او ځيني نورو انساجو په وسيله دننه په مايتوکاندريا کې د TCA-cycle د لارې انرژي لاسته راوړي او په پشبړ ډول يې په استقلاب رسوي.

Maintenance of blood Glucose: کله چې لوږه پرمخ ځي، نو په دې صورت کې د وينې د ګلوکوز د نورمال ساتلو لپاره په ځيګر کې ذخيره شوي ګلوکوز (ګلايکوجن) د Glycolysis د لارې ټوټه کوي او د وينې دوران ته يې اچوي او په ورته وخت کې د غيرقندي موادو لکه د Lactic acid, glycerol او امينواسيدونو څخه د Gluconeogenesis د لارې د وينې ګلوکوز نورمال ساتي. کله چې د ځيګر د حجراتو په وسيله امينواسيدونه په ګلوکوز باندې بدلېږي، نو په دې وخت کې د نوموړي د نايتروجن برخه په Urea باندې بدلېږي او کاربن برخه يې په ګلوکوز باندې بدلېږي او د وينې دوران ته ازاد ېږي.

Starvation: که چېرې لوږه د درې ورځو يا له دې څخه زياته شي، نو دې حالت ته ستاروېشن ويل کېږي، په ستاروېشن کې عضلات د انرژۍ د توليد لپاره د شحمي اسيدونو د اکسيديشن څخه ګټه اخلي او د کيټون باډي څخه د انرژي لاسته راوړنه کموي، ځکه چې دماغ د انرژۍ د توليد لپاره د کيټون باډي څخه ګټه اخلي او کم مقدار ګلوکوز ته اړتيا لري، دا ځکه چې د ځيګر په وسيله د امينواسيدونو څخه د ګلوکوز جوړېدل د ګلوکونيوجنيزيس د لارې کمېږي. ددې لپاره د پروتينو ټوټه کېدنه يعنې په امينواسيدونو بدلېدل او ددې امينواسيدونو څخه د ګلوکوز جوړېدل ددې لپاره کمېږي چې نوموړي پروتين د نورو حياتي فعاليتونو لپاره پاتې شي، ددې استقلابي بدلونونو له کبله انسان کولی شي چې پرته د غذا د خوړلو څخه تر ډېره پورې ژوندی پاتې شي.

The fasting state: د وينې د ګلوکوز کچه د غذا د خوړلو څخه يو ساعت وروسته خپل اعظمي حد ته رسېږي او له دې څخه وروسته نوموړي ګلوکوز بېرته نورمال حالت ته راګرځي (دا له دې کبله چې نوموړي ګلوکوز د انرژي لپاره په استقلاب رسېږي او يا هم د ګلايکوجن په شکل ذخيره کېږي). د غذا له خوړلو څخه دوه ساعته وروسته بېرته نورمال يا د لوږې د حالت ګلوکوز ته چې د 80-100mg/dl څخه عبارت دی، رسېږي (دې ته Fasting Blood Glucose هم وايي).

په وينه کې ددې ګلوکوز د کموالي په پايله کې د پانکراس څخه د انسولين ازاد بدل کمېږي چې په وينه کې د انسولين سويه راښکته کېږي، ځيګر ددې په غبرګون کې په ځيګر کې د زېرمه شوي ګلايکوجن څخه د ګلايکوجينولايزيس د لارې د وينې دوران ته ګلوکوز ازادوي. که چېرې مونږ په څو ساعتونو کې بله ناشته وکړه، نو مونږ بېرته نورمال حالت ته راګرځو (Fed state)، که چېرې زمونږ لوږه اوږده شي او ۱۲ساعتو ته ورسېږي، په دې حالت کې مونږ Post absorptive حالت ځو. داسې فکر کېږي چې يو شخص د Overnight fasting څخه وروسته Basal state يا Post absorptive حالت ځي. په دې حالت کې د انسولين کچه په وينه کې ښکته کېږي او د Glucagon سويه په وينه کې لوړېږي. (۲،۴،۵،۶)

د لوږې په حالت کې د وينې ګلوکوز او ځيګر ونډه:

د لوږې په حالت کې ځيګر د وينې د ګلوکوز په نورمال ساتلو کې مهمه ونډه لري، ګلوکوز د ځينې انساجو لکه دماغ، عصبي انساجو او د وينې د سرو حجرو لپاره د انرژۍ سرچينه ده. زياتره نيورونونه د شحمي اسيدونو څخه د انرژۍ د لاسته راوړنې لپاره انزايمونه نلري، د وينې سرې حجرې چې مايتوکاندريا نلري، شحمي اسيدونو د اکسيديشن لپاره انزايمونه په مايتوکاندريا کې شتون لري، په دې بنسټ د وينې سرې حجرې نه شي کولی چې پرته د ګلوکوز څخه د نورو انرژي توليدوونکو موادو څخه انرژي لاسته راوړي لکه شحمي اسيدونه او کيټون باډيز؛ نو ددې لپاره د وينې ګلوکوز ډېر په چټک ډول نه ښکته کېږي او نه ډېر ټيټېږي. د هرې غذا څخه وروسته د ځيګر ګلايکوجن د ۲۰۰-۳۰۰ ګرامه پورې لوړېږي او د Over night fasting څخه وروسته يوازې ۸۰ګرامه پورې ګلايکوجن پاتې کېږي، دا ځکه چې د وينې د ګلوکوز د نورمال ساتلو لپاره د Glycogenolysis له لارې د ځيګر ګلايکوجن ټوټه کېږي او د وينې دوران ته يې ازادوي. له نېکه مرغه د لوږې په حالت کې يوازې د ځيګر ګلايکوجن د وينې ګلوکوز نورمال نه ساتي، بلکې د ځيګر په وسيله غيرقندي مواد لکه لکتيک اسيد، ګليسرول او امينواسيدونو څخه د Gluconeogenesis د لارې ګلوکوز جوړوي او د وينې دوران ته يې ازادوي. لکتيک اسيد د وينې د سرو حجرو په وسيله د ګلايکولايزيس د پروسې په جريان کې او همدارنګه د عضلاتو د تمرين په حالت کې توليد ېږي، ګليسرول په شحمي انساجو کې د Lipolysis په پايله کې د ترايګليسرايډونو د ټوټه کېدنې څخه لاسته راځي او امينواسيدونه د پروتينو د ټوټه کېدنې څخه لاسته راځي چې پورته ياد شوي مواد د نوي ګلوکوز په جوړېدنه کې کارېږي (دا چې د عضلاتو حجم زيات دی او ډېر پروتين لري، د نوموړو پروتينو د ټوټه کېدو څخه امينواسيدونه ازاد ېږي او ازاد شوي امينواسيدونه د وينې د لارې ځيګر ته وړل کېږي، په ځيګر کې د امينواسيدونو د

Deamination څخه امونيا او يو کيټو اسيد لاسته راځي، کيټو اسيد يې د Gluconeogenesis د لارې په ګلوکوز باندې بدلېږي او لاسته راغلې امونيا چې د بدن د حجراتو لپاره توکسيک ده، د نومورې د توکسيک اغېزو څخه د مخنيوي لپاره په ځيګر کې د يوريا سيکل د لارې په يوريا باندې بدلېږي (يوريا په اوبو کې منحله، Non toxic ده چې په اسانۍ سره د پښتورګو له لارې اطراح کېږي). (۴)

د لوږې په حالت کې د شحمي انساجو ونډه (Role of adipose Tissue during fasting): د شحمي انساجو ترايګليسرايډونه د لوږې په حالت کې د انرژۍ د توليد يوه لويه سرچينه ده. د نومورو Tri glycerides د ټوټه کېدنې د لارې شحمي اسيدونه برابرېږي، شحمي اسيدونه د ټولو انساجو په وسيله د انرژۍ د توليد لپاره په بشپړ ډول سره په لګښت نه رسېږي، لکه په ځيګر کې نومورې شحمي اسيدونه په څلورکاربنه مرکباتو Aceto acetic acid, Beta) ketone bodies hydroxy butyric acid ,acetone) باندې بدلېږي، بيا لاسته راغلي کيټون جسمونه د نورو انساجو په وسيله د انرژۍ د توليد لپاره په لګښت رسېږي. د لوږې په حالت کې د وينې د انسولين کچه ښکته کېږي او د ګلوکاګون سويه لوړېږي او د شحمي انساجو څخه د Lipolysis د پروسې د لارې د ترايګليسرايډونو د ټوټه کېدنې څخه شحمي اسيدونه او ګليسرول لاسته راځي، وروستي لاسته راغلي مواد (شحمي اسيدونه او ګليسرول) د وينې دوران ته ننوځي. دا بايد هېر نکړو چې شحمي اسيدونه د ګلوکوز د جوړېدنې لپاره په مصرف نه رسېږي، بلکې د شحمي انساجو د ترايګليسرايډونو د ټوټه کېدنې څخه لاسته راغلي ګليسرول د نوي ګلوکوز د جوړېدنې لپاره کارول کېږي. (۱،۲)

شحمي اسيدونه د عضلاتو، پښتورګو او نورو انساجو لپاره انرژي برابروي. د شحمي اسيدونو د اکسيديشن څخه اسيتايل کوآی لاسته راځي، لاسته راغلي اسيتايل کوآی د TCA-cycle د لارې په اوبو، کاربن دای اکسايډ او انرژۍ (ATP) باندې بدلېږي. علاوه له دې څخه انرژي د حجراتو د Integrity لپاره په مصرف رسېږي، عضلات انرژي د تقلص او پښتورګي يې د تشو متيازو د لارې د موادو د لېږد لپاره په مصرف رسوي. دا چې د ځيګر په وسيله شحمي اسيدونه تر کيټون جسمونو پورې په استقلاب رسېږي او له دې څخه نور نومورو استقلاب به پرمخ نه ځي، دا ځکه چې د ځيګر حجرات هغه انزايمونه نلري، کوم چې کيټون جسمونه په استقلاب ورسوي. په نورو انساجو لکه په عضلاتو او پښتورګو کې (هغه حجرې چې مايتوکاندريا لري) کيټون جسمونه په اسيتايل کوآی باندې بدلوي او اسيتايل کوآی بيا د ستريک اسيد سيکل د لارې په استقلاب رسېږي. (۴،۵،۶،۷،۸)

مواد او کړنلاره:

مواد:

- معقم يو ځل کاروونکی سورنج
- انتي سيپتيک او معقم مالوچ
- سنترفيوژ
- د ګلوکوز، کولسترول او HDL د ټاکنې لپاره کيټونه
- کلرميتر ماشين
- د راجستريشن پاڼه
- ترازو
- يخچال

کړنلاره:

دا څېړنه په نورمالو لويانو باندې چې په خپله خوښه يې په څېړنه کې ګډون کړی دی، په لاندې ډول تر سره شوې ده:

Excluding Criteria: لاندې کسان له څېړنې ويستل شوي:

۱- هغه کسان چې پر ځينو ځنډنيو ناروغيو اخته وو، لکه د شکرې ناروغي.

۲- هغه کسان چې سګرټ څکولو باندې روږدي وو.

۳- ډېر چاغ کسان.
۴- هغه کسان چې د ځينو درملو د کارولو تاريخچه ولري، کومې چې د قندونو او شحمياتو په استقلاب اغېزې ولري.
Including criteria: په څېړنه کې لاندې کسان شامل شوي دي:
۱- هغه کسان چې په څېړنه کې په خوښه ګډون کړی او په کلکه يې ژمنه او موافقه کړې وه.
۲- هغه کسان چې د روژې د مبارکې مياشتې د ټولو روژو د نيولو تکل يې درلود.
څېړنه په ۲۰ تنو نورمالو کسانو د ننگرهار پوهنتون په طب پوهنځي کې ترسره شوې ده، د يادو کسانو د هر يو څخه د Randomized کېدو څخه مخکې د هغوی څخه موافقه ليکونه اخيستل شوي، Data په څلورو پيريودونو کې (يوه ورځ مخکې د روژې څخه، د روژې په پنځلسمه ورځ، د روژې په اته ويشتمه ورځ او څلورمه نمونه د اختر په لسمه ورځ) راټوله شوې؛ وروسته د چاڼ کېدو يعنې د تاريخچې او فزيکي معايناتو څخه د هر يو شخص څخه د يو ځل کاروونکي سورنج په وسيله د معقمو شرايطو لاندې د ورېد څخه ۵ ملي ليتره وينه د روژې د مبارکې مياشتې د پيل څخه يوه ورځ مخکې واخيستل شوه، بيا هر دوه اوونۍ (۲۸، ۱۵ او ۴۳ ورځ) وروسته د وينې نورې نمونې واخيستل شوې. د وينې د ګلوکوز د ټاکنې لپاره د نيم ساعت په موده کې اخيستل شوې نمونې باندې عمليه اجرا شوې (ددې لپاره چې که په وينه باندې ډېر وخت تېر شي) د وينې د سرو حجرو په وسيله ګلوکوز په مصرف رسېږي او پايله به غلطه وي، او پاتې نورې بيوشيميکي کتنې هم ورباندې ترسره شوې، اخيستل شويو نمونو څخه جلا شوی سيروم د منفي ۲۰ سانتي ګراډ درجو ساتل کېږي چې په دې باندې د سيروم کولسترول، ترايګليسرايدونو او HDL کولسترول د اجرا لپاره معاينات ترسره شوي، د LDL د اندازه کولو لپاره د Friedwald د فارمول څخه ګټه اخيستل شوې چې د راجستر په پاڼه کې مو ثبت کړي او پايلې مو د Mean ±SD د احصايوي ميتود په وسيله تحليل او لاسته راوړې. د قند او لپيډ پروفايل د کتنې لپاره د ستنډرد کيتونو څخه ګټه اخيستل شوې (Germany Merck company).

پايله:

په څېړنه کې د ګډون کوونکو د عمر منځنی بريد د ۱۵، ۲۹±۲،۱۳ (Mean±SD) ده. د وينې د ګلوکوز کچه د ۹۴، ۱± ۵۵، ۷۸ ده چې نوموړې نمونه د روژې د مبارکې مياشتې د پيل څخه يوه ورځ مخکې اخيستل شوې او د روژې په نيولو سره نوموړې اندازه ښکته کېږي او يو څرګند بدلون مومي چې دا بدلون د لومړۍ ورځې سره په ۱۵ او ۲۸ ورځې سره پرتله کړو، يو څرګند بدلون دی چې په لومړۍ ګڼه جدول کې ښودل شوی دی.

لومړۍ ګڼه جدول په بېلابېلو ورځو کې د وينې بيوشيميک بدلونونه راښيي.

پارمترونه mg/dl	ورځې			
	لومړۍ ورځ	۱۵ ورځ	۲۸ ورځ	د اختر د مياشتې په ۱۰ ورځ
ګلوکوز	78.55±1.94	72.95±1.17	69.15±1.31	80.97±1.43
کولسترول	175.4±3.46	162.22±1.81	159.575±2.31	180.5±3.34
ترايګليسرايډ	124.62±3.46	162.22±1.81	159.575±2.31	180.5±3.34
HDL	40.12±1.32	43.52±1.44	45.87±1.53	43.7±2.36
LDL	116.97±3.5	100±4.31	89.15±1.53	118.65±2.58

يادښت: په پورتني جدول کې ټول اعداد په ملي ګرام په سل سي سي کې اندازه شوي دي.



لومړی ګڼه ګراف: د وينې بيوشيميکو بدلونونو ښودنه کوي.

مناقشه:

د لوږې په حالت کې د قندونو او شحمياتو استقلاب اغېزمن کېږي، نو ځکه د لوږې په حالت کې د وينې د بيوشيمی د بدلون لامل کېږي، په دې حالت کې د غذايي رژيم د لارې د قندونو اخيستل کمېږي او د بدن د حجراتو لپاره انرژي د توليد لپاره د زېرمه شويو قندونو څخه ګټه اخلي چې په پايله کې د ګلايکوجن زېرمې کمېږي؛ همدارنګه د شحمياتو په استقلاب کې هم بدلون رامنځته کېږي. زمونږ څېړنه کې دا څرګنده شوې ده چې د رمضان المبارک مياشتې د روژې له کبله د وينې د قند کچه راښکته کېږي او د روژې پای ته رسېدو څخه وروسته نوموړي (قند) کچه بېرته د غذايي رژيم د عادت د بدلون سره بېرته لوړېږي. د لوږې په حالت کې د HMG-CoA-reductase انزايم فعاليت کمېږي او په پايله کې د کولسترول جوړېدل کمېږي، نو ځکه د وينې کولسترول پکې ښکته وي. (۳)

په غذايي رژيم کې د قندونو کموالی، د ترايګليسرايدونو جوړېدل کمېږي چې له همدې کبله د وينې د کولسترول، ترايګليسرايدونو او LDL کچه راښکته کېږي، د وينې د HDL سويه لوړېږي. زمونږ ددې څېړنې پايلې د ګاونډي هېواد پاکستان په خيبر ميډيکل کالج کې د ورته څېړنې د پايلو سره چې د جميل الرحمن په وسيله ترسره شوې ده پرتله شوي چې زمونږ د څېړنې او د پاکستان د ورته څېړنې پايلې تقريباً سره ورته وې چې لامل يې زمونږ او ګاونډي هېواد پاکستان، په ځانګړې ډول د خيبر پښتونخوا د خلکو سره ورته د ژوند ډول او کلتور د لرلو څخه عبارت دی چې زمونږ او د پاکستان د ورته څېړنو پرتليزې پايلې په دويم او دريېم نمبر جدولونو کې ښودل شوې دي. دويمه ګڼه جدول زمونږ د څېړنې پايلې راښيي:

پارمترونه mg/dl	وړځې			
	لومړی وړځ	۱۵ وړځ	۲۸ وړځ	د اختر د مياشت په ۱۰ وړځ
ګلوکوز	78.55±1.94	72.95±1.17	69.15±1.31	80.97±1.43
کولسترول	175.4±3.46	162.22±1.81	159.575±2.31	180.5±3.34
ترايګليسرايډ	124.62±3.46	162.22±1.81	159.575±2.31	180.5±3.34
HDL	40.12±1.32	43.52±1.44	45.87±1.53	43.7±2.36
LDL	116.97±3.5	100±4.31	89.15±1.53	118.65±2.58

درېيمه ګڼه جدول: د ښاغلي جميل الرحمن د څېړنې پايلې راښيي. (۳)

پارمترونه mg/dl	ورځې			
	لمړی ورځ	۱۵ ورځ	۲۸ ورځ	داختردمياشتی په ۱۰ ورځ
ګلوکوز	78±2.1	71±1.6	70±1.4	81±1.3
کولسترول	172±4.9	160±4.2	157±5.1	182±5.7
ترايګليسرايډ	121±5.2	106±4.7	101±5.3	132±5.6
HDL	40±1.9	45±1.6	48±2.1	46±2.2
LDL	108±8.7	94±9.1	89±8.2	110±10.3

يادښت: په پورته جدول کې ټول ارقام په ملي ګرام په سل سي سي کې اندازه شوي دي.

وړانديزونه:

۱- د ټولنې ټولو وګړو ته زمونږ دا وړانديز دی چې روژه نه يوازې دا چې معنوي ارزښت لري او د الهي حکم پرځای کول دي، بلکې ګڼ شمېر طبي ګټې هم لري، نو بايد حتی الوسعه کوښښ وشي چې پر چا د روژې د مبارکې مياشتې د روژې نيول فرض وي، روژه ونيسي.

۲- د روژې د مبارکې مياشتې لوږه د ګڼ شمېر ناروغيو لکه د چاغوالي، د وينې لوړ فشار او شکرې ناروغۍ په مخنيوي کې مرسته کوي.

۳- لکه څرنګه چې په متن کې توضيح شوې، د غوړو پراکسيديشن څخه (په ځانګړې ډول د LDL څخه) د Malnylaldyhyd ميتابوليت جوړېږي چې همدا پاتې شوني د رګونو د دېوال د زيان له امله د اتيروسکليروزيس د خطرناکې پېښې د پيدا کېدو لامل ګڼل کېږي چې د روژې په نيولو سره ددې خطرناکې مادې په مقدار کې کموالی منځته راځي.

Abstract:

Fasting in biochemical terms is to abstain from caloric intake through any route for 12-14hours, while in Islamic terms, it stands for abstaining not only from caloric intake but also from drinking water since dawn to sunset. Fasting does have an implication on the blood levels of several biochemical parameters. Blood glucose level is decreased due to dietary restriction and its continuous metabolism by the body (means) 69.15±1.31. Cholesterol synthesis is reported to decrease during fasting.[3] Moreover, formation of triacylglycerol is also reduced, It can therefore, be interpreted that the beneficial changes observed during the month of Ramadan are transient and could only be maintained if the dietary habits of Ramadan are continued afterwards.

References:

1: CHATTERJE, CHANDI, CHARAN. MD. (2004), HUMAN PHYSIOLOGY.VOLUME I, Printed in India at Ashutosh Lithographic Co.kalkata: Pp; 235-242, 269-274

2: Champe.Pamela. C Harvey.Richard.A ,Ferrier Denise R.Lippincotts' Illustrated Review of Biochemistry 4th edition ,Published by Wolter Kluwer(India) Pvt LTD New Delhi 2009.

3: Effect of Ramadan fasting on Plasma lipid profile and Carbohydrated available at: www.ayubmed.edu.pk/JAMC/PAST/12-3/Jamil.**pdf**

4: Marks, Dawan B, PhD. Marks Allen D, PhD. Basic Medical Biochemistry A clinical approach Williams & Wilkins- Baltimorr Maryland USA (1996). Pp: 415, 478.

5: MN ,Chatterjea ,SHINDE ,Rana Text book of Medical Biochemistry, 8th Edition. JAPYEE Brothers Medical Publisher (P) LTD, New Dehli, (2012) .Pp: 326,327,334.

6: Muthyya– NM Human Phsiology, 4th Edition JAYPEE Brothers Medical Publishers (P) LTD, (2010), Pp: 17,19,20,21, 35,352,354,355,356,357,365,366.

7: NELSON, DAVID L , COX ,MICHEAL M . Proffessors of Biochemistry University of Wiscon Madison Lehninger Principles of Biochemsitry 4th Edition, publisher Sara Tenney (2005).Pp; 602, 604

8: Vasudevan DM, S.Sreekumar.Vaidyanathan.KannanTextbook of Biochemistry For medical students JAPYEE Brothers Medical Publisher (P) LTD(2011), New Dehli, Pp;235

پوهـــــنوال ذاکـــــره (بابکـــــرخـېل)
ښوونې او روزنې پوهنځی- بيالوژي څانګه

غـــذا ته د ژونديـــو موجوداتو اړتيا

لنډيز:
هر ژوندی موجود انرژۍ ته اړ دی چې دا انرژي د غذا څخه اخلي. د حجرې لپاره شپږ ډوله واحدونه لکه کاربوهايدريت، پروتين، غوړ، ويټامين، اوبه او کاني مواد ډېر اړين دي چې هغوی له يوې خوا انرژي توليدوي او له بلې خوا د ودې او ترميم جوړوونکي مواد دي. هر ژوندی موجود په ځانګړې طريقه خپله غذا لاسته راوړي، نباتات خپله غذا خپله جوړوي، خو حيوانات يې د «دوهم او دريم لاس» نه لاسته راوړي. د انسان غذا او غذايي عادتونه په نړۍ کې توپير لري، هغه څه چې خلک يې خوري، د دوی په توانايي، اقتصاد، ضرورت، انتخاب او خوښې پورې تړلي دي. د انرژۍ واحد کالوري دی چې د کالوري اندازه نظر عمر، جنس او فعاليت ته توپير لري. که انسان ته د اړتيا وړ مواد ونه رسېږي، نو په سؤتغذيې اخته کېږي؛ که د اړتيا نه زياته غذا وخوړل شي، کېدای شي چې د ځينو ناروغيو سبب وګرځي. د غذا ساتل ضروري دي، کېدای شي چې په مختلفو طريقو لکه تودوخې ورکول، انجماد، وچول، کېمياوي موادو استعمال، وړانګې ورکول او نورو په واسطه وساتل شي. غذا نه يوازې دا چې د خوند، شکل او بوی له مخې وخوړل شي، بلکې غذايي ارزښت او اړتيا يې هم بايد په نظر کې ونيول شي.

سريزه:
هر ماشين د کار د سرته رسولو لپاره انرژي ته اړتيا لري، همدارنګه هر ژوندی موجود هم انرژي ته اړتيا لري، تر څو چې خپل حياتي فعاليتونه سرته ورسوي. که څه هم انرژي په کېمياوي، نوراني، صوتي، الکتريکي، حرارتي او نورو شکلونو سره شتون لري، خو د ژونديو موجوداتو په حجره کې کېمياوي انرژي پکارېږي. غذايي مواد د حيواناتو او نباتاتو لپاره د انرژۍ سرچينه بلل کېږي چې انرژي د غذايي موادو په ماليکولونو کې د زېرمې په شکل شتون لري چې په هغو ټولو کې ګلوکوز د انرژۍ مهمه سرچينه بلل کېږي. کاربوهايدريت، غوړ، پروتينونه، ويټامينونه، کاني مواد او اوبه د حجرو لپاره اړين مواد دي چې کاربوهايدريتونه يا قندونه، پروتين او غوړ د انرژۍ سرچينې او د ودې او ترميم لپاره کاني مواد او ويټامينونه د حياتي فعاليتونو لپاره ډېر اړين دي؛ همدارنګه اوبه چې د حجرو تقريباً ٪۷۵ وزن تشکيلوي، په کېمياوي فعاليتونو کې هم برخه اخلي. (۱،۲،۸)

موخې:
ضروري برېښي چې پوه شو کوم مواد غذايي مواد دي او حجرې ولې هغوی ته اړتيا لري؛ ګټې يې څه دي، د کموالي او يا د نه شتون په حالت کې څه پېښېږي. په حجرو يا د ژوندي موجود پر بدن، همدارنګه ژونديو موجوداتو په ټولنو باندې اغېز او داسې نور مهم ټکي دي چې په هکله يې لوستونکو او د مسلک مينه والو ته ګټور معلومات وړاندې شي.
ژوندي موجودات ولې غذا ته اړتيا لري؟
هر ژوندی موجود په خاصه طريقه غذا لاسته راوړي، نباتات هغه ژوندي موجودات دي چې کولی شي خپله غذا په خپله توليد کړي، دوی د فوتوسنتيز د عمليې په مرسته د اوبو او کاربن دای اکسايد نه د کلوروفيل په موجوديت کې د لمر د وړانګو په جذبولو سره ګلوکوز جوړوي؛ که ګلوکوز د حد نه زيات توليد شي، نو بيا د نشايستې په شکل ذخيره کېږي. د نباتاتو برعکس حيوانات خپله غذا په خپله نشي جوړولی، دوی مکلف دي چې غذا پيدا او حجرو ته ورسوي، نو حيوانات مصرفوونکي دي. يو حجروي حيوانات لکه اميبا پروتس (Amoeba protus) په اوبو کې حرکت کوي، خپل شکل ته تغير ورکوي، تر څو چې غذا ومومي، نو بيا غذا د حجروي غشا (Plasma membrane) له لارې بدن ته داخلوي چې غذا د حجرې (بدن) په داخل کې تجزيه او هضمېږي. (۲، ۳)

عالي حيوانات د نباتاتو يا نورو حيواناتو نه تغذيه کوي، ځينې حيوانات لکه غوا، اس، او سويه چې اصلي خوراک يې نباتات دي، وابښه خوړونکي دي او ځينې نور لکه زمري، سپي او لېوه غوښه خوړونکي دي. غوښه خوړونکي د نورو حيواناتو ښکار کوي او د هغوی نه خپله غذا لاسته راوړي. انسان هم غوښه خوري او هم نبات، ځکه هضمي سيستم يې د غوا په نسبت زمري ته ډېر ورته والی لري. په غوښه خوړونکو او وابښه خوړونکو کې هضم له خولې نه پيل کېږي، وابښه خوړونکي د پلنو او پراخه غاښونو، مګر غوښه خوړونکي راوتلي تېره او غوڅوونکي غاښونه لري چې د هغې په مرسته ښکار کوي. حيواناتو کې غذا د خولې نه وروسته مري او بيا معدې ته او له معدې نه کولمو ته ځي؛ په وابښه خوړونکو او غوښه خوړونکو کې د هضم زياته برخه په وړو کولمو کې سرته رسېږي، تر څو قندونه، پروتين او غوړ په دومره وړو اجزاوو تجزيه شي چې د جذب وړ وګرځي. (۱،۴)

ځينې نباتات په داسې خاوره کې وده کوي چې معدني مواد يې ډېر لږ وي، دا نباتات بايد خپله غذا د کومې بلې منبع نه پوره کړي، داسې چې د دوی پاڼې حشرې جلبوي، که کومه حشره د دوی پر پاڼو کېني، پاڼه دا حشره لکه د تلک ځان سره ساتي او پاڼه د کېمياوي مواد په ترشح کولو سره حشره هضموي، غذايي او معدني مواد يې د پاڼې په وسيله جذبېږي، داسې نباتاتو ته حشره خوړونکي نباتات وايي چې ډېر لږ ډولونه يې په نړۍ کې شته. (۱،۳)

ولې غذا خورو؟

دې پوښتنې ته ډېر ځوابونه شته چې کولای شو ټول ځوابونه داسې خلاصه کړو: غذا ځکه خورو چې زمونږ اړتيا د انرژۍ او مادې له مخې پوره کړي؛ ماده د بدن د ودې او ترميم لپاره او انرژي د حياتي فعاليتونو د سرته رسولو لپاره پکارېږي. د حيوان او نبات د غذا تر منځ ډېر توپير شته، ځکه نبات خپله انرژي د غذا نه لاسته نه راوړي، بلکې په خپله د فوتوسنتيز عمل سرته رسوي او غذا جوړوي. ډېری ژوندي موجودات انرژي د «دويم لاس» نه د نباتاتو په خوړولو سره يا د «دريم لاس» نه د حيواناتو په خوړلو سره لاسته راوړي. تقريباً ۹۵٪ ژوندي موجودات لکه عالي حيوانات، فنجای، ځينې پروتوزواوې او بکترياوې خپله انرژي د «دويم لاس» نه لاسته راوړي. د دويم او دريم لاس انرژي لزوماً په مستقيم ډول د ګلوکوز څخه نه اخيستل کېږي، ځکه د ګلوکوز انرژي د مختلفو فعاليتونو په جريان کې مختلفو ماليکولونو ته انتقالېدای شي، دا ماليکولونه په مختلفو کيفيتونو سره کولی شي نورو ژوندیو موجوداتو ته د انرژۍ منشا وي. له دې نه دا خبره ښکاره شوه چې حيوانات خپله انرژي د هغه غذا نه چې خوري يې لاسته راوړي، داسې فرض کړئ چې يو حيوان د غذا (خوراک) په حال کې وي، نو دا په حقيقت کې د انرژي د اخستلو په حال کې وي، دا حيوان ځان ته نوې انرژي نه جوړوي، بلکې ذخيره شوې انرژي د حيوان يا نبات د انساجو نه خپل ځان ته انتقالوي. د حيوان په بدن کې ذخيروي انرژي په حرکي انرژي بدلېږي او د بدن د حياتي فعاليتونو د سرته رسولو لپاره پکارېږي. (۵،۴)

د انسان غذا او غذايي عادتونه په نړۍ کې توپير لري، هغه څه چې خلک يې خوري د هغوی په توانايۍ، اقتصاد، ضرورت، انتخاب او خوښې پورې تړلي وي. هغه څه چې مونږ يې خورو بايد د کاربوهايدريت، پروتين، غوړ، کاني موادو، اوبو او ويټامينو لرونکي وي. پوهانو د غذا انرژي توليدوونکي ارزښت ته يو واحد ټاکلی دي چې کالوري ورته وايي، د کالوري اندازه نظر عمر، جنس او فعاليت ته توپير لري. مثلاً په پنځه کلنۍ کې د يو ماشوم اړتيا په يوه شپه او ورځ کې د ۱۲۰۰ کيلو کالوري پورې، د ۱۲-۱۲ کلنۍ پورې اړتيا ۲۲۰۰-۲۰۰۰ کيلو کالوري (په اناثو کې لږ کم) او په پورته عمر کې تر ۴۰۰۰ کيلو کالوري پورې رسېږي. د غذا انرژي د ظاهري کار او فعاليت لپاره نه، بلکې د خوب په وخت کې هم انرژي مصرفېږي او دا انرژي د بدن د هر کيلوګرام وزن لپاره يو کيلو کالوري ده. مثلاً که تاسې ۵۰ کيلو ګرامه وزن لرئ او اته (۸) ساعته خوب وکړئ، نو ۴۰۰ کيلو کالوري انرژي مصرفوئ، اړينه ده چې انرژي بايد د مختلفو غذاګانو په خوړلو سره پوره او موازنه وساتل شي. (۲،۷)

غذا ته اړتيا:

د هر انسان غذايي اړتياوې سره توپير لري، يو د هغو توپيرونو څخه د عمر او وزن توپير دی؛ مثلاً د يو ۱۴-۱۳ کلن کس د غذا اړتياوې د يو کوچني ماشوم سره توپير لري. همدارنګه هغه کسان چې جسماني فعاليتونه يې ډېر وي، نسبت هغه کسانو ته چې فعاليت يې کم وي، ډېره غذا خوري. کومه غذا چې خوري د قندونو، پروتين او غوړ اندازه يې هم توپير لري،

که تاسې نيم کيلوګرام غذا چې غوړه غوښه، پنير، ډوډۍ او خواړه تقريباً په مساوي اندازه ولري، وخورئ، د ۲۰۰۰ کيلوکالوري په اندازه انرژي به ولري؛ خو که دا نيم کيلو غذا کې بې غوړو غوښه، کاهو، کچالو او روميان وي، نو د ۴۰۰ کيلو کالوري انرژي نه زياته انرژي نشئ اخستلای. همدارنګه کومه غذا چې زياتره سابه وي، نو لازم مقدار پروتين هم نه لري، که يو انسان چې د ورځې ۴۰ ګرامو پروتينو ته ضرورت لري او وغواړي يوازې د کچالو نه يې پوره کړي، دا چې د کچالو د پروتين مقدار په سلو کې ۱/۹ دی، نو دا کس بايد په ورځ کې درې کيلو ګرامه کچالو وخوري، تر څو د پروتين مقدار يې پوره شي.

هغه غذا چې خوړل کېږي ټوله يې نه هضمېږي، ځکه چې يوه اندازه يې سلولوز وي، سلولوز په انسانانو کې د تجزيې وړ ندی. د سلولوز موجوديت په يوې ټاکلې اندازې سره لازمي دی، ځکه د سلولوز په موجوديت کې غذايي مواد د کولمو څخه منظم تېرېږي او څرنګه چې اوبه جذبوي، نو د دفع عمل اسانه کوي؛ مګر که مقدار يې ډېر شي، نو د ناراحتۍ سبب کېږي، ځکه چې د کولمو جدار ته صدمه رسېږي او په نتيجه کې په کولمو کې د اوبو د جذبولو مخنيوی کېږي. (۲،۵)

په نړۍ کې غذايي مسئله:

کله کله په رسنيو کې راځي چې د نړۍ په ځينو برخو کې د وچکالۍ، جنګ، سيلاب، زلزلې او نورو طبيعي او غير طبيعي افاتو له کبله قحطي پيدا کېږي، دا خبر په ټوله نړۍ کې خپور او د خلکو نه مرسته غوښتل کېږي، خو د ماشومانو د سؤتغذيې خبر هيڅکله نه خپرېږي او نه د چا توجه جلبوي، همدا اوس په ډېرې هېوادونو کې زمونږ د هېواد په شمول سؤتغذيې شته، مګر توجه ورته ډېره کمه ده. سؤتغذيې هغه وخت پيدا کېږي چې ځينې د اړتيا وړ مواد بدن ته ونه رسېږي، يا يې مقدار متوازن نه وي. سؤتغذيې مختلف شکلونه لري، لکه:

۱. د نړۍ د ځينو برخو خلک کافي غذا نه لري.

۲. په اندونيزيا کې ډېرې ماشومان د Vitamin A د کموالي نه رند کېږي.

۳. په مرکزي امريکا کې د پلاګر (Pllagra) ناروغي ډېره ده چې د ناسين په نوم ويټامين د کموالي نه پيدا کېږي، ځکه چې د خلکو اصلي غذا جوار دي.

۴. د انګلستان په صنعتي سيمو کې اوس هم ريکتس (Rickets) يا د هډوکو د نرموالي ناروغي شته، ځکه د لمر کافي وړانګې خلکو ته نه رسېږي.

۵. د نړۍ شتمن خلک چې د حد نه زياته غذا خوري او د وزن د زياتوالي، وينې غوړ، قلبي ناروغيو او نورو سبب کېږي.

سؤتغذيه د ۲ مياشتو نه تر ۵ کالو پورې ماشومانو کې ليدل کېږي (په دې عمر کې وده چټکه وي او ماشوم ډېرې غذا ته ضرورت لري). هغه ماشومان چې سؤتغذيې وي په مختلفو عفوني ناروغيو هم اخته کېږي، سؤتغذيه او نورې ناروغۍ د يوه او بل د شدت سبب ګرځي، نو ځکه د ماشومانو مړينه په وروسته پاتې هېوادونو کې ډېره وي. همدارنګه په هغو کورنيو کې چې ماشومان ډېر وي، هم دا پېښه منځته راځي. ځينې هېوادونه چې د کورنيو د تنظيم يا منصوبه بندۍ چيغې وهي، يو علت يې د همدې وضعې څخه مخنيوی وي. (۲،۸)

د سؤتغذيې لپاره نن سبا دا لاندې مسئلې د بحث وړ دي:

۱. ايا د مختلفو هېوادونو غذايي مسايل سره ورته وي؟

۲. ايا د فقر سربېره بې خبري او بېسوادي هم د سؤتغذيې په پيدا کېدو کې رول لري؟

۳. ايا په هغو هېوادونو کې چې سؤتغذيه پکې واقع کېږي، د ډاکترانو او روغتونونو شمېر زيات شي او که خلکو ته عامه پوهاوی د کورنيو د تنظيم او د تغذيې د ډول په باره کې ورکړل شي؟

ښکاره خبره ده چې مخنيوی او مخکښې تدابير تر معالجې ډېر ښه دی. (۲،۴)

د غذا ساتل:

غذا بايد له ورستېدو او تجزيه کېدو څخه وساتل شي او که نه نو صحت ته به ضرر ورسېږي. د غذا د ساتلو لپاره د مختلفو طريقو نه کار اخيستل کېږي، تر څو د مکروبونو او د هغوی د زهري موادو څخه وساتل شي. غذا په لاندې طريقو ساتل کېږي:

۱- د تودوخې ورکول: لوړه تودوخه مکروبونه وژني او غذا د بکتريا وو څخه پاکوي. غذا بايد په سرپټو قوطيو کې وساتل شي، تر څو مکروبونه ورداخل نشي.
۲- انجماد: انجماد مکروبونه نه وژني، مگر د هغوی د ودې چټکتيا کموي، خو دا چې يخ شوې غذا يخ اوبه شي، مکروبونه په فعاليت پيل کوي او غذا خوسا کېږي، نو ځکه داسې غذا بايد تر ويلې کېدو وروسته ډېر ژر مصرف شي.
۳- وچول: په وچولو کې د غذا رطوبت کمېږي، وچوالی هر مکروب غير فعاله کوي او د هغوی د تکثر مخه نيسي.
۴- کېمياوي مواد: ځينې خلک خاص کېمياوي مواد په غذا کې ورگډوي چې انسان ته ضرر نه رسوي، مگر د خوسا کېدو مخه نيول کېږي، لکه په اچارو، مرباوو کې کېمياوي مواد استعمالوي. په لوگي ورکولو سره په غذايي موادو کې مکروبونه وژل کېږي، مالگه شيندل، د مالگې په محلول کې ايښودل او نور مکروبونو د وژلو لپاره استعمالېږي. (۷،۵)
وړانگې ورکول: د گاما وړانگې د مکروبونو د وژلو سبب کېږي، دا طريقه د غذا د ساتلو يوه نوې طريقه ده، په دې طريقه کې مکروبونه وژل کېږي، مگر د هغوی د زهري موادو ترکېبات له منځه نه ځي. بايد له دې طريقې نه په ډېر احتياط او فني ډول کار واخيستل شي. (۷،۲)
په غذا کې د مصنوعي شيانو اضافه کول: نن سبا په فابريکو کې د غذا سره طبيعي او مصنوعي مواد وراضافه کوي، لکه تروه او خواږه مواد، رنگونه، گازات او نور ځينې محافظوي مواد Preservative د مکروبو وده کنترولوي او د غذا دوام زياتوي. امولسيون کوونکي او پايدارکوونکي مواد هم دوی ته د حل خاصيت ورکوي. د اکسايد ضد مواد د هغو غذاگانو چې د هوا په مقابل کې پاتې کېږي، د اکسايد کولو مخه نيسي. د غوړو اکسايد کېدل د دوی د خوسا کېدو سبب کېږي. د ميوو لکه منه د رنگ تغير وروسته له دې چې وشکول شي، منې د عضوي موادو د اکسايد کېدو دليل دی. ځنې خلک د ځينې موادو سره چې په غذا کې زيات شي، حساسيت لري، رنگونه يو له دې موادو څخه وي. يوه بله ماده چې په طبيعي ډول په بحري الجای کې شته، گلوقانات مونوسديم دی چې په تجارتي ډول د چغندر د قند او غنمو نه جوړېږي. د چکني (چاشني) په شکل د غوښې لپاره پکارېږي، ځينې خلکو ته يې په خوړلو سره سردردي او کانگې پيدا کېږي. د مصنوعي خوږو موادو نه يوه ماده د سيکلامات په نوم يوه ماده ده چې دا مرکب زمونږ کروموزومونو ته زيان رسوي، نن ورځ ددې ترکېباتو استعمال منعه دی. (۸،۲)

پايله او سپارښتنې:

- د کورنۍ لپاره يوازې د غذا خوند، شکل او بوی کافي ندی، بلکې بايد د پروتين، غوړ، ويټامينونو، معدني موادو او کاربوهايدريتونو اندازې ته هم پاملرنه وکړي.
- ماشومان پروتين او قندي موادو ته ډېر ضرورت لري، خو د ډېر عمر کسان بايد په خوراک کې له احتياط نه کار واخلي.
- کوښښ وکړئ چې د مصنوعي او بازاري غذاگانو پر ځای د طبيعي غذاگانو نه استفاده وکړئ.
- ډوډۍ ورو ورو خورئ او هره مړۍ ۳۰ واړې وژوئ.
- په غذا کې د سبو خوړل مه هېروئ.
- د يو ډول غذا نه مسلسل استفاده مه کوئ، بلکې د غذا تنوع ته هم توجه وکړي.
- د ډوډۍ په خوړلو کې د اعتدال نه کار واخلئ، د اړتيا نه ډېره غذا خوړل صحت ته خطر لري.

Abstract:

Every living being need energy which is taken from food. There are 6 units of such as Carbohydrates, proteins, lipids, vitamins, water and minerals which is important for energy production and another hand growth and repairing material. Every living being takes its food form especially way the plants make its food by itself, but the animals take it from second and third hand. Humans food and food habits is different in world. The food which is taken by human depends on their power, economic, need, selection and choice. Calory is unit of energy the amount of calory is different according to age sex and activities. If food is not eaten according to need, it will cause mal nutrition.If over feeding is done it also cause some disease. The food is kept in different way for example giving heat, milt, drying, use of chemical material, radiation and etc.

References:

1. Donald, M, Selver (1993). Life on Earth. London.
2. Dubey, R.C. Maheshwari, D.K. (2005). Text book of Microbiology. New Delhi.
3. Dubey, R.C,(2001). Text book of Biotechnology. New Delhi.
4. Gill, P.S (2000). Plant Physiology. New Delhi.
5. Jain, V.K. (2001). Fundamentast of Plant Physiology. New Delhi.
6. Shukla, R.S.Chandel, P.S.(2001). Plant Ecology. New Delhi.
7. Vidyarthi, R.D.Pandey, P.N.(2005). Text book of Zoology. New Delhi.
8. http://www.ecohealth101.org/unbalancing/unbalancing9.html

پوهـــنوال دل آقـــا (دل)
پوهـــنوال سيف الله (هادي)
طب پوهنځی- داخله څانګه

د ابهر په دسامي ناروغيو کې د زړه عدم کفايې پېښې

لنډيز:

څېړنه پر**۵۰** تنو ناروغانو چې د ابهر په دسامي ناروغۍ اخته وو، د دسامي افت د شدت او د زړه د عدم کفايې د پېښو د ميندلو په موخه ترسره شوه چې له دې جملې پنځه د برش تنه (۷۰٪) ناروغان د ابهر دسام په تنګوالي او پنځلس تنه (۳۰٪) يې د ابهر په عدم کفايه اخته وو. د ابهر تضيق په اخته کسانو کې**۲۵**تنه (۴۲.۷۱٪) يې د زړه په عدم کفايه اخته وو او د ابهر په عدم کفايې اخته وګړو کې **۵** تنو (۳.۳۳٪) کې د زړه عدم کفايه موجود وه، خو په پاتې**۱۰**تنو (۶.۶۶٪) کې د زړه د عدم کفايې څرګندونو شتون نه درلود. **۳**تنه (۶٪) ناروغانو کې د ابهر تضيق او عدم کفايې په ګډه شتون درلود. د څېړنې پايلې مو د منليو علمي تحقيقاتي منابعو سره پرتله کړې چې په مناقشه کې ترې يادونه شوې ده.

سريزه:

د زړه د اسکيميا او د وينې د لوړ فشار څخه وروسته د زړه د عدم کفايې غوره لامل د زړه دسامي ناروغۍ تشکيلوي. د زړه دسامي ناروغيو تشخيص او درملنه د شلمې پېړۍ له نيمايي څخه پيل شوه چې له امله يې د نوموړو ناروغانو د مړينې خطر تر ډېره بريده کم شو. د امريکا په متحده ايالاتو کې**۱۹۹۰**کال کې**۲.۹** مليونه کسان په دسامي ناروغۍ اخته وو، اټکل کېږي چې تر**۲۰۵۰** کاله پورې به **۲۵** مليونو تنو ته ورسېږي. د زړه د دسامي ناروغيو په تېره بيا د ابهر دسام ناروغۍ پېښې زمونږ په ګران هېواد کې هم زياتې دي چې زياتره د زړه د عدم کفايې لامل کېږي. له نېکه مرغه د طب پوهنځي روغتون د داخلې په څانګه کې د ايکوکارديوګرافيک معايناتو په واسطه د زړه دسامي ناروغۍ تشخيصېږي، خو له بده مرغه زمونږ په هېواد کې د زړه دسامي ناروغيو د جراحۍ درملنې اسانتيا نشته او زياتره دا ناروغان بالاخره د زړه په عدم کفايه اخته کېږي. له همدې امله د داخلې څانګې لخوا مو دنده واخيسته چې د ابهر دسامي ناروغيو کې د زړه د عدم کفايې پېښې او د دسامي افت شدت وڅېړو. پټه دې پاتې نه وي چې په څېړنه کې د کلينيکي ارقامو راټولولو دنده د پوهنوال سيف الله (هادي) او ايکوکارديوګرافيک معاينات او د مناقشې برخه د پوهنوال دل اقا (دل) په غاړه وه.

موخې:

- د زړه دسامي ناروغيو او د هغې د تشخيص څېړل.
- په اړونده برخه کې د مسلک خاوندانو او مينه والو ته د ګټورو علمي معلوماتو برابرول.

د ابهر په دسامي ناروغيو کې د زړه عدم کفايې پېښې:

د زړه دسامي ناروغۍ په زړو خلکو کې يوه ستره روغتيايي ستونزه ده، د دسامونو جراحي عمليات د**۳۰٪** څخه زياتې پېښې د**۷۰** کلنۍ څخه پورته عمر کې ترسره کېږي؛ د عمر په زياتېدو سره د ابهر د دسام کلسيفايد تضيق پېښې زياتېږي.

د ابهر دسام تنګوالی (*Aortic Stenosis*):

په لويانو کې د ابهر د دسام د تنګوالي غوره لاملونه د ابهر د بای کسپيد دسام کلسيفکيشن، د ابهر د دسام ديجنريشن او روماتيک تنګوالی دی. د ابهر د دسام کلسيفيک تنګوالی چې د دسام درې واړه کسپونه اخته کوي، د زړه د دسامي

ناروغيو غوره برخه جوړوي، نوموړی آفت زياتره په زړو خلکو کې ليدل کېږي او ۲۰٪ پېښو کې د زړه د عدم کفايې لامل کېږي. (۵)

په لومړيو کې د زړه دهانه د ابهر د دسام د pressure gradient په بدل کې ساتل کېږي، کېنې بطين په تدريجي ډول هايپرتروفي کوي او د اکليلي وينې جريان کفايت نه کوي، نو له دې امله په ناروغانو کې د اکليلي شريان د ناروغۍ پرته د انجينا ګيلې راپيدا کېږي. د ابهر په دسام کې د ثابت انسداد له وجې د فزيکي فعاليت په وخت کې د زړه دهانه نه زياتېږي، نو له دې امله په ناروغانو کې د جهد په وخت کې هايپوتنشن او سنکوپ پيدا کېږي. د ابهر خفيف تضيق معمولاً بې ګيلو وي، د شديد تنګوالي غوره کلينيکي څرګندونې عبارت دي له سالنډې، د سينې درد او جهدي سينکوپ څخه کله کله د سږو د اذيما اعراض هم رامنځته کېږي، غوره فزيکي علامه يې Ejection Systolic Murmur دی چې د ابهر په محراق کې اورېدل کېږي، کاروتيد نبضان slow rising او pulse pressure تنګ وي که چېرې زړه په عدم کفايه اخته شوی وي، د سږو په قاعده کې به رالونه واورېدل شي. (۳م۲۳۴)

لابراتواري ازموينې:

په ECG کې د کين بطين هايپرتروفي او LBBB بدلونونه موجود وي، د سينې راديوګرافي کېدای شي نورماله وي، خو کله کله د کينې بطين غټوالی او د صاعده ابهر پراخوالی ليدل کېږي. ايکوکارديوګرافي کلسيفايد دسام، د دسام د خلاصېدو محدوديت او د کينې بطين هايپرتروفي ښيي. د دسام د تنګوالي شدت د Doppler ازموينې په واسطه معلومېږي، د زړه کتيترايزيشن د کورو نرى شريان د ناروغۍ د معلومولو او د کينې بطين او ابهر ترمنځ د فشار توپير د ارزونې لپاره ترسره کېږي.(۲م۳۲۲)



انځور: د ابهر دسام د تضيق ايکوکارديوګرافيک بدلونونه ښيي. (۷م۱۹۰)

د ابهر د دسام عدم کفايه:

د ابهر عدم کفايه هغه حالت ته وايي چې د دياستول په صفحه کې يوه اندازه وينه د ابهر دسام له لارې د ابهر څخه چپ بطين ته بېرته وګرځي، د ناروغۍ په لومړي وخت کې اعراض نه وي، هغه وخت څرګند کېږي چې د کينې زړه عدم کفايه منځته راشي. نوموړې ناروغي ډېرې علامې لري چې زياتره د Hyperdynamic circulation، د ابهر څخه کينې بطين ته د وينې رجعت او د کينې بطين د لويوالي له امله منځته راځي. نوموړې نښې عبارت دي له Quincke's sign، De Musset's sign، Duroziez's sign او pistol shot femorals، د زړه زروه کينې او سفلي خواته بې ځايه شوی وي او قوي جس کېږي. په اصغا سره لوړ غږ مقدم دياستوليک مرمر د سترنوم کينې خوا په څلورمه بين الضلعي مسافه کې اورېدل کېږي. مرمر هغه وخت ښه اورېدل کېږي چې ناروغ قدام ته ټيټ شي او د ذفير په وخت کې سا بنده کړي. د volume overload له ejection systolic flow murmur هم کله کله اورېدل کېږي. د سينې راديوګرافي د کينې بطين غټوالی او د ساعده ابهر پراخوالی ښيي، همدارنګه کلسيفکېشن د ابهر په جدار او دسام کې کېدای شي وليدل شي. ECG د کينې بطين د هايپرتروفي

بدلونونه ښيي، په ايکوکاردیوګرافي کې د کيڼ بطين پراخه او قوي تقلصيت لري، په CW ډاپلر کې د Regurgetant get ليدل کېږي (۴، ۱۰)

مواد او کړنلاره:

څېړنه د طب پوهنځي روغتون د داخلي څانګې د زړه په تشخيصه مرکز کې د ۱/۳/۱۳۹۰ نېټې څخه تر ۱/۲/۱۳۹۱ نېټې پورې په ۵۰ تنه د ابهر په دسامي افت اخته ناروغانو باندې ترسره شوه. په څېړنه کې د ستاتسکوپ، فشار اله، ECG ماشين او ايکوکاردیوګراف ماشين څخه د کار د وسايلو په توګه ګټه اخيستل شوې ده. په څېړنه کې لومړی د هر ناروغ څخه مکمله تاريخچه اخيستل شوې، بيا فزيکي معاينات تر سره شوي، وروسته د تشخيص د يقيني کولو لپاره ايکوکاردیوګرافيک معاينات اجرا شوي دي؛ له پوره تشخيص وروسته د ابهر په دسامي افت اخته ناروغان تر څېړنې لاندې نيول شوي دي. هغه ناروغان چې عمرونه يې د ۱۸ کالو څخه کم وو، د ميوکارد د احتشا تاريخچه يې درلوده او يا د ابهر د دسام په وظيفوي عدم کفايه اخته وو، د څېړنې څخه وويستل شول. تر څېړنې لاندې ناروغانو کې ۲۸ تنه نارينه او ۲۲ تنه يې ښځينه وې، ۸ تنو يې د ۵۵-۳۵ کالو تر منځ عمرونه درلودل. په تاريخچه کې د ۳۲ تنو د فزيکي فعاليت په وخت کې سالنډی او ستومانتيا څخه، ۲۴ تنو د زړه ټکان او ۸ تنو د سينې درد څخه ګيله درلوده. په فزيکي معاينه کې د ۲۲ تنو ناروغانو شرياني فشار لوړ(Mean systolic pressure = 170mmHg او Mean diastolic pressure =92mmHg)ؤ. د زړه په فزيکي معاينه کې په ۳۵ تنو کې د ابهر په محراق کې Ejection Systolic murmur او په ۱۵ تنو کې Early Diastolic Murmur اورېدل کېده. ۲ تنو کې د کاروتيد شريان نبضان متبارز او په فخذي شريان کې Pistol shot sound د اورېدلو وړ و. د ۷ تنو ناروغانو د ابهر په محراق کې سيستوليک او دياستوليک مرمرونه په ګډه اورېدل کېدل. په ايکوکاردیوګرافي معاينه کې د 2D او CW Doppler معايناتو له مخې په ۳۵ تنو ناروغانو کې د ابهر د دسام تنګوالی تثبيت شو چې له دې ډلې څخه ۱۲ تنه په شديد، ۹ په متوسط او ۱۰تنه د ابهر د دسام په خفيف تنګوالي اخته وو. په همدې ناروغانو کې ۳۰ تنو د کيڼ بطين هايپرتروفي چې په ۱۸ تنو کې د کيڼ بطين د لويوالي سره يوځای وه، درلوده. په ۱۵ تنه ناروغانو کې Color Doppler ايکوکاردیوګرافي د ابهر د دسام عدم کفايه وښوده چې له دې ډلې څخه ۴ تنه يې شديده، ۳ تنه متوسطه او ۸ تنه يې د ابهر خفيفه عدم کفايه درلوده. د ذکر شويو ناروغانو څخه ۲ تنو کې د کيڼ بطين لويوالی موجود و. د ۷ تنو په ايکوکاردیوګرافي کې د ابهر د عدم کفايې او تضيق نښې په ګډه وليدل شوې. د ابهر د تضيق په ۲۵ تنه ناروغانو او د ابهر د عدم کفايې په ۵ تنه ناروغانو کې د کيڼ بطين د هايپرتروفي ECG نښې د ليدلو وړ وې.

پايله:

څېړنه په ۵۰ تنو ناروغانو باندې چې د ابهر په دسامي ناروغۍ اخته وو، د دسامي افت د شدت او د زړه د عدم کفايې د پېښو د موندلو په موخه ترسره شوه چې لاندې پايلې يې درلودې:

پنځه دېرش تنه (۷۰٪) ناروغان د ابهر د دسام تنګوالی درلوده چې په دوی کې ۱۲ تنو (۷۱.۴۵٪) د ابهر د دسام شديد تنګوالی، ۹ تنو (۷۱.۲۵٪) متوسط تنګوالی او ۱۰تنو (۵۷،۲۸٪) د دسام خفيف تنګوالی درلوده. د ابهر د تضيق په ناروغانو کې ۲۵تنه (۴۲.۷۱٪) د زړه په عدم کفايه اخته وو، خو په پاتې ۱۰ تنو (۲۸.۵۷٪) کې د زړه د عدم کفايې کلينيکي څرګندونې موجودې نه وې. له پنځوسو څخه پنځلس (۳۰٪) تنه ناروغان د ابهر په عدم کفايه اخته وو چې په ۴ تنو (۲۲،۲۲٪) کې د ايکوکاردیوګرافي له نظره د ابهر شديده عدم کفايه، په ۳ تنو(۲۰٪) کې متوسطه او په پاتې ۸ تنو (۲۳.۵۳٪) کې د ابهر خفيفه عدم کفايه موجود وه. د ابهر د عدم کفايې ۵ تنه (۳.۳۳٪) ناروغان د زړه په عدم کفايه اخته وو، خو په پاتې ۱۰ تنو (۲.۲۲٪) کې د زړه د عدم کفايې څرګندونو شتون نه درلود. ۳ تنه (۲٪) ناروغانو کې د ابهر تضيق او عدم کفايه په ګډه موجود وه.



ګراف: د ابهر د دسام په ناروغۍ کې د زړه د عدم کفايې واقعات ښيي.

مناقشه:

په دې څېړنه کې ۵۰ تنه د ابهر په دسامي افت اخته ناروغان د زړه د عدم کفايې د شتون لپاره څېړل شوي دي چې د پايلو څخه يې پورته يادونه شوې ده، د څېړنې پايلې مو په لويديزې نړۍ کې د ورته ترسره شويو څېړنو سره پرتله کړې، يوه څېړنه چې د ايټاليې د Cardiology division لخوا ترسره شوې، ۵۲ تنه د ابهر د تضيق ناروغان څېړل شوي دي چې ۲۷ تنه (۲.۴۸٪) يې د زړه په عدم کفايه اخته وو. هغه څېړنه چې په هسپانيه کې د ابهر د عدم کفايې په ۲۱۲ تنه ناروغانو باندې ترسره شوې وه، په ۲. ۸٪ ناروغانو کې د زړه عدم کفايه موجود وه؛ يوه بله څېړنه چې په ۲۰۰۵ کال کې په ۵۳ تنه د ابهر تضيق ناروغانو باندې چې د ۳۰-۸۰ کالو تر منځ عمرونه يې درلودل، ترسره شوه، ۱۵ تنو کې د زړه عدم کفايې شتون درلود. د امريکې د Division of Cardiovascular disease لخوا په ترسره شوې څېړنه کې ۲۸۷ تنه د ابهر د دسام د عدم کفايې ناروغان د زړه عدم کفايې لپاره څېړل شوې وو، د ناروغانو منځنی عمر +۲۱/-۱۷ او ۲۸٪ يې نارينه وو؛ ۴۰ تنه (۹.۱۳٪) تنه يې د زړه عدم کفايه درلوده. (۱،۲،۸،۹)

که خپله څېړنه د پورتنيو څېړنو سره پرتله کړو، د پايلو ترمنځ څرګند توپير ليدل کېږي، يعنې زموږ په ناروغانو کې (د ابهر تنګوالی او عدم کفايه) د زړه د عدم کفايې پېښې زياتې دي؛ په بله وينا، زموږ د ابهر تضيق ناروغان نړدې يونيم ځلې او د ابهر د عدم کفايې ناروغان نړدې درې ځلې زيات د زړه په عدم کفايه اخته کېږي. څرنګه چې د ابهر غير اختلاطي خفيف دسامي ناروغۍ زياتره بې عرض وي، له بلې خوا زموږ د ټولنې وګړي د اقتصادي ستونزو او د تعليم د کچې د ټيټوالي له امله خپل طبي معاينات په منظم ډول او په وخت نه ترسره کوي او هغه وخت ډاکتر ته مراجعه کوي چې پرمختللي اعراض ولري، له دې امله زموږ د څېړنې لاندې ناروغانو کې د زړه د عدم کفايې پېښې زياتې وې.

وړانديزونه:

څرنګه چې د ابهر دسامي افت هغه وخت ښه تداوي کېدای شي چې د زړه د عدم کفايې پرمختللي اعراض موجود نه وي، نو ښه به وي چې د طب ښاغلي کارکوونکي د روتين فزيکي معايناتو په ترڅ کې د زړه مرمر ته پوره پاملرنه وکړي او د مرمر د شتون په صورت کې د پوره تشخيص لپاره ناروغ د ECG او ايکوکارديوګرافي معاينې ته واستوي.

په رسنيو کې د زړه د دسامي ناروغيو د نښو او احتمالي خطرونو په اړه د معلوماتو خپراوی او د وګړو پوهاوی به د ناروغۍ په وخت تشخيص کې مرسته وکړي.

له بده مرغه تر اوسه د هېواد په کچه د زړه د جراحۍ مجهز مرکز نشته چې د تاسيس په صورت کې به يې په دسامي ناروغۍ اخته ناروغان د مړينې او معيوبيت څخه وژغورل شي او هم به له هېواد څخه د پانګې د بېځايه وتو مخه ونيول شي.

Abstract:

There were enrolled 50 patients with aortic valve disease. The main purpose of this study was detection of severity of aortic valve lesion and its relation to heart failure. 70% of patients had Aortic Stenosis and 30% had aortic insufficiency. 6% of patients had combine aortic valvulare disease. 71.42% of patients with aortic Stenosis were suffering from heart failure, but the percentage of heart failure in aortic insufficiency was 33.3.

References:

1- Division of Cardiovascular disease and internal medicine myoclinic Rochester, MN55905 USA

2- Faggiano p, Rusconi T, Ghizzoni G, Sorgato A, Gardini A.(2002) Congestive heart failure in patients with valvular aortic Stenosis. Division di cardiology, Italia.

3- Haslett, C. and Chilvers, E.R. (2005) Davidson's Principles and Practice of Medicine 20th edition, Churchill Livingston, pp: 634

4- Kumar, P., Clark, M. (2009), Clinical Medicine, *Saunders*. Pp: 766

5- Loscalzo, J., (2010) Harrison's Cardiovascular Medicine. *Mc Graw* hill New York, 217

6- Mcphee, I., Stephen, J. and Maxine, A.P, (2011) Current Medical Diagnosis and Treatment, 49th edition, Mc Graw Hill, USA, pp. 362

7- Oh, Jae K.; Seward, James B.; Tajik, A. Jamil (2006) Echo Manual, The, 3rd Edition, Lippincott WIlliams & Wilkins pp: 190

8- M.C Smith (2005)Diastolic heart failure in patients with aortic Stenosis Pubmed/16613152

9- www.ncbi.nlm.gov/pubmed/18590651

10- Zipes, D.P., Robert, O.B., Mann D.L. and Libby, p. (2007) Braunwald`s Heart Disease 7th edition Saunders, pp: 824

پوهـــنوال گـــلاب شـــاه (سبحـــانـــي)
اقتصاد پوهنځی- ملي اقتصاد څانگه

حــواله او د هغــې حقوقي او اقتصادي اړخ

لنډيز:

حواله هغه سند او قانوني ډاډمن تضمين دی چې د يوې ذمې (حق، مفاد، مال او شتمنۍ) انتقال له يوه شخص څخه بل ته ثابتوي، يا حواله هغه سند دی چې د ځانگړي مقدار مال، پيسو، حق يا مفاد د لېږدولو حامل وي. په دې توگه حواله يو تبادلاتي او ارزښت لرونکی سند دی چې د اقتصادی معاملاتو او مبادلاتو پرمخ بېولو لپاره اړين دی. نن ورځ حواله، حواله کول، د حوالې جوړول او لېږل، د حوالې اخيستل او اجراکول په عامه اداره او هم په ټولو اقتصادي موسساتو کې د پروسې د گړندي او اسانه کولو او قانونی کولو يوه مهمه وسيله ده چې بېلابېل ډولونه لري. حواله د يو سند په توگه هغه تحريري امر دی چې په هغې کې يوه ټاکلې اندازه پيسې له يو طرف څخه بل طرف ته لېږدول کېږي. کېدی شي دا يو طرف داين او بل يې مديون وي، يا يو طرف کارفرما او بل طرف يې کارگر وي، يا يو طرف بانک او بل طرف کريدت اخيستونکی وي او داسې نور.

سريزه:

ټول اسناد حقوقي اړخ لري او د هغو د تثبيت او د هغو په اړه دعوا د قانون او محکمې له لارې فيصله کېږي. د سند نوعيت، اعتبار، موده او قوت هغه ټکي دي چې د معاملاتو د ترسره کولو او جانبينو لپاره مهم ارزښت لري، له دې امله چې زيات شمېر سندونه د ملکيتونو په اړه دي، نو ځکه دا د حقوقي اړخ ترڅنگ اقتصادي اړخ هم پيدا کوي، لکه قباله، حجت، وثيقه، حواله، برات، چک او دا ټول د ملکيتونو او مالي معاملاتو لپاره کارول کېږي؛ په تېره بيا نن ورځ گڼ شمېر معاملات د بانکونو په واسطه ترسره کېږي. په اقتصاد کې نن ورځ چک، آويز، حواله، برات او نور سندونه چې د ځانگړي مقدار مال او پيسو د لېږدولو حامل دي، ډېر زيات تبادله کېږي او په بانکي او مالي چارو کې يې آساني راوستې ده. ځينې وختونه د عدم وضاحت په صورت کې يو شمېر اسنادو کې غلطي يا ناسم برداشت رامنځته کېدای شي، ددې لپاره چې د حوالې سند په هکله ښه پوهه موجوده وي، بايد ددغه مهم تبادلاتي او ارزش لرونکي سند په هکله له لغوي او اصطلاحي پلوه معلومات موجود وي، نو د حوالې پېژندنه او د هغې په هکله پوهه نه يوازې د اقتصاد او حقوقو د ساحې کارکوونکو، د بانک مامورينو، د تجارتي دفترونو منشيانو، صرافانو، کمېشن کارانو او د محاکمو مامورينو ته ضرور او په زړه پورې ده، بلکې تر ډېره حده د عامه ادارې مامورينو ته هم ددغه سند پېژندل ضروري دي؛ ددغه پراخه ضرورت له امله مو وغوښتل چې د حوالې پر دواړو اړخونو يعنې اقتصادي او حقوقي اړخ بحث وکړو.

موخې:

د حوالې د حقوقي او اقتصادي اړخ، ډولونو او دغه راز يې د کارولو موارد پېژندل.
په اړونده برخه کې د مسلک خاوندانو او مينه والو ته د گټورو معلوماتو برابرول.

د حوالې پېژندنه او د کارولو موارد:

لکه چې وويل شول د اقتصادي مبادلاتو او معاملاتو د پرمخ بېولو لپاره د يو شمېر اسنادو تبادلې ته اړتيا ده، خو دا ددې مانا نلري چې يوازې معاملات گړندي او اسانه شي، بلکې د معاملاتو د اجرا لپاره يو ډاډمن تضمين هم موجود شي چې په دې اسنادو کې يوه يې حواله ده. حواله له لغوي پلوه سپارلو ته وايي، حول يعنې يوچاته د يوه مال په هکله سپارښتنه کول؛ کله چې يوه ذمه له يو چا څخه بل چا ته حول شي يعنې ذمه د بل چا په ذمه وسپارل شي، سند ته يې حواله ويل کېږي. حواله هغه ليکلی سند دی چې ددغې ذمې انتقال او لېږدول ثابتوي، نو دا چې مهم ټکی په حواله کې يوه شتمني، ملکيت، دارايي، پيسې او بل ارزښت لرونکی جنس وي، نو ځکه يې مهم عنصر او جز همدغه برخه يعنې پيسې يا شتمني ده. نن ورځ

د حوالې د استعمال موارد تر بل هر وخت څخه ډېر زيات رواج شوي دي، دا ځکه چې د معاملاتو سرعت او ګڼوالی ددې ايجاب کوي چې حوالې يو بل ته تبادله شي. ددې هدف لپاره اول په دغه اصطلاح او بيا د هغې په ډولونو خبرې کوو.

د حوالې لغوي او اصطلاحي معنی د سپارل شوي په معنی ده او محول هغه ليک ته وايي چې د هغې له مخې د هغې اخستونکی بايد درېيم شخص ته پيسې يا مال ورکړي، يا په بله وينا له يوې ذمې څخه بلې ذمې ته لېږدول حواله بلل کېږي. په بانکي چارو کې د ورکړې د ليکلي، تلګرافي، تلکس او فکس دستور چې د يوه بانک له خوا ورکول کېږي او په يوه بل ځای کې يې حقيقي يا حقوقي شخص ترلاسه کوي، حواله بلل کېږي. (۴م۲۱۲)

يا په بل عبارت حواله د هغه عقد يا قرارداد څخه عبارت ده چې د هغې په موجب د يو شخص غوښتنه د مديون د ذمې يا مال څخه د درېم شخص ذمې ته لېږدول کېږي او هم څوک يو څه د چا په واک کې ورکول يا د چا په غاړه اچول، اړ او فرمايش ته هم وايي. (۵م م۸۱-۳۹۸)

همدارنګه حواله هغو پيسو يا مال ته ويل کېږي چې يوه موسسه يا شخص د هغو درخواست او غوښتنه کوي او بل شخص يا موسسه يې ترلاسه کوي. په دې توګه د حوالې په ټولو پروسو کې درې عناصر ډېر مهم دي:

- حواله ورکوونکی (Assignor) : هغه څوک چې يو ډول مفاد ، نغد ، جنس يا يو حق بل چاته لېږدوي.
- حواله اخيستونکی (Assignee) : هغه څوک چې هغه يو حق يا مفاد ورلېږدول شوی وي.
- لېږدول، انتقال (Assignment) : د يو شخص څخه بل ته د يوه ملکيت يا حق رسمي لېږدول دي. (۲)

د حوالې ډولونه:

حواله بېلابېل ډولونه لري:

مقيده حواله: هغه ده چې پوروړی(محيل) احاله کوونکی، محال له (پورلرونکي) ته دخپل مال د ورکولو چې پر حواله اخستونکي (محال عليه) يې لري، حواله ورکوي. (۴م۲۱۷)

مطلقه حواله: هغه ده چې د محيل د مال په ورکولو سره چې محال عليه سره قيد شوی نه دی.

د دين (پور) حواله: د حواله ورکوونکي لخوا د پور ورکړه ده، هغه چاته چې له هغه څخه پور غوښتل کېږي، همدارنګه هغه څه چې چاته سپارل کېږي يا هغه کار چې چاته په غاړه وراچول کېږي. هغه پيسې او اجناس چې د يوه ليک له مخې چاته سپارل کېږي او د ليک له مخې هغه پيسې او جنس ترلاسه شي. حواله د لومړي او څلورم توري په زبر (فتح) د مصدر نوم دی چې له (احال) ببرته ګرځېدلو څخه اخيستل شوی دی. (۲م۲۱۴)

په همدې ترتيب د افغانستان مدني قانون په خپلو (۱۷۱۶-۱۷۱۹) مادو کې همدا د حوالې پورتني درې ډولونه ښودلي دي. (۸م۵۴)

د حوالې په بحثونو کې مونږ له يو شمېر اړونده ضروري اصطلاحاتو سره مخ کېږو ، نو مخکې تر پوره تفصيلاتو په لنډه توګه هغه له نظره تېروو:

حواله: له يوه ذمت څخه بل ذمت ته د پور لېږدول.

محيل: هغه پوروړی دی چې احاله يې کړې وي.

محال (محال له، محتال): پوروړی شخص.

محال عليه: هغه څوک دی چې حواله يې په ځان منلې ده.

محال به: هغه مال چې احاله شوی وي.

مقيده حواله: هغه ډول حواله ده چې محيل، محال له د خپل مال په اخستلو چې په محال عليه باندې يې لري او يا يې په لاس کې لري، حواله ورکړي.

مطلقه حواله: هغه ډول حواله ده چې محال عليه سره د محيل د مال په ورکولو نه وي قيد ، حواله يو ټاکلی عقد دی. (۳م۷۲)

د پور حواله: حواله ورکړی شوي شخص ته له حواله ورکوونکي څخه د پور رسول دي او له هغه څخه د پور غوښتل دي.

د حق حواله: که چېرې داين (پوروړی) يو بل چاسره وعده وکړي چې د هغه د پور حواله چې په پوروړي باندې يې لري، ومني؛ د حواله اخستونکي له منلو وروسته حواله پرته له دې چې حواله ورکوونکی موافق وي، صحيح بلل کېږي. که د پور لرونکي او پوروړي ترمنځ کوم بل ډول توافق شوی وي يا قانون بل څه حکم وکړي، نو بيا موضوع بل اړخ پيدا کوي او په دې حالت کې نو دا سمه نده.

د مدني قانون او مدني حقوقو له پلوه د حوالې تعريف: هغه ژمنه ده چې د هغې له مخې د يو پوروړي له ذمت څخه د يو چا پور يوه بل درېيم شخص ته لېږدول کېږي. د ماليې او عامه ماليې له پلوه حواله هغه سند دی چې د هغې له مخې بايد پور ورکوونکی خپل مشخص پور (طلب) ترلاسه کړي.

ابلاغي حواله (اعتباري حواله): مالي چارو کې ماليه اعتباري حوالې ته ويل کېږي او اعتباري حواله هغه سند دی چې د هغې له مخې وزيران هغو اشخاصو ته چې دويمه درجه حواله کوونکي ورته ويل کېږي، لکه په ولاياتو کې د ادارو رييسان او امرينو ته اجازه ورکوي چې يوه ټاکلې اندازه پيسې د دولت د حق له امله د دولت په پور کې حواله کړي.

د تحويلخانې (ګودام) حواله: هغه ليکل شوی امر دی چې د هغې له مخې ټاکل شوي شخص ته يو شمېر اجناس سپارل کېږي.

بري الذمه حواله لرونکی او پوروړی حواله وړونکی: بري الذمه حواله لرونکی هغه حواله ده چې د هغې محال عليه محيل ته پوروړی نه وي، که محال عليه د محيل پوروړی وي، حوالې ته پر مديون (پوروړي) حواله ويل کېږي.

د ټاکلي عين حواله: که څوک مالي عين چاسره د پور او امانت په توګه ولري او هغه يوه بل درېيم چاته ورحواله کول غواړي او هغه ته وايي چې هغه عين واخلي، دې ته ټاکلي عين يا معين عين وايي. (۱م۹۵)

مخامخ يا نېغه حواله: د عامه ماليې په اصطلاح کې هغه ماليه ده چې وزيران يې بې له کومې وسيلې د دولت په يوه يا څو وجهو صادروي، يعنې د يو يا څو پوروړو په وجه کې يې صادروي. په دې توګه حواله نه يوازې اقتصادي او حقوقي اړخ لري، بلکې په عامه اداره کې يو روښانه او تثبيت شوی سند دی چې عامه مالي ادارات لکه د ماليې وزارت، ګمرکات، د تصديو رياستونه او د بانک څانګې ورسره سروکار لري. دغه عقد يو شمېر قانوني اړخونه لکه د محال او محيل قانوني عمر (بالغ والی) عاقل والی او ازادي يې شرايط دي، نو په دې توګه دغه ټول مفاهيم سره په ګډه يوځای کېږي او د حوالې قانوني اړخ پوره کوي. (۲م۲۱۴)

پايله:

لکه چې وکتل شول د اقتصادي، بانکي او تجارتي معاملاتو لپاره حقيقي اشخاص او حقوقي اشخاص خصوصاً شرکتونه، بانکونه او سوداګر يو شمېر اسنادو، عقدونو او مقاولاتو ترسره کولو او تبادله کولو ته اړ دي. حواله يو له هغو اسنادو څخه ده چې له يوې ذمې څخه بلې ذمې ته استول کېږي، يا هغه پيسې او مالونه چې يو شخص (حقوقي يا حقيقي) يې له بل شخص غوښتنه کوي او بل يې ورته استوي، دغه لېږل او اخيستل د سند له مخې کېږي چې هغه احاله ده. بايد حقوقپوهان، د محاکمو کارکوونکي، سوداګر، د بانک مامورين او مسلکي کدرونه له دغې اصطلاح او هغې سره د تړلو مفاهيمو سره پوره اشنايي ولري. حواله له حقوقي پلوه يو عقد دی، عقد، د عقد تحقق، احاله، محال او محال له په حقوقي مسايلو کې پېچلتياوې لري او د مبهم والي په صورت کې يوه اقتصادي او تجارتي معامله له ستونزو سره مخامخ کولی شي چې پورته ذکر شوي اشخاص بايد په دې برخه اړين معلومات ترلاسه کړي.

وړانديزونه:

حواله لکه چک، برات، قباله، حجت، وثيقه او نورو په شان يو عقد دی چې د طرفينو ترمنځ تبادله کېږي، له دې امله چې دا د يوه ملکيت ښودونکې ده او يو ډول حقوقي عهد دی، نو د هغې روښانه او واضح تثبيت لپاره يو شمېر ټکي بايد په نظر کې ونيول شي:

۱. بايد محال، محال به، محال عليه او محيل په ډېر روښانه او څرګند ډول د حوالې په خصوصياتو او شرايطو پوه وي، که له قانوني او حقوقي پلوه محال به، محال او محال عليه لږه تېروتنه وکړي، په قضا او محکمه کې ورته مسوولیت متوجه کېږي، نو ځکه بايد دوی د حوالې په هکله غور او دقت وکړي.
۲. له دې امله چې عقدونه ډېر ډولونه لري او ټول يې هم اقتصادي او هم حقوقي اړخ لري، نو لازم دي چې ددغه عقدونو او د هغو د اسنادو په هکله داسې مواد د حقوقو او اقتصاد پوهنځيو کې په ملي ژبو په درسي مفرداتو کې شامل شي.
۳. بايد ټول عقدونه او له هغې جملې حوالې ټول اجزا لکه د مال يا پيسو مقدار، نېټه، ادرس حامل او نور ولري.
۴. د يوې منازعې، دعوا او پېچلتيا د پيداکېدو په صورت کې بايد حواله د يوه حقوقي عقد او ژمنې په توګه محکمې ته راجع شي، البته نور اصولي اړخونه يې اقتصادي موسساتو پورې اړه لري او دا ټول بايد په نظر کې ونيول شي.

Abstract:

Draft (bill) and it's legal and economical aspect:

The concept of draft determine the amount of money which are pay by one person to other sometimes draft, bill, banknote or bank check also use for this documents purpose of draft is credibility of transaction. We are using different types of draft in our daily transactions such as: bank over draft, money order, advice note, tax anticipation, delivery note etc. All these documents are formal documents. The best way to transaction is to keep our business purpose in our draft and take them to bank, now however we need to turn our attention to determining some important points for draft writing. These types of bills are used for properties. In the banking area drafts are sent by Email, telex and Fax. Now a day the business problems are solved by draft. Drafts and bills also solved complex transactions.

اخځليکونه:

۱. بدراوی، منعم. (۱۳۶۷). مبانی علوم قانونی، ترجمه: محمداکرم عبقری. کابل: مرکز تحقیقات علوم اسلامی
۲. شریعت پناهی، سیدابوالفضل. (۱۳۸۳). حقوق اساسی و نهادهای سیاسی. ایران: نشر میزان
۳. آموزش راهکارهای پژوهش در قوانین. (۱۳۸۸). مرکز مستقل ملی اموزش حقوقی. پروژه امور عدلی و قضایی افغانستان
۴. آریانا دایرة المعارف- درېیم جلد. (۱۳۸۹). د افغانستان د علومو اکاډمي د دایرة المعارف ریاست. کابل: نبراسکا تعلیمي مطبعه
۵. زاهد مشوانی، عبدالقیوم. (۱۳۸۵). پښتو قاموس. کابل: د افغانستان د علومواکاډمي- د پښتو څېړنو نړیوال مرکز
۶. غوثی، محمدعارف. (۱۳۴۰). قاموس اقتصاد. کابل: مجله اقتصاد ریاست عمومی اطاقهای تجارت
۷. قاموس اصطلاحات حقوق. (۱۳۸۷). دری و پشتو. نشریه پروژه امور عدلی وقضایی افغانستان. کابل
۸. د افغانستان مدني قانون، درېیم ټوک

پوهنوال سيد انعام (سيدي)
طب پوهنځی- داخله څانګه

د نري رنځ او HIV انتان ستونزه

لنډيز:
توبرکلوز او HIV يو د بل سره نژدې اړيکې لري چې د AIDS په لور د پرمختګ سبب ګرځي. HIV په ټوله نړۍ کې د توبرکلوز د خپرېدنې سبب ګرځي او د نري رنځ د پېښو د زياتېدو سره مرسته کوي. HIV په پرمختللې توګه حجروي معافيت (Cell mediated immunity) راکموي او د توبرکلوز پتوجنيزس ته بدلون ورکوي. د نړيوالې روغتيايي ټولنې د اټکل له مخې د نړۍ يو پر درې (۱/۳) وګړي په نري رنځ منتن دي. ۲۰۰۹م کال کې ۴.۹ مليونه د توبرکلوز نوې پېښې رامنځته شوي، ۱۲٪ يې د HIV سره ګډې دي چې ۸۰٪ يې په افريقايي هېوادونو کې دي او هر کال د ۰.۴ مليونو مړينو لپاره لاره هواروي. HIV د توبرکلوز په ناروغانو کې د ناځانګړي کلينيکي او راديولوژيک موندنو سره ملګری وي، زياتره د سږو دباندې ناروغيو سبب ګرځي چې د خراسکو د سمير کلچر پکې تر ۴۰٪ په تشخيص کې برخه اخلي. د HIV توبرکلوز ګډ انتان د (MDR-TB) او (X.DR-TB) او immune- reconstitution inflammator syndron (IRIS) سبب ګرځي. زمونږ د عامې روغتيا روغتون د توبرکلوز په څانګه کې د سږو سمير مثبتو ۱۲۹ تنو ناروغانو په ډله کې په يو ناروغ (۰.۷۷٪) کې د HIV seropositve پېښه وموندل شوه.

سريزه:
څرنګه چې د نړيوالې ټولنې د رپېمه برخه وګړي په نري رنځ منتن دي او د وروستيو راپورونو له مخې هر کال تر ۹.۲ مليونه د توبرکلوز نوې پېښې چې ۱۲٪ يې د HIV سره ګډې وي، منځته راځي. ويل کېږي چې په نړۍ کې تر لسو مليونو پورې خلکو کې د HIV او توبرکلوز ګډ انتان موجود دی چې د ۹۰٪ څخه زيات له دې نه د توبرکلوز ناروغۍ په لور پرمختګ کوي. د افريقا په ځينو هېوادونو کې د HIV-T.B ګډ انتان پېښې په هرو سلو زرو تنو کې د زرو څخه لوړې ښودل شوې دي. په ټوله نړۍ کې د دريو څخه يو د AIDS ناروغ د توبرکلوز له کبله خپل ژوند له لاسه ورکوي؛ د امريکا په متحده ايالاتو کې د ۱۹۸۵-۱۹۹۰م ترمنځ کلونو کې د توبرکلوز ناروغانو شمېر ۲۸۰۴۰ تنو پورې وو چې د Central fordisease (CDC control) د راپور له مخې په دوی کې تر ۳۰٪ پورې AIDS – Related- TB موجود و، خو د ۱۹۹۳ نه تر ۱۹۹۸م کلونو کې د HIV-TB پېښې په امريکا کې د ۲۵-۲۴ عمر خلکو کې تر ۲۰٪ راکمې شوې چې دا پېښې حتی په امريکا کې د يو ايالت څخه بل ته توپير لري چې ۱۹۹۹م کال کې په ټوله امريکا کې د HIV-TB کچه ۷۵٪ وه، خو په نيويارک Colambia او Florida کې د توبرکلوز په ناروغانو کې تر ۴۰٪ پورې HIV.Sero positive پېښې موجودې وې او په Texas کې او Caorolina کې تر ۳۰٪ پورې وې. په امريکا او نورو صنعتي هېوادونو کې د HIV– TB په پېښو کې چټک کموالی رامنځته شوی چې ممکن د Antiretroriral درملو له کبله به راکم شوی وي. د درملنې په برخه کې دوه څېړنې په Frank furt کې ترسره شوې دي چې يوه يې په ۱۰۰۰ تنو HIV منتنو Homosexual خلکو چې CD4-T-cell يې د ۲۰۰ . ۳ Cell/mm څخه کمه وه، ترسره شوه چې AIDS پېښېدنه په کې تر ۷۰٪ راکمه شوې وه او د TB کچه په کې کمه وه. په بله څېړنه کې چې په Eurosida کې په ۷۰۰۰ تنو HIV منتنو ناروغانو تر سره شوې او ART(anti-retroyiral Therapy) ورته کارول شوې و، په دوی کې د توبرکلوز پېښې په ډراماتيکه توګه کمې وې. زمونږ په ګران هېواد کې د UNAIDS او نړيوالې روغتيايي ټولنې (WHO) د ۲۰۰۵م کال د راپور له مخې په ۲۰۰۰-۱۰۰۰ تنو کې د HIV انتان شته دی چې په وروستيو راپورونو کې يې شمېر له دې نه لوړ ښودل شوی دی. (2,1)

د ۲۰۰۲م کال پلټنې چې په کابل کې ترسره شوې، په کابل کې په ٪۳ هغو خلکو کې چې د رګ له لارې يې درمل کارول HIV پکې مثبت ښودل شوي، (۳/۱) ددې خلکو د ګډو سرونجونو څخه کار اخستلو، زياتره نارينه وو او تر ٪۳۲ پورې دې خلکو د هلکانو سره نامشروع جنسي اړيکې درلودلې. (1)

څرنګه چې زمونږ په هېواد کې Opium زيات کرل کېږي، د ۲۰۰۵م کال د راپور له مخې په افغانستان کې تر يو مليون خلک په نشه يي موادو روږدي دي چې له دې ډلې څخه ۲۰۰۰۰۰ تنه افين کاروي او ۷۰۰۰ تنه يې د پيچکاري له لارې هيرويين اخلي او په ۲۰۰۲م کال کې راپور ورکړل شوی و چې په ۱۲ مياشتو کې تر ٪۲۰۰ پورې ددې خلکو په شمېر کې زياتوالی راغلی دی.

موخې:

څرنګه چې زمونږ په ټولنه کې له يوې خوا د نشه يي توکو روږدي زيات دي او له بلې خوا نه د توبرکلوز پېښې ډېرې دي، دا چې اوس په هېواد کې د HIV پېښې لا يو څه کمې دي، په دې موخه دا ليکنه ترتيب شوه چې په راتلونکي کې د HIV-TB ګډ انتان د پېښېدلو څخه خبر او د مخنيوي لپاره يې تدابير ونيول شي.

مواد او کړنلاره:

ددې علمي او تحقيقي مقالې په ترتيبولو کې د نړۍ د معتبرو علمي اثارو او ژورنالونو څخه ګټه اخيستل شوې ده. دغه راز د مقالې د ليکلو تر وخته پورې په ۱۲۹ توبرکلوز سمير مثبت ناروغانو کې چې د عامې روغتيا روغتون د توبرکلوز څانګه کې کتل شوي، يوازې يوه د ايچ آی وي مثبته پېښه موندل شوې ده چې په مقاله کې ورڅخه يادونه شوې ده.

د Drug resistant- tuberculosis (DR-TB) په منځته راتلو کې د HIV اغېزې:

د امريکا په متحده ايالاتو کې د توبرکلوز د پېښو د زياتېدو سره يوځای د drug-resistant توبرکلوز پېښې هم زياتېږي چې په امريکا کې په ۱۹۸۰م کال کې د DR-TB پېښې ٪۰،۴ وې، خو ۱۹۹۱م کال کې تر ٪۳،۵ پورې لوړې شوې. د CDC لخوا په اتو څېړنو کې چې په نيويارک کې، newjersy او Miami کې پر MDR-TB ناروغانو ترسره شوې دي، په ٪۹۰ پېښو کې يې د HIV-seropositive راپور ورکول شوی دی. په نيويارک کې چې په پخوانيو تداوي شوو ناروغانو کې چې په HIV اخته او د زرقي درملو تاريخچه يې هم درلوده، په دې ټولو ناروغانو کې (MDR-TB) موجود ؤ. په اتو څېړنو کې په HIV-sero positive توبرکلوز ناروغانو کې چې د درملنې لاندې وو، تر سره شوې، په ٪۲۰،۴ کې يې د يو يا زياتو درملو په وړاندې مقاومت (MDR-TB) موجود و چې په ٪۲،۵ پېښو کې د ايزونيازايد او ريفامپسين په مقابل کې مقاومت موجود و؛ دلته وښودل شوه چې په توبرکلوز کې د MDR لپاره د HIV انتان د Risk-Factor رول لري. (9)

په sanfaransisco کې په ۱۹۹۴م کال کې په ۱۲ تنو ناروغانو باندې چې په AIDS او TB اخته وو، څېړنه ترسره شوه، په زياتو ناروغانو کې Acquired-drug-resistance يوازې د ريفامپين په مقابل کې منځته راغلو چې علت يې ښکاره نشو، خو په دې ناروغانو کې د Malabsorption راتلنه د خطر فکتور ګڼل کېږي. (5)

د توبرکلوز پر پتوجنيزس د HIV-infection اغېزې:

د HIV په منتنو خلکو کې توبرکلوز د پرايمري ناروغۍ د Latent انتان د فعالېدو او يا د بېرون څخه د بيا اخته کېدنې (Reinfection) له لارې منځته راځي. د اوسنيو څېړنو له مخې ښودل شوې ده چې په کليوالي سيمو کې د پخواني انتان په پرتله نوې اخته کېدنه د توبرکلوز په خپرېدلو کې زياته برخه اخلي. په هغو څېړنو کې چې په نيويارک او سانفرانسسکو (sanpransisco) کې تر سره شوې، ښودل شوې ده چې نوې پېښې په ٪۴۰-۳۰ حالاتو کې د Re infection له کبله منځته راځي. په دواړو څېړنو کې دا خبره په ډاګه شوې ده چې د HIV انتان او AIDS دواړه د TB تازه انتان په منځته تهراتګ او د ناروغۍ په لوريې په پرمختګ کې رول لري او د خطر فکتور ګڼل کېږي چې کله مايکرو بکتريوم توبرکلوز بسيل الويولالي ته ورسېږي، د مکروفاژ په واسطه له منځه وړل کېږي چې په اول خط کې د بسيل په مقابل کې جګړه کوي، که د مکروفاژ په منځ کې د توبرکل سبيل پاتې شو، هلته وده کوي او بيا کېدای شي د وينې له لارې نور بدن ته خپور شي. HIV-Infected ناروغانو کې د مکروفاژ دندې ويجاړې شوې دي او له دې کبله په زياتې اندازې سره په ناروغۍ اخته کېږي. د سانفرانسيسکو په بله څېړنه کې ۳۰ تنه ناروغان چې HIV-seropostive وو، د توبرکلوز د ناروغانو سره يې اړيکې لرلې،

په توبرکلوز منتن شوي وو چې ٪۳۷ کې يې د توبرکلوز فعاله ناروغي په ۱۰۲ ورځو کې او په يو تن کې په څلورو اوونيو کې رامنځته شوه. ددې څېړنې څخه دا خبره ښکاره شوه چې په HIV منتنو خلکو کې د توبرکلوز ناروغي په چټکۍ سره خپرېږي. همدارنګه په يوه بله څېړنه کې چې په HIV منتنو خلکو باندې چې زرقي درمل يې کارول او د پوستکي تست يې د توبرکلوز لپاره مثبت وو، له ۱۰۰ تنو څخه يې ۱۰ تنو کې د توبرکلوز فعاله ناروغي منځته راغلې وه. (9)

په هغه څېړنه کې چې په افريقا کې ترسره شوې ده، د سږو څخه دباندې او خپور توبرکلوز کې د CD4 Tcell شمېر ۸۰cell/mm3 څخه کم و او هغه څېړنه چې په Unted state کې ترسره شوې ده، په دې کې د (CD4-TCell) شمېر چې په HIV او توبرکلوز اخته وو، ۱۴۴cell/mm3 څخه کم وو. پس ويل کېږي چې د HIV انتان کې توبرکلوز په چټکۍ سره منځته راځي چې څومره د CD4-Tcell شمېر کمېږي، د خپور او د توبرکلوز د نورو ډولونو د تکامل سبب کېږي. (9,8)

د HIV منتنو خلکو پر برخليک د توبرکلوز اغېزې:

دا خبره ښکاره شوې ده چې توبرکلوز د HIV انتان د کلنيکي حالت د فعالېدلو او زياتېدلو په لور پرمخ بيايي، همدارنګه د توبرکلوز د ويرسونو د زياتېدنې او تکثر سبب ګرځي چې مکانېزم يې پوهول شوی نه دی، خو ويل کېږي چې TNF-∞ لوړه کچه د T-Cell په حجرو کې د ويروسونو د تکثر سره مرسته کوي. (6,9)

همدارنګه پلټنو په ډاګه کړې چې مايکوباکتريوم کولی شي چې T.lymphoyte او يا په مونوسايتو کې د ويروسونو تکثر زيات کړي. نويو څېړنو رابرسېره کړې چې توبرکلوز په حاده ناتداوي شوې مرحله کې د ويرسونو Replication (تکثر) کې د ۱۲۰-۵ چنده زياتوالی راځي. (4,9)

د HIV او توبرکلوز ګډ انتان کلنيکي موندنې:

د سږو د نري رنځ کلنيکي حالت په معافيت لرونکي او معافيت ځپلي ناروغ کې سره توپير لري، ځينې ګيلې او نښې لکه تبه، د وزن له لاسه تلنه او کسالت په HIV او توبرکلوز دواړو کې سره په شريک ډول ليدل کېږي. ګيلې د اوونيو او مياشتو لپاره موجودې وي، خو که د تبې او د ټوخي حاده حمله منځته راغلې وي، دا به د سږو په نورو انتانونو پورې اړه ولري. توبرکلوز د HIV انتان په هره مرحله کې راڅرګندېدلی شي، خو کلنيکي منظره يې نظر د HIV مراحلو ته توپير لري؛ که د ناروغ حجروي معافيت ښه وي، نو د سږو د توبرکلوز په ډول کلنيکي موندنې به په ناروغ کې وليدل شي. لاکن د HIV انتان په وروستۍ مرحله کې به د پرايمري توبرکلوز په ډول منظره لکه خپور Interstitial يا ميليري انفلشنريشن او د سينې په داخل کې به لمف اودينوپاتي پکې موجود وي. (3,9)

د سږو په توبرکلوز کې چې په HIV هم منتن وي، د خړاسکو د شمېر کتنه د HIV- Nightive په پرتله کم مثبت وي، ځکه چې په HIV منتنو خلکو کې Extra-pull توبرکلوز زيات عموميت لري (٪۲۰-۴۰) چې غوره ډولونه يې د لمفاتيک، ميليري، خپور توبرکلوز، پلورل ايفوژن او پريکارديل توبرکلوز دي؛ همدارنګه کېدای شي چې My cobacterimia او مننجاتس هم پکې وليدل شي. په HIV منتنو توبرکلوزيک ناورغانو کې د کلچر پايله تر ٪۴۰ پورې مثبته کېدای شي، خو د راديو ګرافيک بدلونونه پکې ځانګړې وصف نلري، وصفي ډول ګرانولوما پکې نه جوړېږي او توبرکولين تست يې په ورستۍ مرحله کې منفي وي. په دې ناروغانو کې د انتي رتيرووايرل (ART) درملنې له کبله چې کله په سيستميک او تنفسي ګيلو کې د زياتوالي سره د لابراتواري او راديوګرافيک بدلونونه ملګري شي، د immune– (IRID) reconstitution-Inflanatory-syandrom په نوم يادېږي چې د درملنې څخه درې مياشتې وروسته منځته راځي؛ په پتوجيزيس کې يې د مايکوبکتريوم د انتي جنونو په وړاندې د اميون غبرګون منځته راتلل رول لري او په درملنه کې يې د ګلوکوز تيکويد ورکول ګټه رسوي. (8,9)

راديوګرافيک موندنې:

د HIV انتان په اول وخت کې د سينې راديوګرافيک بدلونونه د HIV منفي ناروغانو سره توپير نلري، په HIV منتنو توبرکلوزيک ناروغانو کې چې د CD4 Tcell شمېر يې mm3/۲۰۰ نه زيات وي، د سينې د عکس په پورتني لوب کې يې انفلزيشن موجود وي، خو Cavty ورسره وي او يا نه وي، لاکن د HIV په منتنو توبرکلوزيک ناروغانو کې چې معافيتي

سیستم یې ډېر ځپل شوی وي CD4 حجرې پکې د ۲۰۰ څخه کمې وي. په رادیوګرافي کې به یې د پرایمري توبرکلوز په ډول منظره (غیر وصفي منظره) لکه په سږو کې Lowerlobe-infiltraetion میلري توبرکلوز، پلورل ایفوژن د Hilar لمف نود غټوالی ولیدل شي؛ د ٪۱۲-۷ حالاتو کې په ناروغ کې ګیلې موجودې، خو رادیوګرافي په کې نارمل وي چې د HIV د موندنې لپاره دې د سینې Computea-tomografy ترسره شي. (1,9)

Bacteriologic کتنې:

په HIV منتنو توبرکلوزیک ناروغانو کې د ABF (اسیدفیت بسیل) لپاره د ٪۸۹-۳۱ پورې د سمیر کتنې مثبت کېږي، که د سینې رادیوګرافي کې ناسمې موجود او د خړاسکو سمیر منفي وي، د تشخیص لپاره دې د برانکوسکوي له لارې برانکوالویو لرلو او ترانس برانکیل بیوپیسي واخستل شي چې د خړاسکو کلچر٪۴۰-۳۰ په تشخیص کې مرسته کوي، کلچر د تشخیص لپاره ښه کتنه ده، خو په ٪۱۵ ناروغانو کې منفي پایله ورکوي. (2)

په امریکا کې د Nucleic acid amplification لاندې دوه تستونه کارول کېږي:

- (MTD:Gen Probe) mycobacteria-toberculosis direct test)
- (Amplicoreroche)amplicor-mycobacterium-tubercluosis test)

درملنه (Treatment):

په عمومي توګه د درملنې ستنډرډ رژیم په HIV منتنو او HIV.Seronegative توبرکلوزیک ناروغانو کې کارول کېږي، خو په HIV منتنو خلکو کې د درملنې بدې اغېزې زیاتې وي چې د ART د ګډ کارولو څخه لاندې حالات منځته راځي:

۱. paradoxical غبرګون.

۲. د ART او Rifamycin تر منځ Interaction.

۳. د Rifamaycin په وړاندې د monoresistance راتلل.

ټول د HIV منتن توبرکلوزیک ناروغان د انتي ریتروویرولینت (ART) درملنې لپاره کاندید دي چې څومره زر ممکن وي ورته دې پیل شي، په (اولو ۸ اوونیو کې) د HIV منتنو توبرکلوزیک ناروغانو په درملنه کې دې لاندې ټکي په پام کې ونیول شي:

۱. د درملنې موده یې اوږده وي.

۲. د DOT ستراتیژي دې پکې پلې کړل شي.

۳. VIT B6 د ورځې mg۵۰-۲۵ ورکړل شي. (2,9)

یادونه: د عامې روغتیا روغتون د نري رنځ په څانګه کې ۱۲۹ تنو د سږو smear posttiox ناروغانو ته چې د HIV لپاره یې کتنې تر سره شوي دي، یو تن نارینه Hiv sero positive ؤ، پس ویلی شو چې په یو تن کې (٪۰،۷۷) دغه ګډه ستونزه موجوده وه. د سږو په شمیرمثبت ناروغانو کې د HIV منتنو پېښو جدول.

شمېره	د ناروغانو شمېر	سلنه٪
۱	د سږو د شمیرمثبت ناروغانو شمېر (۱۲۹)	۱۲۹٪
۲	Hiv-sero naghtive ناروغان(۱۲۸)	۹۹.۲۳٪
۳	HTIV-sero positive ناروغان(۱)	۰.۷۷٪

د ناروغانو شمېر د سږو په شمير مثبت ناروغانو کې د HIV پېښو ګراف.



پايله:

۱. توبرکلوز د HIV په منتنو ناروغانو کې د AIDS لامل ګرځي.
۲. HIV په ټوله نړۍ کې د توبرکلوز د خپرېدنې او د پېښو د زياتېدنې سره مرسته کوي.
۳. HIV انتان زياتره سږو څخه دباندې توبرکلوز ناروغۍ منځته راوړي.
۴. HIV منتنو ناروغانو کې توبرکلوز ناځانګړې کلينيک او راديولوژيک موندنې لري.
۵. زمونږ په هېواد کې په نشه يي توکو روږدي د HIV توبرکلوز ګډ حالت د راتلنې خطر ډېروي.
۶. د HIV توبرکلوز ګډې پېښې د ختيځ زون په کچه ۰،۷۷٪ دي.
۷. HIV توبرکلوز د (۲۰.۴٪) MDR-TB او X-DRTB لپاره زمينه برابروي.
۸. د درملو بدې اغېزې پکې ۳۲٪-۱۸ پورې وي.
۹. د Reactivation پېښې پکې تر ۹۰٪ وي.

مناقشه:

د Central for disease control (CDC) د راپور له مخې په ۱۹۹۰-۱۹۸۵م کلونو کې د امريکا ۲۸۰۴۰ تنه په توبرکلوز اخته وو چې د دوی په ۳۰٪ کې AIDS- related-TB هم موجود و؛ بيا په ۱۹۹۸م کې دا پېښې تر ۲۰٪ راکمې شوې. همدارنګه هغه څېړنې چې په افريقايي هېوادونو کې ترسره شوي دي، په توبرکلوزيک ناروغانو کې د HIV پېښې تر ۸۰٪ ښودل شوي دي. په تکزاس سهيلي کارولينا Utah او Georgia کې هم د HIV-TB ګډې پېښې تر ۳۰٪ زياتې ښودل شوي

دي، خو وروسته په دې پېښو کې د Antiretroviral د درملنې سره په کې کمښت راغلی دی. په هغو اتو څېړنو کې چې د امريکا په متحده ايالاتو کې تر سره شوي، په٪۲۰،۴ حالاتو کې په دې ناروغانو کې د MDR-TB پېښې رامنځته شوي، خو زمونږ په ګران هېواد کې له نېکه مرغه په ۱۳۹۱ کال کې په ۱۲۹ شمير مثبتو د سږو په توبرکلوز ناروغانو کې د HIV يوازې يوه پېښه (٪۰،۷۷) ليدل شوې ده چې زمونږ په هېواد کې د اسلام د مبارک دين له برکته د جنسي نامشروع اړيکو څخه ځان ساتنه د HIV په مخنيوي کې ډېر رول لري. (1,2,9)

وړانديزونه:

۱. ټول ناروغان چې د درې اوونيو زيات ټوخی، تبه او کسالت ولري، بايد د نري رنځ لپاره تر کتنې لاندې ونيول شي.
۲. ټولو ګرانو هېوادوالو ته وړانديز کېږي چې په خپل ژوند او چاپېريال کې د اسلام مبارک دين له لارښوونو سم روغتيايي شرايط په پام کې وساتي.
۳. د نامشروع جنسي اړيکو څخه ځان وساتل شي.
۴. په کورني ژوند کې د نشه يي توکو د روږدېدلو څخه ځان ساتنه.
۵. محترم مسوولين دې د سږو توبرکلوز هغه ناروغانو کې چې د رګ له لارې درمل کاروي، بايد د HIV لپاره کتنې ترسره کړي.
۶. د توبرکلوز په شمير مثبت ناروغانو کې د DOT ستراتېژي عملي کړل شي.
۷. د عامې روغتيا مسوولين دې د رسنيو له لارې خلکو ته ددې ګډې ستونزې په مخنيوي کې ګټورې کړنلارې په کار واچوي.
۸. د نشه يي توکو روږدو د درملنې او مخنيوي لپاره دې پاملرنه زياته شي.
۹. د عامې روغتيا مسوولين بايد په خپلو راتلونکو پلانونو کې د Latent –T.B پېژندنه او درملنه په پام کې ونيسي.

Abstract:

Tuberculosis and Hiv been closely linkid since the emergence of AIDS. HIV infeetion has contributed to asinificant increase in the world wide incidence of toberculosis producing a progressive declinein cell-mediated. HIV after the pothogen of tubercolusis greatly increacing the risk of developing diseas and leading to more frequent extra pulmonary involvement and atypical radiogaraphy main fastation .the wrld health organization (WHO) estimates that one taird of the world's population is inficted with mycobalteruim taburclosis result in an estimated 4, 9 millon casis of Tuberculosis nearly 0.4 million deaths each year and 12% co invected with HIV. HIV Seropositive patients with tuberculosis respond well to ant tuberculosis therapy, as long as the regimen contains INH and a rifamycin. The treatment of HIV –related tuberculosis requires close monitoring because of frequent drug toxicities, possible drug –drug interaction, and paradoxical reactions.

References:

1- Aids control and prevention (AIDSCAP) the Francois– xarier Bagnoud center for public Health and Human Rights of the Harvard school, UN AIDS.
2- BRa unwald, Fanci Harrison's internal Medicine 18th Edition 2012pp.13ys.
3- Hiv insite knowiedge base chapter may 2003.
4- Lisa Gooze ,MD Stanford university chariesL.Daley.MD,University of California san Francisco.
5- Maxin A.papadakis Current Medical Diagnosis and Treatment 2012pp.(274-2815-3).
6- RaviglionMC.Narainsp –Hiv-associted in developing countries.Bull WHO 1992 515-526.
7- Reviglione MD, snider DE, Kochi A-Global Epidemiology of Tuberculosis .JAMA1975, 273.
8- Small PM.Tuberculosis research .Balancing the portfolio. JAMA1996-276-8
9- Shama. SK. Professor. Department of medical science Tuberculosis,JAYPE Beother medical publishers India 2009. pp (1, 2.40.80.560).

پوهنوال سيف الله (هادي)
طب پوهنځی- داخله څانګه

ستوماني او د ستوماني سندرومونه

لنډيز:
ستوماني يوه ګيله ده چې د زړه، تنفسي، هضمي، پښتورګي، اندوکرايني، عصبي، شکرې، انتاني ناروغيو، روحي، جسمي فشارونو، کنسرونو، الکترولايتونو او منرالونو تشوشاتو له کبله منځته راځي. ستومانه کس سست، خسته، بې علاقه، بې حاله، بې انرژي وي. فزيکي يا دماغي کار په ډېره سستۍ او تنبلۍ سره پيل کوي او که کار وکړي، ژر ستومانېږي؛ دماغي تمرکز او حافظه يې خرابه وي. د يادو نښو- نښانو لرونکی ستومانه کس څخه بايد دقيقه تاريخچه واخستل شي، لامل يې پيدا او تداوي شي.

سريزه:
فتيک (ستوماني) يوه ځانګړې ګيله ده، ۱-۳ فيصده خلکو کې وي، ۴۰-۸۰ فيصده ستومانه خلکو کې د خوب تشوشات وي؛ ستوماني په سيستميک ناروغيو کې هم وي، خو د نورو څرګندو ګيلو له کبله نه پېژندل کېږي. که داکتر د ناروغ څخه د ژوند د څرنګوالي، د کار حالت او ځای په اړه پوښتنه وکړي، دقيقه تاريخچه واخلي، ستوماني تشخيصېږي. د فتيک يا ستوماني پېژندلو ارزښت په دې کې دی چې د ناروغانو څخه ښه پوښتنه نه کېږي او ناروغان يې د نورو ناروغيو تر عنوان لاندې تداوي کېږي. (6,7)

موخې:
ددې مقالې موخه د ستوماني او د ستوماني سندرومونو د لاملونو پېژندل، مخنيوی او د درملنې پر لارو چارو پوهېدل دي.

ستوماني سندروم:
فتيک يا ستوماني يوه ګيله ده چې ځينې نورې کلمې هم ورته استعمالېږي، لکه ضعيفي، بې علاقګي، ليتارجي، کسالت، بې حالي، د خوب ګډوډي، د تغذيې ګډوډي، فزيکي فعاليت نيمګړتيا او روحي ګډوډي. فتيک د نورو ګيلو په پرتله د ناروغ له خوا ښه نه څرګندېږي، خو که د ناروغ څخه د ورځني ژوند، کار او فعاليت سره د لېوالتيا په اړوند پوښتنه وشي، نو نوموړې ګيله پېژندل کېږي چې د تشخيص لپاره يې پراخه معايناتو ته اړتيا ده. ضعيفي يوه بېله ګيله ده چې د مانا له نظره فتيک ته نژدې ده، خو دواړه سره توپير لري، ضعيفي د فزيکي يا عضلي قوت نشتوالي ته وايي چې باندېني قوت ته اړتيا ده، تر څو عضلات په حرکت راشي او فزيکي کار پيل کړي. فتيک يا بې علاقګي شديد خسته والي ته وايي چې د انرژۍ د نشتوالي له کبله پيدا کېږي او د استراحت سره ښه کېږي. فتيک د زيات کار، بې خوبۍ، خپګانونو، د فزيکي فعاليت نه کولو، درملو او تشوشاتو له کبله پيدا کېږي. عمومي ستوماني د لاندې ناروغيو له کبله منځته راځي:

۱- د زړه عدم کفايه: د زړه په عدم کفايې کې د فتيک يا ستوماني لاملونه عبارت دي د سيستميک پرفيوژن کموالی، د شپې له خوا اشتدادي سالنډی، د ملاستې پر وضعيت سالنډی، د شپې له خوا زياتې تشې متيازي کول (د دايوريتيک له کبله)، ډيکوبيتس انجينا (د ملاستې په وضعيت کې د سينې درد)، د شپې له خوا خپسکه (د اميدارون له کبله)، د درملو جانبي عوارض لکه بيتابلاکر، د الکترولايتو تشوشات د دايوريتيک له کبله، د انتان سيستميکې څرګندونې لکه د اندوکاردېتس له کبله.

۲- هايپوکلسيميا: په خفيف هايپوکلسيميا کې (د درې ملي مول پر ليتر څخه کم وي) اعراض نه وي او که ددې څخه زيات شي، په ناروغۍ کې ستوماني، ناراحتي، ديهايدريشن او روحي انحطاط پيدا کېږي.

۳- مای استیناګراویس: یوه کسبي ناروغي ده چې عضلي ضعیفوالی او فتیک په کې وي او په ښځو او نارینه و کې په یوه اندازه وي، لامل یې داسې فکر کېږي چې د اسیتیل کولین اخذو په وړاندې ای جي جي انتي باډي جوړېږي، عضلات په کې ډېر ضعیف او ستومانه وي.

۴- هایپوتایرودېزم: په هایپوتایرودېزم کې ستوماني، ضعیفي، لیتارجي، وزن زیاتوالی، روحي انحطاط، د حافظې خرابوالی، قبضیت، د پوستکي وچوالی، د یخ نه زغمل، ځیږ او نازکه وینښتان، ماتېدونکي نوکان او د پوستکي ژیړوالی وي.

۵- هایپرتایرودېزم: په دې کې ضعیفي، ستوماني، ډنګرېدل، د زړه چټک ضربان، د ګرموالي نه زغمل، خوله، مخرشیت، خپګانونه، عضلي ضعیفوالی او د تایرید غده لویه وي. که عضلي ضعیفوالی په چټکۍ سره پیدا شي، د دماغ په شدیدو ناروغیو لکه ستروک، د دماغ ګذري اسکیمیک حمله او سپینل تروما باندې دلالت کوي.

۶- الکترولایتو تشوشات: لکه د سودیم او پوتاشیم کچې کموالی.

۷- Guillain barre سندروم: یوه نادره عصبي ناروغي ده چې ښکتني او پورتني اطراف ضعیف وي، کله کله ضعیفوالی دومره پرمختګ کوي چې په فلج بدلېږي.

۸- اډیسن ناروغي: په اډیسن ناروغۍ کې د سودیم کموالی او اینټر لیوکینیو کموالي له کبله په ناروغانو کې د تداوۍ سره سره ځنډنۍ ستومانۍ سندروم وي، د ناروغانو فشار ښکته، مخرش، ضعیف او ستومانه وي.

۹- د شکرې ناروغي: د شکرې په ناروغانو کې د پلازما د کمېدا سره فشار ښکته وي، پوتاشیم ضایع کېږي او عمومي کتابولېزم له کبله ناروغان ستومانه وي.

۱۰- کیوفیور: دا یوه انتاني ناروغي ده چې د کوکسیلا بورنیتي په واسطه پیدا کېږي، د بکتریمیا په صفحه کې ناروغ ته ځنډنۍ ستومانۍ سندروم پیدا کېږي. فزیکي فتیک عضلي ضعیفوالی یا درد ته وایي چې عضلات قوت او انرژي نلري، که چېرې یوه عضله چې یو نارمل کار یې ترسره کړی وي او اوس هغه کار نشي ترسره کولای، د فتیک په نامه یاد ېږي. مرکزي فتیک هغه حالت ته ویل کېږي چې ټول عضلات ضعیف او د کار کولو توان ونلري؛ محیطي فتیک هغه حالت ته وایي چې یو انفرادي عضله ضعیفه وي. دماغي فتیک هغه حالت ته ویل کېږي چې ناروغ سربېره د عضلي ضعیفوالي څخه د پاملرنې او توجه توان هم دلاسه ورکوي، د شعور کچه ښکته، خوبجن وي، قضاوت یې خراب وي، دا د فزیکي فتیک په پرتله خطرناک وي، ځکه هر کار په بې پروایۍ سره کوي، د مثال په ډول که یو ډریور بې خوبه وي، د موټر د ټکرېدل شونې دي. فتیک په نورمال ډول د زیات کار، دماغي فشار، روحي انحطاط، بې خوبي، تسممات، منرالونه او ویټامینونو کمښت، انیمیا له کبله پیدا کېږي. دغه راز ګذري فتیک د یخ وهولو او انتاناتو له کبله منځته راځي. (7,8)

ځنډنی فتیک (ستوماني):

ځنډنی فتیک هغه حالت ته وایي چې کم تر کمه شپږ میاشتې دوام وکړي او ښایي دومداره یا عودکوونکی وي. د ځنډني فتیک لاملونه په لاندې ډول دي:

۱. اوتو امیون ناروغۍ لکه سلیاک ناروغي، مولتیپل سکلیروزس، سپانډیلو ارتروپاتي.
۲. د وینې ناروغۍ لکه انیمیا، هیموکروماتوزس.
۳. کنسر
۴. ځنډنی فتیک سندروم.
۵. درمل (لیتیم مالګه، سپروفلوکزاسین، بیتابلاکر د تمرین د نه زغم لامل کېږي، د کنسر ضد درمل، رادیوتراپي، کیموتراپي.
۶. روحي انحطاط.
۷. د خوړو تشوشات (د منرالونو کموالی)
۸. اندوکراینې ناروغۍ (شکرې ناروغي، هایپوتایرودېزم)
۹. فایبرو میالجیا

۱۰.د زړه ناروغي
۱۱.ای بي ايس
۱۲. ولادي ميتابوليک ناروغي (فرکتوز جذب خرابوالی)
۱۳. د ځيگر عدم کفايه
۱۴. انتاني ناروغۍ لکه انفکشوس، مونونيوکلوزس، د پوزې د ساينوسونو التهاب
۱۵. لوکيميا، ليمفوما
۱۲. ليم ناروغي
۱۷. نيورولوژيک ناروغي لکه پارکينسونين ناروغي
۱۸. بې خوبي، يوريميا، ستروک
۱۹. د سږو د هوايي لارو انسدادي ناروغي
۲۰. اندوکاردیتس، هيپاتايتس
۲۱. عقلي ناروغۍ لکه بې خوبي، انحطاط، خپگانونه، جسمي تشوشات او ويره. (5,7,8)

ستوماني د بې خوبۍ پر وړاندې:

ستوماني د بې خوبۍ په پرتله دومداره وي، بې خوبي د ځينو طبي ستونزو او نارامه خوب له کبله وي. ځنډنی فتيک د لويو طبي ناروغيو له کبله وي، فتيک ښايي فزيکي يا دماغي وي، ناروغ د کار کولو توان نلري؛ په بې خوبۍ کې د سترگو شاوخوا پړسېدلې او توره حلقه وي. (1,2,3)

کلنيکي موندنې:

د کلنيک له نظره په فتيک کې درې شيان شامل دي:

۱- عمومي ضعيفي (ناروغ فزيکي کار پيل کولای نه شي).
۲- ژر ژر ستومانېدل (د يو فزيکي کار په بشپړولو سره ژر ستومانېږي.
۳- دماغي ستومانتيا (د ناروغ فکري تمرکز او حافظه ضعيفه وي).

۲۵ فيصده خلکو کې د اوږدې مودې لپاره فتيک وي، که د فتيک لپاره کوم لامل پيدا نشو، ښايي سبب يې عقلي، فزيکي ناروغي، زخمونه، درمل او يا الکول وي. د ځنډني فتيک سندروم د تشخيص لپاره کومه ځانگړې فزيکي او لابراتواري معاينه نشته او په لاندې ډول ارزول کېږي:

الف- کلنيکي ارزونه:

۱- د ناروغ تاريخچه او فزيکي معاينات بشپړ شي.
۲- دماغي حالت معلومولو لپاره عقلي او عصبي معاينات ترسره شي.
۳- د وينې بشپړ شمېرل، سيروم مجموعي پروتين، سيروم گلوکوز، سيروم بي يو اين، کرياتينين، سيروم البومين، کلسيوم، سيروم الکترولايت، سيروم فاسفوريس، سيروم گلوبولين، توبرکلوز تست، د ځيگر انزيماتيک معاينات، د تشو متيازو معاينات، روماتويد فکتور، اي ايس ار، سيروم کورتيزون، د تايرويد د غدې وظيفوي معاينات، اميونوگلوبولين، انتي نيوکليرانت باډي، ايچ آی وي لابراتواري معاينات ترسره شي.

ب- که فتيک (ستوماني) شپږ مياشتې يا زيات دوام وکړي، د ځنډني فتيک سندروم په نوم يادېږي چې لاندې اوصاف لري:

که لاندې څلور يا زيات اعراض د شپږو مياشتو يا زياتې مودې لپاره دوام وکړي.

۱- د حافظې يا قضاوت خرابوالی
۲- د ستوني درد
۳- د غاړې يا تخرگ لمفاوي غوټو درد
۴- عضلي دردونه

۵- د څو بندونو درد
۶- نوې سردردي
۷- بې خوبي
۸- وروسته له تمرين څخه ستومانتيا. (6)

مخنيوی:

د ستومانۍ د درملنې لپاره کوم ځانګړې درمل نشته، خو د ستونزې د حل لپاره د ناروغ د کار حالت، ځای، وخت او فزيکي فعاليت ته دې پاملرنه وشي. که چېرې د کار کولو لپاره مناسب وخت، ځای، کانتين، د خوب او استراحت لپاره ځای وي او د کار کولو په دوران کې کافي رخصتي، د مطالعې لپاره مناسب مېز، چوکۍ، کوټه، د چوکيو ترمنځ مناسبه فاصله، د کار په ځای کې مناسب ايرکنډيشن، بخاريي، ښه تهويه، ښه هوا، روښنايي، غال مغال نه شتون، کوټه يا د کار ساحه ښه رنګ ولري او يا ښايسته شوې وي، د تمريناتو ترمنځ وقفه وي، د ترينينګ د کارکوونکو لپاره ښه انتظام وي، نو په يادو حالاتو کې د فتيک پېښې کمېږي. (8,5)

درملنه:

الف- ستوماني: د ستومانۍ په اهتماماتو کې د فتيک تشخيص او د هغې د اسبابو درملنه ده. په ازاده هوا کې تمرين ستوماني کموي، د کار کولو توان زياتېږي. ميتايل فينيدات په هغه ستومانۍ کې چې د سرطان له کبله وي، کارول کېږي.

ب- ځنډنی فتيک سندروم (ځنډنۍ ستومانتيا): د ځنډنۍ ستومانتيا په درملنه کې اسايکلو وير، وريدي اميونوګلوبولين، نستاتين، کم دوز هايدروکورتيزون، فلودروکورتيزون، ګټه نلري؛ ځکه چې د ځنډنۍ ستومانتيا په پيداکېدو کې زياتره عقلي تشوشات شامل دي، يوازې فلوکزيتين د ورځې ۲۰ ملي ګرامه هم دومره ګټه نلري، خو نور عقلي تشوشاتو ضد درمل دې ورسره يوځای شي. که د وينې فشار د وضعيت سره ښکته شي، ناروغانو ته د مالګې خوړل او فلودرو کورتيزون توصيه کېږي. ستومانه ناروغ دې هغه وخت په روغتون کې بستر شي چې درملنه يې ناکامه، ورځنی کار او فعاليت خراب شي، د کورنۍ او ټولنې مرسته ورسره نه وي، سرطان وي، شديده عقلي ناروغي ولري، هايپرتايرودیزم يا هايپوتايرودیزم وي. (2)

پايله:

ستوماني ۱-۳ فيصده خلکو کې وي، ۴۰-۸۰ فيصده ستومانه خلکو کې د خوب تشوشات وي، نو له دې څخه څرګند ېږي چې فتيک يا ستوماني يوه ګيله ده چې د روحي، جسمي فشارونو، مختلفو سيستميک او انتاني- اندوکراينې ناروغيو له کبله پيدا کېږي. ستومانه کس سست، خسته بې علاقه، بې حاله، بې انرژي وي، فزيکي يا دماغي کار په ډېرې سستۍ او تنبلۍ سره پيل کوي، ژر ستومانېږي، دماغي تمرکز او حافظه يې خرابه وي. د ستومانۍ د ښه تشخيص لپاره د ناروغ کس څخه دې بشپړه تاريخچه واخيستل شي، ترڅو د نومړي ستونزې مخنيوی او درملنه ترسره شي.

وړانديزونه:

که چېرې يو کس ستړی او ستومانه وي، ورځنی فزيکي يا دماغي کار کولو سره علاقه نلري، ډاکتر بايد د هغه څخه دقيقه تاريخچه واخلي چې ناروغ دماغي خستګي (فتيک) يا فزيکي فتيک لري؛ دماغي فشار لاندې دی، د هغه د کار ځای، وخت، د کار ترمنځ د تفريح، رخصتۍ، د مطالعې ځای، وخت، د قيزيکي يا دماغي کار سره د علاقې په اړه پوښتنه وکړي، که په ناروغ کې يو ددې فکتورونو موجود و، نو د کار ډول دې بدل کړي او که فتيک د سيستمونو د ناروغيو له کبله و، نو لومړنۍ ناروغي دې تداوي شي.

Abstract:

Fatigue (tiredness) is an isolated symptom; it is caused by mental stress, and different systemic, infectious diseases. 1-3%people has fatigue,40-80% fatigability is due to sleep disorder. The patient is tired, weakness, unenergy, impaired mental concentration. The patient became easily tired during mentally and physically working, the doctor should take complete history, and recommend him good prevention and treatment.

References:

1- Berrios GE (1990)."Feelings of Fatigue and psychopathology: a conceptual history". Compr psychiatry 31 (2): 140-51.doi:10.1016/0010-440x (90)90018-N.PMID2178863.

2 - Braunwald Eugene 2005 Harrison's Principle of internal medicine Mc Grawhil New york p-137-134,1370.

3 - Gande via SC (1992)."Some central and peripheral factors affecting human motoneural output in neuromuscular fatigue". Sports medicine (Aucklnd. N.Z) 13(2):93-8.dol:10.2165/00007256-199213020-00004.PMID 1361512.

4- Has lett Christopher 2002 Davidson's principle and practice of medicine, Churchill Livingstone, London p-251

5- http://www.webmed.com/a-to-z-guides/weakness-and-fatigue-topic-overview.

6- kummar Parveen and Clark, michal 2002, clinical medicine W.B Saunder's ,London p 1281-1282

7- Tierney JR lowrence M 2011 current medical diagnosis and Treatment, MC Grawhill,New York p-39-41

8-wessely, s: M Hotopf ;M Sharpe (9) ."Chronic fatigue and its syndrome".BMJ 318: 416. http://ukpme

پوهـــندوی محمد ابراهـــيم (همـــــکار)
ښوونې او روزنې پوهنځی- پښتو څانګه

پر پښتو نظمونو د عربي عروضو د تطبيق ستونزه

لنډيز:

عربي، دري، فارسي او پښتو که د ادب له مخې يو له بل سره پېړۍ پېړۍ اړيکې لري، خو د ژبې د جوړښت له مخې پوره پوره توپير هم لري. د عربي، دري او همدا ډول د پښتو ژبې ګرامر که د اصطلاحګانو له مخې ډېرې ګډې پولې لري، خو د غونډله پوهنې (نحوې) له مخې يې څرګند توپيرونه هم وينو. دا چې د عروضو پيل په افاعيل سره شوی دی او خليل بن احمد په خپل ټول زيار د عربي شعرونو لپاره د دوی له خپلو شعرونو څخه قالبونه جوړ کړي دي، نو همدا لامل دی چې پر نورو ژبو يې تطبيق يوه له ستونزو او نه پوهېدنې ډکه ربړه ده.

سريزه:

د الله (ج) د قدرت يوه عقلي نښه داده چې د نړۍ پرمخ يې دوه شيان په يو ډول نه دي پيدا کړي، بلکې د دوی ترمنځ ډېرى توپيرونه وي. دوه ورونه خويندې به له يو مور او پلار څخه زېږېدلي وي، خو بيا هم د هغوی ترمنځ توپير جوت پروت وي. همداسې ژبې هم د الله (ج) د ستر ځواک يوه نښه ده، د نړۍ د خلکو تر منځ د بېلابېلو قومونو تر منځ که کولتوري ځانګړنې سره توپير لري، همداسې يې د ژبو د جوړښت او نښو تر منځ توپيرونه شته چې په دې غوره امتياز سره د نړۍ د بېلابېلو قومونو تر منځ د توپير ټکي څرګند ېږي او د پېژندګلو يوه غوره وسيله ګرځي.

موخې:

- د ژبو تر منځ د وزني واحدونو پر توپير پوهېدل.
- په هغو باريکيو پوهېدل چې عروض پر پښتو نظمونو نه تطبيق کېږي.

پر پښتو نظمونو د عربي عروضو د تطبيق ستونزه:

د پښتو شاعرۍ په اړه د خان علين مکان خوشحال خان ختک بابا دعوې، چې کړې يې دي او هم يې تر ځان وړاندې شاعران تر کره کتنې لاندې نيولي دي او د هغو شاعرانو په اړه چې يې وزنه شعرونه وايي ليکي:

چې چا دی شعر کړی بې ميزانه بې عروضـه
داهېڅ شاعري نه ده يو خو سپي دي ټميدلي
(۱۰م ۱۳)

او بيا د مېرزا په اړه وايي:

له چانه په پښتو کې ما ميزان ليدلی نه دی
ميرزا په دا زبان کې ويل کړي دي تـــــللي
(۱۰م ۱۳)

د پښتو ژبې په اړه وايي:

پښتو ژبه مـــشکله ددې بحر مونده نشي
هم ماله يو دوه بحره په ډېر منبود راغلي
(۱۰م ۱۳)

يا دا چې:

دوه بحره دوه مطلعې لري که دا قصيده ګورې
زر يواتيا کالونو په سفر کـــــــــــې ماويلي
(۱۰م ۱۴)

د خوشحال خان خټک بابا په اثارو کې زموږ داسې څه نه تر سترګو کېږي چې په هغه کې دې د عروضو په اړه څه لارښوونې وي او يا د کومو بحرونو دعوه چې کوي، هغه هم تر اوسه زموږ د فني کره کتونکو په وړاندې د عربي عروضو په رڼا کې نه دي څرګند شوي. که څه هم دی وايي:

لکه غشي لره بويه تـــــيرانداز
هسې شعر لره بويه سحـــــرساز
همېشه د زړه په لاس تلـه د وزن
زيات او کم د وزن يو توری غماز
(۱۰م۳۹۹)

د وزن خبره خو څرګنده ده، د يو توري چې ګمان کېږي همغه يوه څپه به يې مراد وي هم ښکاره ده، خو د بحر يا عربي رکنونو څه ښکاره ليک پکې نشته. تر خوشحال خان خټک بابا وروسته دده د کورنۍ د يو بل نازکخيال شاعر کاظم خان شيدا په خپل ديوان کې (د پښتو شعر حسب حال) تر سرليک لاندې پوره يوه قصيده ليکلې ده چې په هغې کې هم د وزن او تول خبره په څرګنده راوړي او دا وايي چې په پښتو شعر کې د وزن مسئله ګرانه ده. البته ددغه هم همدا عربي عروض موخه ده چې پښتو شاعري پرې نه تقطيع کېږي.

د پښتـــــــــو ژبه تمـــــامه
ده بې نـــــظمه بې نـــــظامه
له اوزانه مختـــــــــــــلفه
له مـــــــــــيزانه منحرفه
په ميزان باندې چـــــې راشي
هر کـــــــــــلام ته وبالا شي
هر کـــــــلام يې ناموزون دی
په نقـــــصان يې دا قانون دی
حواله چې په تقـــــطيع شي
ګهي طعن ګاه تشنيـــــع شي
دکـــــــلام چې وزن نه وي
پرې د نظم اطـــــلاق څه وي
(۹م:۸۰-۸۱)

تر ده را وروسته بيا د مياشرف (۱۳۴۴ل) نوبت راځي. د مياشرف امتياز دادی چې ده د عربي عروضو تر سيوري لاندې (د پښتو عروض) په نامه کتاب وليکه. په نوموړي کتاب کې مياشرف کوښښ کړی چې دده تر وخته د عروضو علم څه ځانګړنې چې وې، په دې اثر کې يې راټولې کړي. نوموړي که غوښتل هم چې د نورو شاعرانو شعرونه د بېلګې په ډول په نوموړي اثر کې راوړي، ښايي په دغه کار نه وي بريالی شوی او له ناچارۍ يې د عروضو هر بحر ته پخپله شاعري کړې او ټولې بېلګې يې له خپلو اشعارو څخه غوره کړي.

تر مياشرف را وروسته د کوزې پښتونخوا معاصر ليکوال شاعر(سمندر د بدرشو) په دې اړه خپله هڅه پيل کړې او د ښاغلي رشاد لکچر نوټ له مخې وايي: ((په پښتو کې د هېڅ يو تېر شوي او ژوندي شاعر د کلام تول د قانون پر تله برابر نه دی.))

د عروضو په اړه عبدالروف بېنوا (۱۳۲۲ل) ليکي: ((د پښتو ځينې اشعار په عربي عروضو تکلفاً برابرېږي، مگر دا اشعار د ديوانونو اشعار دي چې شاعرانو يې د عربي او پارسي په تقليد اشعار ويلي دي. په دغو تکلفي اشعارو کې هم اکثره شعرونه نه برابرېږي.)) (۲م۵۵)

خو تر ده وروسته کله چې ښاغلي علامه پوهاند رشاد په دې اړه خپله هڅه پيل کړه، د سمندر د بدرشو د دغې خبرې د ماتولو ډېر دلايل يې راوړل، هغه د عبدالعلي اخندزاده کاکړ (۱۳۲۵-۱۲۹۹هـ ش) د شاعرۍ په اړه ليکي: ((پښتو نظمونه که په عروضي مېچ تلل کېږي زياتره پر سېلابوتونيک سيستم برابر خېژي، مگر په پښتو ادب کې داسې نظمونه هم شته چې د خليل بن احمد فراهيدي او د هغه د پيروانو پر مستخرج سيستم باندې برابر راځي. زه د خليل بن احمد عروضو ته رکني عروض وايم او رکني عروض زما د څېړنې له مخې په پښتو ادب کې تقريباً څلورسوه کلنه سابقه لري، څوک چې په پښتو منظوم ادب کې څېړنه کوي هغه د پښتو پر رکني عروضي نظمونو هم پېښېږي. په دې لړ کې ما د (وړمې) د (۱۳۴۰) ش کال په يوه گڼه کې د عبدالعلي اخندزاده کاکړ (۱۲۹۹- ۱۳۲۵هـ ق) پنځه غزلې له رکني عروضو سره سمې تقطيع او خپرې کړې، تر ده يوکال وړاندې په همدې مجله کې ما د شرف درې غزلې تقطيع کړې چې دغه کار ته د شرف لاندې بيت زما پام واړاوه:

فاعلاتن	فعلاتن	فعلاتن	فعلن
ستاکه باور	په کلام شي	د شرف کم	دی هنر
واخله ميزان	د عروض را	يشه هر حرف	وتله

د شرف شاعر د رکني عروضي غزلو په موندلو سره د پښتو رکني نظمونو سابقه دوه سوه کاله قديمه شوه ... مگر د دولت لوانې د رکني عروضي غزلو پيدا کېدلو دا سابقه نوره هم زياته کړه او درونيمو سوو کالو ته يې ورسوله ....)) (۷م۷-۸)

بل ځای پوهاند عبدالشکور رشاد (۱۳۱۳ش) ليکي: ((دولت د رکني عروضي غزلو په تنظيم کې عروضي بحر او وزن ته خاصه توجه لرله او دده دا بيت دغه مطلب ته صريحه اشاره کوي:

دا وزن دی صحي يې وکړه نظر
فاعلاتن مفاعلن فعـــــلاتْ)).

(۷م۹)

زما په نظر وروستی رکن د (فعلاتْ) پرځای (فعلن) سم دی، ځکه چې (ړه× نظر) له (فعلاتْ) سره نه، بلکې له (فعِلُنْ) سره برابر دی. ښاغلي رشاد چې د يادو شاعرانو د غزلو تقطيع لپاره کوم عربي عروض، بحرونه او رکنونه څرگند کړي، په هغوی کې هم د رکنونو تر منځ نااندولي ده، چې بيا يې هم وزن په عربي عروضو سم نه خېژي، زه د يوې غزلې درې بيتونه د پوهاند رشاد له تقطيع کړو غزلو څخه د بېلگې په موخه راوړم:

هر نفـــس هـــــــر زمان په ليل ونهار
جلـــوه گـــــر دی خفـــي جـــلي دلدار
مـــــخ يې دی بې فنـــــــا خورشيد
پاک نازک بدن لـــــــــــــذيذ گفتار
صادقان عاشقـــــــان له شوقه دده
هر نفس څښي د غم شراب ناچـــــار

(۴م۲۸۴)

ښاغلي رشاد ددې غزلې د ټولو بيتونو لپاره (مفاعلاتن مفاعلن فعْلان) وزن غوره کړی دی او د دغو زحافونو جواز يې په دري اردو شعرونو کې په عين ډول د پښتو لپاره هم راوړی دی، د راوړې غزلې د مطلع تلل:

هرنَفَس هر ـــ زما په ليـ ـــ لُ نهار
فاعلاتن ـــ مفاعلن ـــ فعلان
جلوَ گردی ـــ خفي جلي ـــ دلَدار
فاعلاتن ـــ مفاعلن ـــ فعْلان

***

مخ ىَ دى بې ـــ فنا بقـــا ـــ خرشيد
فاعـــلا تن ـــ مفاعلن ـــ فعْلان
پاک نـــازک ـــ بدن لذيذ ـــ گفتار
فاعـــلا تن ـــ مفاعلـــن ـــ فعْلان

***

صادقاعـــا ـــ شقانَ شو ـــ قَ دده
فاعـــلا تن ـــ مفاعـــلن ـــ فعِلُـنْ
هرنفَس بَني ـــ دغم شـرا ـــ ناچـار
فاعـــلا تن ـــ مفاعلن ـــ فعْلان

(۴م۵۱)

د پورته بيتونو د لومړي بيت د عروض رکن د (فعْلان) پرځای د (فعِلان) وزن اخيستی، د دريم بيت د (عروض) رکن (فعِلُنْ) وزن خپل کړی، ددغې غزلې ډېری د (عروض) رکن (فعِلان، فعْلن او فعِلن) وزن اخيستی دی، چې ښکاره ترې څرګند ېږي د پښتو نظم پر عروضو د تقطيع وړ نه دی. زموږ ددې دومره معتبرو شاعرانو او څېړونکو تر خواريو وروسته هم پر پښتو شاعرۍ د خليل بن احمد د عروضو تطبيق څه ځانګړی ځای ونه نيوه، دغو هڅو ښاغلی ډاکټر پوهاند مجاوراحمد زيار دې ته هڅولی چې د څېړنې پرځای ځينې داسې څرګندونې وکړي چې د عروضو تطبيق پر پښتو ژبه يو بې سرو بوله کار وګڼي، هغه ليکي:

((...پښتو نظم سيلابوتونيک دی، د عربي يا فارسي غوندې پرې د نورو او بيا ناخپلوانو ژبو شعري قواعد په ځانګړي ډول عروض يا مېتروم تپل يو بې سرو بوله کار وبلل شي. ... پښتو شعر عروضي (مېتريک) نه دی او ځانته جلا يو خپلواک سيلابوتونيک رغښت لري...)) (۳م م۱۳۲-۱۳۳)

دا چې د خليل بن احمد عروض ولې په پښتو شاعرۍ نه تطبيقېږي، د څو بېلګو او دليلونو په راوړلو يې ثابتوو. په پښتو ژبه کې ځينې کلمې په يوه، دوو او دريو ساکنو يا بې حرکته تورو پيلېږي، چې دا کار په عربي ژبه کې نشته. هلته ټولې کلمې پر حرکت لرونکو تورو پيلېږي. (ستا) کلمه په يو ساکن (س) پيل ده، د (شخوند) کلمه په دوو ساکنو (ش او خ) پيل شوې ده. د پورته کلمو په څېر په عربي ژبه کې د کلمې په پيل کې ساکن غږونه يا توري نه راځي. په عربي ژبه کې لنډه څپه د لنډې پر وړاندې، اوږده څپه د اوږدې څپې پر وړاندې او راکښلې د راکښلې پر وړاندې راځي، چې دا اصل پښتو ژبه زغملای نه شي، بلکې په پښتو ژبه کې لنډه د اوږدې او اوږده د راکښلې څپې پر وړاندې راځي. په عربي ژبه کې د عروضو له مخې خج په پام کې نه نيول کېږي، خو په پښتو ژبه کې د وزن له مخې خج خپل ځانګړی ځای لري، چې په هرو څلورو څپو کې يې يوه خجنه وي. همدا لامل دی، چې عربي عروض په پښتو ژبه نه تطبيقېږي. هغو مشرانو شاعرانو چې پښتو نظم يې د عربي عروضو پر تله تللی دی او يا يې پر دې تله برابر نظمونه ليکلي دي، د محتوا او وينا له مخې پښتو رنګ پکې تت تر سترګو کېږي او لوستونکي يا اورېدونکي فکر کوي چې بله ژبه لولي. د عربي ژبې په جوړښت کې د وزنپوهنې له مخې دوه ډوله (لنډې او اوږدې) څپې تر سترګو کېږي، خو په دري او پښتو ژبو کې (راکښلې) څپې هم شته، کله چې دري او پښتو نظم په عربي بحرونو تقطيع کوي، بيا (راکښلې) څپه په (اوږده) څپه بدلوي، چې دا هم يو ډول ستونزه ده.

د پورته خبرو د ثبوت لپاره لاندې د عربي، دري او پښتو نظمونو بېلګې له څرګندونو سره راوړو:

د عربي ژبې بېلګې:

مسدس وافر بحر

مقطوف: (مفاعلتُن ← مفاعلْ)

مفاعلتن مفاعلتن مفاعلْ
مفاعلتن مفاعلتن مفاعلْ

وکنتُ اذا علقتُ حبال قوم
صحبتُهُمُ و شَیمَتَی الوفاءُ
(۵م۲۵)

لومړی پورته بیت پر څپو ویشو او هره څپه یې د بیتونو د اوډنې له مخې د بلې څپې پر وړاندې راوړو، چې دا خبره څرګنده شي چې لنډه څپه د لنډې او اوږده د اوږدې پر وړاندې راځي.

ګڼه	۱	۲	۳	۴	۵	۶	۷	۸	۹	۱۰	۱۱	۱۲	۱۳
(۱)مسره	وَ	کن	تُ	اء	ذَا	عَ	لِقْ	تُ	حُ	با	لُ	قو	مِنْ
(۲)مسره	صَ	حَبْ	تُ	هُ	مو	وَ	شی	مَ	تَ	یَلْ	وَ	فا	أَنْ
دڅپې نوم	لنډه	اوږده	لنډه	لنډه	اوږده	لنډه	اوږده	لنډه	لنډه	اوږده	لنډه	اوږده	اوږده

په پورته بیت کې وینو چې د لومړۍ او دویمې مسرې لومړۍ، دریمې، څلورمې، شپږمې، اتمې، نهمې او یوولسمې څپې لنډې دي او دویمې، پنځمې، اوومې، لسمې، دولسمې او دیارلسمې څپې اوږدې راغلې دي چې دا قانون د پښتو ژبې نظم زغملای نشي.

عروضي تقطیع یې:

مسره	لومړۍ																			
ګڼه	۱	۲	۳	۴	۵	۱	۲	۳	۴	۵	۱	۲	۳	۴
څپې	وَ	کُنْ	تُ	اء	ذا	ع	لَقْ	تُ	حُ	باَ	لً	قو	مِنْ	
رکن	م	فا	ع	لَ	تن	م	فا	ع	لَ	تن	م	فا	عَلْ	
د رکن نوم	صدر					حشوه					عروض			

مسره	دویمه													
ګڼه	۱	۲	۳	۴	۵	۱	۲	۳	۴	۵	۱	۲	۳	۴
څپې	صَ	حبْ	تُ	و	مو	وَ	شيْ	مَ	تِ	یَلْ	و	فا	أن	
رکن	م	فا	ع	لَ	تن	م	فا	ع	لَ	تن	م	فا	عَلْ	
درکن نوم	ابتدا					حشوه					ضرب			

بله بېلګه یې:

متقارب بحر

فعولن فعولن فعولن فعولن
فعولن فعولن فعولن فعولن

تبـــــارکْتَ یا ربَّنـــا منْ اءله
عظیمِ الأیادِی عَلَی العَالَمِینَاً
(۵م۸۲)

عروضي املا یې: تبارکْتَ یا ربْبَنَا منْ إلاهن
عظیمِ لأَ یَا دیِ عَلَ لعَا لَمِینَا

د بیت څپیزه تقطیع

ګڼه	۱	۲	۳	۴	۵	۶	۷	۸	۹	۱۰	۱۱	۱۲

لومړۍ م	تَ	با	رکْ	تَ	يَا	ربْ	بَ	نَا	مِنْ	اءِ	لا	هن
دويمه م	عَ	ظِيْ	مِنْ	اَ	يَا	دِي	عَ	للْ	عَا	لَ	مِيْ	نا
د څپې نوم	لنډه	اوږده	اوږده	لنډه	اوږده	اوږده	لنډه	اوږده	اوږده	لنډه	اوږده	اوږده

د پورته مسرو لومړۍ، څلورمې، اوومې او لسمې څپې لنډې راغلي دي او دويمې، دريمې، پنځمې، شپږمې، اتمې، نهمې، يوولسمې او دولسمې څپې اوږدې راغلې دي.

عروضي تقطيع يې:

مسره	لومړۍ															
ګڼه	۱	۲	۳	۴	۱	۲	۳	۴	۱	۲	۳	۴	۱	۲	۳	۴
څپې	تَ	بَا	رکْ		تَ	يَا	رَبْ		بَ	نَا	مِنْ		اِ	لا	هن	
رکن	ف	عو	لن		فَ	عو	لن		ف	عو	لن		فَ	عو	لن	
دركن نوم	صدر				لومړۍ حشوه				دويمه حشوه				عروض			

مسره	دويمه															
ګڼه	۱	۲	۳	۴	۱	۲	۳	۴	۱	۲	۳	۴	۱	۲	۳	۴
څپې	عَ	ظِيْ	مِلْ		اَ	يَاْ	دِيْ		عَ	للْ	عَاْ		لَ	مِيْ	نا	
رکن	ف	عو	لن		ف	عو	لن		ف	عو	لن		ف	عو	لن	
د ركن نوم	ابتدا				لومړۍ حشوه				دويمه حشوه				ضرب			

اوس د دري ژبې څو بېلګې را اخلو او پورته عمليه (کړنه) پرې ترسره کوو:

سالم مثمن هزج بحر

مفاعيلن مفاعيلن مفاعيلن مفاعيلن

مفاعيلن مفاعيلن مفاعيلن مفاعيلن

نگارينابه صحرا شوکه بوستان حله می پوشد

به شادی ارغوان باگل شراب وصل می نوشند

(۱م۷۲)

د بيت څپيزه تقطيع

ګڼه	۱	۲	۳	۴	۵	۶	۷	۸	۹	۱۰	۱۱	۱۲	۱۳	۱۴	۱۵	۱۶
لومړۍ	نِ	گا	ري	نا	به	صَحْ	را	شو	که	بوس	تان	حل	له	می	پو	شد
دويمه	به	شا	دی	ار	غ	وان	با	گل	شَ	را	بی	وص	لِ	می	نو	شد
دڅپې نوم	لنډه	اوږده	//	//	لنډه	اوږده راکښلې	اوږده	//	لنډه	راکښلې اوږده	//	اوږده	لنډه	اوږده	//	//

عروضي تقطيع

مسره	لومړۍ															
ګڼه	۱	۲	۳	۴	۱	۲	۳	۴	۱	۲	۳	۴	۱	۲	۳	۴
څپې	نِ	گا	ري	نا	بَ	صح	را	شو	کِ	بس	تا	حل	لَ	می	پو	شد
رکن	م	فا	عي	لن	م	فا	عي	لن	م	فا	عي	لن	م	فا	عي	لن
دركن نوم	صدر				لومړۍ حشوه				دويمه حشوه				عروض			

مسره	دويمه															
ګڼه	۱	۲	۳	۴	۱	۲	۳	۴	۱	۲	۳	۴	۱	۲	۳	۴
څپې	بَ	شا	دی	ار	غ	وا	با	ګل	شَ	را	بی	وص	لِ	می	نو	شد
رکن	م	فا	عي	لن	م	فا	عي	لن	م	فا	عي	لن	م	فا	عي	لن
درکن نوم	ابتدا				لومړۍ حشوه				دويمه حشوه				ضرب			

بله بېلګه:

سالم مثمن رمل بحر

فاعلا تن فاعلا تن فاعلا تن فاعلا تن
فاعلا تن فاعلا تن فاعلا تن فاعلا تن
آن پری رو از درم روزی فراز آید نیـــــاید
من همی خواهم که عمری رفته باز آید نیاید
(۱م۸۷)

لومړی پورته بيت پر څپو ويشو:

ګڼه	۱	۲	۳	۴	۵	۶	۷	۸	۹	۱۰	۱۱	۱۲	۱۳	۱۴	۱۵	۱۶
د لومړۍ م	آن	پَ	ري	رو	از	د	رم	رو	زی	ف	راز	آ	يد	نَ	يا	يد
د دويمه م	من	هَ	می	خوا	هم	که	عم	ری	رف	ته	باز	آ	يد	نَ	يا	يد
دڅپې نوم	اوږده	لنډه	اوږده	//	//	لنډه	اوږده	//	//	لنډه	راکښلې	اوږده	//	لنډه	اوږده	//

د پورته بيت د دواړو مسرو څپې موږ وينو چې (لنډې د لنډې او اوږدې د اوږدې راکښلې د راکښلې) څپې پر وړاندې راغلې دي او د عربي عروضو د قانون له مخې په تقطيع کې هيڅ ډول ستونزه نه پيدا کېږي.

عروضي تقطيع:

مسره	لومړۍ															
ګڼه	۱	۲	۳	۴	۱	۲	۳	۴	۱	۲	۳	۴	۱	۲	۳	۴
څپې	ان	پَ	ری	رو	از	دَ	رم	رو	زی	فِ	را	آ	يد	نَ	يا	يد
رکن	فا	ع	لا	تن	فا	ع	لا	تن	فا	ع	لا	تن	فا	ع	لا	تن
درکن نوم	صدر				لومړۍ حشوه				دويمه حشوه				عروض			

مسره	دويمه															
ګڼه	۱	۲	۳	۴	۱	۲	۳	۴	۱	۲	۳	۴	۱	۲	۳	۴
څپې	من	هـ	می	خا	هم	کِ	عم	ری	رف	تَ	با	آ	يد	نَ	يا	يد
رکن	فا	ع	لا	تن	فا	ع	لا	تن	فا	ع	لا	تن	فا	ع	لا	تن
درکن نوم	ابتدا				لومړۍ حشوه				دويمه حشوه				ضرب			

په پورته عربي او دري بېلګو کې مو وليدل، چې د خليل بن احمد عروض پر عربي او دري نظمونو د تطبيق وړ و او هيڅ ډول ستونزه پکې نه ليدل کېږي، خو پر دغسې نظمونو سربېره په عربي او دري ژبو کې هم د نظمونو داسې بېلګې تر

سترګو کېږي، چې د خليل بن احمد د عروضو د تطبيق توان په خپل ځان کې نه لري. د داسې نظمونو لپاره بيا د عروضو پوهانو نوې لارې او لارښوونې کړې، چې د عروضو علم يې د زده کوونکو او مينه والو لپاره د يوې بې سرو بوله صحرا غوندې جوړ کړی دی، زه يې له عربي او دري نظمونو څخه يوه يوه بېلګه راوړم:

عربي بېلګه يې:

فبغــزّ يادَةَ فــــلذ أعْطيْتَهُ
وتمام ذاکَ بشُکْرِمَنْ أعْطَاهَا
(۵م۵۲)

عروضي املا يې:

فبْغِ زْزِيــا ـــدَةَ فلـــلذي ـــأ عْطيْتَهوُ
مُتْفَا عِلُنْ ـــمُتَفَـــا عِلُنْ ـــمُتْفَا عِلُنْ
وتمامِ ذا ـــ کَ بِشُـکْرِمَنْ ـــأ عْـطَا هَا
مُتَفَـــا عِلُنْ ـــمُتَفَـــا عِلُنْ ـــمُتْفَا عَلْ

پورته بيت په کامل مسدس بحر کې ويل شوی دی، د لومړۍ مسرې حشوه او د دويمې مسرې ابتدا او حشوه سالم راغلي دي، يعنې هېڅ ډول لاسوهنه پکې شوې نه ده. د لومړۍ مسرې د صدر او عروض رکنونه مضمر شوي دي، يعنې اضمار زحاف پکې راغلی دی، همدارنګه د دويمې مسرې په ضرب رکن کې اضمار او قطع زحافونه راغلي دي، چې په دې سره د عروضي وزن له مخې دواړه مسرې په خپل منځ کې هم وزنه نه دي. د پورته بيت رکنونه د العروض والقافيه ليکوال له زحافونو سره راوړي، خو د سنتي عروضيانو په دود يې معادل رکن ورته نه دی راوړی، که چېرته موږ يې د سنتي عروضيانو په دود معادل رکن راوړو نو لاندې بڼه خپلوي:

مُتْفَا عِلُنْ مُتَفَا عِلُنْ مُتْفَا عِلُنْ

سنتي معادل رکنونه:

مُسْتَفْعِلُن مُتَفَا عِلُنْ مُسْتَفْعِلُن
مُتَفَا عِلُنْ مُتَفَا عِلُنْ مُتْفَا عِلْ

سنتي معادل رکنونه:

مُتَفَا عِلُنْ مُتَفَا عِلُنْ مَفْعُوْلُنْ

پورته که ښه پام وکړو د لومړۍ مسرې په صدر کې مُسْتَفْعِلُن وزن راغلی او د دويمې مسرې په ابتدا کې مُتَفَا عِلُنْ وزن راغلی دی، همدارنګه د لومړۍ مسرې په عروض رکن کې مُسْتَفْعِلُن وزن راغلی او د دويمې مسرې په ضرب رکن کې مَفْعُوْلُنْ وزن راغلی دی، چې ددغو څرګندونو پر بنسټ د خليل بن احمد د عروضو د تلې له مخې يې وزن مات دی او که چېرته يې څپېزه تقطيع وکړو بيا دواړه مسرې ديارلس ديارلس څپې راغلې دي. اوس له دري نظم څخه يو بيت را اخلو چې د عروضو پر کنډه په زور تلل شوی دی او په څپېزه تقطيع برابر خېژي:

شمع را باید ازین خانه برون بردن و کشتن
تاکه همسایه نداند که تو درخانه مـــایی
(۱م۹۰)

پورتنی بيت د (وزن شعر دري ۱۳۸۲) ليکوال په مخبون مثمن رمل بحر کې تقطيع کړی دی:

فاعلا تن فعلا تن فعلا تن فعلا تن
فاعلا تن فعلا تن فعلا تن فعلا تن
شمـــع را با ـــ يدزی خا ـــ نه بروبـــر ـــ دن کشتـن
تاکه همسا ـــ ینـــداند ـــ کت درخا ـــ نه ی مایی

د پورته بيت په تقطيع کې د لومړۍ مسرې لومړۍ حشوه (يدزی خا) په لوی لاس په زور سره د (فعلاتن) په وزن تلل شوې ده، که چېرته موږ همدا برخه (يدازين خا) په پام کې ونيسو، له (فاعلاتن) وزن سره برابر راځي او که چېرته (الف) ته اعتبار ورنکړو او (يدزِ ين خا) يې تلفظ کړو، بيا هم له (فاعلا تن) وزن سره برابر راځي، چې د دويمې مسرې د لومړۍ حشوې (يَنَدَاند) (فعِلاً تُن) وزن خپلوي او په دې کار سره وزن د خليل بن احمد د عروضو په کنډه سم نه بربښي او د څپيزې تقطيع له مخې شپاړس څپې د شپاړسو څپو پر وړاندې راغلې او وزن يې سم دی.

پايله:

عربي عروض پر عربي او دري نظمونو د تطبيق وړ دي او کېدای شي ځينې نورې ژبې لکه اردو ... له نوموړې تلې سره برابرې راشي، خو په همدې ژبو کې هم ډېری داسې نظمونه تر سترګو کېږي، چې د عروضو په کنډه نه تلل کېږي او ځانګړي عروض غواړي چې ددغې خبرې دليل يو هم په عروضي بحرونو او رکنونو کې د ډېرو زحافونو رامنځته کېدل دي. د عربي عروضو ليکوال (۱۴۰۹هـ) هم په خپل اثر کې داسې بيتونه راوړي، چې د خليل بن احمد د عروضو پر تله پوره نه تلل کېږي، په فارسي ژبه کې ډاکټر سيروس شميسا (۱۳۸۱ل) او همدارنګه علي رضا فولادي (۱۳۸۲ل) د فارسي ژبې د نظمونو لپاره د هجايي تقطيع لار خپله کړې او نوموړې ژبې ته يې نوي عروض ور وپېژندل. په پښتو ژبه کې علامه پوهاند عبدالشکور رشاد او سمندر د بدرشو د خليل بن احمد په عروضو د پښتو نظمونو د تللو کوښښ وکړ، خو د دواړو پايله همدا شوه، چې ووايي په پښتو شاعرۍ کې ځينو شاعرانو کوښښ کړی، چې په عربي عروضو نظمونه ترتيب کړي، خو ډېری شاعران ددغه اصل خيال نه ساتي، ځکه چې د پښتو شاعرۍ د وزن قالبونه له عربي عروضو سره پخلا نه دي او په پای کې يې د بلې لارې چارې هڅه کړې، خو د دوی دغه هڅه بيا ښاغلي ډاکټر پوهاند مجاوراحمد زيار په حقيقت بدله کړه او څپيزه خجيزه (سيلابوتونيک) سيستم يې د پښتو نظمونو د تقطيع لپاره له پښتو نظمونو څخه راوويسته او ددې لارې کلک پلوي دی. زه هم د پښتو نظمونو د تقطيع لپاره همدا څپيزه، خجيزه لار تاييدوم، خو له عربي عروضو څخه د محصلانو خبرېدل هم اړين بولم، ځکه په پښتو شاعرۍ کې پر عربي عروضي سيستم ځينو شاعرانو خپله طبع ازمايلې ده او بله دا چې د پښتو ژبې شاعري له عربي او دري سره د لارې ملګرې پاتې شوې ده، نه دا چې پښتو نظمونه دې پر عربي عروضي سيستم تقطيع کړي.

وړانديزونه:

۱. پښتو نظمونه دې په سېلابوتونيک سيستم تجزيه شي.
۲. د سېلابوتونيک سيستم په اصولو دې هر شاعر ځان پوه کړي.
۳. پښتو نظمونه دې نور د عربي عروضو پر تله نه تلل کېږي.

Abstract:

Arabic Dari (Farsi) and Pashto languages had relationship for centuries. They do have differences in term of their grammatical structures and forms. By the other hand, If Arabic Dari and Pashto languages have shared expression but they have definitely visible difference in term of their syntax. Since the beginning (Arooz) as knowledge is based on (Afagheel) by an Arabic scholar named khaleil- bin-Ahmad in fact, he has done this effort for Arabic Poems in which he has provided or organized matrixes from Arabic Poem itself which is the main reason why they are not applicable on other languages, this is a Problematic and not understandable issue.

اخځلیکونه:

۱. بېووال، محمدافضل. (۱۳۸۲ل). وزن شعر دری. کابل: سازمان مطالعه تدوین کتب علوم انسانی پوهنتونها(سمت)
۲. بېنوا، عبدالرؤف. (۱۳۲۲ل) ادبي فنون. کابل: پښتو ټولنه
۳. زیار، مجاور احمد. (۱۳۸۹ل). پښتو بدلمېچ. کابل: دانش خپرندویه ټولنه
۴. لوانی، دولت. (۱۳۹۱ل). د دولت لوانې دیوان. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه
۵. سالم، امین عبدالله (۱۳۰۹هـ). العروض والقافیه. الریاض: جامعه الامام محمدبن مسعود الاسلامی
۶. فولادی، علی رضا. (۱۳۸۲ل). مبانی عروض فارسی. تهران: علم
۷. رشاد، عبدالشکور. (۱۳۴۳ل). په پښتو کې درې نیم سوه کاله پخوا عروضي نظمونه. وړمه مجله، اتم کال درېیمه او څلورمه ګڼه. کابل: ادبیاتو پوهنځی
۸. شمیسا، سیروس. (۱۳۸۱ل). اشنایی با عروض و قافیه. تهران: فردوس
۹. شیدا، کاظم خان. (۱۳۸۴ل). د کاظم خان شیدا دیوان. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه
۱۰. ختک، خوشحال خان. (۲۰۰۱م). ارمغان خوشحال. پېښور: یونیورسټي بک ایجنسي

پوهـــندوی مـــنگل (شـــبـــرزاد)
حقوقو او سياسي عـلومو پوهنځـی
نړيوالـــــو اړيکـو څـــانگـــــه

مداخله؛ د حقوقي اصولو له پلوه

لنډيز:
په دې څېړنه کې چې د (مداخله د حقوقي اصولو له پلوه) تر سرليک لاندې ليکل شوې، د مداخلې په تاريخچه، د نه مداخلې اصل په اړه د حقوقپوهانو ترمنځ د نظرونو اختلاف او د مداخلې د بېلابېلو شکلونو لکه د يو هېواد په اساسي تشکيلاتو کې مداخله، د يو هېواد په اساسي قانون کې مداخله، په مالي امورو کې مداخله، اداري چارو کې مداخله او په بهرنيو چارو کې د مداخلې په اړه بحث او څېړنه شوې ده.

سريزه:
له لومړۍ نړيوالې جګړې څخه وروسته نړۍ له اقتصادي او عقيدوي پلوه په دوو بلاکونو وويشل شوه او د درېيمې نړۍ هېوادونه د دوو زبر ځواکونو د سياسي لوبو او رقابتونو په ډګر بدل شول. هر يو خپلو موخو ته د رسېدو لپاره د ځمکو د پراختيا سياسي او نظامي طرحې جوړې کړې او د نړيوالو نورمونو او د ملګرو ملتونو د منشور خلاف يې د هېوادونو د استعمارولو طريقې په کار واچولې؛ د نظامي تجاوز او مداخلې په وجه يې مستقل هېوادونه تر خپل حاکميت لاندې راوستل. دا چې د يو هېواد حاکميت ته صدمه رسول مداخله ګڼل کېږي، ځکه مداخله هغه عمل دی چې د هغې له امله يو دولت په خپله خوښه او ارادې سره بې له کوم قانوني حق څخه يو بل مستقل دولت په دې مجبوروي چې په خپلو داخلي او خارجي سياستونو کې د مداخله کوونکي دولت د نظريو او غوښتنو مطابعت وکړي.

موخې:
له دې څېړنې مو موخه دا ده چې د مداخلې اصلي شکل او څېره خلکو ته روښانه شي، ځکه د نړۍ استعماري قوتونه په بېلابېلو پلمو د هېوادونو په سياسي، فرهنګي، اداري او خارجي چارو کې مداخله کوي او بيا خپلو مداخلو ته د دوستۍ په الفاظو کې د مرستو او همکاريو تر عنوان لاندې رنګ رنګ نومونه ورکوي.

د مداخلې اصلي شکل کوم وخت ښکاره کېږي؟

لومړی: مداخله بايد د يو مستقل دولت په امورو کې شوې وي چې هغه دولت د حاکميت لرونکی وي، که چېرې مداخله د يو داسې دولت په چارو کې وي چې هغه دولت له مداخله کوونکي دولت سره په اتحاد کې شامل وي، يا هغه دولت د مداخله کوونکي دولت تر تسلط لاندې وي؛ نو په دې صورت کې مداخلې ته مداخله نه ويل کېږي. د بېلګې په توګه متحد دولتونه چې د هر يوه عضوه دولت د خاورې بشپړتيا په متحدو دولتونو پورې تړلې او د مقرراتو او اساسي قانون ساتنه د متحدو دولتونو حکومتونو ته سپارل شوې وي، نو ويلای شو چې په هغو حالاتو کې چې د متحدو دولتونو د يو غړي دولت پر خاوره يا اساسي حقوقو تېری وشي، نو بيا د متحدو دولتونو حکومت حق لري چې د غړي دولت له حقوقو څخه دفاع وکړي، دا ډول دفاع ته دخالت نه، بلکې د متحدو دولتونو مسوولیت او وجيبه ويل کېږي يا د يو بې طرفه دولت بې طرفي د يو تعداد دولتونو له خوا تضمين شوي وي او څوک د هغوی بې طرفۍ ته صدمه رسوي، نو په دې صورت کې ضمانت کوونکی دولت هم حق لري چې د بې پرې دولت د بې طرفۍ اصل له تجاوز څخه وساتي او بايد مداخله وکړي، چې دې ډول مداخلې ته مشروع مداخله وايي.

دويم: مداخله يوازې او يوازې د مداخله کوونکي دولت په ارادې سره رامنځته شوې وي، که چېرې مداخله د طرف مقابل دولت په غوښتنه او رضايت سره شوې وي، بيا هم دغه عمل مداخله نه ګڼل کېږي. همدارنګه که مداخله د يو حق د لاسته

راوړلو لپاره شوې وي چې هغه حق د يو تړون يا د نړيوالو رواياتو پر بنياد مداخله کوونکي دولت ته ورکړل شوی وي؛ نو دا ډول عمل هم مداخله نه ګڼل کېږي.

درېيم: درېيم ډول مداخله په هغه صورت کې مداخله ګڼل کېږي چې مداخله کوونکی دولت خپله غوښتنه او اراده په طرف مقابل دولت قبلول غواړي، که چېرې مداخله کوونکی دولت د طرف مقابل دولت په اړوند يوازې په نظر ورکولو اکتفاء وکړي او نوموړی دولت د مداخله کوونکي دولت د غوښتنې پر وړاندې دا اختيار ولري چې د هغه اراده او غوښتنه قبلوي يا يې ردوي؛ نو په دې صورت کې مداخله نه رامنځته کېږي. په سياسي قاموس کې مداخله ډېر ډولونه لري، کېدای شي مداخله انفرادي، اجتماعي، سياسي يا مسلحانه وي، سياسي مداخله ممکن دوستانه يا رسمي وي، مثلاً په کال ۱۸۵۱م کې د المان او اتريش دولتونو د (پيه مون) په دولت کې سياسي دوستانه مداخله وکړه او هغه دولت د پاچا دربار ته يې خپل خاص استازی ويکتور مانويل ولېږه او هغه ته يې دا خبره په ګوته کړه چې له هغې طرز و طريقې څخه لاس واخلي، کومه يې چې د خپل هېواد د حکومت لپاره غوره کړې وه، ځکه د هغه رويه د دولتونو د خپګان سبب ګرځېدلې وه، مګر د (پيه مون) دولت پاچا د نوموړو دولتونو نصيحت ته اهميت ورنکړ او په خپلو سياسي چارو کې يې کوم بدلون رامنځته نه کړ. (۱م۱۴)

برعکس په کال ۱۸۵۲م کې د انګليس او فرانسې دولتونو د (ناپل) په دربار کې سياسي رسمي مداخله وکړه او هغه هېواد يې دې ته مجبور کړ چې د خپل حکومت تګلارې ته تغير ورکړي، ځکه د (ناپل) هېواد تګلاره د انګليس او فرانسې له نظرياتو سره اړخ نه لګولو، څرنګه چې د ناپل هېواد د نوموړو هېوادونو غوښتنې ونه منلې، بيا فرانسې او انګليس خپل سياسي استازي له نوموړي هېواد څخه راوغوښتل او سياسي اړيکې يې ورسره پرې کړې. دا يوه طبيعي خبره ده چې سياسي مداخله بالاخره مسلحانه مداخلې ته لاره پرانيزي، مداخله کوونکی هېواد معمولاً هڅه کوي چې د سوله ييزو سياسي اقداماتو له لارې پر يو هېواد خپلې نظريې او غوښتنې ومني؛ خو که له دې لارې يې موخې ترلاسه نه شي، نو بيا مسلحانه مداخلې ته اقدام کوي. د نه مداخلې د اصل پر بنياد اصولاً او اخلاقاً د يو دولت مداخله د بل هېواد په چارو کې د مداخله کوونکي هېواد حق نه شي ګڼل کېدای؛ ځکه د مداخلې له امله د يو هېواد استقلال او حاکميت تر سوال لاندې راځي او د هغه هېواد اساسي حقوقو ته صدمه رسېږي، نو ويلای شو چې اصلاً د مداخلې حق وجود نه لري، بلکې بايد د نه مداخلې اصل د هېوادونو مسوولیت وګڼل شي؛ ځکه هر هېواد د نړيوالو نورمونو او قوانينو پر بنسټ اختيار لري څرنګه چې وغواړي د خپل هېواد داخلي چارې په خپله خوښه او ارادې سره سمې تنظيم کړي او خپل بهرنی سياست د هېواد د ګټو پر بناء اداره او سنبال کړي.

که چېرته هېوادونه دا اجازه ولري چې قوانين، عادات او روايات يا خپل سياست پر بل هېواد تحميل کړي، نو په حقيقت کې دا داسې معنی ورکوي چې اخري هېواد د خپلې ازادۍ او استقلال له منځه وړلو حق لومړي هېواد ته ورکړی. حال دا چې دا يو روښانه حقيقت دی چې د يو واحد قانون او اصولو تطبيق په ټولو هېوادونو کې يو رنګ ګټې نه رامنځته کوي، شايد هغه قوانين او مقررات د يو هېواد د سعادت سبب شي، ولې کېدای شي د يو بل هېواد د ګټو لپاره مفيد نه وي او د هغوی له رواياتو، عاداتو او مذهب سره اړخ ونه لګوي؛ ځکه چې د هېوادونو ادارې او اجتماعي تګلارې، اب و هوا او محيطي جوړښتونه سره بېل دي. د پورته نظريو په تاييد سره بايد دې ته اشاره وکړو چې تاريخ د تل لپاره د مداخلې بد اثرات او بدې پايلې په روښانه ټکو کې د ولسونو په مخ کې ايښې دي. کله کله داسې هم شوي چې يو دولت دومره قوي نه وي چې د مداخلې له لارې خپلو موخو ته ورسېږي، نو بيا له نورو لارو څخه خپلو موخو ته د رسېدا لپاره استفاده کوي، مثلاً ځينې ډلې يا افراد خپلو ګټو ته د رسېدو په بهير کې دومره حريص وي چې کله يو پردی هېواد د ده په هېواد کې مداخله وکړي له همدې حالت نه په استفادې سره د ولس پر افکارو دومره کار کوي چې د هغوی مخه د خپلو موخو خوا ته راوګرځوي او خپلې مادي او معنوي ګټې ترلاسه کړي. په ډېری وختونو کې تاسې ته معلومه ده هر هغه دولت چې د بل هېواد په چارو کې مداخله وکړي د نوموړي هېواد کرکه او کينه د خپل ځان په اړوند راپاروي، ولو که د مداخله کوونکي هېواد د مداخلې موخه هغه هېواد ته خدمت وي.

په کال ۱۸۲۳م کې چې فرانسې په هسپانيه کې مداخله وکړه، له پورته حالت سره مخامخ شوه. همدرانګه په کال ۱۸۴۹م کې روسيې په مجارستان کې د مرستې په موخه مداخله وکړه چې د مجارستان د ولس له مقاوت سره مخ شوه. ځينې سياسيون د دخالت په اړوند ځينې دلايل وړاندې کوي او ترې دفاع کوي، د مثال په ډول دوی په دې عقيده دي چې کله په يو هېواد کې يو انقلاب رامنځته شي، نو د هغه ګاونډی هېواد په دې وېره چې پاڅون د دوی هېواد ته لاره ونکړي؛ نو حق لري چې د پاڅون د دفع کولو لپاره له اولې هېواد سره مرسته وکړي. ځينې نور سياستپوهان په دې نظر دي چې د بشردوستۍ په خاطر کله چې په يو هېواد کې د لږکيو حقوق تر پښو لاندې کېږي، نو بل هېواد حق لري د سرغړوونکي هېواد په خاوره کې مداخله وکړي، حال دا چې مداخله هغه وخت مشروع او جايز ګڼل کېږي چې د يو تړون د موادو له تطبيق څخه سرغړونه شوې وي. په دې پوهېږو چې هر دولت د خپل نړيوال حيثيت او د خپلې خاورې د ساتنې په غرض هر ډول لازم اقدام کولای شي او دا اقدام او عمل يې بايد د خپلې خاورې او حاکميت په داخل کې وي، نه دا چې د يو راتلونکي خطر نه د مخنيوي په بهانه د بل هېواد استقلال او حاکميت ته صدمه ورسوي. که چېرته د مداخلې اصل ته په پورته ذکر شوو حالاتو کې مشروعيت ورکړل شي، نو دا طبيعي خبره ده چې په نړۍ کې به مداخله د تل لپاره جايز وګڼل شي او په دې صورت کې به د هېوادونو ازادي له خطر سره مخامخ او تل به د نورو هېوادونو د مداخلې ډګر وګرځي او د استقلال او حکمرانۍ حق به له منځه لاړ شي. (۲م۵۴)

د نه مداخلې په اصل کې ځينې استثناءت واردول:

په دې هکله د حقوقپوهانو ترمنځ د نظر اختلاف موجود دی:

۱- يوه ډله پر دې باور دي چې په هيڅ ډول مداخله مشروع عمل نشي ګڼل کېدای، ځکه چې مداخله د استقلال او حاکميت له اساسي اصل سره په ټکر کې ده.

۲- بله ډله وايي چې په ځينو خاصو مواردو او حالاتو کې بايد مداخله جايز وګڼل شي، ولې د دې دويمې ډلې ترمنځ د استثنايي مواردو د تعينولو په اړوند د نظر اختلاف موجود دی.

۳- دريمه ډله په دې عقيده ده چې مداخله هغه وخت مشروع ده چې د بشردوستۍ په خاطر شوې وي، لکه د ځينو انسانانو د مال او ژوند د نجات لپاره يا د هغوی د عقيدې او مذهب د ازادۍ لپاره وي.

۴- دا ډله مداخله هغه وخت مشروع بولي چې د ډېرو هېوادونو د ګډ تصميم له امله رامنځته شوې وي.

بالاخره وروستۍ ډله سياسيون مداخله په هغه صورت کې جايزه ګڼي چې د مداخله کوونکي هېواد د حيثيت او ګټو پر وړاندې وېره موجوده وي او له خپلې نظريې څخه د دفاع په منظور دا دليل راوړي چې د بين المللي جامعې په اصولو کې راغلي چې د هر دولت استقلال په هغه صورت کې په امن کې پاتې کېږي چې د نورو استقلال او ازادۍ ته درناوی ولري. هر کله چې يو دولت د خپل خارجي او داخلي سياست په جوړولو کې د بل دولت د حيثيت حق ته صدمه ورسوي، اخري دولت حق لري چې له ټولو لازمو اقداماتو څخه کار واخلي چې په دې کې حتی د مداخلې حق ورته هم مشروع کېدای شي.

د مداخلې شکلونه:

د نولسمې پېړۍ په اوږدو کې سياستپوهانو د ځينو هېوادونو په داخلي او بهرنيو چارو کې د مداخلې ډولونه ذکر کړي دي چې په لاندې ډول ورته اشاره کوو:

۱- د هېواد په اساسي تشکيلاتو کې مداخله: دا ډول مداخله په دې خاطر صورت نيسي چې مداخله کوونکی هېواد صرف مقابل هېواد دې ته مجبوروي چې په خپل اساسي قانون کې د هغوی په ګټه ځينې مادې ځای پر ځای کړي او يا پرې داسې حکومت وروتپي چې د مداخله کوونکي هېواد لاسپوڅی حکومت وي، د مثال په ډول کله چې د فرانسې د انقلابيونو نظرياتو او عقايدو د اروپايي سلطنتي رژيمونو ګټې له خطر سره مخ کړې، نوموړو پاچاهانو په ګډه د انقلاب د نظرياتو د مخنيوي په نيت په فرانسه کې مداخله وکړه. د فرانسې انقلاب د پايلو تاثير د اروپا د شاهي کورنيو د ګټو سره په ټکر کې و، نو له دې امله هغوی په ډېرې چټکۍ سره د انقلاب د نظرياتو د مخنيوي په خاطر اقدام وکړ، تر څو چې د هغوی د تخت و تاج د نسکورېدو سبب نه شي. (۳، ۸)

همدا اروپايي هېوادونه په متحد ډول مخکې له دې چې ذکر شوي حوادث د دوی ګرېوان ته لاس واچوي، باید مخه يې ونيول شي، نو دې هدف ته د رسېدو په هيله يې د اپرېل په ۱۷مه کال ۱۷۹۱ کې د (پيل نيتنر) په نامه يوه اعلاميه ټولو اروپايي هېوادونو ته خپره کړه چې په دې اعلاميه کې د (دويم شوپولد) د المان امپراتور او (دويم فردريک ګيوم) د پروس پاچا برخه درلوده؛ همدارنګه يوه بله اعلاميه په ۲۳ جنورۍ ۱۷۹۱م کې د (دوک دوبرونس ويک) د متفقينو د عمومي قومندان له خوا هم اروپايي هېوادونو ته خپره کړه. (۷،۴)

د فرانسې له انقلاب څخه فرانسوي ولس ډېرې لاسته راوړنې درلودې، ډېرې هېوادونه يې تر خپل حاکميت لاندې راوستل او د فرانسې د انقلاب نوي نظريات يې هلته تطبيق کړل او همدارنګه په ۱۹ نوامبر کال ۱۷۹۲ کې د فرانسې کنوانسيون هغو هېوادونو ته د مرستو رسمي ژمنې ورکړې، کوم چې د ازادۍ او استقلال لپاره قيام کوي.

۲- د يو هېواد د اساسي قانون په برخه کې مداخله: په ۲۹ د سپټمبر کال ۱۸۱۵م د (مقدس اتحاد) په تعهدنامه کې چې د اتريش، پروس او روسيې په کې برخه درلوده او بيا وروسته په کال ۱۸۱۸م کې د (اکس لا شاپل) په کنګره کې فرانسه هم په دې کې شامله شوه، پوره صراحت يې موجود دی؛ په دې معنی چې نوموړي ترون کې د اروپا سلطنتي رژيمونو ته دا حق ورکړل شوی چې د خپل تاج و تخت د ساتنې په خاطر په هغه هېواد کې مداخله وکړي کوم چې د دوی په فکر خطر ورته متوجه کوي. د مداخلې دا ډول حق په کال ۱۸۲۰م کې د (تروپو) په کنګره کې او په کال ۱۸۲۱م کې د (لاباخ) په کنګره کې د روسيې امپراتور د اتريش امپراتور او د پروس د پاچا له خوا تاييد شو چې د همدې ترونونو پر بنسټ د اتريش هېواد د فرديناند په ګټه ايټاليا کې نظامي مداخله وکړه، همدارنګه په کال ۱۸۲۲ م کې د (ورون) په کنګره کې چې د هسپانيې له پاڅون وروسته رامنځته شوه، فرانسې له بلژيک سره د مرستې په نامه مداخله وکړه، تر څو بلژيک له هالنډ څخه خپله ازادي ترلاسه کړي، په کال ۱۸۲۲م کې د فرانسې او اتريش هېوادونو په ايټاليا کې مداخله وکړه او د روسيې او اتريش هېوادونو په کال ۱۸۴۹م کې په مجارستان کې مداخله وکړه، تر څو د مجارستان انقلابيون وټکوي. (۵ م۲۲)

۳- په مالي امورو کې مداخله: په نړيواله کچه ځينې هېوادونه له ځينو نورو هېوادونو څخه پيسې په پور اخلي، کله چې مديون دولت د داين هېواد پور له ژمنې سره سم ورنه کړي، نو په تکرار سره داسې حالت رامنځته شي چې پور ورکوونکی هېواد د خپل ولس د ګټو د ساتنې له امله په مديون هېواد کې مداخله وکړي. دا ډول مداخله ډېره په شدت او غضب سره وي او کله نرمه او دوستانه او ځينې وختونه يوازې په سياسي فشار هم اکتفاء کوي، چې ښه مثال يې په کال ۱۸۹۴م کې د فرانسې او المان هېوادونو په پرتګال کې مداخله وکړه او کله داسې هم شوي دي چې يو نړيوال کميسيون ته دنده سپارل شوې چې د مديون هېواد مالي امور تر نظارت لاندې ونيسي چې يو وخت د دې جوګه شي چې د داين هېواد پور ورکړي؛ لکه د مصر د عمومي قرضو بين المللي اداره چې د تونس، يونان او ترکيې د قرضونو په اړوند يې څار کاوه. ځينې پوهان دغه ډول مداخله مشروع نه ګڼي، ځکه د هېوادونو د استقلال حق د اصل سره په ټکر کې ده، مګر ځينې نور علماء دليل راوړي چې دولتونه د خپلو اتباعو د حقوقو او ملي پانګې د ساتنې په منظور دا ډول مداخله کولای شي.

۴- په اداري چارو کې مداخله: د يو هېواد په اداري چارو کې له مداخلې څخه موخه دا وي چې مداخله کوونکی هېواد غواړي چې يو بل هېواد په دې مجبور کړي چې خپلې اداري چارې داسې اصلاح کړي چې د مداخله کوونکي هېواد د وګړو حقوق خوندي پاتې شي. دا ډول مداخله د ترکيې هېواد په اداري چارو کې څو څو ځله شوې ده، همدارنګه په کال ۱۹۲۰م د الجزاير قرارداد پر بنسټ د نظم د راوړلو په نوم يوه قوه جوړه شوه چې په مراکش کې د خارجيانو د مال او ځان د ساتنې لپاره مداخله وشوه چې دا ډول مداخله د يو هېواد په اداري چارو کې مداخله ګڼل کېږي.

۵- د يو هېواد په خارجي چارو کې مداخله: په کال ۱۸۹۴م کې د اروپا لويو دولتونو د جاپان په خارجي چارو کې مداخله وکړه، دا هغه وخت و چې جاپان د چين د خاورې ځينې برخې تر خپل تسلط لاندې راوستې وې. نوموړو هېوادونو جاپان دې ته اړويسته چې د چين له خاورې څخه نيول شوې برخې چين ته وسپاري او هم نغدي تاوان ورته ورکړي. په کال ۱۹۱۴م کې د لومړۍ نړيوالې جګړې په بهير کې د ځينو هېوادونو په خارجي برخو کې مداخلې وشوې، لکه په کال ۱۹۱۷م کې د متفقينو د يونان پاچا کنستانتين چې د هغوی د غوښتنو خلاف يې په جګړه کې برخه وانخيسته، د قدرت له ګدۍ څخه

يې لرې کړ؛ همدرانګه د لومړۍ نړيوالې جګړې ګټونکو هېوادونو په کال ۱۹۱۸م کې په روسيه کې مداخله وکړه چې د بلشويکي نظام له ظلم څخه د روسيې د دهقانانو حمايت او ساتنه وکړي. په هر صورت مداخله که په هر عنوان او بهانه وي، د يو هېواد د استقلال او ازادۍ او ملي حاکميت له اصل سره مخالف عمل دی چې همدغه مداخله يوه ورځ د نړيوالو اړيکو د خرپړتيا لامل ګرځي او جګړې ته لاره پرانيزي. (۶م۴۷)

پايله:

دا يو حقيقت دی چې که د مداخلې ډولونه وشمېرو، نو شمېر يې ډېر زيات دی، کېدای شي مداخله سياسي، اجتماعي، انفرادي او يا هم مسلحانه وي؛ نو طبيعي ده چې سياسي مداخله ورو- ورو مسحلانه مداخلې ته لاره اوارولای شي. مداخله کوونکی هېواد کله په دې لټه کې هم وي چې د سوله ييزو سياسي اقداماتو په واسطه پر يو مستقل هېواد خپلې غوښتنې قبولې کړي، که په دې وسيله هدف ته ونه رسېږي، نو بيا مسلحانه مداخله کوي. د نه مداخلې اصل او د نړيوالو نورمونو پر بنياد د يو دولت مداخله د بل دولت په چارو کې د مداخله کوونکي دولت حق نشي ګڼل کېدای، په دې معنی چې د مداخلې له امله د يو هېواد استقلال او ملي حاکميت تر پښو لاندې کېږي او تر څنګ يې د هغه هېواد د وګړو اساسي حقوقو ته هم صدمه رسېږي، نو بايد ووايو چې اصلاً مداخله وجود نه لري او هېوادونه له دې عمل څخه ځان بايد وژغوري او بايد په دې ټکي ترکيز وشي چې (د نه مداخلې اصل) د هېوادونو مسوولیت وګڼل شي، ځکه هر هېواد د ملګرو ملتونو د منشور پر بنياد حق لري چې څرنګه يې خوښه وي خپلې داخلي او خارجي چارې تنظيم کړي او هېڅ يو هېواد خپله اراده او غوښتنه په هره برخه کې چې وي، پر بل هېواد تحميل نه کړي؛ ځکه د مشکلاتو او ستونزو د حل ښه لار د تفاهم او نړيوالو قوانينو په سيوري کې ښه حل کېدای شي، نه د مداخلې او زور له لارو څخه.

وړانديزونه:

زما په اند که په فردي ژوندانه يا په ټولنيز ژوندانه کې د امير او غريب ترمنځ د اقتصاد بې انډوله واټن راکم نشي، تر هغې به پانګوال او يا نور استعماري هېوادونه د خپلو ګټو په خاطر د هېڅ ډول جنايت څخه ډډه ونکړي، ځکه همدا اقتصادي او نظامي ناانډولي ده، چې د غريبو هېوادونو په اقتصادي، سياسي، اجتماعي او فرهنګي امورو کې مداخله کېږي. زه د دې مشکل د حل لپاره خپل وړانديزونه په لاندې ټکو کې رانغاړم:

۱- هغه هېوادونه چې له نظامي او اقتصادي پلوه برلاسي دي، ښه به دا وي چې د نورو په امورو کې د مداخلې په عوض د ستونزو د حل لارې چارې د نړيوالو قوانينو په سيوري کې وټټوي.

۲- استعماري هېوادونه چې کومې پيسې د نورو هېوادونو د امورو په مداخلو کې په مصرف رسوي، ښه به دا وي چې د خپل ولس د ژوندانه د بهبود لپاره يې مصرف کړي.

۳- د نورو په امورو کې هر ډول مداخله د نړيوالو نورمونو خلاف عمل دی، چې په دې عمل سره يې په نړيوال کلي کې د دوستانو ډله کمېږي، نو ښه به دا وي چې که ځان د نړيوال کاروان غړی وبولو، بايد نړيوالو اصولو ته غاړه کېږدو، تر څو خپله او دغه راز نورې ټولنې له مصيبتونو څخه وژغورو.

Abstract:
I have written this essay under the title of (Legal intervention from the perspective of legal norms), which is summarized as follow:
1– When the real or main formation of intervention appears.
2- Thoughts disagreement among lawyers about the principle of no intervention.
3- Types of intervention such as intervention in the fundamental institutions of a state, intervention in the constitution of a state, intervention in the financial affairs, intervention in administrative affairs and intervention in the foreign affairs.

اخځليکونه:

۱- اردلان، علی قلی. (۱۳۶۲). ابر قدرت دیگر. تهران
۲- بزرگ، مهدی مجید. (۱۳۵۳). تاریخ قرن بیستم، جنگ و بازسازی. تهران
۳- بزرگ مهدی، مجید. (۱۳۸۸). تاریخ بزرگ جهان. تهران
۴- علی بابائی، غلام رضا. (۱۳۶۹). فرهنگ علوم سیاسی. تهران
۵- مورگانتا، هانس جی. (۱۳۸۹). سیاست میان ملت ها، د حمیرا شېرزاده ژباړه. تهران
۶- ویک لین، جان. (۱۳۶۹). اختتام جنگ ویتنام، ژباړه: عبدالعلی قوام. تهران
۷- علی بابایی، غلام رضا. (۱۳۸۷). بنیادهای سیاست. تهران
۸- سعیدی، سید مرتضی. (۱۳۷۷). سیاست در خدمت حکام. تهران

پوهندوی حـــيات الله (احمدزی)
پوهندوی حبيب الله (مولوي زاده)
طب پوهنځی- داخـــــله څانګـه

په هايپرټنشن کې د شکرې ناروغۍ پېښې

لنډيز:
دا څېړنه د ننگرهار د عامې روغتيا روغتون د داخلې په څانګه کې په ۱۳۹۰ کال پيل او په ۱۳۹۱\۱۱\۱۵ نېټه پای ته ورسېده چې په ۲۰۰ تنو هغو ناروغانو باندې چې د فشار پخوانۍ تاريخچه يې د ۲ نه تر ۱۲ کالو راهيسې لرله، اوس ورته د شکرې ناروغي پيدا شوې وه، ترسره شوه. په دې ناروغانو کې ۲۲ تنه (۱۱٪) نارينه او (۱۴٪) ښځينه ناروغان دي چې په ټولیز ډول سره ۲۵٪ ناروغانو ته د شکرې د ناروغۍ پېښې منځته راغلې وې او ددې ناروغانو منځنی عمر (Mean age) ۸_+۲۳ دی.

سريزه:
څرنګه چې د شرياني وينې لوړ فشار يوه نړيواله روغتيايي ستونزه ده او ډېری وګړي پرې اخته شوي، خو له نېکه مرغه د درملنې او مخنيوي وړ ده. نن سبا چې ډول ډول د فشار ضد درمل شتون لري، په اسانۍ سره پرې فشار کنترولېږي، خو بيا هم ډېری ناروغان د لوړ فشار څخه خبر نه وي او ډول ډول ستونزې ورته پيدا کوي چې ژوند ته يې ګواښ پېښوي، لکه C V I H D،A د زړه احتشا، د ليدلو ستونزه او رونده والی چې Retinopathy پورې اړه لري او هم د شکرې د ناروغۍ لپاره خطري فکتور ګڼل کېږي چې دا بيا هم د فشار د کنترول پورې اړه لري، ځکه چې لوړ فشار Insulin Resistance منځته راوړي او هم دا رنګه څېړنه تر اوسه پورې په ختيځ زون کې نه ده ترسره شوې، تر څو معلومه کړو چې لوړ فشار په ناروغانو کې څومره وګړو ته د شکرې ناروغۍ پيدا کېږي او که دا دواړه ناروغۍ يو ځای شتون ولري، د زړه، رګونو، بډوډو او مرکزي عصبي سيستم د ډول ډول ناروغيو او اختلاطاتو لپاره زمينه برابروي؛ نو د پورته اړتياوو او ټکو په پام کې نيولو سره دنده راکړل شوه، تر څو د هايپرتنشن په ناروغانو کې د ډيابيټ پېښې وڅېړو او هم يې د مخنيوي لپاره لارې چارې په ګوته کړو چې دا به راتلونکې کې ځوانو ډاکترانو او هېوادوالو ته ښه ماخذ وي.

موخې:

- هايپرتنشن په ناروغانو کې د شکرې ناروغۍ د پېښو معلومول
- دا ناروغي په کوم عمر او جنس کې زياته ليدل کېږي
- د امکان تر بريده خپلو هېوادوالو او داکترانو ته ددې ناروغۍ په اړه معلومات وړاندې کول، تر څو د فشار او د شکرې د اختلاطاتو په اړوند ښه پوهه لاسته راوړي

په هايپرتنشن کې د شکرې ناروغۍ پېښې:

د هايپرتنشن تعريف: د شرياني وينې د فشار هغه اندازه لوړوالی چې د Target organ Damage د خطر زياتېدو لامل شي، يا په بل عبارت د شرياني وينې فشار هغه اندازه لوړوالی چې د شبکې، دماغ، زړه، پښتورګو د رګونو د افاتو خطر زيات کړي، هايپرتنشن بلل کېږي چې دا کچې ۱۴۰ پر ۹۰ ملي متره ستون سيماب او له دې څخه پورته منل شوې ده؛ په دې شرط چې دا کتنه څو ځلې تکرار شي. (۱،۵)

شرياني فشار د زړه د دهاني او محيطي مقاومت څخه عبارت دی چې د زړه دهانه د ستروګ واليوم او د زړه د ضربان او محيطي مقاومت د رګونو د جوړښت او دندې پورې اړه لري، تقريباً ۷،۲ ميلونه د U K مړينه (۱۳-۱۵٪) او په ۲۰۰۱ کال کې ۹۲ ميلونه معويين په ټوله نړۍ کې ښودل شوي دي. (۴)

هایپرټینشن د زړه او رګونو ناروغیو خطر دوه چنده کوي چې په دې کې د زړه د اکلیلي شرایینو ناروغي، د زړه عدم کفایه، اسکېمک او وینه لرونکی ستروک د بډوډو عدم کفایه او د محیطي شرایینو ناروغي منځته راوړي، خو د فشار ضد درملو په واسطه د زړه او بډوډو خطر کم شوی دی. (۳)

د شکرې ناروغۍ لپاره د وینې لوړ فشار رسک فکتور ګڼل کېږي. (۲، ۴)

د یوې امریکایي څېړنې پر اساس چې په ۱۲۵۵۰ وګړو ترسره شوې، دارنګه پایلې یې لرلې: د نارموتینسیو وګړو په پرتله په هایپرتنسو ناروغانو کې د شکرې د ناروغۍ پېښې ۲،۵ چنده زیاتې وې. (۱۰، ۲)

او هغه څېړنه چې د پاکستان د لاهور ایالت کې د احمد ذاهد او محمد خالد پرویز لخوا ۵۸۰ تنو وګړو ترسره شوې، د هایپرتنشن په ناروغانو کې د شکرې د ناروغۍ پېښې ۷۷، ۴۲ سلنه ښودل شوې دي. (۱۱)

او هغه څېړنه چې د ترکیې هېواد په Bursa ولایت کې د حسین اکسو او ملګرو لخوا په ۷۲۷ تنو وګړو باندې چې د شکرې په ناروغۍ کې یې د خطر فکتورونه څېړل، جوته شوه چې د نورو خطري فکتورو په پرتله هایپرتنشن ۲،۳ چنده زیات و. (۷)

د امریکا د کارډیالوژۍ بورډ د سوالونو او ځوابونو په کتاب کې د هایپرتنشن په ناروغانو کې د شکرې د ناروغۍ پېښې په اټکلي ډول ۲۵ نه تر ۴۰ سلنه ښودل شوې دي. (۹)

د وینې فشار تقسیم بندي:

د وینې د فشار اندزه ملي متر ستون سیماب په حساب	سستولیک	ډیاستولیک
نورمال	>۱۲۰	>۸۰
Prehypertension	۱۳۹-۱۲۰	۸۹-۸۰
Stage 1	۱۵۰-۱۴۰	۹۹-۹۰
Stage 2	<۱۲۰	<۱۰۰

(۴، ۵، ۸)

په ۹۵٪ پېښو کې د H T N لامل په ګوته شوی نه دی چې د پرایمري H T N نوم ورکړل شوی چې پتوجنیزس په دقیق ډول معلوم نه دی، زیات فکتورونه یې په منځته راتلو کې متهم ګڼل کېږي، لکه د بډوډو د دندو خرابوالی، د محیطي رګونو د ټون ټنګار د اندوتیلي حجراتو د دندو خرابوالی، Autonomic ټون، د انسولین په وړاندې Resistance او عصبي هورموني فکتورونه شامل دي. د وینې د لوړ فشار Ethnic ګروپ ډېر دودیز دی، په ځانګړي ډول تورپوستي امریکایان او د جاپان وګړو کې هم تقریباً (۴۰-۲۰٪) پورې ارثي فکتورونه ښودل شوي دي. په محیطي فکتورونو کې د زیاتې مالګې کارونه، د ډېرو الکولو څښل، چاغوالی، د تمرین کموالی او د رحم په دننه کې د ودې خرابوالی رول لري. Stress ۱۵٪ پېښو کې کېدای شي د ځانګړې ناروغۍ یا ګډوډۍ پورې اړه ولري چې د سوډیم اختباس، یا محیطي Vasoconstriction پورې اړه ولري. ثانوي هایپرټنشن په لاملونو کې د بډوډو او اندوکریني، رګونو او نورې ناروغۍ شاملې دي. (۳)

هایپرتنشن ډول ډول اختلاطات او ستونزې منځته راوړي چې د هغې له ډلې څخه I H D د زړه احتشا، د زړه عدم کفایه، د بډوډو عدم کفایه، دماغي ستروک، د لویو رګونو د دندو خرابوالی او شبکې افات، Retinopathy او هم د شکرې ناروغۍ لپاره یو خطري فکتور ګڼل کېږي، یعنې که نایپرتنشن د ۱۴۰\۱۹۰ میلي متر ستون سیماب او یا له دې څخه لوړ وي، نو د D M لپاره خطري فکتور دی. (۲، ۴)

د شکرې ناروغۍ لپاره تشخیصیه کرایتریاګانې:

۱- د شکرې د ناروغۍ ګیلې او که مړې خېټې ګلوکوز R B S (Random Blood Sugar) 200mg/dl یا 11.1mmol/liter> وي.

۲- په نهاره ګلوکوز F B S (Fasting blood) یې (7mmol/liter) یا له دې څخه زیات وي.

۳- HbAic د 6,5٪ څخه زیات وي.

۴- که د ګلوکوز د زغم د معاينې پر اساس دوه ساعته وروسته که ۷۵ګرامه ګلوکوز وکارول شي او کچې يې په پلازما کې 200mg/dl 11.1mmol/liter او يا له دې څخه زيات وي (۴)

مواد او کړنلاره:

د ناروغانو دوسيې، د فشار اله، ستاتسکوپ او د ګلوکوز د کچې د معلومولو لپاره د لابراتوري توکو څخه کار اخيستل شوی دی. دغه راز دا څېړنه د ننگرهار د عامې روغتيا روغتون د داخلې په څانګه کې د ۱۳۹۰-۱۳۹۱ل کلونو په اوږدو کې په Descriptive ډول سره په ۲۰۰ تنو ناروغانو باندې چې د وينې د لوړ فشار تاريخچه يې درلوده، ترسره شوې ده او د هغو ناروغانو چې د شکرې د ناروغۍ کورنۍ مثبته تاريخچه يې لرله، چاغوالی او د يابيت ناروغي ورته لومړی پيدا شوې وې او بيا ورته هايپرتنشن پيدا شوې و، په دې څېړنه کې مو ونه نيول. ددې ناروغانو څخه د تاريخچې د اخستلو پر وخت دقيق معلومات ترلاسه شول چې د شکرې ناروغي ورته کله پيدا شوې، ايا د شکر لپاره يې معاينات کړي دي، د هو د ځواب په صورت کې چې لومړی يې هايپرتنشن درلود او وروسته د شکرې په ناروغۍ اخته شوي وو، په څېړنه کې شامل کړل. ددې ناروغانو د فشار د تعينېدو او نورو فزيکي معاينو سربېره د وينې د شکرې اندازه په نهاره دوه ځلې ليدنه او هم په ادرار کې ګلوکوز ولټول شو، ترڅو د شکرې د ناروغۍ تشخيص يقيني شي. دا ناروغان د ختيځ زون د بېلابېلو سيمو څخه روغتون ته راغلي وو، د ناروغانو جنس او عمر ته ځانګړې پاملرنه وشوه چې په لومړي جدول کې ښودل شوي دي. (۱)

لومړی جدول: په هايپرتنشن کې د شکرې ناروغۍ د جنس او عمر له مخې ښودنه شوې ده.

		د ناروغانو شمېر	سلنه
جنس	نارينه	148	74%
	ښځينه	52	26%
عمر	60-37	138	69%
	80-61	62	31%

دويم جدول: په هايپرتنشن اخته ناروغانو کې د وينې فشار اندازه راښيي.

	د فشار اندازه	د ناروغانو شمېر	سلنه
سستوليک فشار	۱۴۰_۱۸۰	۱۵۲	٪۷۶
	۱۸۱_۲۴۰	۴۸	٪۲۴
دياستوليک فشار	۸۰_۱۰۰	۱۳۴	٪۶۷
	۱۰۱_۱۴۰	۶۶	٪۳۳

درېيم جدول: د هاپيرتنشن په شکرې ناروغانو کې د ګلوکوز کچې (mg/dl) حساب:

	د ګلوکوز کچې	د ناروغانو شمېر	فيصدي
F B S	136-200 ملي ګرام	17	8,5%
	201-365 ملي ګرام	33	16,5%

څلورم جدول: د هايپرتنشن په دې ناروغانو کې چې D M په کې منځته راغلی و، د نارينه او ښځينه جنس شمېر او فيصدي:

ناروغان	شمېر	فيصدي
نارينه	۲۲	٪۱۱
ښځينه	۲۸	٪۱۴

پايله:

دا څېړنه چې په۲۰۰ تنو هغو ناروغانو باندې چې په هايپرتنشن اخته وو او۲-۱۲ کالو په اوږدو کې هايپرتنشن تاريخچه لرله او وروسته ورته د شکر ناروغي پيدا شوې وه، دارنګه پايلې لري: په دې څېړنه کې ۲۲ تنه(۱۱٪) ناروغان نارينه او ۲۸ (۱۴٪) ناروغانې ښځينه په شکرې اخته شوي وو چې په ټوليز ډول سره **۲۵**٪فيصده کېږي چې په M D اخته شوي دي چې په لاندې جدول کې په لنډ ډول ښودل شوي:

نارينه	۲۲	٪۱۱
ښځينه	۲۸	٪۱۴
مجموعه	**۵۰**	**٪۲۵**

زمونږ د څېړنې پايلې په لنډ ډول د ګراف په وسيله



مناقشه:

د څېړني د پايلې څخه څرګنده شوه چې د هايپرتنشن ۲۰۰ تنو ناروغانو کې ديابت د ناروغۍ پېښې **۲۵**٪سلنه (ښځينه۱۴٪ او۱۱٪نارينه) دي. ناروغانو رومبی د هايپرتنشن تاريخچه درلوده او بيا ورته د شکرې ناروغي پيدا شوې وه؛ اوس خپله څېړنه د نړيوالو څېړنو د پايلو سره پرتله کوو چې ښکاره توپير شتون لري:

۱- هغه څېړنه چې د پاکستان هېواد د لاهور په ايالت کې د احمد ذاهد او ملګرو لخوا ترسره شوې وه، د هايپرتنشن ناروغانو کې۴۲،۷۷٪ په ديا بت اخته شوي وو. (۱۱)

۲- ميکل Micheal Zevitz د زړه د سوالونو او ځوابونو په نړيوال کتاب کې د يو سوال په ځواب کې داسې راغلي دي چې هايپرتنشن په ناروغانو کې د شکرې د ناروغۍ پېښې **۲۵** نه تر۴۰ ٪ پورې دي. (۹)

۳- هغه څېړنه چې د Gress T.W او ملګرو لخوا په امريکا کې په۱۲۵۵۰ تنو وګړو کې ترسره شوې وه، د نارموتنسيو وګړو په پرتله په هايپرتنسو وګړو کې د شکرې د ناروغۍ پېښې **۲،۵** چنده زياتې دي. (۲،۱۰)

۴- هغه څېړنه چې د ترکيې هېواد په ۲۲۷ تنو ناروغانو چې د شکرې ناروغۍ خطري فکتورونه په کې څېړل کېدل، د نورو خطري فکتورونو په پرتله په کې هايپرتنشن ۲،۳ چنده زيات و. (۷)

د پورته څېړونو څخه داسې جوتېږي چې د شکرې ناروغۍ پېښې د هايپرتنشن په ناروغانو کې خورا زياتې دي او زمونږ د څېړنې سره يو څه توپير لري چې دلايل يې ممکن په لاندې ډول وي:

- دا چې زمونږ د هېواد وګړي غريب، ډېر فزيکي فعاليت او دراندە کارونه سرته رسوي او د هغو هېوادونو وګړي استراحت خوښوي او کم فزيکي فعاليت کوي.
- زمونږ د خلکو غذايي رژيم سبزيجات او کاربوهايدريت لرونکي او هغه خلک پروټيني مواد زيات کاروي.

وړانديزونه:

۱- ټولو هغو ناروغانو ته وړانديز کېږي چې H T N ولري، وخت په وخت بايد خپل فشار معاينه کړي او هم د ډاکتر د مشورې سره سم درملنه وکړي او د هغوی مشورې دې په پام کې ونيسي.

۲- ټول هغه ناروغان چې H T N لري، د شکرې لپاره رسک فکتور ګڼل کېږي، نو د شکرې د ناروغۍ لپاره دې وخت په وخت د وينې معاينات ترسره کړي.

۳- د H T N ناروغانو ته بايد د منظم تمرين سپارښتنه وشي او هم دې دوی خپل وزن کم کړي، ترڅو د D M د منځته راتلو چانس يې کم شي.

۴- د H T N ناروغ بايد په خپل غذايي رژيم کې بدلون راوړي، ترڅو د شکرې ناروغۍ باندې اخته نه شي.

۵- څرنګه چې د شکرې او فشار ناروغيو يو ځای شتون د بډوډو ناروغيو خطر زياتوي، نو ددې ناروغانو درملنه بايد په جدي ډول ترسره شي.

Abstract:

Hypertension is a common health problem. Which is preventable and treatable and can affect children, adult and old people? In ninety five percent of cases the exact cause is unknown it is termed essential hypertension. In 5%cases the exact case is well known that is termed secondary hypertension .It can damage heart, Brain, kidney and great vessel Retina, In heart, it is risk factor for I H D, cardiac arrhythmias, sudden death it means that HTN is a silent killer; it is also a factor risk factor for cerebral vascular accident (C V A) stroke (Ischemic and Hemorrhagic). It is a risk factor for type II Diabetes mellitus. If H T N and D Mco exist, can be a big problem for human, the damage to heart retina /kidney and Brain will be more and more. According to our research that was performed on 200 Hypertensive patients, the incidence of D M among the Hypertensive is 25% (11%men and 14%were women).

اخځليکونه:

۱_ دل، دل اقا. (۱۳۹۰ل). د زړه او رګونو ناروغي. ننګرهار پوهنتون، طب پوهنځی

۲- نشاط، محمد طيب. (۱۳۸۷ل). اندوکراينولوژي او روماتولوژي. ننګرهار پوهنتون، طب پوهنځی

3-BoonNicholas, college Neck2010, Davidson's principle of Internal Medicine

4- Dan L .Longo, Kasper Dennis, and fauci Anthony 2012, Harrison's principle of Internal Medicine 18th edition M C Grawhill U S A ,pp(2042, 2068-2070)

5- Cooper Daniel, the Washington manual of medical Therapeutic2010 33rd edition, Lip pin cott, Williams and Wilkins New Delhi pp (65)

6- Gress T W,Nieto F J, shahar E wofford M R, Brancati F L, The Atherosclerosis Risk in communesies s, Hypertension and Hypertensive threps as Risk Factors for Type$_2$ Diabetes Mellitus N. Engl .J.med i342(13).99 905-912.

7- HuralAksu ,kayhanpala,HuseyinAksu ,Prevalence and Associate risk factors of type 2 Diabetes Mellitus in 2006 ,in Nilufer District , Bursa ,Turkey pp (98-102)

8- Mcphee Stephen N j Maxine A Papadis 2013 current Medial diagnosis and treatment52th edition New York mcGraw Hill pp(420-421).

9-Micheal Zevit2, cardiology Board Review 20062nd edition International edition M C Graw Hill U S A pp (140).

10 -National High Blood pressure Education program working group veport M Hypertension in Diabetes ,Hypertension (1994), 2,3(2): Pp(142-158).

11- ZahidAhmad ,MuhammadKhlidParvize ,2006, Risk Factors,and Diabetes Mellitus Journal of stustics vol.13 ,No.1 Lahor,Pakistanpp(46-64).

پوهـــندوی احـــمدگـــل (واثـــق)
حقوقو او سياسي علومو پوهنځی
قضاء او څـارنوالۍ څانگـــــــه

ننگرهار ولايت کې د ښځو د ځانوژنې جرايمو څېړنه

لنډيز:
څرنگه چې انساني ټولنه د نارينه و او ښځينه و څخه جوړه شوې، چې نيمايي برخه يې ښځينه تشکيلوي او په ټولنه کې شريک ټولنيز ژوند تېروي؛ لکه څرنگه چې نارينه د اسلامي شريعت او وضعي قوانينو څخه سرغړونه کوي، همدارنگه ښځينه هم سرغړونه کوي چې ددې سرغړونو په لړ کې په دې ليکنه کې د ځانوژنې په اړه څېړنه شوې ده. په دې څېړنه کې د ځانوژنې جرم د پېژندنې، حکم او په نورو اړوندو مسايلو د بحث ترڅنگ به جوته شي چې په ننگرهار ولايت کې د ښځينه ؤ لخوا د ځانوژنې څومره جرايم ترسره شوي، لاملونه يې څه دي او د يادې ستونزې د حل لاره به څه وي.

سريزه:
څرنگه چې انساني ټولنه د نارينه ؤ او ښځينه ؤ څخه جوړه شوې او يو د بل سره شريک ژوند تېروي، چې په دغه شريک ژوند کې کله ناکله ځينې انسانان په خپلو حقوقو قانع نه وي او د نورو په حقوقو باندې تېری او تجاوز کوي، حتی کله داسې وخت هم راشي چې يوازې دا نه چې د نورو حقوق تلف کوي، کله خپل حق هم تلف کوي او آن تر دې چې خپل ځان وژني، چې نارينه او ښځينه دواړه د داسې جرمي عمل ارتکاب کوي، چې ننگرهار ولايت هم ددې ډول جرايمو خالي نه دی، نو په دې اساس مونږ په دې مقاله کې پر دې رڼا اچولې چې آيا په ننگرهار ولايت کې ښځو د ځانوژنې کوم جرايم تر سره کړي، ولې يې تر سره کړي، علل او عوامل يې څه وو او د يادې ستونزې د حل لاره به څه وي.

موخې:
د ځانوژنې جرم د پېژندنې، حکم، لاملونو او نورو اړوندو مسايلو په اړه د ګټورو معلوماتو وړاندې کول.
د ننگرهار ولايت په ښځينه طبقې کې ددې جرم د شتون، لاملونو او د مخنيوي د لارو چارو څېړنه.
مواد او کړنلاره:
څېړنه کتابتوني او ساحوي دواړه اړخونه لري، په دې معنی چې لومړی د ځانوژنې جرم په اړه د ديني، علمي، قانوني او حقوقي موثقو اثارو څخه ګټه اخيستل شوې؛ دغه راز د يادې پديدې د ذيدخلو ارګانونو له مسئولينو او يو شمېر اشخاصو سره نېغ په نېغه مرکې هم ترسره شوې دي.
د ځانوژنې حکم او پېژندنه:
ددې لپاره چې نوموړې موضوع ښه روښانه شي، د ځانوژنې حرمت او د ځانوژنې تعريف دواړه جدا، جدا تر مطالعې لاندې نيسو:
۱- د انتحار يا ځانوژنې حرمت: لکه څرنگه چې قتل حرام او جرمي عمل دی، همدارنگه ځانوژنه او انتحار هم حرام او جرمي عمل دی، په دې اړه الله جل جلاله فرمايي: ((وَلَا تَقْتُلُوا أَنفُسَكُمْ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا)). (۱)
ژباړه: او مه وژنئ ځانونه خپل او بېشکه الله جل جلاله پر تاسې رحم کوونکی دی.
همدارنگه الله جل جلاله د سورة بقرې (۸۴) نمبر آيت کې داسې فرمايي: ((وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَكُمْ لَا تَسْفِكُونَ دِمَاءَكُمْ)). (۱)
ژباړه: ياد کړه هغه وخت چې مونږ (الله جل جلاله) له تاسې څخه کلکه ژمنه واخيستله چې خپلې وينې به نه تويوئ. د ځانوژنې د حرمت په اړه د احاديثو په کتابونو کې هم زيات احاديث مبارکه شتون لري چې مونږ ترې دلته يو حديث شريف ذکر کوو:
له حضرت جندب ابن عبدالله (رض) څخه روايت دی چې رسول الله (ص) وفرمايل: ((په پخوانيو خلکو کې يو شخص زخمي شوی ؤ او له زخم څخه يې ډېر فرياد کاوه، دې سړي يو کار وکړ او هغه دا چې خپل لاس يې زخمي کړ (غوڅ يې کړ) تر

څو وينه تر ېنه لاړه شي، همغه و چې وينه يې لا وچه نه وه چې مړ شو؛ الله جل جلاله ددې سړي په اړه وفرمايل چې دې بنده د خپل مرګ په رابطه زما څخه سبقت وکړ، ما پرې جنت حرام کړ)). (٢)

په اسلامي شريعت کې يوازې دا نه چې ځانوژنه حرامه ده، بلکې د مرګ غوښتنه هم روا نه ده، دا ځکه چې رسول الله (ص) تر ېنه منع فرمايلې ده: محد بن مثنى، يحيى، اسماعيل، قيس نه روايت کوي، د هغه بيان دی چې حبان (رض) ته راغلم، د هغه په ګېډه اوه داغونه لرېدلي وو، ما له هغه نه واورېدل، که مونږ نبي کريم (ص) د مرګ د دعا کولو څخه نه وای منع کړی، نو ما به ددې دعا کړې وه. (٣)

همدارنګه د افغانستان د (١٣٥٥) هـ ش کال د جزا قانون په (٣٩٧) ماده کې داسې صراحت موجود دی، چې يوازې دا نه چې ځانوژنه جرم دی، بلکې هر هغه څوک چې يو شخص ځانوژنې ته تحريک کړي، هغه هم مجرم دی او مرتکب يې په اوږد حبس باندې محکومېږي، چې د (٧) کالو څخه زيات نه وي. (٥)

د ځانوژنې تعريف:

هر کله چې د قتل مرتکب خپله قاتل وي، نوموړی قتل د ځانوژنې څخه عبارت دی، يا دا چې يو شخص په مستقيم يا غير مستقيم ډول د خپل ځان وژلو ته اقدام وکړي، د انتحار يا ځانوژنې جرم مطرح کېږي. په دې ځای کې د يوې خبرې يادونه اړينه ده چې د ځانوژنې د اختصاصي متشکله عناصرو د جملې څخه مادي عنصر د عمدي قتل د مادي عنصر سره ډېره نژدې اړيکه لري، بلکې شباهت لري او هغه داسې چې د عمدي قتل مادي عنصر به يا د عمل د اجراء او يا د عمل د امتناع په اساس منځته راغلی وي، چې د ځانوژنې مادي عنصر هم د همدې دوه اقسامو په اساس رامنځته کېږي، همدارنګه د دواړو قتلونو وسايل يو شان دي. (٧،٨)

د ځانوژنې علل او عوامل:

لکه څرنګه چې په مقدمه کې دې خبرې ته اشاره شوې وه، چې جرم يوه تصادفي او اتفاقي پديده نه ده، بلکې هر جرم ځانته خاص علل او عوامل لري، په عام ډول دغه علل او عوامل په دوه برخو باندې ويشل شوي دي، چې هغه عبارت د داخلي او خارجي عواملو څخه دي، چې هر يو يې په خپل وار سره په وړو او فرعي اقسامو باندې تقسيم شوي دي. (٤)

اما مونږ پر دې خبره بحث نه کوو چې عوامل په څو برخو تقسيم شوي دي، يوازې په ننګرهار کې د ښځو د ځانوژنې علل او عوامل تر څېړنې لاندې ونيسو. په ننګرهار ولايت کې د ښځو د ځانوژنو د پېښو په اړه لس د ځانوژنې پېښې چې په مختلفو سيمو کې منځته راغلې وې، وڅېړل شوې؛ د څېړنې پرمهال د کلي او ولس د خلکو څخه اړين معلومات تر لاسه شوي، همدارنګه د ننګرهار ولايت د بشر حقوقو سيمه ييز دفتر او د ښځو چارو د رياست څخه معلومات ترلاسه شول، چې د هغې څخه د ځانوژنې د جرم علل او عوامل روښانه کېږي. د پورته ذکر شوو مراجعو او ارګانونو څخه علاوه د ننګرهار ولايت عدلي او قضايي ارګانونو (جنايي پوليس، څارنوالي، محاکم) څخه معلومات ترلاسه شول، اما کومه رسمي قضيه او پېښه مو پيدا نه کړه چې د ښځو له خوا ځانوژنه شوې وي او دوی هغې قضيې ته رسيده ګي کړې وي. داسې کومه پېښه مو پيدا نه کړه چې د ښځو له خوا د ځانوژنې اقدام شوی وي او کاميابه شوې نه وي او هغه ښځه د عدلي تعقيب لاندې نيول شوې وي. داسې کومه کيس هم موجود نه و چې کوم شخص دې په دې تور نيول شوی او محاکمه شوی وي. دا چې عدلي او قضايي ارګانونو سره رسمي کيسونو شتون نه درلود، چې د عدلي تعقيب لاندې نيول شوي وي، خو مونږ ته د پلټنې څخه کوم چې دغه رسمي ارګانونو څخه د ځانوژنې په اړه وشوه، لاندې عوامل روښانه شول:

لومړنی عمده او اساسي عامل چې په افغاني ټولنه کې د اکثرو جرايمو په رامنځته کېدو کې رول لري، هغه د بې سوادۍ يا د پوهې سطحې د ټيټوالي څخه عبارت دی، خاصتاً د ديني، حقوقي او قانوني احکامو او علومو څخه ناخبرۍ. دويم عمده عامل رواني ناروغۍ دي چې زمونږ د ټولنې اکثره غړي په همدې مرض باندې مبتلا دي چې په ځينو کې شديد او په ځينو کې بيا ډېر شديد نه وي، چې خپله د دغه رواني ناروغيو سبب د افغانستان (٣٥) کلن جنګونه دي، چې په دغه (٣٥) کلن ناورين کې جنګونه، ورانۍ، مهاجرتونه، توهين، تبعيض، د خپلوانو او دوستانو له لاسه ورکول، دښمنۍ، غيابت، امراض چې علاج ونه لري، ضرر، تاوتريخوالی، محبوسين، ډېر عمده او مهم رول لري.

پورته ذکر شوي دواړه عوامل د نورو جرايمو په څېر په ځانوژنه کې هم په ډېر کثرت سره مشاهده کېږي، ولې د دغه دوه عواملو تر څنګ ځينې نور مهم عوامل هم شته چې هغه په لاندې ډول دي:

۱) د لورګانو غوښتنو ته د والدينو نه پاملرنه: په دې معنی چې د ښځو غوښتنه د کور د جوړېدو (نکاح) په برخه کې په نظر کې نه نيول کېږي او کومه توجه ورته نه کېږي، آن تر دې چې ښځو ته د دې اجازه نه ورکول کېږي چې په خپله خوښه د ژوند ملګری انتخاب کړي، همدارنګه د پيسو په مقابل کې ورکول، دا هم د انجلۍ د خوښې او رضا خلاف وي، آن تر دې چې کله بالکل خبره هم نه وي، يا دا چې د کم عمرې نجلۍ د پاخه عمر سړي ته په نکاح ورکول.

۲) اجباري ودونه: کومې پېښې چې د څېړنې لاندې ونيول شوې، په هغوی کې يو عمده علت چې تر سترګو شو هغه دا ؤ چې په اجباري ډول د ځينو ښځو ورکول، آن تر دې اندازې چې ښځه او مېړه هېڅ سره نه پېژني او نه يې يو بل ليدلی وي.

۳) د کشالو او جنجالونو د له منځه وړلو په منظور په بدو کې د ښځو ورکول: کله نا کله داسې واقع کېږي چې د ورور، پلار يا تره له خوا قتل وشي، د هغې په مقابل کې خپله خور، لور يا ورېره په نکاح ورکوي او د نکاح څخه وروسته ورسره د دښمن د لور، خور او ورېرې په حيث برخورد کېږي چې باالاخره د خپل ژوند نه تنګه او په ځانوژنه اقدام وکړي.

۴) د يوې څخه زياتې ښځې کول او د هغوی تر منځ د عدل او انصاف نه کول: يوې ښځې ته د ژوند ټول امتيازات برابرول او بله ښځه ترېنه محرومول او په کور کې ورسره د خوابې، خسر، لېور، مېړه، د مېړه د خور... او نورو له خوا بده وضعه کول.

۵) هغه ښځې چې جسماني نيمګړتياوې ولري: يا دا چې ښکلې او حسينې نه وي او د هغې په اساس يې څوک خواستګارۍ ته نه راځي، نو په دې صورت کې بيا احساس د حقارت کوي، يا داسې احساس وکړي چې په دنيا کې څوک دوست نه لري او ټول خلک ترېنه نفرت کوي، يا دا چې د هغې خبرې څوک نه اوري، يا دا چې د کورنۍ د اعضاوو له خوا ورباندې اعتماد نه کېږي.

۶) کورني شديد مشکلات درلودل: خاصتاً د ښځې او مېړه، خوابې او اينګور تر منځ.

۷) د خپل مورد نظر شخص سره واده نه کېدل: کله ناکله داسې واقع کېږي چې په يو شخص باندې خپل زړه بايلي او ارزو يې دا وي چې هغه يې د ژوند ملګری شي.

۸) کونډې ته اجازه نه ورکول چې په خپله خوښه نکاح وکړي، بلکې په همدغه کورنۍ کې لېور ته چې له ده څخه کوچنی، ډېر مشر او يا نور تکليف ولري. کله داسې وشي چې خپل ارمان ته ونه رسېږي او په خپله غوښتنه او ارزو کې ناکامه شي او ناکامي په لاندې ډول منځته راځي:

- منازعه او جګړه ورسره وکړي.
- په اجباري ډول جدا شي.
- په نظر کې نيولی شخص يې د بل چا سره واده وکړي.
- په نظر کې نيولی شخص يې مړ شي.

پورته عوامل په ننګرهار کې د ښځو د ځانوژنې سبب شوي، چې د يوې تبصرې په ضمن کې يې يو دوه مثالونه او د مخنيوي لارې چارې په ګوته کوو.

تبصره: (د ځانوژنې بېلګې او د مخنيوي لپاره وړاندېزونه)

لومړۍ پېښه: دا د ځانوژنې داسې يوه پېښه ده، چې دوه عوامل يې درلودل:

لومړۍ: يوه نجلۍ چې عمر يې (۱۶) کاله ؤ، د فاميل د يو غړي له خوا يې د خپلوانو څخه يو څوک وژل شوی ؤ، کله چې سپين ږيرو او قومي مشرانو ددغه دوو کورنيو ترمنځ روغه جوړه کوله، نو دغه جلۍ يې د مقتول ورور ته چې

(۳۸) کلن و، د بدو په ډول په نکاح ورکړه، کله چې دغه (۱۲) کلنه جلۍ هغه کور ته واده شوه، نو د خپلې خواښې له خوا چې دا يې د زوی د قاتل خور وه، ډېره بده وضعه کېده، همېشه به جنګ او جنجال کې وو.

دويمه خبره دا وه چې سړي له مخکې نه بله ښځه او اولادونه درلودل چې هغوی د دغه ښځې سره ښه چلند نه کاوه او خپل مېړه يې هم ورسره همېشه جنګ او جنجال کاوه او د ښځې په څېر حقوق يې نه ورکول او د هغه دويمې ښځې سره يې برابره نه ګڼله. په لنډو بايد ووايو چې دغه جلۍ د هرې ورځې جنګ او جنجال، سپکو او سپورو اورېدو، د خپلو حقوقو دلاسه ورکولو، همدارنګه وهلو او ټکولو په اساس بالاخره خپل ځان وژلو ته اړ باسي او ځان وژني.

دويمه پېښه: يوه بې سواده نجلۍ چې (۲۲) کاله عمر يې درلود، يو باسواد (۲۴) کلن ځوان ته ودېږي او د واده څخه وروسته خپل ژوند ته ادامه ورکوي، څرنګه چې هلک تعليم درلوده، نو په يوه مؤسسه کې يې کار کاوه، په دفتر کې ورسره يوه با سواده همکاره چې (۱۸) کاله عمر يې درلود واده کوي، نوې ښځه چې باسواده هم ده، په مينه يې واده هم شوی و، د پخوانۍ ښځې په نسبت ښکلې هم ده او په ضمن کې عايدات (معاش) يې هم درلودل، د دويم واده څخه وروسته د هلک توجه يوازې نوې ښځې ته کېږي او پخوانۍ ښځې سره خپل روابط خرابوي، بده وضعه هم ورسره کوي او کوم حقوق يې چې درلودل د هغې څخه يې هم محروموي او که د کوم شي مطالبه د پخوانۍ ښځې له خوا کېږي، يوازې دا نه چې هغه ورته نه ورکول کېږي، بلکې د هغې په اساس توهين کېږي او هغه داسې چې کله د خپل مېړه څخه څه غواړي، مېړه ورته وايي قوارې ته دې وګوره (البته ددې ښځې د بدن يوه عضوه نه وه)، بې سواده ښځه وګوره او فرمايشات، دغه وضعه تر يونيم کال پورې دوام کوي، بالاخره مشرې ښځې د حقوقو دلاسه ورکول او کشرې ښځې ته زيات امتيازات ورکول، هغې ته پېغور ورکول، کور کې بده وضعه کول، دغه ښځه احساس د حقارت کوي، د خپلې ښې زيات امتيازات نور نشي تحمل کولی، د خپل ژوند نه مرګ ته ترجيح ورکوي چې په آخر کې د ملاريا ګولۍ خوري او خپل ژوند دلاسه ورکوي. دېته ورته نور واقعات هم په ننګرهار کې ترسره شوي چې د اکثرو د قتل عوامل د زياتو ښځو درلودل او تر منځ يې عدالت نه کول، د حقوقو تلف کېدل، د خپل مېړه سره د عمر زيات تفاوت، د کورنۍ له خوا بده وضعه کول، اجباري واده، د حقارت احساس، بدو کې ورکول، بدني نواقص او نور ګڼل کېږي.

چې د يادو ستونزو د حل لپاره لاندې وړانديز کېږي:

د کورنۍ په تشکيل او په کورني ژوند کې بايد د اسلامي شريعت او قانون هدايات او احکام مراعت شي، د بې ځايه عرف او ناوړه دودونو يعنې د اسلامي شريعت او قانون خلاف عرف او عادات د منځه وړلو لپاره بايد هلې ځلې وشي، تر څو د اسلامي شريعت په رڼا کې يوه قانوني او آرامه ټولنه رامنځته شي.

پايله:

له پورته څېړنې دې پايلې ته رسېږو چې په ختيزه سيمه کې د ښځو د ځانوژنې عمده لاملونه د پوهې د کچې ټيټوالی، ټولنيزې ناخوالې او په ټولنه حاکم ناوړه رواجونه دي چې ددې عاطفي قشر ژوند يې له ګواښ سره مخ کړی دی. په ټولنه کې د اسلامي شريعت او قانون تطبيق، د پوهې د کچې لوړوالی، د ښځو د حقوقو په اړه د مسئولو ارګانونو او ديني علماوو له خوا د عامه پوهاوي پروګرامونو او ديني موعظو په لاره اچول، د ناوړه دودونو پر ضد مبارزه او د دولت له خوا د ځانګړو قوانينو او محاکمو جوړول او د اجرائيوي ضمانت شتون هغه څه دي چې ددې ستونزو مخه نيولی شي.

Abstract:
Women consist half part of a society, as female have their own rights in a society, but they are not very satisfied with their rights, there for they violate rights of other people even they violate their own rights by killing themselves, so in this academic article the below issues are discussed:
1- Which kind of suicide crimes women commit?
2- Why women commit suicide crimes?
3- What are the solutions of preventing suicide crimes?

اخځليکونه:

۱. القرآن الکريم.
۲. ابن کثير، عماد الدين. ( ). تفسير ابن کثير، دويم جلد. پېښور: تاج کتب خانه
۳. الباري، ظهر- شرح صحيح البخاري، ژباړه: محمد امين درانی، ۶جلد ، ۲۲پاره. کتاب الدعوت. پېښور: تاج کتب خانه
۴. دانش، حفيظ الله. (۱۳۸۸هـ ش). کريمنولوژي. کابل پوهنتون، حقوقو او سياسي علومو پوهنځی
۵. د عدليې وزارت، رسمي جريده. (۱۳۵۵هـ ش). جزا قانون- ۳۹۷ماده، ۳۴۷ګڼه.
۶. ذهبی، شمس الدين. ( ). کباير، مترجم: شهرانی. پېښور: مرکز تعليمی اتحاد عالمی مدارس
۷. عوده، عبدالقادر. (۱۳۸۴هـ ش). د اسلام جنايي تشريع او وضعي قوانين، ژباړه: عبدالهادي هدايت، دويم چاپ.
۸. وليدی، محمد صالح. (۱۳۸۴). حقوق جزاء اختصاصی، دويم جلد. تهران: انتشارات امير کبير)

پوهندوی سمیع الله (حـــیات)
پوهندوی نجـــیب الله (امـــین)
طب پوهنځی- کوچنیانو څانګه

په خوارځواکو هایپوګلایسیمیک کوچنیانو کې د خولې او وریدي ګلوکوز اغېزې

لنډیز:

دا څېړنه په Perspective ډول د طب پوهنځي روغتون د خوارځواکو ماشومانو په څانګه کې ترسره شوې ده. په شدیدې خوارځواکۍ اخته ماشومان چې د وینې ګلوکوز کچه یې د (۵۴) ملي ګرام په یو ډیسي لیتر څخه ټیټه وه، مونږ تر څېړنې لاندې نیولي دي. لومړی (۳۰) تنو ته د خولې له لارې ۱۰ فیصده ګلوکوز ورکول شوی او دویم (۳۰) تنو ته د ورید له لارې ۱۰ فیصده ګلوکوز 5ml/kg ورکړل شوی دی. هر نیم ساعت وروسته د ګلوکومیتر په واسطه یو څاڅکی وینه معاینه شوې او دې عملیې هر نیم ساعت وروسته دوام موندلی تر هغې چې د وینې د ګلوکوز کچه 120mg په یو ډیسي لیتر څخه لوړه شوې ده. له څېړنې څخه جوته شوه چې د خوارځواکو ماشومانو د هایپو ګلایسیمیا په درملنه کې د رګ له لارې د ګلوکوز د ورکړې اغېزې نسبت د خولې له لارې د ګلوکوز اغېزو ته چټکې وې.

سریزه:

خوارځواکي د نړۍ د وروسته پاتې هېوادونو یوه معموله ناروغي او د عامې روغتیا یوه لویه ستونزه ده چې پېښې یې په وروسته پاتې هېوادونو په خاصه توګه افغانستان کې ډېرې زیاتې دي. لومړنۍ خوارځواکي نسبت ثانوي خوارځواکۍ ته ډېره معموله ده، په داسې حال کې چې پرمختللو هېوادونو کې ثانوي خوارځواکي نسبت لومړنۍ خوارځواکۍ ته زیاته وي. د ناروغۍ له امله هره ورځ زمونږ په ګران هېواد کې سلګونه ماشومان خپل خوږ ژوند له لاسه ورکوي. د ناروغۍ زیاتره مړینه روغتون ته د داخلېدو په لومړیو څلورو ساعتونو کې منځته راځي چې ستر لامل یې هایپوګلایسیمیا ده. له بل پلوه څرنګه چې د ناروغۍ زیاتره مړینه د هایپوګلایسیمیا و له امله منځته راځي، نو په دې څېړنه کې د نوموړي اختلاط تر ټولو ښه او ساده درملنه او د ګلوکوز د ورکړې لاره ددې سبب شي، تر څو د هېواد ګلالیو خوارځواکو ماشومانو په درملنه کې ترې ګټه پورته او تر زیاتې کچې د ناروغۍ مړینه را ټیټه کړو. ددې څېړنې د دوسیو راټولول، ترتیب او تنظیم پوهندوی نجیب الله (امین) او طبي ادبیات، نتیجه، مناقشه، وړاندیزونه او اخځلیکونه یې پوهندوی سمیع الله (حیات) لخوا بشپړ شوي دي.

موخې:

- په شدیدې خوارځواکۍ اخته هایپو ګلایسیمیک ناروغانو کې د خولې او رګ له لارې د ګلوکوز اغېزو څېړنه.
- په اړونده موضوع کې د مسلک خاوندانو، زده کوونکو او مینه والو ته د ګټورو علمي معلوماتو برابرونه.

خوارځواکي:

خوارځواکي یو پتالوژیک حالت دی چې د یو یا څو اساسي غذایي موادو د نسبي او یا مطلق کموالي څخه منځته راځي. (۱،۲،۵)

خوارځواکي ډېر لاملونه لري چې پر دوو ګروپونو ویشل کېږي:

الف: لومړنۍ خوارځواکي (Primary Protein Energy Deficiency):

دا ډول خوارځواکي په مقدم ډول د خوړو د کموالي له امله منځته راځي چې لاملونه يې د مور د شېدو کموالی، د مور د شيدو څخه د ماشوم ناسم پرې کول، بيوزلي، خراب غذايي عادتونه او کلتور، د واکسين نه تطبيق، د لومړنيو روغتيايي څارنو نشتوالی او د کورني تدبير (Family Planning) نشتوالي څخه عبارت دي.

ب: ثانوي خوارځواکي (Secondary Protein Energy Deficiency):

دا ډول خوارځواکي په ثانوي ډول د ناروغيو په ترڅ کې منځته راځي لکه توبرکلوز، خراب جذب، انتانات، د زړه، بولي لارې، سږو او پښتورګو، ولادي ناروغۍ، سويي جذب، ميتابوليکي ناروغۍ لکه شکرې ناروغي او عقلي- عصبي بېلتون څخه. د سندرومونو له نظره خوارځواکي په پنځو ګروپونو ويشل شوې ده چې عبارت دي له:

Kwashiorkor، Marasmus، Marasmic Kwashiorkor، pre Kwashiorkor او Nutritional dwarfing. د Well Come يا International طبقه بندي په لاندې جدول کې ښودل شوې ده:

(۱- جدول د خوارځواکۍ طبقه بندي راښيي)

ناروغ د (٪۲۰) څخه کم متوقع وزن لري	ناروغ (٪۲۰-٪۸۰) متوقع وزن لري	
Marasmic Kwashiorkor	Kwashiorkor	پړسوب موجود وي
Nutritional Marasmus	Under-Weight	پړسوب موجود نه وي

Indian Academy of Pediatrics طبقه بندۍ له نظره خوارځواکي په څلورو درجو ويشل شوې ده.

لومړۍ درجه: ناروغ (٪۷۰ - ٪۸۰) متوقع وزن لري، يعنې (٪۲۰ -٪۳۰) وزن يې بايللی وي.

دويمه درجه: ناروغ (٪۲۰-٪۷۰) متوقع وزن لري، يعنې (٪۳۰ - ٪۴۰) وزن يې بايللی وي.

دريمه درجه: ناروغ (٪۵۰ -٪۲۰) وزن لري، يعنې (٪۴۰ -٪۵۰) وزن يې بايللی وي.

څلورمه درجه: ناروغ (٪۵۰) څخه کم متوقع وزن لري، يعنې د (٪۵۰) څخه زيات وزن يې بايللی وي. (۱،۵،۲،۸)

کواشيرکور (Kwashiorkor): په زياته اندازه د پروتين او کم اندازه کالورۍ کموالي ته کواشير کور ويل کېږي.

الف- اساسي نښې- نښانې: دا نښې- نښانې د تشخيص لپاره ضروري ګڼل کېږي او د ودې وروسته والي، عضلاتو ويلي کېدل او د پوستکي لاندې د غوړو راټولېدل، Pitting Edema او حرکي عصبي بدلونونو لکه بې علاقه والي څخه عبارت دي.

ب- غير اساسي نښې- نښانې: دا نښې- نښانې د تل لپاره په ناروغ کې موجودې نه وي چې شتون يې تشخيص تقويه او نه شتون يې تشخيص نه شي ردولی. دا نښې د وينښتانو، پوستکي او هضمي لارې بدلونونو، د ويټامينونو او منرالونو کموالی، د ځيګر لويوالی، تالي انتانات، Clubbing ، Steatorrhea او Clubbing څخه عبارت دي.

مرسموس (Marasmus):

په زياته اندازه د کالورۍ او کمه اندازه د پروتين کموالي ته مرسموس وايي. د ناروغۍ اساسي نښې- نښانې د ودې وروسته والی، د پړسوب نشتوالی، د عضلاتو ويلي کېدل نظر د پوستکي لاندې غوړو ټولېدنې ته زيات وي؛ غير اساسي نښې- نښانې د وينښتانو، پوستکي، هضمي لارې بدلونونه، د منرالونو او ويټامينونو کموالی، د ځيګر کوچنيوالی، تالي انتانات، پرازيتونه، نارامي او Clubbing موجود وي. د مرسموس ناروغان د کلنيک له نظره په څلورو درجو ويشل کېږي:

Marasmic Kwashiorkor که چېرې د پروتين او کالوري کمښت په مساوي ډول موجود وي او يا مرسموس ټولې علامې او کواشير کور پړسوب موجود وي، د Marasmic Kwashiorkor په نامه ياد ېږي. د خوارځواکۍ درملنه په دريو ګروپونو (شديدې، منځنۍ او شديدې) خوارځواکۍ ويشل شوې ده. (۱،۲،۴،۵،۷)

(Hypoglycemia):

په شديدي خوارځواکۍ اخته اکثره کوچنيانو کې د Hypoglycemia خطر موجود وي. که چېرې د وينې ګلوکوز د ۵۴ ملي ګرامه په يو ډيسي ليتر کې او يا په يو ليتر کې د ۴ ملي مولو څخه ښکته شي، د Hypoglycemia په نامه ياد ېږي. د

Hypoglycemia ناروغ په روغتون کې د بستر کېدو څخه وروسته په لومړيو دوه ورځو کې د مرګ عمده لامل دی. Hypoglycemia د لاندې دوه عمده لاملونو له کبله منځته راځي:

الف: شديد Systemic انتان.

ب: که چېرې په شديدې خوارځواکۍ باندې اخته کوچني ته د (۴-۲) ساعتونو لپاره خواړه ورنکړل شي(دا حالت اکثره روغتون ته د رسېدو په لاره کې پېښېږي) نو ځکه د Hypoglycemia د خطر د کمولو لپاره ناروغ ته لږ تر لږه هر (۲-۳) ساعته وروسته خواړه ورکړل شي. Hypoglycemia نښې- نښانې په لاندې ډول دي:

د حرارت د درجې کموالی د (۳۲،۵ درجه د سانتي ګرېد) څخه ليترجی، کسالت، د شعور له منځه تګ، خوله او خسافت چې اکثراً موجود نه وي، يوازېنۍ علامه يې د مرګ څخه دمخه بې حالي ده. کله چې Hypoglycemia د کلنيک له نظره تشخيص شوه، پرته له ځنډه دې درملنه اجرا شي(پرته له دې چې لابراتوار نتيجې ته انتظار وايستل شي)، که چېرې تشخيص غلط هم وي، ځکه خطرناک نه وي. که چېرې د ناروغ شعور ښه وي او څښل هم کولای شي(۵۰ ملی ليتره) لس فيصده ګلوکوز يا سکروز او يا (۷۵ ، F) شيدې د خولې له لارې ورکول کېږي، که شعور خراب او يا اختلاج موجود وي، ۵ ملي ليتره ګلوکوز(۱۰ ٪) يا سکروز په واسطه د ورید د لارې ورکول کېږي. که چېرې د ګلوکوز ورکول د ورید له لارې امکان ونلري، د NG tube له لارې دې تطبيق شي، د شعور د ښه والي څخه وروسته (۷۵ ، F) شيدې يا ۲۰ ګرامه ګلوکوز په يو ليتر اوبو کې د Hypoglycemia د بيا راګرځېدنې د مخنيوي لپاره د خولې او يا د NG tube له لارې ناروغ ته ورکول کېږي. په خوارځواکۍ باندې اخته کوچنيان چې Hypoglycemia ولري، بايد همېشه د Systemic انتان لپاره د وسيع الساحه انتي بيوتيک په واسطه درملنه اجرا شي. په لومړۍ مرحله کې ناروغ ته F-75 شيدې 130mg / kg /day په اته کسري دوزونو ناروغ ته ورکول کېږي، په انتقالي مرحله کې رقيق F-100 شيدې 130mg / kg /day په اته کسري دوزونو او په دويمه او دريمه مرحله کې ناروغ ته F-100 شيدې 200mg / kg /day په شپږو کسري دوزونو ناروغ ته ورکول کېږي. (۱،۵،۲،۷)

مواد او کړنلاره:

په دې څېړنه کې تاريخچې پاڼه، فيته،۱۰ فيصده ګلوکوز، nasogastric tube ، IV کنول، د وزن او ونې اندازه کولو چارټ او د مټ د اندازه کولو فيته؛ دا څېړنه په Perspective ډول د طب پوهنځي روغتون د ماشومانو په څانګه کې د ۱۵/۲/۱۳۹۱ نېټې څخه تر ۱۵ /۱۲/ ۱۳۹۱ نېټې پورې ترسره شوې ده. په دې څېړنه کې هغه ماشومان چې د خوارځواکۍ په څانګه کې بستر شوي، د WHO د چارټ له مخې د وزن او قد فيصدي اخيستل شوې ده. هغه ناروغان چې د وزن پر قد تناسب يې د (۷۰٪) څخه لږ ، د دواړو خواوو پړسوب او يا د مټ منځنۍ کچه يې د(۱۱۵ملي مترو) څخه لږه وه، په شديدې خوارځواکۍ اخته او زمونږ تر څېړنې لاندې نيول شوي دي. لومړی د نومړو څخه د ګلوکومیتر د ستنې په واسطه يو څاڅکی وينه اخستل شوې او په ګلوکومیتر کې تر معاينې وروسته هغه ماشومان چې ګلوکوز کچه يې د 54 mg/dl څخه لږه راغلې وه، مونږ تر څېړنې لاندې نيولي دي. لومړی مو د ناروغانو بشپړه پېژندنه (نوم، پلار نوم، د اوسېدلو ځای، عمر، وزن، جنس) په يو ځانګړي جدول کې وليکل؛ د استوګنې له پلوه د ۲۰ تنو ناروغانو له ډلې څخه (۴۰) تنه (،٪۷۷،۷) يې د ننګرهار (۱۵) تنه (۲۵٪) يې د لغمان او (۵) تنه (۸،۳٪) يې د کونړونو اوسېدونکي وو.

۲ جدول: د استوګنې د ځای له نظره په ناروغۍ اخته ناروغانو شمېر او فيصدي راښيي.

شمېره	استوګنې سيمه	ناروغانو شمېره	سلنه
۱	ننګرهار	۴۰	۷۷،۷٪
۲	لغمان	۱۵	۲۵٪
۳	کونړ	۵	۸،۳٪

د جنس له نظره د ۲۰ ناروغانو له ډلې څخه (۴۰) تنه (٪۷۷،۷) يې نجونې او (۲۰) تنه (٪۳۳،۳) يې هلکان وو.

۳جدول: د جنس له نظره په تبه اخته نويو زيږېدلو کوچنيانو شمېر او فيصدي راښيي.

شمېره	جنس	کوچنيانو شمېر	سلنه
۱	هلکان	۴۰	۶۶،۷٪
۲	نجونې	۲۰	۳۳،۳٪

د عمر له نظره په (۲۰) تنو ناروغو ماشومانو کې د (۳۵) تنو (۵۸،۳٪) عمر د يو کال څخه ښکته او د (۲۵) تنو (۴۱،۷٪) عمر د (۱۰-۱) کلونو ترمنځ ؤ.

۴جدول: د عمر له نظره په تبې اخته کوچنيانو شمېر او فيصدي راښيي.

شمېره	عمر (کال)	کوچنيانو شمېر	سلنه
۱	۱ کلن څخه ښکته	۳۵	۵۸،۳٪
۲	۱۰-۱ کلن	۲۵	۴۱،۷٪

په شديدي خوارځواکۍ اخته ماشومان چې د وينې ګلوکوز کچه يې د (۵۴) ملي ګرام څخه ټيټه وه، مونږ په دوه ګروپونو کې تر څېړنې لاندې نيولي دي:

لومړيو (۳۰) تنو ته د خولې له لارې ۱۰ فيصده ګلوکوز ورکول شوی، دويم (۳۰) تنو ته د ورید له لارې ۱۰ فيصده ګلوکوز 3ml/kg/dl ورکړل شوی دی. هر نيم ساعت وروسته مو بيا د يو څاڅکي وينې په واسطه چې د شديدې خوارځواکۍ اخته ماشوم څخه اخستل شوې، په ګلوکوميتر کې معاينه شوې، دې عمليې هر نيم ساعت وروسته دوام موندلی، تر هغې چې د وينې د ګلوکوز کچه 120mg څخه لوړه شوې ده او نتيجه يې په جدا جدول کې ليکل شوې ده.

۵جدول: د ګلوکوز د ورکړې له نظره د تبې لرونکو ماشومانو شمېر او فيصدي راښيي.

شمېره	د ګلوکوز د ورکولو لاره	د ناروغانو شمېره	سلنه
۱	د خولې له لارې	۳۰ تنه	٪۵۰
۲	د رګ له لارې	۳۰ تنه	٪۵۰

پايله:

دا څېړنه په Perspective ډول د طب پوهنځي روغتون د خوارځواکو ماشومانو په څانګه کې په هغو کوچنيانو کې چې په شديده خوارځواکۍ اخته وو، تر سره شوې چې د ۲۰ تنو ناروغانو له ډلې څخه ۳۰ تنو ته د خولې له لارې ګلوکوز ورکول شو او وروسته د هر نيم ساعت څخه يې ګلوکوز کچه اندازه شوې، تر څو پورې چې نارمل حالت ته ورسېدل.

۶جدول: په هايپوګلايسيميا اخته خوارځواکو ماشومانو کې د خولې له لارې د ګلوکوز ورکولو څخه مخکې او وروسته د ګلوکوز منځنۍ کچه راښيي.

شمېره	ناروغانو شمېر	د ګلوکوز منځنۍ کچه د خولې له لارې ګلوکوز څخه وړاندې	د وينې د ګلوکوز منځنۍ کچه د خولې له لارې د ګلوکوز د ورکولو څخه وروسته			
			نيم ساعت	يو ساعت	يونيم ساعت	دوه ساعته
1	30	38 mg/dl	70 mg/dl	90mg/dl	110 mg/dl	130mg/dl

۳۰ تنو ته چې په شدیدې خوارځواکۍ اخته او د وینې ګلوکوز منځنۍ کچه یې د 54mg/dl څخه ښکته وه، د ورید له لارې 3ml/kg، ۱۰ فیصده ګلوکوز ورکړل شوی چې هر نیم ساعت وروسته یې د ګلوکوز منځنۍ کچه اندازه شوې چې په لاندې جدول کې ښودل شوې دي.

۷جدول: په هایپوګلایسیمیا اخته خوارځواکۍ ماشومانو کې د رګ له لارې د ګلوکوز ورکولو څخه مخکې او وروسته د ګلوکوز منځنۍ کچه راښیي.

شمېره	ناروغانو شمېر	د ګلوکوز منځنۍ کچه د رګ ګلوکوز څخه وړاندې	د وینې د ګلوکوز منځنۍ کچه د خولې له لارې د ګلوکوز د ورکولو څخه وروسته			
			نیم ساعت	یو ساعت	یونیم ساعت	دوه ساعت
1	30	43mg/dl	110 mg/dl	130 mg/dl	135 mg/dl	140 mg/dl

مناقشه:

زمونږ څېړنه چې د ننګرهار طب پوهنځي د خوارځواکو ماشومانو په څانګه کې په ۲۰ ناروغانو ترسره شوې، د هغې څېړنې سره چې د Gupta لخوا په کال 2008 میلادي کې د هندوستان په هېواد کې ترسره شوې، پرتله شوې چې پایله یې په لاندې ډول څېړل کېږي:

۱- زمونږ په څېړنه کې د شدیدې خوارځواکۍ اخته ماشومانو د هایپوګلایسمیا په درملنه کې کله چې د خولې له لارې ګلوکوز ورکړل شوی او هر نیم ساعت، یو ساعت، یونیم ساعت او دوه ساعته وروسته یې ګلوکوز معاینه شوی، منځنۍ کچه یې په ترتیب سره 130mg/dl-110mg/dl-90mg/dl-70mg/dl لاسته راغلې ده. د Gupta په څېړنه کې دا کچه په ترتیب سره 68mg/dl,89mg/dl,112mg/dl او 130mg/dl لاسته راغلې وه.

۲- زمونږ په څېړنه کې په شدیدې خوارځواکۍ اخته ماشومانو د هایپوګلایسمیا په درملنه کې کله چې د ورید له لارې ګلوکوز ورکړل شوی، هر نیم ساعت وروسته یې د وینې د ګلوکوز منځنۍ کچه په ترتیب سره 140mg/dl,135mg/dl,130mg/dl,110mg/dl لاسته راغلې چې د Gupta په څېړنه کې د ګلوکوز منځنۍ کچه هر نیم ساعت، یوساعت، یونیم ساعته او دوه ساعته وروسته په ترتیب سره 134mg/dl,132mg/dl,110mg/dl او 141mg/dl لاسته راغلې چې پایلې یې زما د څېړنې سره تقریباً یو شان دي، نو ویلی شو چې د شدیدې خوارځواکۍ د هایپوګلایسیمیا په درملنه کې د رګ له لارې د ګلوکوز اغېزمنتوب نظر د خولې لارې د ګلوکوز اغېزمنتوب ته زیات او چټک دی.

وړاندیزونه:

۱. ټول طبي کارکوونکي باید د خوارځواکو ماشومانو هایپوګلایسیمیا د یوې سترې ستونزې په ډول وپېژني.

۲. ټول روغتیا پالونکي باید په شدیدې خوارځواکۍ اخته ماشومانو سره د مخامخېدو په صورت کې Hypoglycemia تر ټولو مقدمه وګڼي.

۳. ټول شدید خوارځواک ماشومان باید په څانګه کې د بستر کېدو سره سمدلاسه وریدي ګلوکوز واخلي.

Abstract:

It is a prospective study conducted at pediatric unit of university hospital. All the patients admitted at therapeutic feeding unit for severe malnutrition and had blood glucose level less than 43 mg / dl were come under my investigation. At the unit one drop of blood was collected from patient and examine for glucose by glucometer if glucose level was under 43 mg/dl treated in two groups. For 1st group (30) patients we have given 3ml /kg/ glucose 10% and 2nd group (30) patients received 3ml/ kg glucose 10% orally , blood glucose was examined in every 30 minutes by glucometer until the level of glucose was reached 120 mg/ dl. At the end of this research it was cleared that intra venous glucose was better than oral gluccose in the treatment of hypoglycemia of severe malnutrition.

References:

1. Akber P k, Kundi M Z (2011), BASIS OF PEDIATRICS; 8th Ed. Carvan Book Center Lahor Pakistan. Ch, 6 PP, 69-77.
2. Atmar M I (2002), CHILDREN DISEASE; 4th Ed, Sayed Jamal Udin Afghan. Peshawer, Ch, 4 pp, 81-97
3. Beharman R E, kaliegman R.M. Janson HB (2002), NELSON ESSENTIALS OF PEDIATRICS: 4th Ed, Saunder's, USA, Ch, 2 PP, 75-92.
4. Beharman R E, kaliegman R.M. Janson HB (2011), NELSON TEXT BOOK OF PEDIATRICS: 19th Ed, Saunder's, USA, Ch, 6 PP, 160 -188.
5. Ghai O P, Gupta p, Paul VK (2010), ESSENTIAL PEDIATRICS: 7th Ed. Metha Off set works new dehli, Ch, 5 PP, 57-76.
6. Golden M,Grellety Y (2006) , THE MANAGEMENT OF ACUTE SEVER MALNUTRITION ; 3rd Ed , Save the Children, UK, Ch, 4-10 PP,50-166.
7. Gupta, sunil (2009), Hypoglycemia in Malnutrition; www. Ind medica.com india pp 112-146
8. Gupte Surag (2004), THE SHORT TEXT BOOK OF PEDIATRICS: 10th ed, Jaypee Brother's New Dehli, Ch, 10, PP,125-144.
9. Hay W, W et all (2011), CURRENT PEDIATRIC DIAGNOSIS AND TREATMENT; 20th ed, MC Graw Hill Companies USA, Ch, 10 PP, 273-295.

پوهـــــندوی فـــضل ولـــي (ناګار)
ژبو او ادبياتو پوهنځی- پښتو څانګه

د رحمـن بابا تصوفي تګلاره

لنډيز:
د پښتو ژبې د ټولمنلي شاعر رحمن بابا د شعر وفن تر ټولو ستر او غوره اړخ عرفان او تصوف دی. که څه هم د رحمن بابا ژوند په تياره کې دی او څېړونکي لا ندي بريالي شوي، چې په هر اړخيز ډول يې ډګر ته راوباسي؛ خو دده شاعري د داخلي شهادت په توګه شتون لري، چې لږ ترلږه ترې دده د عرفاني تګلوري بريدونه په نښه کېدلی شي. د رحمن بابا د شاعرۍ فني او عرفاني اړخ خامخا داسې ځانګړنې لري چې د خپل عصر د سترو ټولنيزو غورځنګونو په باب يې نړۍ ليد، تاثر، عرفاني او شاعرانه مشاهده دده د ژوند هېنداره کېدلای شي. په دې ليکنه کې د رحمن بابا د همدغسې ځېړنې او څېړنې زيار ګالل شوی دی.

سريزه:
عرفاني ادبيات د پښتو ادب يوه ډېره لويه پانګه ده چې له يوې خوا پکې د يوې سوله ييزې، ارامې او متدينې ټولنې انځورونه شته او له بل اړخه پکې جماليات چې د ادب ترټولو ستره موضوع ده؛ په بېلابېلو رنګونو تصوير شوي دي. که د ادب څېړونکی د منځنۍ دورې شعر مطالعه کوي، نو رحمن بابا پکې د يوه ستر ادبي او عرفاني ښوونځي د بنسټګر په توګه تر سترګو کېږي. له همدې کبله د رحمن بابا ادبي شخصيت د يوه عارف په توګه د خپلې زمانې د عرفاني غورځنګ په رڼا کې څېړل شوی او د تاثراتو له ځېرلو وروسته چې عرفاني غورځنګونو ته تقرب په نښه شوی دی.

موخې:
د څېړنې موخه داده چې رحمن بابا د دومره ټولمنلي شخصيت سره سره ولې په هراړخيز ډول ندی څېړل شوی او هغه تاريخي حقايق چې دده د عصر ايجابات دي او همداسې يې شاعري د کوم يوه عرفاني- ادبي غورځنګ استازولي کوي؛ او که پکې د عصر ايجاب او د ژوند تاريخي حقايق غاړه غړۍ وي، نو ددغې ستر عارف او شاعر ماضي له نورو فکري او ادبي خوځښتونو سره څه ډول تړلی شو؟

د رحمن بابا تصوفي تګلاره:
رحمن بابا د پښتنو ترټولو مقبول او داسې ټولمنلی شاعر دی چې له شعره يې هر لوستی، نالوستی، ملا، امي، ځوان او زوړ يو ډول خوند اخلي. د فن همدې اعجاز يې دومره شهرت وربښلی چې لاتراوسه د بل يو شاعر هم په برخه شوی نه دی. له دې ټول مقبوليت سره سره متاسفانه د رحمن بابا د ژوند کېسه په تيارو کې پټه ده، يوازې د ادب تاريخ منلې تذکره (پټه خزانه) يې د عبدالستار زوی او د ملا محمد يوسف شاګرد ګڼي او د زېږېدو نېټه يې (۱۰۴۲هـ) ښايي. رحمن بابا فقه او تصوف له دغې استاذه زده کړې او بيا کوهاټ ته تللی دی. (۱)
د رحمن بابا د مړينې نېټه د کاتبانو د تېروتنو له امله په پټه خزانه کې (۱۱۱۸هـ) ليکل شوی. بيا نو شکاکانو په دې غوره تاريخي اثر پسې پيڅې بډوهلي او د نه ويلو، څه يې ويلي دي؛ خو اروابناد لوی استاد علامه حبيبي يې قناعت ښښونکی غبرګون کړی دی. همدارنګه د هېواد ستر محقق استاد علامه رشاد د يونس خيبري له يوې مرثيې نه د رحمن بابا د مړينې نېټه (۱۱۲۸هـ) استخراج کړې او دا يې جوته کړې چې د (۲۸) پرځای (۱۸) ليکل د کاتبانو سهوه ده. دا بحث په مدلل ډول په (رحماني خم) کې څېړل شوی دی. (۲)
په دې ليکنه کې بايد وګورو چې رحمن بابا د چا مريد او لاسنيوی يې کړی دی. دی وجودي صوفي دی او که شهودي او همدارنګه دی د خپل عصر له متحرک غورځنګ روښاني تصوف نه څومره اغېزمن دی، هغه تصوف چې تر شا يې د پښتو

ادب پر افق خوشال، رحمن او حميد وځلېد. پروفيسر دوکتور تقويم الحق (کاکاخېل) د نوميالي محقق اروابناد کامل مومند پر غوره اثر (رحمن بابا) نيوکه کوي چې د رحمن بابا د ژوند دې اړخ (پير ومرشد) ته هېڅ کتنه نه ده شوې. د رحمن بابا په شعر کې اورنګزيب ته فقير ويل خو به دا معنی نه لري چې رحمن بابا دې د سيد ادم بنوري (رح) او حاجي بهادر بابا (رح) په وسيله په سلسله نقشبندیۀ مجددیه کې راغلی وي؟. ځکه چې عالمګير د حضرت مجدد (رح) له زوی نه بيعت کړی ؤ. همدارنګه د رحمن بابا ددې بيت په استناد ليکي چې:

اور د جـــدايی. په رحمـن دی لګـــېدلی - وخت دی که مدد کړې يا ميران محی الدين (رح)

داسې خو به نه وي چې رحمن بابا په روحاني ډول حسين ابن منصور د پير په حيث منلی وي، ځکه په روحاني طور پيري-مريدي ممکنه ده او يا دا ميران محی الدين خو به محی الدين ابن عربي نه وي، چې د تصوف باني او د وحدت الوجود علمبردار دی؟. (۳)

دا نه ده څرګنده چې د يوه لوی محقق او عالم په توګه اروابناد کامل ولې ددې پوښتنې د غبرګون اړتيا نه ده محسوسه کړې. عرض دادی چې ميران محی الدين نه ابن عربي دی او نه حسين ابن منصور. د رحمن بابا له دې شعر نه هدف حضرت عبدالقادر جيلاني (رح) (۴۹۶-۵۶۱) دی چې په پښتنو کې په لوی ځوان هم يادېږي. دده تصوفي تګلاره په (قادريه) يادېږي؛ القاب يې محبوب سبحاني، غوث الاعظم، غوث الثقلين او محی الدين دي. رحمن بابا که څه هم ددې طريقې پليونی نه ښکاري او د ديوان له داخلي شهادته يې ځينې ځانګړنې داسې دي چې ورسره توپير لري؛ خو څرنګه چې پښتانه من حيث القوم اهل بيتو کرامو (رض) ته د زړه له کومې په ډېر درنښت قايل دي، رحمن بابا هم د يوه پښتون په توګه دغه مبارک روايت نه هېرروي. موږ په خپل تاريخ کې له نبوي (ص) کورنۍ سره له مينې او ارادت ډېرې بېلګې لرو؛ څه وخت چې د مفسدو اموي چارواکو له خوا د ممبرونو له سره پر اهل بيتو کرامو (رض) پسې بد رد او لعنت ويل کېده او هر خطيب مجبور ؤ چې داسې ووايي، خو دا يوازې پښتانه شاهان د (جهان پهلوانان) امير پولاد سوري او امير کروړ سوري وو چې غور يې له دې فتنې څخه ژغورلی و. معين الدين اسفزاري پخپل کتاب (روضة الجنات فی اوصاف مدينة الهرات) د (۸۹۸هـ) تاليف د لومړي ټوک په (۲۵۵) مخ کې ليکي چې يوازې غوريان پدې ويارمن دي چې اموي واکمنان يې خپلې سيمې ته پرېښودل چې پر اهل رسالت بد ووايي. دا مطلب فخرالدين شاه مروي د ملک سيف الدين غوري پاچا (۵۵۸هـ مړ) معاصر داسې نظم کړيدی:

به اسـلام در هـيچ منبر نماند – که بروی خطيبی همی خطبه خواند
که بر آل ياسين بلـــفظ قبيح - نکـــردند لـعنت فـصيح و صريح
ديار بلندش از آن شد مصئون – کـــه از دست هـر ناکس ايد بيرون
نرفت اندرو لـعنت خـــاندان – بدين برهـــمه عـــالمش فـــخردان (۴)

رحمن بابا چې کوم محی الدين يادکړی، هغه همدغه عبدالقادر جيلاني (رح) دی او نورو پښتنو ولسي شاعرانو هم ورته همدغه لقب (ميران) په شعر کې کارولی دی، لکه:

محمد خان دې ثناخوان دی - ســتا په در ولاړ حيران دی
مـــرتبه لـــرې عـــــيانه - د بغـــداد شـــاه مـــيرانه (۵)

د حضرت عبدالقادر جيلاني دغه لقب (محی الدين) ډېر مروج او مشهور دی. علامه اقبال (رح) د مولانا سيد سليمان ندوي په نامه په خپل يو ليک کې ليکي: ((خواجه نقشبند او حضرت مجدد ته په زړه کې ډېر درناوی لرم، خو افسوس چې دا سلسله هم د عجميت په رنګ رنګېدلې ده؛ دغه حالت د قادريه سلسلې هم دی چې زه يې بيعت لرم. حال دا چې د (حضرت محی الدين (رح)) هدف اسلامي تصوف له عجميت نه پاکول و). (۶)

په انټرنيټ کې د ويکيپيډيا ګورتپانه هم د رحمن بابا په باب حيرانوونکې څرګندونې لري چې تر کومه بريده يې بايد ومنو. په ځينو پښتو کتابونو کې دغه روايات چې په قياس بنا ښکاري، هم راخيستل شوي دي. د رحمن بابا زوکړه يې (۱۰۳۸) ليکلی، حال دا چې پټې خزانې (۱۰۴۲) ليکلی. د پټې خزانې د شکوکو د رد په باب خو زموږ مشرانو پوهانو ډېر څه ليکلي او د شک وغرض ټولې دروازې يې بندې کړيدي. په دې ليکنه کې رحمن بابا د عبدالله کوهاتي (حاجي بهادر بابا) نقشبندي

(۱۰۹۰مړ) شاگرد ښوول شوی دی او همدارنگه يې د اخون درويزه بابا له زوی او د پيربابا له دوو زامنو نه د فيض اخيستنې څرگند اوی هم شوی دی. (۷)

په دې کې شک نشته چې ځينې نوميالي بزرگان د رحمن بابا په مرشدانو معاصرينو کې شمېرلی شو، لکه د خوشال بابا مرشد کاکاصيب (۱۰۲۳هـ مړ) او يا مشهور نقشبندي مرشد حاجي بهادر بابا (عبدالله کوهاتي ؒ) چې په (۱۰۹۰هـ) کې وفات شوی دی؛ خو رحمن بابا په هيڅ ډول نقشبندي نشي کېدلی، ځکه له يوې خوا رحمن بابا د وحدت الوجود په باب شعرونه لري او له بل اړخه يې سماع او موسيقي ستايلي دي. ډاکتر عبدالمجيد سندي د طريقتونو د تگلارې په باب وايي: د چشتيه لړۍ بزرگان د سماع منونکي وو، په هرې خانقا کې به يې د سماع محفلونه جوړول. د قادريه سلسلې ځينې بزرگانو سماع اورېدله، له مزاميرو سره هم. د سهروردیه سلسلې عارفانو به کله کله له مزاميرو پرته سماع اورېدله، خو د نقشبنديه سلسلې بزرگان د سماع سخت مخالف وو. همدا راز د نقشبنديه سلسلې پليوني د وحدت الوجود سخت مخالف وو. حضرت امام رباني مجدد الف ثاني د ابن عربي په نظريه سختې نيوکې لري، هغه يې رد کړی، وحدت الشهود يې وړاندې کړی دی. (۸)

که څه هم پښتون ستانه او عالم حضرت ميافقيرالله حصارکي ثم شکارپوري د غازي احمد شاه بابا مرشد فرمايي چې متقدمو نقشبنديانو د وجود او شهود توپير نه لاره او دا يې د عبدالرحمن جامي (رح) د يوه وجودي شعر په باره کې فرمايلي و؛ خو له حضرت مجدد الف ثاني نه وروسته دا ببخي ډاگيزه شوه چې نقشبنديان د وحدت الوجود مخالف دي او بيا دغه ښاخ د حضرت مجدد د اجتهاد له امله په نقشبنديه مجدديه ونومول شو. نو اوس دا خبره چې رحمن بابا نقشبندي مشرب لاره، بيخي غلطه ده. اروا ښاد سيدرسول رسا د راورټي له خولې ليکي چې (رحمن يو لوی عالم دين و، د مذهبي حمدونو او نعتونو ډېر شوقي ؤ او په ساز-اواز مين ؤ. په مسلمانانو کې له دې قسمه ژوند د چشتيه مشرب د درويشانو دی چې بنسټ يې خواجه معين الدين چشتي ايښی دی). (۹)

لکه څرنگه چې د بايزيد روښان طريقت د مخکښو صوفيانو د عارفانه تگلارو نچوړ دی، همدارنگه رحمن بابا د خپل ديوان د ځينو شهادتونو له امله روښاني طريقت ته ډېر نزدې ښکاري؛ لکه سماع، موسيقي، کامل پير، خفي ذکر، وحدت الوجود، پر روښاني شاعرانو شاعرانه تعلي او د هغوی ښه يادول. رحمن بابا له دې هم يو گام مخکې ځي، رقص هم يادوي او ښايي دا هغه د وجد حالت وي. پر دې ټولو سربېره د حالنامې شهادت ډېر ارزښتمن دی، حالنامه وايي چې پير دستگير (روښان) د سړبن عزم وکړ او له تيرا نه پېښور ته راغی، په خليل قبيلې کې دېره شو؛ اسحق مومند چې عالم سړی ؤ، په خلافت يې وويارِه. هغه وخت د ټولو غوريا خېلو مشري خليلو کوله، ډېر خلک يې مريدان شول. (۱۰)

دا بايد ومنو چې د رحمن بابا تر پېره او ترې راوروسته هم روښاني طريقت په څپو ؤ. که توره يې له لاسه غورځېدلې وه، نو قلم او ارشاد يې له پښتونخوا نه تر هنده څپاند و، نو لېرې نده چې رحمن بابا دې هم له دغې لوی عرفاني او روحاني غورځنگه اغېزمن وي. رحمن بابا پر موسيقۍ سربېره رقص هم يادوي، د رقص بېلگه يوازې د مولانا جلال الدين بلخي رومي (رح) په طريقت کې د (درويشان چرخان) په نامه شته او په نورو طريقو کې يې څرک نه ليدل کېږي.

مسقي علم خپل استاد راته تعليم کړ - رانما يې کـــــړ هر تار مقام د رقص

ددې غزل اړوند نوميالی څېړونکی استاد رفيع ليکي: (او له دې غزل سره د مولويه طريقې هغه صوفيانه رقصونه چې اوږدې چپنې او لوړې خولۍ به يې پر سر وې، د سړي سترگو ته درېږي چې لا تر اوسه هم په قونيه کې د مولانا جلال الدين بلخي په مزار کېږي). (۲)

همدارنگه د موسيقۍ په باب حالنامه تصريح کوي چې روښان پير ورته شپږ مقامه وټاکل او پښتو موسيقي يې سمه او سر کړه. وحدت الوجود چې د کم نظر خاوندان يې له شرک او حلول سره توپير نه کوي او د توحيد ډېر خالص او نهايي شکل دی. د روښانيانو غوندې د رحمن بابا په ديوان کې هم ډېر تر سترگو کېږي:

په دويي کې به ورنشي تر توحـــيده - که پېشوا کړې مهتر حضر مهتر الياس
زه د يار مينې په يار باندې شيدا کړم - که څوک ما گڼي زه نه يم واړه دی دی
هسې نه چې واحـــدي يې ده له عجزه - په يوه وجـــــود بسيار دی رب زما

چې حاصله د دلـــبر يگانگـــي شي - د دويي خـــبرې نه کاندي مشتاق

رحمن بابا د روښانيانو غونډې د کامل پير او مرشد ډېره سپارښتنه کوي، تر دې چې روا او ناروا هم .....

بې ريباره رسېدل و يار ته گران دي - په کـــوڅه د مهرويانو رهبر بويه

په هر کار چې د صاحب د زړه رضا شي – که بنده ته ناروا وي هم روا شي

چې ســبا ارمانوې پند د پيرانو – ولې نن د پير طلب نه کـــړې بې پيره

سکونت او خفي ذکر د روښاني مسلک ارشاد دی، رحمن بابا د خفي ذکر په باب وايي:

دا نارې سورې غمازې دي په عشق کې - گڼه تل به د بلبل په څېر پتنگ کړې

په خندا کې مې ژړا ده لکـــه شمعه – له عالـــمه پټ پنهم د ځان په ويريم

ولايت دی خـــدای هـغو لره ورکړی – چې يې ورکـــړو سکونت په دا دنيا

د روښاني شاعرانو ښه يادول د رحمن بابا روښاني تصوف ته د تقرب يوه بله ځانگړنه ده. رحمن بابا پر خوشال خټک څو ځايه تعلي کړې او کم يې گڼلی دی، خو کاظم خان شيدا له دې سره چې خټک او د بابا لمسی دی، د رحمن بابا تعلي ته جواز ورکوي او د پخوانيو شاعرانو بېلگې وړاندې کوي. د خټکو دغه مبتکر شاعر چې هندي تذکرې يې په محاسنو او فضايلو ډکې دي، متاسفانه د روښان بابا په باب د دښمنانو د پروپاگند تر اغېزې لاندې راغلی دی؛ خو رحمن بابا بې له يو ځايه روښاني شاعر (دولت) چې هغه به يې هم د ځانگړې وضعداری له مخې د خوشال بابا پر ليکه راوړی وي، هر ځای روښاني شاعرانو ته په قدر گوري:

د مـــيرزا او ارزانـــي دعوه به پـــرې کا – قدردان د شاعرانو رحمان راغی

دا ځواب رحمان هغه کا چې دولت ويی – که دلـــبر د ديدن مې پيا پی راکا

د روښاني شاعرانو سره د رحمن بابا پر عرفاني شباهت سربېره د مطلب، محتوا او الفاظو ورته والی هم شته چې دلته يې نه څېړو. پر خوشال بابا به له تعلی نه څرگنده شي چې رحمن بابا روښاني شاعرانو ته په ښه سترگه کتل، که نه دده پخپله وينا په مدحه- هجوه هم پوهېده؛ څو بېلگې:

کـــه يې شعر د رحـمن مومند تر غوږ شي – غوږ به نه باسي په شعر د خوشال څوک

يو خوشال يو کم سل خټک نور په طبيعت کې - ځـــار شه د رحمن سرېني له يوه فرده

دا غـــزل په حاشـــيه وکـــښه رحمـــــانه – د خـــوشال د بياض پاڼـــې به ورېږدي

خوشالا او دولـــتا مـــې غـــلامـــان دي - زه رحـــمن په پښتو ژبه عالـــمگير يم

شاعرانه تعلی د شاعرانو ترمنځ روايت دی، خو له دې نه بايد دا تاثر وانخيستل شي چې پورته شعرونه د خوشال بابا د لوړ شخصيت د ټيټاوي لپاره ويل شوي دي. په پای کې دغه ليکنه د نوميالي محقق استاد کامل پر پرېکړه سرته رسوم چې: ((د رحمن بابا صوفيانه شاعري د روښانيانو په شاعری يوه ډېره لويه او قيمتي اضافه ده. .... په دې نتيجه رسو چې د رحمن بابا د عصر شاعران او اديبان که هرڅو هغوی دا وخت په پښتو شعر وادب کې د هر قسم نوي- نوي او تازه- تازه مضمونونه پيدا کړيدي..... د خپلو اثارو د فکري او فني خوبيو د ترقی او کمال لپاره تر ډېره حده د روښانيانو د ادبي خدماتو، کاوشونو او تحقيقاتو پوروړي دي)). (۳)

پايله:

لکه څنگه چې د پښتو ادب لوی محقق ارواښاد کامل يوازې رحمن بابا نه، خوشال، حميد او د پښتو ټوله شاعري د روښانيانو د ادبي زيار پوروړې گڼي، زموږ د ليکنې دې اصل ته چې ښايي رحمن بابا د کوم روښاني صوفي نه په عرفان کې اغېزمن شوی وي، تقويت ورکوي او يا کېدی شي، کوم روښاني مجتهد مرشد روښاني طريقت له چشتيه طريقې سره گډ کړی وي او له دغې امتزاجه رحمن بابا متاثر شوی وي؛ لکه پورته چې ورته ځای- ځای نغوته شوې ده. زما وړانديز دادی چې د رحمن بابا د عصر پښتانه صوفيان بايد د يوې څېړنې له مخې سره راټول او پرې کار وشي، ځکه مغولي واکمنو خو هيڅ

پښتون مرشد هم په ارام نه دی پرېښی، لکه میاقاسم افغان(رح) چې تبعید او بیا د مغولو په زندان کې ومړ، او یا سید ادم بنوري(رح) چې د پښتنو مریدانو په سر حجاز ته وشړل شو.

Abstract:

Philosophy in Pashto poetry of the odd and pioneer poet Rahman Baba

Philosophy is the greatest and odd angle in the poetry of Rahman Baba, the great, touchstone and pioneer poet of Pashto Language. Though the whole life of Rahman Baba is still a sort of mystery for critics and research scholars, and all of them has found their selves unsuccessful to thoroughly analyze and shed lights upon the philosophy of his life, the only source and great evidence to know about the faculty and various dimensions of his philosophy, is his poetry. It is only his poetry that provides the clues and leads us to understand his philosophy. The artistic and philosophic dimension of Rahman Baba's poetry is the real mirror of his contemporary society, his philosophy and his way of life. In this peculiar research work an attempt has been made to further elucidate and evaluate the philosophy in the poetry of the great literary figure, Rahman Baba, through his poetry.

اخځليکونه:

۱. هوتک، محمد هوتک. (۱۳۹۳هـ). پټه خزانه، دویم چاپ- د علامه حبیبي سریزه او لمنلیکونه اریانا خپرندویه موسسه

۲. رفیع، حبیب الله (۱۳۸۸). رحماني خم. ننگرهار: ختیزې سیمې لیکوالو او ژورنالېستانو خپلواکه ټولنه

۳. کامل، استاد دوست محمد خان. (۱۳۸۴). رحمان بابا. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه

۴. حبیبي، علامه عبدالحی. ( ). طبقات ناصري، سریزه او لمنلیکونه

۵. نسیم، پروفیسر عارف. (۱۹۸۲). په سرحدي صوبه کې رومبی لساني او ثقافتي کانفرنس. پېښور یونیورسټي

۶. ندوی، عبدالسلام. (۲۰۰۸). اقبال کامل. اردو بازار- لاهور

۷. عبدالرحمن مومند - PS. Wikipedia.org/wik

۸. سندهی، ډاکتر میمن عبدالمجید. (۲۰۰۰). پاکستان می صوفیانه تحریکی. لاهور: سنگ میل

۹. رسا، سیدرسول. (۱۹۷۶). د عبدالرحمن بابا دیوان. پېښور: یونیورسټي بک ایجنسي

۱۰. مخلص، علي محمد. (۱۳۸۸). حالنامهٔ حضرت میاروښان. کابل: اطلاعاتو او فرهنگ وزارت

پوهندوی مطيع الله (مطيع)
طب پوهنځی- داخله څانګه

په زاړه عمره ناروغانو کې د درملنې ستونزې

لنډيز:

زړښت (Aging) يوه طبيعي پروسه ده چې په بدن کې وظيفوي تغيرات منځته راوړي. زاړه خلک د ځوانانو په پرتله په ډېرو مزمنو ناروغيو اخته کېږي او د درملنې په بهير کې دوی د ناوړه ستونزو لکه د هضمي سيستم وينه بهېدنه (GI bleeding) Delirium، غورځېدل او کسرونو د خطر سره مخامخ دي چې لاملونه يې په يوه وخت د ډېرو درملو کارول، د څو ډولو ناروغيو شتون، د اورګانونو ميتابوليک بدلونونه او د درملو په وړاندې يې د غبرګون ډېروالی دی، ځکه نو old age ناروغانو ته په لږ دوز درمل پيل او د هغې د زغم له مخې دوز يې ورو ورو لوړېږي.

سريزه:

زاړه خلک ددې تر څنګ چې معافيتي سيستم يې د ګډوډۍ سره مخامخ دی، د دوی په بدن کې Pharmacokinetic (د درملوجذب، ميتابوليزم، خپرېدل او اطراح کېدل) او Pharmacodynamic (د درملو فزيالوژيکي اغېزې) کې هم زيان منځته راځي. سربېره پر دې دا خلک په ډېرو مزمنو ناروغيو باندې هم اخته کېږي چې په دې توګه ددې ناروغيو درملنه ډېرې لويې ستونزې منځته راوړي. په امريکا کې چې خلک يې تر يوې اندازې صحي تعليمات هم لري او هم يې اقتصادي حالت ښه دی، د انتاني ناروغيو پېښې پکې هم لږې دي، Old age کسان د درمل مصرفوونکي ٪۲۵ برخه جوړوي چې -۶۵ ۷۵ کلنۍ عمرونو کې ٪۳۶ يې هره ورځ ۵ او يا د هغې څخه ډېر درمل مصرفوي. (۹، ۲)

زمونږ په وطن کې د انتاني ناروغيو پېښې د امريکا په پرتله ډېرې دي، د درملو مصرف هم په دې وطن کې ډېر دی او زاړه خلک د ډېر خطر سره مخامخ دي، (high risk) چې له يوې خوا د مجهز لابراتوار نشتوالی چې په وينه کې د درملو اندازه وټاکل شي او له بله پلوه د بدن د اورګانونو د دندو يقيني monitoring لپاره د طبي امکاناتو نه شتون هغه مهمې موضوعګانې دي چې زمونږ په وطن کې ډېره اړتيا ده چې د زړو خلکو په درملنه کې له پوره احتياط څخه کار واخستل شي، په همدې اساس مې وغوښتل چې په دې اړه يوه علمي مقاله وليکم، ترڅو تر يوې اندازې پورې ګټوره تمامه شي.

موخې:

- د درملو د ناوړه اغېزو په اړه معلومات وړاندې کول.
- د هغو درملو په ګوته کول چې په زړو خلکو کې ډول ډول غبرګونونه منځته راوړي.
- تر ممکنه حده پورې د درملو له امله د ناوړو عواقبو د پيدا کېدو څخه مخنيوی.
- د هغو درملو په ګوته کول چې يوځای کارول يې انتراکشن پروسه منځته راوړي.
- د ډېرو درملو له کارولو څخه ډډه کول چې د ګټې په ځای ناروغانو ته ستونزې پيدا کوي.

زړښت (Aging):

په زړښت کې د بدن ټول سيستمونه په ځانګړې توګه پښتورګي، هضمي جهاز، اسکليټي عضلي سيستم او حافظه ډېره اغېزمنه کېږي چې په لنډه توګه ورڅخه يادونه کوو. (4)

پښتورګي:

د پښتورګي سايز او له بدن څخه د درملو ايستلو توان کمېږي، د ۴۰ کلنۍ عمر څخه وروسته هر کال د پښتورګي وظيفه کې ٪۱ کموالی منځته راځي، ځکه نو درمل په زړو خلکو کې د ډېرې مودې لپاره پاتې او ناوړه اغېزې منځته راوړي. د بدن د عضلاتو کتله کمېږي چې په دې توګه د کرياتينن جوړېدل هم کمېږي، ځکه نو په دې ناروغانو کې د کرياتينن سويه، کرياتينن کليرانس څخه ښه نماينده ګي نشي کولای، يعنې که کرياتينن نورمال هم وي (په وينه کې) GFR اندازه کمه او د

پښتورګي وظيفه زيانمنه شوې ده. په فرانسه کې په يوه څېړنه کې ښودل شوې چې د پښتورګي عدم کفايه Prevalence د ۶۵ کلنۍ څخه لوړ عمر کې ۷ ،۱۳٪ ده. (3)

سره له دې چې د پښتورګي ناروغي په ښکاره ډول شتون ونلري، خو کليرانس يې ٪۵۰-۳۵ څخه لږ وي. NASID درمل چې نن سبا ډېر کارول کېږي، بايد ډېره پاملرنه وشي، ځکه چې د پښتورګي په واسطه د پروستاګلندين د جوړېدو مانع ګرځي چې په CHF، ديني سيروزس، ډيهايدريشن او زړو خلکو کې د پښتورګي پرفيوژن خرابوي، (9,4)

د هډوکو او عضلاتو په پرتله د بدن د شحمونو اندازه ډېرېږي، سره له دې چې وزن کې تغير منځته نه راځي. که په شحمو کې منحل درمل وکارول شي، نوموړي درمل د شحمي حجرې دننه بند پاتې کېږي، د درمل Half life اوږدېږي او اغېزې يې کمېږي او بدن کې د ډېرې مودې لپاره پاتې کېږي. (3)

برعکس په زړو کې د بدن مايع کمېږي، يعنې حجره د خپلو اوبو يوه برخه له لاسه ورکوي، نو د اوبو منحل درملو غلظت په وينه کې ډېرېږي او اغېزې يې هم ډېرېږي او د حلېدو اندازه يې کمېږي. (4,3)

ددې څخه پرته په فزيالوژيک ډول د درملو په وړاندې د زړو خلکو غبرګون کې هم بدلون پيدا کېږي، د بېلګې په توګه د OPoid انلجزيکونو په وړاندې حساسيت ډېر او د بيتا بلاکرو په وړاندې کمېږي، ځکه نو د مرکزي عصبي سيستم انحطاط کوونکي درملو لکه benzodiazepine د ځوانانو په پرتله د ډېر Sedation لامل ګرځي او د پوره احتياط څخه بايد کار واخستل شي، ځکه چې بدن کې ډېر خپرېږي. د قلبي وعايوي درملو په وړاندې غبرګون exaggerated وي چې لامل يې د Homeostasis غبرګون زيانمن کېدل دي. (4)

هضمي سيستم:

د معدې او کولمو حرکات کمېږي، د درملو جذب ورو کېږي، کوم درمل ته چې ډېره اړتيا وي چې ويني ته ژر داخل شي، ناوخته وينې ته داخل او بدن ته خپرېږي. د معدې اسيديتي لږ او د درملو ټوټه ټوټه کېدلو موده هم اوږدېږي چې په دې توګه د درملو اغېزې يا کمېږي او يا له ځنډ سره مخامخ کېږي. (7,3)

د Ampicllin استيرونه، د اوسپنې مرکبات او Ketoconazol جذب کمېږي، سربېره پردې PPi او H2 بلاکر پرله پسې کارول هم اسيديتي کموي. (7)

ځيګر هم کوچنی کېږي او د وينې بهير او د انزايمونو سويه هم کمېږي، يعنې وظايفو او کليرانس کې کموالی راځي او د درملو ميتابوليزم زيان پيدا کوي چې پايله يې په کبد کې د درملو ټولېدنه او ناخوښوونکي عوارض منځته راوړي. (9,4,3) High clearance درملو ميتابوليزم په زړو خلکو کې کمېږي، لکه Indral,Lidocaine او Verapamil يعنې د وينې بهير د کموالي له امله دا درمل په لږه اندازه کبد ته ځي. د البومين جوړېدل په کبد کې هم کمېږي، ځکه نو د Warfarin يو څه اندازه په وينه کې په ازاد شکل پاتې کېږي او انتي کواګولانت اغېز يې ډېرېږي. سره له دې چې په دې خلکو کې د وينې علقه کوونکي فکتورونه (Clotting factors) نورمال وي، بيا هم د وينې بهېدنې خطر په دوی کې د Warfarin درمل د استعمال له امله شتون لري. که د Warfarin سره يو ځای ,Amiodaron Sulfamid او Phenytoin وکارول شي، د وينې بهېدنې پېښو د لا ډېرېدو لامل ګرځي.(9)

له دې څخه دا جوته شوه چې د زړو خلکو درملنه کول د ستونزو څخه ډک کار دی، په ځانګړي ډول که په يوه وخت کې ډېر شمېر درمل توصيه شي، يعنې که يو ناروغ ته په يوه وخت کې (۵-۱۰) پورې درمل توصيه شي، دې حالت ته Poly pharmacy وايي او ممکن لاندېنۍ ناوړه پايلې منځته راوړي:

۱- Adverse drug events (ADEs): هغه ناوړه حالت چې د درملو په واسطه منځته راځي او لاندېني نقيصې پکې شاملې دي:

الف: د درمل په وړاندې Noxious غبرګون.

ب: د درمل په تطبيقولو کې خطايي او تېروتنه.

ج: نور ټول حالات چې د زيان سبب ګرځي.

ADEs د درملو د شمېر، دوز او د نورو ناروغيو د شتوالي سره اړيکې لري او د درملو د کليرانس د کموالي او ميتابوليک بدلونونو له امله منځته راځي؛ ښه مثال يې د هغه څېړنې پايله ده چې په ايتاليا هېواد کې ترسره شوې ده او ددې ناروغانو mean age يا متوسط عمر ۷۸ کاله و، د څېړنې پايله د هغو ناروغانو سره پرتله شوې ده چې هغوی ۵ يا د ۵ څخه لږ درمل اخيستي دي چې پايله يې داده ADEs پېښې په هغو ناروغانو کې چې 7-5 درمل يې اخيستل دوه ځله او هغوی چې 8 يا د 8 څخه ډېر درمل اخيستي وو، څلور ځله ډېرې وې. ADEs د درملو دوز پورې هم اړه لري، ښه مثالونه يې benzodiazepine او Levothyroxine دي، دوی د hip کسر سره اړيکه درلوده، دا څېړنه په Neitherland هېواد کې په يوه Case control څېړنه کې ترسره شوې ده چې د ناروغانو عمرونه 53 کاله او يا د 53 کالو څخه لوړ وو. ADEs پېښې د درملو د Combination يا يوځای استعمال پورې اړه لري، drug drug interaction پورې هم اړه لري، د بېلګې په توګه هغه کسان چې Cotrimexazole او Glyburide يوځای اخيستي، د هايپوګلايسيميا پېښې شپږ ځله او هغوی چې Digoxin او Clarithromycin اخيستي، د Digoxin تسمم پېښې دولس ځله او هغوی چې ACE inhibitor او Sparing diuretic Potassium اخيستي، د Hyperkalemia پېښې پکې شل ځله ډېرې وې. (6)

په درملنه کې دې له ناروغ څخه پوښتنه وشي چې Homopathic درمل اخلي او که نه؟ د بېلګې په توګه هغه هومپوتيک درمل چې په ترکيب کې gingobiloba extract ولري او نوموړي ناروغ ته Warfarin توصيه شي، نو د bleeding سبب کېږي.

۲- Drug drug interaction: زاړه کسان چې څو ډوله مزمنې ناروغۍ ولري او ورته ډېر درمل توصيه کېږي منځته راځي، لکه د Warfarin سره يوځای ACE inhibitor,digoxin,Clarithmycin او NASID ورکول. (8)

۳- Prescribing cascades: دا هغه حالت دی چې د درملو له امله ناروغ کې يوه ناپېژندل شوې ADEs پيدا کېږي او ډاکتر فکر کوي چې د ناروغۍ پورې اړه لري او په دې توګه بل اضافي درمل هم توصيه کوي او دغه بحراني حالت منځته راځي. ښه مثال يې د ميتوکلوپرامايد درمل کارول دي چې Parkinson ناروغي منځته راوړي، که د Parkinsonism ضد درمل توصيه شي، ناروغ ته delirium او Orthostatic hypotension منځته راځي. (6)

ددې لپاره چې د Adverse drug reaction (د هغه درمل په وړاندې Noxious غبرګون ته وايي چې په عادي دوز توصيه او موخه يې د ناروغيو مخنيوی او يا درملنه کول دي)، د ناوړه پېښو څخه مخنيوی وشي، لاندېني ټکي بايد په پام کې ونيول شي:

الف- د Beer's کريتريا په باره کې بشپړ معلومات لاسته راوړي. په امريکا او کاناډا کې ډيزاين شوی پروګرام دی چې 65 کلنۍ څخه لوړو عمرونو کې د درملنې پر وخت په پام کې نيول کېږي چې53 ډوله يا ګروپ دواګانې پکې شاملې دي، په دې کې درې مهمې موضوعګانې په نظر کې نيول شوي:

۱- ځينې طبي دواګانې په Old age کې هيڅ توصيه نشي، لکه barbiturate,Amitryptalin,doxepin,Aldomet او indomethacin,pentazocin,hydergin Chlorpropamid, او diphenhydramin چې Sedation او Confusion منځته راوړي. Aldomet براډي کارډيا او depression منځته راوړي. Spasm ضد درمل لکه Hyoscin, Dicyclomin او beladon توصيه نشي. انلجيزيکونه لکه prioxiam,Naprox (HTN,HF,CRF او GI وينه بهېدنه منځته راوړي) Nitrofurantin (پښتورګي زيانمنوي) ميتايل تستوستيرون (د زړه پرابلم او د پروستات هايپرتروفي منځته رواړي) Cimetidin (قبضيت او Hypotension سبب کېږي) clonidin د Confusion او delirium منځته راوړي) بايد توصيه نشي.

۲- ځينې درمل په هغو ناروغانو کې چې عمرونه يې 65 يا د هغې څخه ډېر وي، يا بالکل استعمال نشي او يا په ډېر لږ دوز او پوره احتياط ورکړی شي، لکه اوږده Half life لرونکې دواګانې Tranxen,Diazepam,Chlordiazepoxid او chlozepate، ځکه چې د Sedation او غورځېدلو او کسرونو خطر پکې ډېر دی. که ورته اړتيا وي، ښه خبره داده چې Short acting مستحضرات يې استعمال شي، لکه Lorazepam5mg,Oxazepam6mg,Alprazolam 2mg او Tamazepam

5mg د Seizure د کنترول لپاره يوازې Phenobarbital څخه کار اخستل کېږي. diphenhydramin ته که ډېره اړتيا وه بايد په لږ دوز سره استعمال شي. 0.125 mg Digoxin استعمالېدلای شي (اذيني اريتميا کې دوز يې لوړ وي).

۳- يو شمېر درمل په ځانګړو حالاتو کې نه ورکول کېږي لکه (د ناروغانو عمرونه چې د 65 کلنۍ څخه ډېر وي)، که د زړه عدمه کفايه شتون ولري Alginate, carbonate او Citrate نه توصيه کېږي چې د بدن سوډيم ډېروي. په لوړ فشار لرونکو ناروغانو کې Amphetamin,dite pills او Pseudoephedrine نه توصيه کېږي. د وينې په ناروغانو کې NASID,Asprin د اريتميا ناروغانو کې Amitryptalin,lmiperamin او doxepin د Seizures په ناروغانو کې Clozapine او Chlorpromazin د معدې او اثناعشر په ulcer کې Asprin,NASID د COPD ناروغانو کې Librix,Diazepam او Tranxen نه توصيه کېږي. هغو ناروغانو کې چې مزمن قبضيت ولري، د Ca chanel blocker,imipramin او Amitryptalin نه توصيه کېږي. هغه کسانو کې چې د Syncope او غورځېدلو تاريخچې ولري benzodiazepine (هم Short acting او هم Long acting) imipramin او Amitryptalin توصيه نشي.

ب: که داسې امکان ولري چې د درملو څخه پرته د ناروغۍ درملنه وشي، لکه mild HTN ناروغانو کې د وزن کموالی او د مالګو لږ اخيستل ۴۰٪ خلکو کې ښه پايله لري او يا دوهم تايپ شکر ناروغان د غذايي رژيم او تمرينونو په واسطه درملنه وشي. که ناروغانو ته درمل شروع شوي وي او نورې اضافي ستونزې ورته پيدا شوې وي، دا درمل بايد قطع شي، لکه Digoxin د پښتورګي په نقيصه کې او موقتي ډيهايدريشن کې قطع کېدلای شي، اما ځينې دواګانې بايد ناڅاپه قطع نشي، ځکه چې نورې ستونزې پيدا کوي، يعنې ورو ورو يې دوز لږ او بيا قطع شي، لکه بيتابلاکر، باربيتورات، Gabapentin,cloindin,Opoid او Anti depressant. (6)

ج- محفوظ درمل د نورو درملو ځای ناستي شي، لکه Acetamino phen د NASID په ځای په غير التهابي Arthritis کې توصيه شي، درمل د ناروغ حالت په بنياد Adjust شي، يعنې درمل په لږ دوز پيل او د ناروغ د حالت مطابق دوز يې ورو ورو جګ شي.

پايله:

زړښت فارماکوکينيتک او فارماکو ډينامیک بدلونونه منځته راوړي، په يوه وخت کې د ډېرو درملو توصيه کول په زړو ناروغانو کې د ناوړه پايلو لامل ګرځي، ځکه نو ددې ناروغانو په درملنه کې د درمل شمېر او دوز لږ دی. درمل بايد په پرتله ييز شکل محفوظ او د بدن فزيالوژيک حالت سره مناسب توصيه او هم يې دوز Adjust شي او د درمل توکسيسيتي مخنيوي لپاره ناروغ بايد تر څارنې لاندې وي.

وړانديزونه:

۱. بايد ارزانه او ښه درمل ناروغانو ته انتخاب شي.

۲. ټولو ناروغانو ته د توصيه شوو درملو د جانبي اغېزو په باره کې معلومات ورکړل شي، ترڅو د عوارضو د پيدا کېدو په صورت کې ډېر ژر ډاکتر ته دوباره مراجعه وکړي.

۳. ناروغان وهڅول شي چې روغتون ته د راتګ په وخت کې د درملو نسخه يا پخپله درمل او هغه Herbal دواګانې له ځانه سره روا ړي، کوم چې د ناروغ په واسطه استعمال شوي دي.

۴. کوښښ دې وشي چې د درملنې پلان په ساده الفاظو ناروغ ته وويل شي او ډاکتر بايد مطمين شي چې ناروغ د درمل په تطبيق کولو باندې ښه پوه شوی دی.

Abstract:

Aging is a physiologic process by which the body organs functions changes occurs. So the treatment of these patients must be carefully. due to alterations in metabolism of drugs (such as pharmacokinetic and pharmacodynamic changes) comorbid conditions and concomitant use of many drugs results to adverse drugs events such as GI bleeding, delirium, falls, fractures and prescribing cascades for the prevention of above mentionet in continued Adverse drug reaction it is necessary to cure the old age properly. The drugs dose initially shoud be little and gradually increase according to the patient tolerance.

References:

1. Aging oxford journals/org/content/3712/138/TI/expansion.htm.
2. Brain.R walker, et al 2010 Davidson's principles and practice of medicine 21th edition chauchill living stone England pc 28-29.
3. Drug treatment. American Geriatic society of foundation for health in aging July 25, 2008, drugsd. About com/od/ageracecegon-der and drugs/a/side effect, Age.httm.
4. Lango et al 2012Harrisons principles of internal medicine McGrawhill 18 edition p(577)(572)(40).
5. Parveen kumar Michael Clark 2005clinical medicine saunder;s 6th edition pc(924).
6. paula A Rochon MD,MPH, Drug prescribing for older adults up-to-date terms of use C 2012 uptodate.inc. March (9).2012.
7. Pharmarev. Aspet journals.org/content/56/2/163 full + secI .
8. Stephen J mephee Maxine A papadakis Lawrence m2012.current medicine diagnosis and treatment Mcgrawhill 51edition pc(72).
9. willium N.kelly 1997Textbook of internal medicine Lippincott Raven 3rd edition P (2543).

پوهندوی دوکتور غلام نبی (سیدی)
پوهنځی زراعت- دیپارتمنت اقتصاد
و توسعه زراعتی

تاثیر تنوع حیات بر اقتصاد و زندگی بشر

خلاصه:

تنوع زیستی (Biodiversity) یا تنوع بیولوژیکی (Biological diversity) تنوع حیات را در کره زمین تشریح نموده و تنوع ایکو سیستم ها (ایکو سیستم های آبی و خشکه) و همه اجسام حیه نباتات، حیوانات، محل زیست و انواع آنها را مورد بحث قرار میدهد. همچنان تنوع زیستی به معنی تنوع بین تمام موجودات زنده دنیا اعم از مایکروبها، حشرات، نباتات، حیوانات و انسان و ارتباط آنها با یکدیگر است. توسط فعالیت های انسانی هیچ چیزی دیگر به اندازه تنوع زیستی (Biodiversity) در کره زمین متاثر نمی گردد. همچنان توسط تغیر تنوع زیستی زندگی انسان ها و سایر موجودات زنده به شمول اقتصاد جهانی متاثر میشود. حفظ تنوع زیستی، صحت و سلامتی انسانها و انکشاف پایدار اقتصادی وابسته به نگهداری و غنای هر چه بیشتر ایکوسیستم ها میباشد.

مقدمه:

در این اواخر پدیده جهانی شدن از طریق ایجاد سیستم های انترنیتی، شاهراهای ارتباطی و نظام های اقتصادی و اجتماعی هماهنگ جهانی، دنیا را باهم خیلی نزدیک نموده است؛ لیکن وضعیت و حالت کنونی تنوع حیات، در واقعیت مشکل عمده ما را تشکیل داده و پیامدهای ناگوار را بر اقتصاد و زندگی بشر فراهم نموده است. از یک طرف استفاده از منابع طبیعی بدون دور اندیشی و از طرف دیگر وابستگی معیشتی قشر کثیری از جمعیت در حال افزایش کشورهای رو به انکشاف به هستی طبیعت، روز به روز از تنوع طبیعی ایکوسیستم ها می کاهد و محدودیت های بیشتر برای زندگی و بقای حیات اکثر موجودات زنده به میان آمده و عرصه های حیات طبیعی آنها را محدودتر می سازد. (۵)

در افغانستان متاسفانه معلومات عمومی در مورد غنای ایکوسیستم ها و استفاده موثر از آن ها خیلی محدود بوده و حتی ارقام دقیق و موثق در باره تعداد نباتات، پرندگان، خزندگان، ماهیان و حیواناتی که ایکوسیستم های طبیعی افغانستان را تشکیل می دهد، وجود ندارد. تکامل انواع جدید موجودات زنده و انقراض انواعی که توان توافق با تغیرات محیطی را نداشتند، بیش از چند ملیارد سال به طول انجامید، تا بالاخره کره زمین امروزی به وجود آمد؛ ارزشمندترین هستی این کره موجودیت تنوع حیات محسوب می گردد. (۷)

این تنوع حیات است که در ترکیب آن میتوان موجودات یک حجروی، نباتی و حیوانی، نباتات و حیوانات عالی و انسانها را به عنوان یک نوع از ملیونها نوع موجودات زنده به وضاحت مشاهده نمود. تنوع حیات همه ضروریات و نیازمندی های انسانها (خوراک، پوشاک و مسکن) و محیط مناسب را غرض صحت و سلامتی جسمی و روحی آنها فراهم می نماید. در حقیقت تنوع زیستی که ما از آن بحث می نمایم، بیمه طبیعی در مقابل سرنوشت انسانها و کره زمین است. (۱)

اهداف:

چون تنوع حیات یکی از موضوعات بسیار مهم کنونی بوده، که بر اقتصاد و زندگی بشر اثر گذار است، بناءً تحریر این مقاله تحت عنوان (تاثیر تنوع حیات بر اقتصاد و زندگی بشر) شامل اهداف ذیل می باشد:

- توضیح مفهوم تنوع حیات و تاثیر آن بر اقتصاد و زندگی جمعیت در حال رشد در جهان.
- آگاهی به ارتباط وضعیت و حالت تنوع حیات و ایکوسیستم ها در شرایط معاصر.
- توضیح اهمیت و ارزش اقتصادی ایکوسیستم ها و تنوع حیات.

- کسب معلومات در مورد موسسات که در محافظت و نگهداری ایکوسیستم ها و تنوع حیات مسئولیت دارند.
- تحریر این مقاله برای همه علاقمندان خاصتاً برای استادان و محصلین پوهنځی زراعت اثر مفید و ارزشمند بوده و مورد استفاده آنها قرار گرفته میتواند.

تنوع حیات و دورنمای آن:

تنوع زیستی (Biodiversity) اساس حیات را در کره زمین تشکیل داده و بی نهایت مختلط، متحرک و در حال تغیر بوده و شرایط حیات و زندگی را برای ملیون ها نوع موجود زنده بشمول انسان ها مساعد ساخته است. تنوع حیات برای عملکرد ایکوسیستم که برای انسان ها تولیدات و خدمات را مهیا میسازد، بسیار مهم است. اکسیجن، غذا، آب صاف و آشامیدنی، خاک حاصل خیز، نباتات طبی، پناهگاها، محافظت از طوفان ها و سیلاب ها، اقلیم مساعد و مداوم همه این ها از ایکوسیستم های سالم و غنی سرچشمه می گیرد؛ لیکن تنوع حیات (Biodiversity) به مراتب خدمات بیشتر از این را برای ما مساعد و مهیا می سازد. همچنان انسان ها برای صحت و امنیت خویش وابسته به آن بوده و تنوع حیات حتی بر روابط اجتماعی نیز اثر گذار میباشد. (۱۰)

تنوع حیات در هر جا دیده می شود، در خشکه و آب از ارتفاعات بلند تا عمق ابحار و تمام موجودات زنده از واحد الحجروی تا نباتات و حیوانات عالی شامل تنوع زیستی می باشد. به اساس ارزیابی، برآورد و تخمین ایکوسیستم ها تعداد مجموعی موجودات زنده در جهان از ۵ الی۳۰ ملیون نوع تعین گردیده است و از جمله تنها از (۷.۱-۲) ملیون نوع بصورت رسمی شناسایی و تشخیص گردیده است، لیکن اکثر دانشمندان توافق دارند که حدود ۱۳ ملیون نوع موجود زنده در جهان وجود دارد. (۱۰)

داکتر توماس ای لوجوی (Dr. Thomas E. Lovejoy) تعداد کل انواع موجودات را در دنیا حدود۱۰۰ملیون نوع تخمین می نماید. (۸)

تا به حال حدود ۱.۷۵ ملیون نوع موجود حیه شناسایی شده، ولی تنها یک فیصد از این رقم از نظر ارزش بالقوه برای انسانها مورد بررسی قرار گرفته است و مطالعه در زمینه اهمیت انواع مذکور در ایکوسیستم های دنیا صورت نگرفته است. تنوع زیستی موجود در کره زمین با سرعتی بی سابقه در حال کاهش است. به عقیده داکتر ستیفن سی ستیرنس (Dr. Stephen C. Stearns) تعداد انواع موجودات زنده با سرعتی حدود هزار برابر روند طبیعی و یا بیش از آن در حالی کاهش است و در صورتیکه اقدامات لازم برای متوقف ساختن آن انجام نشود، روند کاهش انواع موجودات زنده سرعت بیشتری خواهد گرفت. تعدادی از دانشمندان تصور می کنند که نیمی از انواع موجودات زنده الی سال ۲۰۵۰ میلادی برای همیشه از بین خواهند رفت. (۳)

به اساس معلومات دست داشته در جهان از جمله هر ۴ پستاندار، هر ۸ پرنده و از هر ۳ ذوحیاتین یکی از آنها در خطر انقراض و نابودی قرار دارد. در کره زمین (۳/۴) حصه ماهی ها نیز در معرض خطر و زوال قرار دارند. همچنان هر سال ۱۳ ملیون هکتار از ساحه جنگلات جهان که با ارزشترین بخش منابع طبیعی و ایکوسیستم ها می باشد، از بین میرود و۴۰ فیصد زمین های قابل زرع برای طویل المدت خساره مند گردیده اند. خسارات وارد شده به زمین های مزروعی از یک طرف و از طرف دیگر استعمال بیشتر از ۵۰فیصد دانه باب برای تغذیه حیوانات و تولید مواد سوخت بیولوژیکی (Biofuels) باعث کمبود مواد غذایی در جهان گردیده است و قریب یک بلیون انسان گرسنه در جهان امرار حیات مینمایند. استعمال منابع جهانی توسط انسان ها نیز عادلانه نبوده است، چنانچه۲۰فیصد نفوس جهان ۸۰ فیصد تمام منابع دنیا را مصرف می نمایند. کمبود آب آشامیدنی به مقیاس جهانی پرابلم عمده دیگر برای پیشرفت میباشد، روزانه ۵۰۰۰ انسان به خاطر استفاده و نوشیدن آبهای غیر صحی حیات خود را از دست می دهند و یک بلیون انسان به آب آشامیدنی پاک، صحی و محفوظ دسترسی ندارند. انسانها بزرگترین تهدید برای تنوع زیستی و قطع زنجیر حیاتی ایکوسیستم ها محسوب میگردد. توسعه و افزایش روز افزون گرم خانه ها (Greenhouses)، حریق شدن و قطع نمودن متداوم جنگلات ، استعمال مواد سوخت بی کیفیت در وسایط نقلیه، ایجاد کارخانه جات و فابریکه های مختلف و

افزایش نفوس شهر ها ، سبب افزایش گازات کاربن دای اکساید و گرمی کره زمین گردیده و باعث ذوب شدن یخچال های بزرگ میگردد. درجه حرارت وسطی طی ۱۵ سال گذشته بلندترین درجه حرارت را در تمام اوقات ثبت شده، نشان میدهد و ضخامت پوشش یخچال های بزرگ به مقایسه۴۰ سال قبل۴۰ فیصد نازکتر گردیده و سبب بالا آمدن سطح آب ابحار شده است. با در نظرداشت شرایط فوق الذکر چنین پیشبینی شده، که الی سال۲۰۵۰ میلادي به تعداد حد اقل ۲۰۰ ملیون انسان در جهان به علت تغیرات اقلیمی آواره و مهاجر خواهند شد. (۹)

تنوع حیات در افغانستان:

چون افغانستان دارای اقلیم، ارتفاعات و رطوبت نسبتی متفاوت و مختلف بوده و تابستان گرم و زمستان سرد از جمله خصوصیات عمده اقلیمی آن میباشد ، تنوع زیستی وسیعی در این محدوده جغرافیایی به ثبت رسیده و از گذشته ها تا حال منابع اصلی و عمده مواد غذایی، ادویه جات، مواد ساختمانی اکثر اقلام صادراتی باشندگان این کشور را تشکیل میدهد. در افغانستان به طور تخمینی در حدود۴۰۰۰-۳۵۰۰ نوع نبات، ۱۵۰-۱۳۷ نوع حیوان پستاندار، ۵۵۰-۴۲۸ نوع پرنده،۹۲-۱۱۲ نوع خزنده، ۲- ۸ نوع حیوان ذوحیاتین و ۱۰۱- ۱۳۹ نوع ماهی تشخیص و ثبت گردیده است. (۴)

فشارهای اجتماعی و اقتصادی مانند ادامه بیش از ۳ دهه جنگ، فقر و بیکاری و افزایش نفوس، عودت مجدد مهاجرین به وطن، استفاده نامناسب از همه منابع طبیعی کشور، قطع غیرقانونی جنگلات، سیلاب ها ، خوشکسالی، استعمال بم های دستی غرض شکار ماهی و شکار بعضی پرندگان به مقصد تجارت تنوع حیات را در افغانستان به شدت مورد تهدید قرار داده و زیان های غیر قابل جبران را بر اقتصاد کشور وارد نموده است.

اهمیت و ارزش تنوع حیات:

برعکس مواد غذایی و دیگر اجناس که ما از سوپر مارکیت ها خرید می نمایم، بسیاری خدمات ایکوسیستم ها دارای قیمت مشخص نبوده که به آن نسبت داده شود ، به این معنی که اهمیت تنوع حیات (Biodiversity) و عملکردهای طبیعی که برای انسان ها منفعت آور میباشد توسط مارکیت های مالی (Financial Market) نادیده گرفته شده است، منفعت حاصل از تنوع حیات شامل همه انسانها می شود ، بخش زراعت، طبابت و صحت، صنایع مختلف مانند ساخت ساز ماشین الات و تجهیزات مودرن همه و همه وابسته به منابع طبیعی خصوصاً تنوع حیات است. کاهش تنوع حیات موجب تهدید ذخایر غذایي منابع چوب، سیاحت، دارو، طبابت، انرجی و همچنان سبب تنزیل فعالیت های ایکولوجیکی میشود.(۲)

اگر در وقت تصمیم گیری تمام ارزشی اقتصادی خدمات تنوع زیستی به حساب گرفته شود ، کاهش خدمات ایکوسیستم ها طور قابل ملاحظه بطی تر و کمتر خواهد شد. با در نظرداشت معلومات فوق الذکر تحقیقات و مطالعات به ارتباط ارزش ایکوسیستم ها و تنوع حیات جریان داشته، که هدف اساسی این تحقیقات ایجاد یک میکانیزم است، تا در رابطه به طبیعت و تنوع حیات و ضایعات روزمره این ارزشها توجه و مواظبت خاص صورت گیرد.

ایکوسیستم و ا همیت آن:

ایکوسیستم (Eco system) عبارت از یک ساحه معین و مشخص است که در آن بین اجسام زنده و غیر زنده مواد و انرجی تبادله شده و در نتیجه تولید به بار می آید ، به عبارت دیگر ایکوسیستم یک جامعه نباتی، حیوانی و موجودات زره بینی حیه ایکه زندگی، تغذیه، تکثر و ارتباط متقابله را دارا بوده می باشد و در نتیجه تبادله مواد و انرجی از محیط فزیکی خویش تولیدات ارزشمند را به بار می آورد که برای امرار حیات انسانها و همه موجودات حیه دیگر بسیار مهم و ارزشمند است. انسان از طریق محیط از عرضه خدمات ایکوسیستم مستفید می گردد. خدمات ایکوسیستم عبارت از عرضه و تبادله مواد طبیعی (خاک، نباتات، حیوانات، آب و هوا) به مواد ارزشمند میباشد ، همچنان ایکوسیستم می تواند منحیث منبع تهیه کننده (غذا و آب)، تنظیم کننده (تنظیم سیلابها و کنترول امراض)، وسیله کمک کننده (دوران مواد غذایی که بقا همه موجودات زنده را بالای سطحی زمین تامین مینماید) و عرضه خدمات کلتوری، تفریحی و جلب توریزم، رول مهم و قابل ملاحظه داشته باشد. در نهایت گفته می توانیم که ایکوسیستم یک منبع برای غذا ، ادویه،

منرالها ، محصولات حیوانی، مواد ساختمانی (چوب و دیگر مواد)، جلب توریزم، تفریحی و مرکز جین های بومی برای نباتات و حیوانات در پروگرام های نسل گیری میباشد ، این همه بر اقتصاد و زندگی بشر اثر گزار می باشند.

تدابیر عمده در حفاظت تنوع حیات:

تنوع حیات یکی از موضوعات مهم جوامع بشری بوده، که در دهه هفتاد ، جلوگیری از تخریب محیط زیست و کاهش تعداد انواع و ایکوسیستم ها منجر به شکل گیری اولین تلاشهای جمعی و ایجاد سازمانها و موسسات بین المللی گردید. اتحادیه بین المللی حفظ منابع طبیعي (IUCN) یا (International Union for the Conservation of Nature) در رابطه به طبیعت و تنوع حیات و کم ساختن ضایعات روزمره این ارزشها رول اساسی و کلیدی را ادا می نماید. فعالیت های این موسسه در شرایط کنونی در دو بخش حیات جامعه بشری متمرکز بوده، که عبارت از موضوع تولید و مصرف جهانی میباشد ، زیرا انواع تولیدات و اشکال استعمال و مصرف آن، سیستم حمایوی حیات انسانها را که عبارت از سیستم طبیعت است، متاثر می سازد. (۱۱)

همچنان به خاطر حفاظت محیط زیست در سال ۱۹۷۲م سازمان بین المللی محیط زیست (UNEP) یا (United Nation Environmental Programs) تشکیل گردید. این سازمان در سال ۱۹۹۲م بزرگترین کنفرانس را در زمینه محیط زیست تحت عنوان (اجلاس زمین) دایر نمود. در این کنفرانس تعداد موافقتنامه های بین المللی از جمله دو موافقتنامه بسیار مهم تحت عنوان (معاهده تغیرات آب و هوا) و (معاهده تنوع حیات) امضا شد. معاهده تغیرات آب و هوا به موضوعات مربوط به گازهای صنعتی و دیگر گاز های گلخانه ای مانند کاربن دای اوکساید می پردازد و معاهده تنوع حیات اولین موافقت نامه جهانی در زمینه حفاظت و بهره برداری پایدار از منابع تنوع حیات به شمار می آید. این معاهده توسط بیش از ۱۵۰ کشور جهان به امضا رسید و از آن زمان تا کنون سند مذکور مجموعاً توسط ۱۸۷ کشور جهان پزیرفته شده است. افغانستان نیز در سال ۱۹۹۲م معاهده تنوع حیات را امضا و در سال ۲۰۰۲ م عملاً عضویت کنوانسیون فوق را به دست آورد ، بناءً افغانستان مکلف به اجرای تمامی مصوبات این نهاد در جهت حفاظت و توسعه تنوع حیات میباشد. (۲)

اهداف معاهده حفاظت از تنوع حیات:

در معاهده حفاظت از تنوع حیات تاکید شده است، که ایکوسیستم ها ، انواع و جین ها باید در جهت تامین منافع انسان، اگر موجب کاهش تنوع حیات در بلند مدت نگردد ، مورد بهره برداری و استفاده قرار گیرند. حفاظت از تنوع حیات، بهره برداری پایدار از منابع تنوع حیات و توزیع عادلانه منافع حاصل از بهره برداری از منابع جنتیکی اولیت های این معاهده را تشکیل داده و توصیه های مشخصی را به پالیسی سازان به عنوان مشوقها و اقدامات پیشگیرانه پیشکش می نماید ، که به عنوان مثال ذیلاً به بعضی از انها اشاره می شود:

- اختصاص مشوق برای حفاظت و بهره برداری پایدار از تنوع حیات.
- دسترسی دوامدار به منابع جنتیکی.
- همکاری علمی و تخنیکی بین کشورها در مورد حفاظت از تنوع حیات.
- آموزش و تنویر افکار عامه در مورد حفاظت و بهره برداری پایدار از ایکوسیستم ها.
- تامین منابع مالی در جهت نگهداری تنوع حیات.
- ارزیابی میزان اثرات محیط زیست.
- دسترسی به تکنالوجی و انتقال آن از جمله بیوتکنالوجی.
- ارایه گذارش ملی در زمینه فعالیت های انجام شده در رابطه به اجرای تعهدات. (۲)

عوامل کاهش تنوع حیات در سطح جهان:

۱. عدم اگاهی در مورد انواع و ایکوسیستم ها.
۲. رشد روز افزون نفوس.
۳. عدم معلومات کافی در مورد اهمیت و ارزش تنوع حیات.

۴. عدم توانایی سیستم های اقتصادی در برآورد ارزش های اقتصادی تنوع حیات.
۵. جدایی توسعه اقتصادی و حفاظت تنوع حیات.
۶. اثر بازارها و سیستم های تجارتی بین المللی.
۷. فروپاشی سیستم های سنتی مدیریت منابع طبیعی.

عوامل افزایش دهنده تنوع حیات:

۱. تنوع منابع غذایی.
۲. تنوع محیط های فزیکی.
۳. دیگر گونی های کلی در محیط.
۴. تغیرات کوچک در شرایط محیطی مانند درجه حرارت و میزان بارندگی.
۵. موجودیت شرایط اقلیمی و توپوگرافی مختلف و متفاوت.

نتیجه گیری:

نتیجه مطالعات واضح نشان داده است که ارزش اقتصادی تنوع حیات (Biodiversity) و ایکوسیستم ها بسیار مهم و برجسته بوده، لیکن هنوز هم تشخیص این ارزشها به قدر کافی صورت نگرفته و در تصمیم گیریهای خصوصی و عامه بصورت مکمل منعکس نگردیده است. به خاطر کم ساختن تخریب ایکوسیستم ها، بطی ساختن ضایعات تنوع حیات، ارزش خدمات ایکوسیستم ها به سطح محلی، ملی و جهانی و در رابطه به مصارف مکمل تجدید و نگهداری آنها، معلومات بیشتر و دانش وسیعتر ضروری می باشد. با توجه به وابستگی بشر به محصولات زراعتی، دارویی و دیگر منابع حیاتی، انسانها بزرگترین بحران انقراض و تهدید را به ایکوسیستم ها و تنوع حیات ایجاد نموده اند و انقراض تنوع حیات تهدید جدی برای صحت و سلامتی انسانها محسوب می شود. در نتیجه رشد جمعیت، انکشاف اقتصادی و پیشرفت تکنالوجی فشار بر ایکوسیستم های طبیعی و منابع موجود در کره زمین افزایش یافته است؛ چنانچه از سال ۱۹۵۰الی ۱۹۹۷ استفاده از چوب ۳ برابر، مصرف کاغذ ۶ برابر، مصرف غله جات ۳ برابر، صید ماهی ۵ برابر و استفاده از مواد سوخت فسیلی به مقاصد مختلف در جهان افزایش یافته، که خود به خود آلوده گی های آب و هوا و گرمی کره زمین را به بار آورده است. (۵)

انواع نباتات و جانوران افغانستان، به عنوان یکی از مهمترین مراکز تنوع زیستی در جهان به شدت مورد تهدید قرار دارد؛ نتایج تحقیقات موسسات بین المللی مانند (UNEP) و (IUCN) نشان می دهد، که به طور تخمینی ۱۳۸ نوع حیوان و نبات افغانستان در خطر انقراض قرار دارد، که حدود ۴۸ نوع آن مشخص شده و به صورت رسمی به عنوان انواع در حال انقراض معرفی گردیده است. اگر چه وسایل و معلومات انکشاف یافته به دسترس انسانها قرار دارد، لیکن اندازه گیری دقیق تمام موجودات زنده به حیث یک مشکل عمده باقی مانده است. صریحاً می توان نتیجه گیری نمود که کاهش تنوع حیات، ایکوسیستم ها را ناپایدار نموده و روند انکشاف اقتصادی و اجتماعی را متاثر می سازد.

سفارشات:

۱. اولتر از همه باید اهمیت و ارزش حیاتی و اقتصادی تنوع زیستی برای مردم از طریق رسانه های جمعی توضیح و تشریح گردد.
۲. دایر نمودن کنفرانس ها، سیمینارها و ورکشاپ ها به ارتباط اهمیت ایکوسیستم ها و تنوع حیات.
۳. تخصیص منابع مالی بیشتر برای حفاظت و نگهداری منابع طبیعی و ایکوسیستم ها.
۴. طرح و تطبیق پالیسی های معقول غرض بهره برداری پایدار از همه منابع طبیعی.
۵. تربیه کادرها و متخصصین مسلکی در بخش حفاظت، نگهداری و مدیریت سالم ایکوسیستم ها و تنوع حیات.
۶. ایجاد هماهنگی بین موسسات و ارگان های حفظ محیط زیست غرض حفاظت و نگهداری بهتر ایکوسیستم ها.

Abstract:

Affects of Biodiversity on Economic and Human life, By Associate Professor Dr. Ghulam Nabi " Sayedi "

Introduction: Biological diversity or biodiversity - is a term we use to describe the variety of life on Earth. It refers to the wide variety of ecosystems and living organisms: animals, plants their habitats and their genes. Biodiversity is the foundation of the life on Earth .It is crucial for the functioning of ecosystems which provide us with products and services without which we couldn't live. Oxygen, food, fresh water, fertile soil, medicines, shelter, protection from storms and floods, stable climate and recreation - all have their sources in nature and healthy ecosystems. But biodiversity gives us much more than this. At the same time, no other feature of the Earth has been so dramatically influenced by man's activities. By changing biodiversity, we strongly affect human well-being and the well-being of every other living creature. Biodiversity is directly involved in water purification, recycling nutrients and providing fertile soils. Experiments with controlled environments have shown that humans cannot easily build ecosystems to support human needs. Biodiversity is everywhere. It occurs both on land and water, from high altitudes to deep ocean trenches and it includes all organisms, from microscopic bacteria to more complex plants. Although many tools and data sources have been developed, biodiversity remains difficult to measure precisely. According to the Millennium Ecosystem Assessment, the total numbers of species on Earth ranges from five to 30 million and only 1.7-2 million species have been formally identified. Unlike food and other products that we buy in supermarkets, many ecosystem services have no price tag attached to them. This means that the importance of biodiversity and natural processes in providing benefits to people is ignored by financial markets. If the full economic value of these services was taken in to account in decision-making, the degradation of ecosystem services could be significantly slowed down or even reversed.

ماخذها(References):

1.کرباسی، عبدالرضا. (۱۳۸۶) مدیریت استراتژیک در محیط زیست. تهران: کاوش قلم

2. Costanza Robert and others (1992) The value of the world's ecosystem services and natural capital .
3. Gabriel and Sigmar (2007- 03- 09) 30% of all species lost by 2050, BBC News.
4. Global Biodiversity Assessment (UNEP 1995), Annex 6, Retrieved 2006-04-26
5. Hassan Rashid, M. Robert (2006) Ecosystems and human well -being, current state and trands , Island press- P. 105
6. Koh L.P., Dunn R.R. , and others, (2004). Species Co extinctions and the Biodiversity Crisis .
7. Mooney H.A. and Cleland (2001) the evolutionary impact of invasive species
8. Richard E. , Leakey and Roger Lewin (1996). the sixth extinction biodiversity and its survival, pp (137-142).
9. Www. good planet . org. PPR Group Supporting the movies (HOME)
10. Www. google.com, About Biodiversity- how we can measure it.
11. www.google.com, Definition of (IUCN.

پوهندوی محمد يوسف (غفوري)
پوهـــــنمل محمـد اصـــــــف
طب پوهنځی- پتالوژي څـانګـه

د وينې پر لوړ فشار د روحي فشار اغېزو څېړنه

لنډيز:

په دې ليکنه کې د وينې پر لوړ فشار د روحي فشار اغېزې څېړل شوي دي. دا څېړنه د ۱۳۹۱-۱۰-۱ نه تر ۱۳۹۱-۱۱-۵ نېټې پورې د ننګرهار طب پوهنځي په روغتون کې په سلو ناروغانو چې۵۰ يې نارينه او ۵۰ يې ښځينه وو، د هغوی د عمر او دندې په نظر کې نيولو سره په مساويانه ډول ترسره کړه. په دې ناروغانو کې ۱۲ سلنه نارينه او ۸ سلنه ښځې وې، چې په جمعي ډول ۲۴ سلنه وو چې هايپرټينشن يې د روحي فشار له امله پيدا شوی و.

سريزه:

د وينې لوړ فشار يوه لويه ستونزه ده، چې زمونږ ګران هېوادوال ورسره مخامخ دي. دا ناروغي له عادي اعراضو [سردردی] سربېره پرمختللي اعراض او علايم رامنځته کوي، لکه په ککرۍ کې وينه بهېدنه، قلبي بې کفايتي، رونده والی او نور. مونږ د نوموړې ناروغۍ د پوهاوي په خاطر په خپله ليکنه کې د نوموړې ناروغۍ د تعريف، ډولونو، علتونو، پتالوژيکي پېښو، پتوجنيز، کلينيکي بڼې او اختلاطاتو باندې لنډه رڼا اچولې. د علتونو له جملې څخه مو په ځانګړي ډول د روحي فشار اغېزې د وينې پر فشار څېړلې. د ټولنې ځينې وګړي A نوعه شخصيت لري چې دا ډول خلک د لږ روحي فشار په مقابل کې زيات غبرګون ښايي، ډېر ژر په غوسه کېږي چې له امله يې د وينې لوړ فشار هم لوړ شي. څېړنه مو په خپلو کلنيکونو او د طب پوهنځي پر بستر ناروغانو کې د عمر، جنس، دندې او نورو اړونده ناروغيو په نظر کې نيولو سره د پوهنوال خليل احمد (بهسودوال) تر لارښوونې لاندې په سلو ناروغانو تر سره کړه چې۲۴سلنه ناروغانو روحي فشار د وينې د فشار لوړېدو يوازېنی عامل و.

موخې:

- د وينې پر لوړ فشار د روحي فشار د اغېزو څېړنه.
- د يادې ناروغۍ د لاملونو، اختلاطاتو، مخنيوي او درملنې په اړه د ګټورو معلوماتو برابرول.

د وينې لوړ فشار:

د وينې فشار هغه قوه ده چې وينه يې پر رګونو واردوي، خو د کلينيک له مخې د وينې لوړ فشار هغه حالت ته وايي چې کله د يوه عادي بالغ انسان د وينې فشار د هغه تر عادي فشار لوړ شي. هغوی چې۳۰-۲۰ کالو پورې عمر ولري، سستوليک فشار يې 120 mm Hg او دياستوليک 75 mmHg وي چې د عمر په زياتوالي سره دا انډول هم زياتېږي. کله چې د وينې فشار د 140/90 څخه پورته شي، هايپرتنشن ورته وايي، خو هغه لوړوالی چې لږ مهاله وي (د روحي فشار يا تمرين له امله) هايپرتنشن ورته نه ويل کېږي. (۱)

د وينې لوړ فشار زياتره د قلبي وعايي سيستم د معايناتو سره تړي، د معايناتو پر مهال دوه ډوله فشار ليدل کېږي:

1 - سيستوليک فشار چې د زړه د عضلې د بطنياتو د سستول پر وخت منځته راځي.

2 - دياسستوليک فشار چې د وړو شريانونو څخه د Heart beats ترمنځ پيدا کېږي. (۷)

د اتيولوژي له مخې د وينې لوړ فشار په دوه ډوله دی:

۱- لومړنی د وينې لوړ فشار، د کومو چې علت معلوم نه وي او ۹۵ سلنه تشکيلوي.

2- دويمی يا ثانوي د وينې لوړ فشار، کله چې د وينې فشار د ځينو ناروغيو لکه د کليوي ناروغيو ,Pheochromocytoma (Caushing's syndrome, Aldostorism)، عصبي ناخوالې او نورو له امله لوړ شي، Secondary Hypertension بلل کېږي. د لوړ فشار يو بل ډول ويشنه هم شوې چې عبارت ده له:

۱- BenignHypertenison (سيلم لوړ فشار)

۲- MalignantHypertenison (خبيث لوړ فشار). (۴)

د وينې فشار تنظيم:

د وينې فشار د درې فکتورونو په واسطه کنترولېږي:

۱- موضعي کنترول: د بدن انساج د ځان د پاينښت په خاطر د خپل تنظيم پروسه لري، په دې معنی کله چې انساج د هايپوکسيا او يا د ځينې موادو او عناصرو د ډب سره مخامخ شي، په اتوماتيک ډول په اوعيو کې پراختيا راشي چې له يوې خوا هايپوکسيا له منځه لاړه شي او هم ډب شوي زيانمن عناصر بهر وباسي، دا پېښه په التهاباتو کې هم د ځينې کېمياوي مېډيا تورو له امله منځته راځي.

۲- عصبي کنترول: سربېره په موضعي کنترول د وينې رګونه د اعصابو او هارمونونو تر کنترول لاندې هم دی، د مېډولا وازو موتور مرکز د سمپاتيک اعصابو له لارې کنترولېږي، دا تارونه د وينې عمومي رګونه تنګوي، خو د زړه او اسکليټي عضلې رګونه هغه وخت پراخه کوي، کله چې تمرين کېږي او يا هم د بدن د ميتابوليزم تقاضا زياته شي.

۳- هارموني کنترول: لاندې هارمونونه د وينې فشار د تنظيم لپاره اړين دي:

الف- Angiotensin: دا يو قوي اوعيو ته تنقبض ورکوونکی هارمون چې د جوړېدو لپاره يې Anigiotenstion (ACE) converting Enzyme ضروري دی، د هايپرتنشن زيات ناروغان د نوموړي انزايم پر منع کېدو تداوي کېږي.

ب- Aldosterone: دا مالګه پاتې کوونکی هارمون دی چې سوډيم ته احتباس ورکوي چې دا په خپل وار سره اوبه ايساروي چې په دې ډول فشار زياتوي.

ج- Antidiuritic Hormone (ADH): دا هارمون دوه کاره کوي، يو دا چې اوبه ايساروي او بل دا چې اوعيو ته تقبض ورکوي، تر څو فشار لوړ کړي.

د-Atrial Natriuretic peptide (ANP): دا د زړه په واسطه افرازېږي چې الدوسترون منع کړي، د پښتورګو څخه د سوډيم اطراح تشويقوي او اوعيو ته پراختيا ورکوي، پورته درې خواصه ددې لامل شي چې فشار راښکته کړي.

د ادرينال غده: دا غده دوه برخې لري، قشر چې ستروييدونه افرازوي او مېډولا چې د سمپاتيک تارونه تشويقوي، که تنبه شي Catacholamin افرازوي. سمپاتيک اعصاب د زړه د ضربان زياتېدو او قوت لامل ګرځي، د بدن د وينې رګونه راتنګوي چې له امله يې فشار لوړ شي، د سمپاتيک اعصابو تنبه او ادرينال د غدې په واسطه د هغوی د هارمونو زيات افراز ددې لامل وګرځي چې فشار لوړ کړي چې دا عمل په روحي فشار کې هم منځته راځي. (۵)

پتوجنيزس:

A- د وينې لومړنی لوړ فشار: ددې فشار د لوړوالی ميکانيزم تر اوسه پورې ښه څرګند نه دی، ځکه چې د Cathecolamines,Renine او د الډيسټرون په سويه کې هيڅ ثابت بدلونونه نه ليدل کېږي. اوس داسې تيوري ده چې د لومړني لوړ فشار په رامنځته کېدو کې ارثي عوامل ډېره اساسي ونډه لري. ځينې کسان په ارثي توګه ډېر سوډيم ترلاسه کوي، په پايله کې پښتورګي ددې قابليت نلري چې ټول اخستل شوی سوډيم اطراح کړي، نو په پايله کې د سوډيم ايسارېدنه رامنځته کېږي چې دا په خپل وار سره د دوراني سوډيم ايساروونکی فکتور زياتوي. يو له دغو فکتورونو څخه د Na, k - ATPASE د منع کېدو باعث ګرځي چې د داخل الحجروي کلسيم اندازه ورسره ډېره شي او د ملسا عضلاتو د تقبض سبب ګرځي چې په پايله کې د اوعيو تقبض رامنځته کېږي، نو ځکه د فشار د علاج په خاطر د کلسيم ضد دوا ورکول کېږي. (۳)

B- دويمي لوړ فشار: ددغه فشار په رامنځته کېدو کې دوه اساسي ميکانيزمونه ونډه لري:

I_ د سوديم احتباس چې له لاندې ميکانيزمونو په وسيله رامنځته کېږي:

a - د ګلوميرولو د فلتر کمښت: دا پېښه د پختورګو په ناروغيو لکه په نفراټيس او د پښتورګو په مزمنه بې کفايتۍ کې رامنځته کېږي.

b- د رينين ډېر افرازېدل: دا پېښه د پښتورګو په خبيثو آفاتو کې رامنځته کېږي چې بالاخره د رينين او الډوسټيرون د تنبه باعث ګرځي.

c- د mineralocorticoides ډېر افرازېدل: دا پېښه په Cushing's syndrome کې رامنځته کېږي، ځکه چې په دې سنډروم کې د کارټيسول سويه په پلازما کې ډېره شي چې په خپل وار سره د سوډيم جذب ډېروي.

d- د سوډيم ډېر اخستل او لږ اطراح:

دا پېښه د پښتورګو په مزمنه بې کفايتۍ کې منځته راځي چې له امله پښتورګي نشي کولای چې د Na عادي موازنه وساتي.

II_ د محيطي اوعيو د مقاومت زياتوالی: دا پېښه په فيوکروموسايتوما، روحي فشار، ايکلمپسيا او پری ايکلمپسيا کې رامنځته کېږي.

پتالوژي:

سره له دې چې د وينې لوړ فشار د بدن پر ګڼو غړيو بدې اغېزې لري چې ځينې يې ژوند ته ګواښ دی، خو بيا هم د اټيروما د جوړېدو سربېره د وينې په رګونو نورې بدې اغېزې هم لري، لکه د وينې لويو او متوسطو رګونو کې استحالوي تغيرات چې د ابهر د شلېدو او دماغي وينې بهېدنې چانس زياتوي. د وينې لوړ فشار د وينې په کوچنيو اوعيو کې دوه ډوله تغيرات منځته راوړي چې عبارت د هياليني ارټيرو سکايروز او هايپر پلاستيک ارټيروسکاروز څخه دي. په هياليني تغيراتو کې يوشانته خاسف هيبالني ډبلوالی او د رګونو تنګوالی منځته راځي، دا تغيرات په نارمل زړو او دياببت لرونکو خلکو کې هم وي. هايپر پلاستيک تغيرات په خبيث لوړ فشار لرونکو ناروغانو کې منځته راځي، په ځانګړي ډول هغوی چې د وينې دياستوليک فشار يې د ۱۲۰mmHg څخه لوړ وي. (۲)

کلينيکي نښې:

د لومړني لوړ فشار زياتره ناروغان د کلونو لپاره بې له اعراضو وي، خو هغوی چې اعراض لري عبارت د سردرد [چې د سهار لخوا ډېر او د ورځې په دوران کې له منځه ځي] ګنګسيت، د ديد خرابتيا، زړه بدوالی او کانګې [چې دا حالت په انيسفالوپاتي کې وي]. د مزمن لوړ فشار په حالت کې ناروغ د زړه د چپ بطن هايپر تروفي لري چې وروسته د زړه د اسکېمالامل هم ګرځي، که چېرې دماغ زيانمن کړي، د دماغي حملې، دوړو او متوسطو رګونو د ماتېدو او د وينې بهېدنې لامل ګرځي. (۲)

مواد او کړنلاره:

په دې څېړنه کې له جوړې شوې فورمې، د وينې د فشار د معلومولو الات، کمپيوتر، انترنيت، نوي او معتبر کتابونه، ديکشنري، نوې علمي مجلې او جدولونو څخه کار اخستل شوی، په دې توګه چې د ناروغ په خوښه مو د ناروغ لنډه تاريخچه اخستله او د فزيکي معايناتو په لړ کې مو د هغه فشار په يوه ځانګړې فورمه کې ليکه. د وينې فشار مو د طبي اصولو مطابق ليده او د ناروغ هراړخيزه معاينه به مو کوله. هغوی چې د وينې د فشار علت يې روحي فشار و، [24] سلنه وو چې [16] نارينه او [8] يې ښځينه وو. څېړنه د طب پوهنځي په روغتون کې په ۱۰۰ نارينه او ښځينه ناروغانو په مساويانه ډول وشوه. د ناروغانو څخه مو د هغوی د عمر، دندې او مزاج پوښتنې کولې او کوښښ مو دا و چې د نوموړې ستونزې علت پيداکړو. ناروغانو د وينې د لوړ فشار نښې درلودې، لکه د سردرد، غوسه کېدل او نور. زياتره ناروغانو کمزوری اقتصادي حالت، ژر غوسه کېدونکي، د کورنۍ او ټولنې محيطي ستونزې يې لرلې او په ناامنه سيمو کې اوسېدل او يا هم له مهاجرت تازه راستانه شوي وو، په دې معنی چې دوی ټولو د روحي فشار ستونزې لرلې.

پايله:

دا څېړنه مو په پخپلو کلنيکونو او د طب پوهنځي په روغتون کې د ۱۳۹۱-۱۰-۱ څخه ۵-۱۳۹۱-۱۱ نېټې پورې ترسره کړه چې د ناروغانو عمرونه او جنسيت پکې په بېلابېل ډول ارزول شوي دي. د پورتنيو فکتورونو په پام کې نيولو سره لاندې جدولونه ترتيب شوي دي:

لومړی جدول: د نارينه و او ښځو شمېره، د مثبتو پېښو شتون او فيصدي راښايي.

جنس	شمېره	مثبتې پېښې	فيصدي
نارينه	۵۰	۱۶	۳۲
ښځينه	۵۰	۸	۱۶
مجموعه	۱۰۰	۲۴	

لومړنی ګراف: په لومړني ګراف کې د وينې پر لوړ فشار د روحي فشار د اغېزو سنله ښودل شوې ده. د لومړني جدول له مخې جوتېږي چې د نوموړيو ناروغانو ۲۴ سلنه هغه وو چې د وينې پر لوړ فشار يې بد اغيز درلود.



دويم ګراف: د جنسيت په لحاظ د روحي فشار د اغېزو سلنه د وينې پر لوړ فشار ښايي. د لومړي جدول او دويم ګراف د هراړخيزې څېړنې وروسته جوته شوه چې په سلو کې ۱۲ سلنه نارينه او ۸ سلنه ښځينه ناروغانې شاملې دي.

دويم جدول: د عمر په لحاظ د نوموړې پېښې څېړنه راښايي.

عمرونه	مثبتې پېښې	فيصدي
۵۰ – ۴۰	۲	۲۵
۵۰-۲۰	۱۰	۴۱.۶۶
۷۰-۶۰	۸	۳۳.۳۴
	۲۴	



درېيم ګراف: د عمر په لحاظ د روحي فشار اغېزې د وينې پر لوړ فشار راښايي.
د دويم جدول او درېيم ګراف څخه معلومه شوه چې د ۴۰-۵۰ کلنۍ ناروغان ۲۵ سلنه، د ۵۰ - ۶۰ کلنۍ ناروغان ۴۱.۶۶ سلنه او د ۶۰-۷۰ کلنۍ ناروغان ۳۳.۳۴ سلنه وو.

مناقشه:

مونږ د خپلې څېړنې پايلې چې پکې د وينې پر فشار د روحي فشارونو اغېزې چې په نارينه و کې ۱۲ سلنه او ښځو کې ۸ سلنه وې، د پېښور د خيبر طبي کالج د څېړنې سره پرتله کړه چې د هغوی د څېړنې پايلې زمونږ د هغې سره ورته دي، دا ځکه چې د ننګرهار او د خيبر پښتونخوا د خلکو اقتصادي، ټولنيز، مذهبي، فرهنګي او په ټوله کې د ژوند سطحه سره يو ډول ده.

وړانديزونه:

د ټولنې ټولو وګړو ته وړانديز کوو چې د خپلو ورپېښو ستونزو په هکله پوره پوهاوی حاصل او هغه لاملونه له منځه يوسي چې د روحي فشار او بيا د هايپرتنشن لامل ګرځي.
له روغتيايي کارکوونکو هيله لرم چې د ټولنې د عاداتو او رواجونو په نظر کې نيولو سره ناروغ ته پوره پاملرنه وکړي، يوازې د دوا تجويز کول د ټولنې د وګړو ستونزې نه شي حل کولی، بلکې ستونزې هغه مهال حل کېدای شي چې علتونه يې له منځه لاړ شي.
روغتيايي کارکوونکو ته وړانديز کوو چې د وينې فشار د معلومولو پر مهال ځينې شرايط په پام کې ولري، مثلاً هغوی چې سګريټ يا قهوه وڅکي او يا هم په قهر وي، پکار ده چې نيم ساعت صبر ورته وکړئ، ترڅو ناروغ عادي حالت ته راشي او هم د وينې فشار د يوې درستې آلې په واسطه او په صحيح حالت وليدل شي.
د رسنيو له مسئولينو مو هيله داده چې په خپلو پروګرامونو کې نوموړې موضوع خلکو ته ورسوي، تر څو د نوموړي حالت مخنيوی وشي.
دولتي چارواکو، WHO، غير دولتي موسساتو ته وړانديز کوو چې د نوموړې ناروغۍ د يادشوي علت په هکله پوره مالومات خپاره کړي، تر څو خپل رسالت پوره او د ټولنې ستونزې راکمې شي.
څرنګه چې زموږ د پلټنې څخه معلومه شوه چې زمونږ په ټولنه د وينې د لوړ فشار [۲۴] سلنه ناروغان يوازې روحي فشار لري، نو د خپلې ټولنې ټولو وګړو ته وړانديز کوو چې اخته کسان او صحي کارکوونکي په ګډه نوموړې ستونزه حل او له منځه يوسي.
هغه وګړي چې A نوعه شخصيت ولري، وړانديز کوو چې د غيرعادي حالت په منځته راتګ سره بايد تحمل وکړي او له صبر نه کار واخلي، تر څو خپل بدن يې زيانمن نشي.

Abstract:

Hypertension is one of the common worldwide important health problems which have affected most of our people. If Hypertension is not controlled on right time of onset, it will bring out bad prognosis. Treatment of hypertension patients is an easy task if diagnosed on time.We have conductedstudy in Nangrahar Province from 1-10-1391 to 5-11-1391, we searched the effect of emotional stress on the hypertensive peoples in the relation of age, sex and occupation on 100 patients, among them 50 were male and 50 were female. The 16% of male and 8% of female were affected by emotional stress.

References:

1. Caral- Mattson, Pathophysiology , 5th edition, Lippinocott: pp 340-360
2. Kumkarcolran, Robbins, basic of pathological disease- 8th edition, 2008, Elserver, company pp 653-654
3. Marilum berg joseph,Toronto- notes 23th edition 2007 canada . pp 104-105
4. Mohon, Harsh , textbook of pathology, 2009 Jupee brothers pp 710-713
5. Nagi. A.H, Basic pathology, first edition 2012, Elsever company pp 310
6. Robben's textbook of medicine, 6th edition , 2010 pp 323
7. Saladin , Anatomy and physiology 8th edition, 2008 lange company 105
8. Stephen lowercan, Tierney, current medicine diagnosis and treatment 46th edition, 2012

پوهـــندوی مـــنګل (شـــبـــرزاد)
حقوقو او سیاسي عـلومو پوهنځـی
نړیوالـــــو اړیکـو څـــانګـــه

د تجاوز سیاسي او تاریخي شالید

لنډیز:
په دې لیکنه کې چې د (د تجاوز سیاسي او تاریخي شالید) تر سرلیک لاندې لیکل شوې، د تجاوز په اړه د ځینو هېوادونو نظریات، د تجاوز په اړوند د ملګرو ملتونو امنیت شورا صلاحیت، د تجاوز په اړوند د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې له خوا د ۳۵ کسیزې کمېټې تشکیل، د پخواني شوروي له خوا د نه تجاوز په اړوند یوه طرحه، د ملګرو ملتونو په عمومي غونډه کې د تجاوز تعریف، استعماري هېوادونو ته د نه تجاوز توصیه او په یو شمېر نورو مسایلو بحث او څېړنه شوې ده.

سریزه:
په نړۍ کې د ځینو استعماري هېوادونو د ناروا کړنو له امله یوه ډله هېوادونه له ستونزو سره تل لاس و ګرېوان دي، مادي او معنوي شتمنۍ یې د هغوی د ګټو قرباني شوي، سیاسي استقلال او ملي حاکمیت یې له لاسه ورکړی او نړیوال حیثیت یې صدمه لیدلې ده. د اتلسمې پېړۍ له پیل څخه د نولسمې پېړۍ تر پایه پورې انګلیس، پخوانۍ تزاري روسیې، پرتګال، هسپانیې او ایټالیا هېوادونو له لویدیځ څخه تر لرې ختیځ پورې د درېیمې نړۍ هېوادونه تر استعمار لاندې راوستي وو؛ همدارنګه د نولسمې پېړۍ له پیل څخه تر نن پورې پخواني شوروي او امریکا د یوې ډلې هېوادونو سیاسي استقلال او ملي حاکمیت تر خپل تسلط لاندې لري. پرون پخواني شوروي د نړیوالو قوانینو خلاف د منځنۍ اسیا د اسلامي هېوادونو او د افغانستان مستقل هېواد پر حریم بې شرمانه تجاوز وکړ، ولې نن د بشري حقوقو، ډیموکراسۍ پلوي او د ملګرو ملتونو د منشور امضاء کوونکي هېواد امریکا د هېوادونو ملي حاکمیت له سوال سره مخامخ کړی. د دې استعماري هېوادونو د تمې او حرص سترګې دومره وږې او د تجاوز لاسونه تر دې بریده اوږده شوي چې د نړیوال ناموس لمن یې ورڅېرې کړه چې د تجاوز بېلګې یې ډېرې دي. زه په دې بحث کې کوښښ کوم چې لومړی د تجاوز د تعریف په اړوند د نړیوالو سازمانونو او سیاستوالو نظریې توضیح کړم او وروسته به د تجاوز په ډولونو رڼا واچوم.

موخې:
د نړۍ د هېوادونو ترمنځ تل کړکېچونه رامنځته کېږي، د دې ستونزې یو لامل دا دی چې په نړیواله کچه د تجاوز لپاره داسې یو تعریف شتون نلري چې ټولو هېوادونو ته د منلو وړ وي. په همدې موخه مو (د تجاوز سیاسي او تاریخي شالید) عنوان وټاکه، ترڅو د تجاوز شکلونه د بېلابېلو علماوو او هېوادونو له نظره روښانه کړم چې استعماري هېوادونه په دې پوه شي چې د دوی هره کړنه د توجیه وړ نه ده؛ د فقیرو او یا نورو هېوادونو حریم ته زیان رسول تجاوز ګڼل کېږي، په هېڅ بهانه او پلمه د تجاوز آثار د ولسونو له سترګو او قضاوت څخه پټ نه پاتې کېږي.
د تجاوز په اړه د ځینو هېوادونو او د ملګرو ملتونو سازمان نظریات:
څه کم یوه پېړۍ کېږي چې د نړۍ هېوادونه په دې هڅه کې دي چې د تجاوز لپاره یو قانع کوونکی تعریف پیدا کړي چې ټول هېوادونه پرې یوې هوکړې ته ورسېږي. د ملګرو ملتونو په سازمان کې یوه ډله هېوادونه په دې اند دي چې آیا د تجاوز تعریف به څه ګټه ولري؟ همدارنګه نوموړي هېوادونه وایي چې د ملګرو ملتونو د منشور ۳۹، ۴۱ او ۴۲ مادو د حکم پر بنیاد د امنیت شورا صلاحیت لري چې هر هغه هېواد چې سولې او امنیت ته صدمه رسوي، هلته مداخله وکړي او د متجاوز دولت د تجاوز مخه ونیسي. له دې وړاندې وایي چې د امنیت شورا مداخله په دې پورې تړلې نه ده چې لومړی دې یو د تجاوز عمل رامنځته شي او بیا دې د دې عمل له رامنځته کېدو وروسته د تجاوز لپاره تعریف وشي؛ نه داسې نه ده، بلکې هر ډول حرکت یا عمل چې سولې ته زیان رسوي، هلته د امنیت شورا مداخلې ته ضرورت لیدل کېږي، نو دا به بې ګټې وي

چې ځان ته زحمت ورکړو او د تجاوز تعريف وکړو. پر دې سربېره د تجاوز تعريف کومه عملي ګټه نلري او دا هم معلومه نه ده چې د تجاوز تعريف به د راتلونکي احتمالي تجاوز مخه ونيسي او که نه؟ د دې امکان هم شته چې دغه تعريف به معکوس اثر ولري. (۱م۲۲)

له بلې خوا د سازمان ډېرى استازي په دې باور دي چې د تجاوز تعريف د نړيوالو حقوقو يو بنيادي او اساسي عامل ګڼل کېږي او په نړيواله ټولنه کې د نظم او ثبات د رامنځته کېدو لپاره ضروري دی. تر هغه بريده چې د ملګرو ملتونو سازمان د نړيوالو جزايي حقوقو د پرمختګ په اړوند څه ګامونه پورته کړي، د خپل عملي اقدام لپاره يې لومړى د تجاوز تعريف اساسي شرط ښودلی دی، نو موږ ويلای شو چې تر هر څه لومړى د تجاوز تعريف يو ضروري عمل دی. په هر حال په پای کې پر دې فيصله وشوه چې که تجاوز ته هر ډول تعريف کېږي، بايد د ملګرو ملتونو له منشور سره اړخ ولګوي او د امنيت شورا دايمي غړي پرې قانع او راضي وي او هم د ملګرو ملتونو د غړيو هېوادونو له خوا په اکثريت سره تاييد شي. بالاخره د پورته نظريو او بحث پايله دا شوه چې که د تجاوز او جګړې تحريم او د ټولنيز امنيت د سيستم رامنځته کېدو موضوع دومره د توجه وړ وي، نو بيا د تجاوز تعريف هم ضروري برېښي. همدا وه چې په کال ۱۹۲۷ ز کې د عمومي اسامبلې له خوا يوه ځانګړې کمېټه د ۳۵ هېوادونو له استازيو څخه جوړه شوه، تر څو د تجاوز تعريف وکړي. د کمېټې غړيو د تجاوز د تعريف اړوند بېلابېل نظرونه درلودل:

۱) پخواني شوروي يوه طرحه وړاندې کړه، دې طرحې د (نه تجاوز) تړونونو له تعريف څخه الهام اخيستی و چې شوروي په کال ۱۹۳۳ز کې له يوې ډلې هېوادونو سره لاسليک کړي وو.

۲) بله طرحه د شوروي طرحې ته ورته د ديارلسو لاندې هېوادونو (قبرس، کولمبيا، ايران، اکوادور، ګاناتوبا، هايي تي، ماواګاسکار، مکزيکو، اسپانيا، اوګانډا، ارواګويه او يوګوسلاويا) له خوا کمېټې ته وړاندې شوه.

۳) دريېمه طرحه د شپږو هېوادونو (انګلستان، امريکا، استرليا، کاناډا، ايټاليا او جاپان) له خوا وړاندې شوه. (۲م۳۸)

په پای کې د نوموړيو هېوادونو په نظرياتو کې نږدېوالی د دې لامل شو چې يو جوړجاړي ته لاره پرانيستل شي او کوم پرېکړه ليک چې د خاصې کمېټې له خوا وړانديز شوی و او د حقوقي کميسيون له خوا هم پرې هوکړه شوې وه، په ۱۴ د ډسمبر کال ۱۹۷۴ز کې بې له دې چې ټولپوښتنې ته وړاندې شي، ومنل شو. ياد شوی پرېکړه ليک يوه سريزه، يوه الحاقي سريزه، د تجاوز تعريف چې ۸ مادې لري، لرونکی دی. د سريزې په دريېمه برخه کې د (نړيوالو حقوقي اصولو اعلاميې) ته اشاره شوې ده چې د ملګرو ملتونو د منشور پر اساس د هېوادونو ترمنځ د مرستې او دوستۍ اړيکو جوړولو دنده پر غاړه لري. د يادونې وړ ده چې نوموړې اعلاميه د (نړيوالو حقوقي اصولو) د خاصې کمېټې له خوا د ۸ کلونو تحقيق او څېړنې څخه وروسته د ملګرو ملتونو په عمومي اسامبله کې د اکتوبر پر ۲۴مه کال ۱۹۷۰ز کې د رايو په غوڅ اکثريت تصويب شوه. همدارنګه په الحاقي سريزه کې ذکر شوي اصول هم تاييد شول او ترڅنګ يې د الحاقي سريزې په اتم بند کې د تجاوز د تعريف پر ضرورت او ګټو ترکيز شوی. د تجاوز په تعريف کې د مسلحانه تجاوز عناصر او د هغې د بېلابېلو شکلونو وړاندوينه شوې او په عين حال کې دې ټکي ته هم اشاره شوې چې د امنيت شورا د ملګرو ملتونو په منشور کې د درج شويو اصولو پر بنياد حق لري چې هر هغه عمل چې د تجاوز آثار په کې وليدل شي، د تجاوز تعريف ورته ورکړي. همدارنګه په نوموړيو اصولو کې لاندې ټکيو ته هم اشاره شوې:

اول: تجاوز بايد د سياسي، اقتصادي، نظامي، يا د نورو نيوکو او موخو له پلوه توجيه نه شي.

دويم: په دې هم تاکيد شوی چې تېرى کوونکې جګړه چې د نړيوالې سولې پر وړاندې يو جنايت دی، تر څنګ يې متجاوز هېواد د نړيوال متجاوز په حيث بايد هم وپېژندل شي. له بلې خوا د تجاوز د تعريف په موادو کې مستقيم تجاوز منعه دی، د همدې مادې د (ز) بند کې راغلي دي چې د مسلحو ډلګيو او ګروپونو لېږل هم تجاوز ګڼل کېږي، يا په بل عبارت غير مستقيم تجاوز د ملګرو ملتونو د منشور په ۵۱مه ماده کې هم تجاوز شمېرل شوی دی. (۳م۳۱)

د دې ټکي يادونه بايد وکړو چې په دغه وروستۍ خبرې په ځانګړې کميسيون کې د ځينو هېوادونو هوکړه موجوده نه وه. د نه تجاوز تړونونه چې په کال ۱۹۳۳ کې د شوروي او يوې ډلې هېوادونو ترمنځ شوي وو او د نوموړي تړون ګټو وړاندوينه په کې شوې وه؛ په دې مانا چې د تجاوز د تعريف د دريېمې مادې د (ز) بند په اړوند د شوروي او د ۱۳ هېوادونو د استازيو

ترمنځ پرې جوړجاړی شوی و. په عين حال کې د تجاوز د تعريف په وخت کې هغه هېوادونو ته چې د استعمار تر جغ لاندې ژوند کوي، دا حق ورکړل شوی چې د استعمار د سلطې او نژادي سياستونو پر وړاندې مبارزه وکړي، ځکه د دوی دغه حقوق د ملګرو ملتونو په منشور او د نړيوالو حقوقو د اصولو په اعلاميه کې راغلي چې ولسونه د آزادۍ او يو د بل سره د دوستانه اړيکو لرلو حق لري. دلته دې خبرې ته هم بايد اشاره وکړو چې د تجاوز تعريف په مکمل ډول د وړو هېوادونو غوښتنو ته ځواب نشي ويلای، د دې تر څنګ بې پرې هېوادونو په خپلو نظرياتو کې د تجاوز تعريف په ټول قدرت سره نه دی منلی، ځکه دوی وايي چې د مسلحانه تجاوز د تعريف تر څنګ د اقتصادي او نورو ډولونو د تجاوز څخه هم تعريف وشي. د نوموړيو هېوادونو استازيو پر دې هم ترکيز کاوه چې د هغو هېوادونو له حقوقو څخه پلوي وشي کوم چې دريابونو ته لار نلري. له اقتصادي پلوه د ساحل پر غاړه پراته هېوادونه چې ټولې بحري ګټې او شتمنۍ يې په لمن کې پرتې دي، د دغو دوه ډوله هېوادونو ترمنځ هم د تجاوز يو روښانه تعريف وشي، تر څو د بحرونو شريکې شتمنۍ د څو قوي هېوادونو له خوا چپاول نه شي. په هر حال يوه ډله په دې باور دي چې د تجاوز تعريف ته پوره بډاينه ورکړل شي، تر څو ټول اړخونه په خپل تعريف کې راونغاړي. په کال ۱۹۷۴ز کې د ډسمبر پر ۱۴مه نېټه ۹۸۹ګڼه فيصله د ډېرې هېوادونو له لخوا صادره شوه، نوموړې بې له رايې اخيستو څخه د دوی له خوا ومنل شوه. (۳م۲۴)

د ملګرو ملتونو عمومي غونډې کله چې د تجاوز د تعريف لپاره کومه خاصه کمېټه ټاکلې وه، په دې عقيده وه چې د تجاوز تعريف چې د خاصې کمېټې له خوا شوی، د نړيوالې سولې او امنيت سره به مرسته وکړای شي، د ملګرو ملتونو عمومي غونډې د خاصې کمېټې د کار په اړه لاندې ټکيو ته اشاره کړې ده:

۱) د تجاوز تعريف چې د قطعنامې له متن سره يوځای دی، تصويبوي.

۲) خاصې کمېټې چې د تجاوز د تعريف په اړوند کوم کوښښ کړی، ورڅخه مننه کوو.

۳) ټولو هېوادونو ته بلنه ورکوو چې له ټولو هغو کړنو څخه ځان وژغوري چې د تجاوز يا د هغه ډول قوې استعمال چې د ملګرو ملتونو د منشور او د بين المللي حقوقو د اصولو اعلاميې سره په ټکر کې وي.

۴) د امنيت شورا ته توصيه کېږي چې کوم تعريف چې د تجاوز په اړوند په لاندې کرښو کې ورته اشاره شوې، خاصه پاملرنه دې ورته ولري.

د تجاوز تعريف:

د ملګرو ملتونو عمومي غونډه:

د دې واقعيت په نظر کې نيولو سره چې ملګري ملتونه د نړيوالې سولې او امنيت او همدارنګه د تجاوز او د سولې پر وړاندې د تهديدونو د مخنيوي دنده پر غاړه لري، د دې ترڅنګ چې دا خبره هم په ډاګه وي چې د ملګرو ملتونو د امنيت شورا د منشور د ۳۹مې مادې په حکم دنده لري چې هر ډول تهديد چې سولې ته خطر وي يا د سولې ماتول وي يا د تجاوز عمل وي، تشخيص کړي او د منشور د ۴۱ او ۴۲ مادو په ملاتړ داسې لارې چارې ولټوي چې نړيوالې سولې او امنيت ته صدمه ونه رسېږي او يا داسې جدي تصميم ونيسي چې نوموړي خطرونه په کلي ډول له منځه لاړ شي. پر دې علاوه د نړۍ هېوادونو ته دا هم په ګوته کړي چې خپل نړيوال مسايل د ملګرو ملتونو د منشور د حکم مطابق په مسالمت امېز ډول حل کړي، تر څو نړيوال عدالت، سوله او امنيت له خطر سره مخ نشي. (۵م۱۱)

دې خبرې ته هم پاملرنه وشي چې د تجاوز د تعريف داسې تفسير ونه شي چې د منشور صلاحيتونه محدود يا پرې اغېزه وکړي. دا يو ډانګېپيلی حقيقت دی چې تجاوز يو جدي او خطرناک عمل دی چې په کې په غير مشروع ډول د قوې له استعمال څخه کار اخيستل کېږي. د دې عمل څېره هغه وخت ښه بربنډه کېږي چې د جمعي تبا کوونکو وسلو څخه کار واخيستل شي چې بيا يو نړيوال مصيبت رامنځته کړي، نو له دې امله په همدې مرحله کې بايد د تجاوز تعريف وشي. يو ځل بيا يادونه کوو چې د هېوادونو دا دنده ده چې هغه ډول قوې يا وسلې څخه کار وانخلي چې د ولسونو د خودمختارۍ، آزادۍ او استقلال او يا د هغوی ځمکنۍ بشپړتيا ته صدمه ورسوي. په دې ټکي هم ترکيز وشي چې د هېڅ يو هېواد په جغرافيوي حدودو تجاوز ونشي، يا د نظامي اشغال لاندې راشي، که اشغال موقت وي يا دايمي، يا داسې عمل چې د زور په واسطه د ملګرو ملتونو د منشور له خوا تهديد يا تسخير وګڼل شي. د نړيوالو حقوقو اصولو اعلاميه چې د هېوادونو د

ښو اړيکو او دوستانه ژوند په اړوند توصيه کوي چې دا غوښتنې د ملګرو ملتونو په منشور کې هم د هېوادونو ترمنځ د مرستو او دوستۍ تر عنوان لاندې ذکر شوي دي. موږ پر دې باور يو چې د تجاوز د تعريف په تصويب سره بايد په جدي ډول د تجاوز له عمل څخه مخنيوی وشي او څوک چې د تجاوز قرباني شوی، هغه ته د مرستو رسولو اسانتياوې برابرې شي. له بلې خوا د تجاوز عمل د حالاتو او ظروفو او خاصو شرايطو پر بناء څېړل کېږي، خو تر څنګ يې دا ډېره مهمه ده چې هغه اساسي اصول چې د تجاوز د تشخيص د لارښود تر عنوان لاندې راځي، بايد درست تنظيم شي؛ په کومه برخه کې يې چې لاندې تعريف منلی دی:

لومړۍ ماده: تجاوز د هغه مسلح قوت څخه عبارت دی چې يو هېواد يې د بل هېواد د حاکميت، ځمکنۍ بشپړتيا او سياسي استقلال پر وړاندې استعمال کړي يا د يو بل ډول وسيلې څخه کار واخيستل شي چې د ملګرو ملتونو د منشور د نوموړې تعريف سره په ټکر کې نه وي.

دويمه ماده: هر وخت چې يو هېواد د بل هېواد پر وړاندې لومړی له مسلح قوت څخه د منشور پر خلاف استفاده وکړي، دا عمل بې له شکه د تجاوز عمل ګڼل کېږي. په دې صورت کې د امنيت شورا د منشور د حکم مطابق دې پايلې ته رسېږي چې متجاوز هېواد د تجاوز عمل مرتکب شوی، اګر چې د نوموړي مسلحانه قوت شدت کم يا زيات وي. (۲م۲۲)، (۷م۱۷)

دې نکتې ته هم بايد توجه وشي چې تجاوز يو ډېر خطرناک، جدي او غيرمشروع عمل دی چې د قهريه قوې د استعمال په صورت کې چې د ډله ييزو وژنو وسلو څخه په کې استفاده کېږي، طبيعي ده چې يو نړيوال مصيبت او ناورين رامنځته کوي، نو همدا دليل دی چې په داسې حالت کې بايد د تجاوز تعريف وشي. همدارنګه بايد په تکرار سره هېوادونه دې نکتې ته متوجه کړو چې هېڅ يو هېواد دا حق نلري چې د قهريه قوې په استعمال سره د نورو هېوادونو استقلال او ځمکنۍ بشپړتيا ته صدمه ورسوي او هغوی د خپل حق څخه محروم کړي. (۸م۳۷)

همدارنګه هېڅ هېواد حق نلري چې بل هېواد د نظامي اشغال په واسطه په موقت يا دايمي ډول تر تجاوز لاندې راولي. د دې لپاره چې د تجاوز تعريف تصويب شي، تر څو د تجاوز له عمل څخه مخنيوی وشي، تجاوز ډوله عمل تشخيص شي چې مخکې له مخکې د تجاوز عمل ته توقف ورکړي او تر څنګ يې د تجاوز عمل قرباني شوي اشخاص د خپلو قانوني حقوقو څخه برخمن شي. دلته د يوې خبرې روښانه کول په کار دي، هغه دا چې د تجاوز واقع کېدل په خاصو حالاتو کې د خاصو شرايطو پر بناء بايد وڅېړل شي؛ نو په دې صورت کې لازمه ده چې اساسي اصول داسې تنظيم شي چې د تجاوز تشخيص په کې په روښانه ټکو کې وليدل شي، په دې هکله لاندې تعريف ته اشاره کولای شو:

۱ماده: تجاوز د مسلحې قوې د استعمال څخه عبارت دی چې د يو بل هېواد د حاکميت، د خاورې تماميت يا د سياسي استقلال پر وړاندې يا په بله طريقه چې د ملګرو ملتونو د منشور د موادو خلاف وي.

۲ماده: هر کله چې يو هېواد د داسې قوت څخه استفاده وکړي چې د منشور د حکم سره په ټکر کې وي، نو دې عمل ته تجاوز ويل کېږي.

۳ماده: لاندې کړنې که يو هېواد ته د جګړې اعلان شوی يا نه وي شوی، د تجاوز عمل ګڼل کېږي:

الف: د يو هېواد له خوا د بل هېواد پر خاوره مسلح يرغل يا حمله يا هر ډول نظامي اشغال چې د نوموړي عمليې په واسطه که موقتي يا د اشغال شوي هېواد خاوره په ځان پورې تړل وي يا د نوموړي هېواد د خاورې يوه برخه د قهريه قوې په واسطه په زور سره نيول شوې وي، دا عمل تجاوز ګڼل کېږي.

ب: د يو هېواد له خوا د بل هېواد خاوره د مسلح قوتونو په واسطه بمبار کول، که د هر ډول سلاحګانو څخه استفاده شوې وي، تجاوز بلل کېږي.

ج: د يو هېواد له خوا د بل هېواد بندرونه او سرحدي پولې محاصره کول د تجاوز عمل دی.

د: که چېرته د A دولت د B دولت ته د يوې موافقتنامې پر اساس داسې اجازه ورکړي چې د B دولت مسلح قوتونه دې د A دولت په خاوره کې حضور ولري، که د B دولت د تړون د موادو خلاف د معين وخت څخه زيات د A دولت په خاوره کې پاتې کېږي، دا هم تجاوز ګڼل کېږي.

ز: د مسلحو ګروپونو يا ډلو يا د غير منظمو قوتونو يا د ملېشو يا د يو دولت عسکر چې په بل دولت کې د درېيم هېواد پر وړاندې داسې عمل وکړي چې د ملګرو ملتونو د منشور سره په ټکر کې وي، دا ډول ټولې کړنې د تجاوز عمل ګڼل کېږي.
۴ ماده: د امنيت شورا پورته ذکر شوې کړنې يوازې تجاوز نه ګڼي، ځکه کېدای شي چې د امنيت شورا د ملګرو ملتونو د منشور پر اساس يو تعداد نور اعمال هم تجاوز ډوله کړنې وبولي.
۵ماده: هېڅ ډول عمل د کيفيت له پلوه که سياسي وي يا اقتصادي يا نظامي چې د تجاوز عناصر په کې وليدل شي، ورته مشروع توجيه ورکول جواز نه لري. هره هغه جګړه چې د تجاوز مفهوم په کې موجود وي، يو جنايت دی چې هدف په کې د خاورې اشغال وي يا د يو بل ډول امتياز محوه کول وي چې د تجاوز عمل په واسطه لاسته ورغلی وي، قانوني اړخ نه لري.
۶ماده: د تجاوز په تعريف کې په هېڅ صورت داسې يو ټکی تعريف نشي چې په هغه کې د زور مفهوم نغښتی وي او ورته قانوني جنبه ورکړل شي.
۷ماده: د تجاوز په تعريف کې په خاص ډول په ۳ مه ماده کې داسې ټکي ته اشاره ونه شي چې د ولسونو استقلال او حاکميت ته صدمه ورسېږي، يا د نړيوالو حقوقو د اصولو په اعلاميه کې چې کوم حق ولسونو ته ورکړل شوی، هغه تر پښو لاندې شي؛ ځکه د منشور مواد هم دا حکم کوي چې د ولسونو ترمنځ ښې اړيکې او دوستۍ وجود ولري، د استعمار لاندې نه وي، د نژاد پرستو رژيمونو او خارجي تسلط څخه خلاص وي.
۸ماده: پورته ذکر شوي مقررات او موادو تفسير يو د بل سره اړيکې لري، هره ماده چې تفسير کېږي د نورو موادو روح او متن بايد په نظر کې ونيول شي. (۹م۴۴)، (۱۰م۱۲)

پايله:

د هېوادونو ترمنځ د ښو اړيکو او راشې- درشې په اړوند نړيوال او دوديز قوانين شتون لري چې په کې د هر عمل پر وړاندې حدود او معيارونه ټاکل شوي دي. همدارنګه تر څنګ يې نور اصول او روايات هم وجود لري چې له فردي کړنو څخه نيولې ان تر نړيوالو کړنو لپاره لارې چارې ښودل شوي دي. که د نړۍ ټول هېوادونه په رښتيا سره د نوموړو اصولو احترام وکړي، نو جوته خبره ده چې نړيوال به د سولې او وروری په فضاء کې سره ژوند وکړي، مګر د افسوس خبره ده چې يو تعداد پانګوال هېوادونه د خپلو استعماري موخو لپاره غريب هېوادونه ارام ژوندانه ته نه پرېږدي او په بېلابېلو بهانو سره د نوموړو هېوادونو شتمني لوټي. زما په اند ترڅو چې په نړيواله کچه د هېوادونو ترمنځ د نظامي او اقتصادي قواوو ترمنځ بيلانس رامنځته نشي، استعماري قوتونه د نظامي قدرت او زور په واسطه خپلو کړنو ته متوجه نه کړای شي، تر هغې به غريب هېوادونه د دوی د مداخلې او تجاوز څخه په امن کې پاتې نه شي؛ ځکه د ملګرو ملتونو سازمان هم کوم (فوق مللي) سازمان نه دی چې د متجاوز دولت د تجاوز مخه دې په پوره جرئت سره ونيسي، اګر چې ملګري ملتونه د دې صلاحيت لري چې په پوره قوت سره د متجاوز هېواد د تجاوز مخه ونيسي، مګر دا کار په هغه صورت کې کېدای شي چې د ملګرو ملتونو غړي هېوادونه د امريکا د نظامي، اقتصادي او سياسي تسلط لاندې نه وي، خو په اخر کې ويلای شو چې په نړۍ کې غريب هېوادونه سره يو موټی شي او د زورواکو هېوادونو د تجاوز لاسونه ورلنډ کړي، هله به بيا په استقلال او امن کې ژوند وکړي او که نه تل به د استعماري هېوادونو د ګټو او موخو قرباني کېږي.

وړانديزونه:

نن ورځ نړۍ په اقتصادي او سياسي بحران کې راګيره ده، د شخصي موخو په خاطر د يوې ډلې هېوادونو شتمني استعماري هېوادونو د تجاوز او تېري له لارې تالا والا کړې، د دې شومو اهدافو لپاره يې خپل بچيان او د بې ګناه ولسونو بچيان په وينو کې ولمبول، دا رسوايي تر دې بريده ورسېده چې ډېری هېوادونه د اقتصادي افلاس سره مخامخ شول. زه په دې هکله خپل وړانديزونه په لاندې ټکيو کې رالنډوم:

۱) د نړۍ شتمن هېوادونه د اتوم او ذروي او بيالوژيکي وسلو د جوړولو پر ځای د خپلو ولسونو صحي، معنوي او اقتصادي حالت ښه کولو ته پاملرنه وکړي.
۲) د دښمنۍ، مداخلو او تجاوز په عوض دې د هېوادونو ترمنځ د دوستۍ او ښې راکړې ورکړې لارې غوره کړي.
۳) نړيوال کړکېچونه او مخالفتونه بايد د مذاکرو له لارې چې د ملګو ملتونو منشور ورته اشاره کړې وي، حل کړي.

Abstracts:

Military Invasion- To conclude, following points summarize the above article:

1. Perspectives and standpoint of the countries regarding military invasion.
2. Military invasion and United Nations Security Council (UNSC) powers.
3. Establishment of 35-member commission by United Nations General Assembly (UNGA) regarding military invasion.
4. USSR proposal to stop military intervention.
5. Defining military intervention in UNGA.
6. Recommendations to colonizing powers on no-intervention Above points and concepts are discussed in details and from various aspect in above article.

اخځليکونه:

۱- اژند، يعقوب. (۱۳۶۵). قيام سربداران. امير کبير. تهران
۲- انتونوا، ک، بونگاردلوينگ. (۱۳۶۱). تاريخ نوين هند، ژباړه: پرويز علوی. تهران: نشر بين الملل
۳- آتسپوزيتو، وينسنت. (۱۳۴۶). هنر جنگ- مجموعه مقالات. ايران: وزارت امورخارجه
۴- سقفی، عامری. (۱۳۵۶). ابتکار دفاع ستراتيژيک امريکا با جنگ ستارگان. تهران
۵- شايرر، ويليام. (۱۳۵۵). ظهور و سقوط رايش سوم- ژباړه: ابوطالب صارمی. تهران
۶- رئيسی، نصرالله (۱۳۶۴). فرهنگ مصور اکسفورد. تهران
۷- علی بابای، غلام رضا. (۱۳۶۹). فرهنگ علوم سياسی. تهران/ علی بابای، غلام رضا. ترمينولوژی، جنگ، انقلاب و کودتا. تهران
۸- جناب، محمدعلی. (۱۳۷۶). نفوذ بيگانگان و رويداد های سياسی ۱۸۷۵-۱۹۰۰. تهران
۹- الهی، همايون. (۱۳۸۳). شناخت ماهيت عملکرد امپرياليسم. تهران: نشر قومس
۱۰- فرهنگی، باباک. (۱۳۸۱). ستراتيژی امنيت ملی امريکا در قرن ۲۱. تهران: انتشارات ابرار معاصر.

پوهندوی گل اضغر (الوزی)
ښوونې او روزنې پوهنځی
کېمیا څانگه

د ملامين (Melamine) صنعتي کارونه

لنډيز:

ملامين ديوې کېمياوي مادې نوم دی چې ترای ازيني (Triazine) جوړښت لري، څرنگه چې د ترای ازين حلقه پاينښت لرونکې ده او د هايدروجن شپږ اتومونه لري چې دغه اتومونه له نورو گروپونو سره تعويض کېدای شي چې په دې صورت کې ددې مادې زيات مشتقات ورڅخه په لاس راځي. نن ورځ په صنعت کې له ملامين څخه په زياتو مواردو کې لکه پلاستيک جوړولو، سطحي پوښښ، کاغذ جوړولو او د نساجي پروسو د بشپړېدو لپاره ورڅخه گټه اخستل کېږي.

سريزه:

ملامين د يوې زړه راښکونکې مادې نوم دی چې په اوسني صنعت کې پراخه استعمال لري، په دې ليکنه کې هڅه شوې چې ددې مادې کېمياوي جوړښت، خواص، د کارونې ساحې معرفي شي، لکه د پلاستيک جوړونې صنعت کې ملامين فارم الديهايد سره څو ځله تراکمي تعامل کوي او پوليمير جوړوي، کوره يې او پوښښي رنگونه جوړوي چې الکيدامين لرونکي وي او د تودوخې په مقابل کې مقاومت لري؛ په نساجي کې د اليافو سره د ملامين رزين زياتوي چې دغه الياف د ورستېدو څخه ساتي، د ملامين- فارم الديهايد رزين د ملامين له مهمو مشتقاتو څخه شمېرل کېږي چې د لوښو په جوړولو کې کارول کېږي، په کورونو کې چې د پلسکو (Plasco) په نوم لوښي کاروو، همدغه ډول کېمياوي ترکيب لري. په معمولي توگه خو ملامين غذايي موادو سره نه اخستل کېږي، ولې که چېرې دغه ماده واخستل شي، نو بدن ته يې په ضررونو هم رڼا اچول شوې ده. هيله لرم چې دا ليکنه به د لوستونکو لپاره گټوره تمامه شي.

موخې:

د يوې مهمې کېمياوي مادې په حيث د ملامين پېژندل.
د ملامين صنعتي کارونې پېژندل.
پر بدن ددغې کېمياوي مادې د اغېزو پېژندل.

د ملامين پېژندنه:

ملامين د 6,4,2 ترای امينو 5,3,1 ترای ازيد کېمياوي مرکب معمولي نوم دی، دغه ماده د سياناید يو ترای مير دی چې 66% کتله يې نايتروجن تشکيل کړې ده. دغه ترکيب د لومړي ځل په 1834 کال کې د يو الماني پوه وان ليوبيگ (Von Liobig) په وسيله تهيه شو، ولې سل کلونه وخت يې ونيوه چې د پاملرنې وړ وگرځي. په 1934م کال کې د سياناماید شرکت ملامين په تجارتي بڼه له دای سيان دای امايد يا ديسي (dicy) څخه په لاس راوړ، کله چې ديسي ته د اوبو شتون څخه پرته د امونيا او متانول په شتون کې تودوخه ورکړل شوه، ملامين ورڅخه په لاس راغی. (۲م۱)



دای سیان دای امايد ملامين

ولې له ۱۹۲۰ کال څخه وروسته ددې مادې د توليد لپاره يوريا په کاريوړل شوه، په داسې ډول چې ملامين په لاس راشي، نو فارم الديهايد سره يې متراکم کوي، تر څو حرارتي سخت رزين(*Hard resin*) په لاس راشي چې رزينونه په صنعت کې پراخه استعمال لري.



د پولميرونو زياتره تعاملات د داسې موادو د توليد لامل ګرځي چې په صنعت کې پراخه استعمال لري، د پولميرونو تعامل په منځ کې د کوچنيو کتلو لرونکي نور مواد هم تشکيلېږي، په داسې ډول چې د پولمير په عنصري ترکيب يا د پولمير په جوړښت کې تغير راځي چې تراکمي يا مرحله يي پولميرايزيشن ورته وايي. ملامين په اسيدي محلول کې له فارم الديهايد سره څو ځله تراکمي تعامل کوي او د تعامل شرايطو ته په کتو کولی شي، يو بعدي يا څو بعدي پولمير جوړ کړي. (۱م۲۷)

د ملامين د رزين تهيه کول:

ددې رزين د تهيه کولو لپاره له ملامين او فارم الديهايد څخه چې 91% خالصوالی لري، يا فرمالين څخه ګټه اخلي. د PH تنظيم لپاره $8 - 7,5$ پورې د سوديم هايدرواکسايد 10% محلول د تعامل په محيط علاوه کېږي، د تعامل د مخلوط له سړولو څخه وروسته پرې د متانول محلول زياتوي چې د ملامين د هر يو ماليکول لپاره د متانول ۱۰ ماليکوله شتون ولري. بيا د محيط PH څلورو ته رسوي، وروسته د يو ساعت لپاره د الکايليشن د رفلکس تعامل ادامه پيداکوي، په اخره کې محلول خنثی کوي او اضافي متانول د فشار په کمولو سره د بخار په ډول له محيط څخه خارجوي. هغه محلول چې د شيرې په ډول لاسته راځي، صافوي او اوبه ورڅخه خارجوي. څرنګه چې دغه محصول په اوبو کې منحل دی چې د اوبو شتون د پولمير له پرمختګ څخه مخنيوی کوي، په لاس راغلي مخلوط باندې ګليسرين زياتوي او تودوخه ورکوي، ترڅو يو کلک مخلوط تشکيل شي؛ وروسته د رزين نازکه قطبي برخه جلا کوي، په دې جريان کې فارم الديهايد په اسانۍ سره له شته اميني عامل سره چې ملامين يې لري، په تعامل کې داخلېدلی شي او مخلوط ترکيبونه د دای، ترای، تترا، پنتا، هګزا متايلول ملامين Methilol Melamin، الديهايد هم ورڅخه په لاس راځي. ددې ترکيباتو تعاملات يو

د بل سره د فارم الديهايد له خارجېدو سره مل وي، په دې مرحله کې متليني او ايتري پولونه د ملامين د واحدونو په منځ کې تشکيلېږي او شبکه يې جوړښت لرونکی رزين چې د ويلي کېدو وړتيا نلري او منحل هم نده، په لاس راځي. ددې پولمير د بلورونو د رشد سرعت زيات دی او د ماليکولونو اندازه بايد کنترول شي، ځکه د اندازې په تغير سره د موادو خواص هم تغير کوي. د تودوخې په زياتوالي سره په اسيدي PH کې يو بعدي پولمير په درې بعدي پولمير بدلېدای شي، که چېرې 20% کابولين پرې زيات شي، فرميکا ورځخه په لاس راځي چې پراخه استعمال لري چې په خلا او لوړ فشار کې پرس کېږي.



(د متايلول ملامين جوړښت)

که چېرې د ۳۰-۴۰ فيصده پورې کلسيم کاربونيټ $CaCO_3$ پر درې بعدي پولمير علاوه کړو، داسې مواد ورځخه تشکيلېږي چې ژر اور نه اخلي. ددې موادو قيمت نسبت فرميکا ته کم دی، ولې ميکانيکي وړتيا يې زياته ده، په خاصه توګه برقي کيلي ګانې له همدې ځخه جوړېږي.

ملامين او رنګ:

هغه پوښښونه چې د هغوی د وچولو لپاره د کورې له تودوخې ځخه ګټه اخستل کېږي، د کوره يي رنګونو په نوم شهرت لري. دغه پوښښونه معمولاً د يوې طبقه بندۍ په صورت کې ورځخه ګټه اخستل کېږي او نه يوازې د ښکلا لپاره، بلکې د محافظت لپاره هم استعمالېږي، د بېلګې په ډول د موټرونو په جوړولو، فلزي صنايعو، د کورونو د وسايلو په تهيه کولو لکه يخچال، کولر، کورني لوازم او نورو کې له دغو پوښښونو ځخه ګټه اخستل کېږي. کوره يي رنګونه د اوبو په پاکوونکو موادو او معمولي کېمياوي موادو په مقابل کې معمولاً ښه مقاومت لري. د الکيدامين د رنګونو په فورمول بندۍ کې معمولاً د يوريا د دوه رزينه او ملامين د ترکيب ځخه ګټه اخلي چې نازکه طبقه ورځخه په لاس راشي. هغه کوره يي رنګونه چې د الکيدامين لرونکي وي، کولای شي چې د $190^{o}C$ ځخه لوړه تودوخه تحمل کړي. دا پوکسي استر رزينونه او د ملامين رزينونه د يوريا او د فارم الديهايد سره ترکيب کېږي، خاص کوريي پوښښونه ورځخه په لاس راځي چې د المونيم، اوسپنې او کالو انيزه شوو فلزاتو په مخ په ښه ډول نښلي. (۴م۳۴)

ملامين او نساجي:

د رزين ملامين- فارم الديهايد د نساجي په عمليو کې د بشپړېدو اصلي مادې په ډول کارول کېږي، دغه رزين د اوبه پرېښودلو د خواصو په خاطر په وړيو باندې علاوه کوي او همدارنګه پنبې او ريون باندې په علاوه کولو سره هغوی ته پايښت ورکوي. د سلولوزي پارچو ارتجاعي خاصيت زياتوي او هغه لباسونه چې دغه ماده ولري، تر ډېره وخته په کراتو وينځل کېدای شي او د ملامين رزينونه د پنبې په الياف ورزياتوي چې د ورستېدو په مقابل کې مقاومت ورکوي. (۲م۵۱)

ملامين او سلېښ:

سلېښ د څو اجزاوو يو مخلوط دی چې د هر جز شتون د سلېښ په خواصو اغېز کوي، نو د توليد شوي سلېښ هر يو کېمياوي او فزيکي خاصو کارونو ته مناسب ګرځوي. د رزين ملامين په ښه ډول په سلولوزي موادو لکه لرګيو، کاغذ سره چسپېږي او د سلېښونو په تهيه کولو او د لرګيو په صنعت کې کارول کېږي. دغه ډول سلېښونه چې رزينونه لري، د هغو سلېښونو څخه چې يوريا لري، زيات قيمت لري؛ نو ددغو سلېښونو څخه يوازې په هغو مواردو کې ګټه اخستل کېږي چې د اوبو په مقابل کې پايښت لري. يو ډول ملامين لرونکی سلېښ چې د بادام يا چارمغزو د واړه شوي پوستکي څخه هم په کې ګټه اخلي او د ډکوونکو موادو په ډول ورڅخه ګټه اخلي، دغه ډول رزين په اوبو کې لامبو وهي، د يو تراکمي تعامل په جريان کې د تودوخې په کارولو سره دا ډول پخول صورت نيسي او دغې پروسې ته د سرعت ورکولو او د پخولو لپاره او هم د وخت کمولو لپاره کولی شو د سلېښو په مخلوط باندې يو کتالست هم علاوه شي. په رزين ملامين باندې د رزين يوريا په علاوه کولو سره کولای شو د يوريا ملامين سلېښ ترلاسه کړو چې دغه سلېښ د لرګي د ټوټو په چسپولو کې چې د ګرمو اوبو په مقابل کې مقاومت لري، مناسب دی، ددې مقدار مقاومت د ملامين په فيصدۍ پورې اړوند دي چې په مخلوط کې شتون لري. (۳م۵۰)

ملامين او د خوړو لوښي:

د خوړو لوښو جوړولو لپاره هم له ملامين څخه کار اخستل کېږي، زياتره کورونو کې کاسې، غوري، قابونه هم د ملامين مشتقاتو څخه جوړ شوي چې مونږ يې د پلسکو *plasco* په نوم پېژنو چې د ميلامين- فارم الديهايد رزين دی، کوم چې د تودوخې په مقابل کې مقاوم دي، ولې ددې لوښو استعمال مخالفين هم لري. اګر چې تراوسه ددې لوښو سرطاني خواص نه دي پېژندل شوي، ولې په دې هکله څېړنې روانې دي، خو داسې ويل کېږي چې په غذايي موادو کې ددې مادې شتون بايد جدي ونيول شي. ملامين کولای شي د مثانې تيګه توليد کړي، که چېرې ملامين د سيانوريک اسيد سره ترکيب شي، داسې بلورونه جوړوي چې د پښتورګو په تيګو بدلېدای شي او د پښتورګو نازک نلونه بندولی شي. له څېړنو معلومه شوې چې د حيواناتو په غذا کې ددې موادو شتون د سرطان د پيداکېدو لامل کېږي، ولې دغه ډول اغېزې په انسانانو کې تراوسه مشاهده شوې نه دي. (۷م۸)

د ملامين د لوښو ځلا د ښه کولو لپاره د ګليزر له پوښ(*Glazer sheet*) څخه ګټه اخستل کېږي، ځينې وخت ددې ډول لوښو پوښ په ښه ډول صورت نه نيسي چې پس له يو څه وخت څخه وروسته پوښ له منځه ځي او د پوښ څخه لاندې برخه د غذايي موادو سره تماس پيدا کوي، دغه مواد له غذايي موادو سره تعامل کوي چې زيان لرونکي ترکيبات توليدوي. همدارنګه ددې لوښو په سطح کې د سوريو پيدا کېدل د ميکروبونو د ودې لپاره مناسب ځای جوړوي چې د غذايي موادو د خرابېدو باعث ګرځي، نو ځکه بايد د ملامين مسموميت ته پاملرنه وشي، ځکه دغه نښانې کېدای شي په ادرار کې د وينې په شتون، د ادرار قطع کېدل، د پښتورګو عفونت او لوړ فشار ته لار هواره کړي. د امريکا وترنرانو د لابراتواري ناروغيو پېژندونکو اتحاديې (American Association of Veterinary Laboratory Diagnosticians) په يوې سروې کې څرګنده شوې چې کله پښتورګو کې ملامين له سيانوريک اسيد سره يوځای شي، نو په پښتورګو کې د تيګو جوړېدو لامل ګرځي. (۷م۱۲۲)

په ۲۰۰۷م کال کې د غنمو او پروتين په ګلوتين (*gluten*) کې د ملامين شتون د چين د هېواد په صادرو شوو وريجو کې چې د حيواناتو د غذا په توليد کې په کار وړل شوې وه، کشف شو. تر اوسه په څو ډوله وچو شېدو او يو ډول قهوه کې د ملامين شتون مشاهده شوی. د چين مالدارانو او عمده فروشانو به په خپلو شيدو باندې ملامين زياتوه، ترڅو د شيدو پروتين غني شي، په ۲۰۰۸م کال کې دغو شيدو له څښلو څخه ۳۰۰ ماشومان ناروغان شول چې له دې جملې څخه ۶ تنه مړه هم شول چې دا کار بيا د څېړنو څخه وروسته په چين کې څرګند شو. (۲م۱)

په واقعيت کې د سويس څېړونکو د ملامين شتون په سريع ډول په مايعاتو کې کشف کړ، ددې روش په اساس په ۳۰ دقيقو کې د ملامين شتون په مايعاتو کې معلومېدای شي. په اوسني وخت کې پوهانو د کتلوي طيف پېژندنې(*Mass spectroscopy*) له روش څخه په ګټه اخستلو ددې ازمايښت وخت نور هم کم کړی دی.(۵م۱)

نړيوال روغتيايي سازمان *(WHO)* د ملامين مقدار د هر کيلوګرام د انسان بدن لپاره 0,2 ملي ګرامه ټاکلی چې بدن يې تحمل کولای شي، په داسې حال کې که يو کس ۵۰ کيلوګرامه وزن ولري، نو ۱۰ ملي ګرامه ملامين يې بدن تحمل کولای شي او دا تاکيد شوی چې دغه صنعتي ماده بايد په غذا کې شتون ونلري. (۵م۲)

پايله:

ملامين د 6,4,2 ترای امينو 5,3,1 ترای ازيد کېمياوي مرکب نوم دی چې د سيانايديو ترای مير هم ورته ويلی شو چې په اوسني صنعت کې پراخه استعمال لري. ملامين په اسيدي او القلي متفاوتو محيطونو کې له فارم الديهايد سره يوځای کوي چې د پلاستيک جوړښتي پولميرونه ورڅخه په لاس راځي. د رزين په تهيه کولو کې هم ملامين يوځای کوي او مهم محصولات ورڅخه په لاس راځي، لکه متايلول ملامين او فرميکا؛ ملامين د کوره يي رنګونو په جوړولو کې چې د تودوخې مقابل کې مقاومت لري، په کار وړل کېږي. د نساجي په عمليه کې د پاکوونکې مادې په حيث په کار وړل کېږي، د سلېښ په جوړولو کې چې ښه د چسپ وړتيا ولري، هم کارول کېږي. د غذايي لوښو په جوړولو کې هم د ملامين له مشتقاتو څخه ګټه اخستل کېږي، خو که غذايي موادو سره يوځای بدن ته داخل شي، نو ضرر هم لري.

سپارښتنې:

۱. له ملامين څخه په جوړو شوو لوښو کې بايد ډېر ګرم خواړه وانچول شي، ځکه شونې ده چې خوړو سره په يوځای کېدو بدن ته خطر پېښ کړي.
۲. د نورم او ستندرد اداره او د عامې روغتيا وزارت بايد هغه غذايي مواد په خاصه توګه شيدې چې هېواد ته وارد ېږي، کنترول کړي چې ملامين ونلري.
۳. د ملامين په هکله دې زياتې څېړنې سرته ورسېږي، تر څو ددې مادې خواص او اثرات څرګند شي.

Abstract:

Melamine is the name of a chemical compound having triazine structure, As the ring of triazine has stability and has six atoms of hydrogens, these atoms react with other species to form the derivatives of melamine, Nowdays melamine is widely used in industries in manufacturing of plastic, paper,colors, textiles, and deshes. Recent Researches shows that melamine is harmful if it entered to the human body.

اخځليکونه:

۱. جی،ای، بريد سن. (۱۳۸۷). مواد پلاستيکی، ترجمه: حسين اميديان- جلد دوم. انتشارات صنعتی شريف
۲. سياه کلاه، محمد علی. (۱۳۸۳). مقاله رزين ملامين-فارم الديهايد. نشريه صنايع نساجی ايران
۳. عبدی حسين، اسکويی؛ حسينی حسين. (۱۳۸۲). شيمی الی ۲. تهران: دانشگاه الزهرا
۴. تهرانی، الهام امينی. (۲۰۰۹). رشد اموزش شيمی. تهران: دفتر انتشارات کمک اموزشی

1. Lara Endreszl (10 December 2008). "Safe Melamine Levels Named by World Health Organization". Health News.
2. Neergaard, Lauran.12 Feb 2011 "Study Examines Why Most Survived China's Melamine Scare". Food Manufacturing News. Food Manufacturing.
3. Reimschuessel R et al. 2008, Evaluation of the renal effects of experimental melamine feeding ,American Journal of veterinary research
4. Weise, Elizabeth (5 August 2007). "Poison pet food woes seem to hit cats harder". USA Today.

پوهـــندوی سمـيع الله (حـيـات)
پوهندوی ناصرخـــان (کامـــوال)
طب پوهنځی- کوچنيانو څانګه

په تبه لرونکو کوچنيانو کې د ايبوبروفين او پاراستامول د اغېزو څېـــړنه

لنډيز:

دا څېړنه په Prospective ډول د طب پوهنځي روغتون د کوچنيانو په څانګه کې په ۲۰۰ تنو تبه لرونکو کوچنيانو ترسره شوې. په دې څېړنه کې ټول ناروغان په درېو ګروپونو ويشل شوي، لومړي ګروپ ته يوازې ايبو بروفين د خولې له لارې ورکړل شوي، دويم ګروپ ته ايبو بروفين او پاراستامول او درېيم ګروپ ته د درملنې په پيل کې ايبوبروفين او دوه ساعته وروسته پاراستامول ورکړل شوي دي. په ټولو ګروپونو کې د ناروغانو د تخرګ د تودوخې درجه (۴,۲ او ۲) ساعته وروسته اندازه شوې چې په لومړي ګروپ کې د ناروغ د تخرګ تودوخې درجه (۴,۲ او ۲) ساعته وروسته په منځنۍ توګه په ترتيب سره (۰،۸ ,۰،۴ ,۰،۳) درجه د سانتي ګرېد راښکته شوې وه؛ په دويم ګروپ کې په منځنۍ توګه د ناروغ تخرګ د تودوخې درجه په ترتيب سره (۰،۹ ,۰،۸ ,۰،۵) درجې او په درېم ګروپ کې په منځنۍ توګه د بدن د تودوخې درجه په ترتيب سره (۰،۲ ,۰،۳ او ۰،۷) درجه د سانتي ګرېد راښکته شوې وه.

سريزه:

تبه د کوچنيانو د روغتيايي ستونزو له سترو او معمولو لاملونو څخه شمېرل کېږي چې په روغتون کې د بستر شوو عاجلو ناروغانو زياتې پېښې جوړوي. تبه په ټولنه کې د ټولو اوسېدونکو (روغتياپالو او غير روغتياپالو) د پاملرنې وړ وي چې د نړۍ د يو زيات شمېر ميندو د روحي ستونزو لامل ګرځېدلی چې له امله يې ميندې په ټيټه تبه او د تبې په نه موجوديت کې هم د تبې ضد درمل کاروي. دا ناروغي په هغو سيمو کې چې اقتصادي او روغتيايي کچه يې ټيټه وي، ډېره ليدل کېږي چې له بده مرغه افغانستان هم د نوموړو فکتورونو لرونکی دی. د تبې تشخيص په پرمختللو هېوادونو کې هم يو ستونزمن کار دی چې د پرمختللو تشخيصه وسايلو سره په (۲۵٪) پېښو کې نه تشخيصېږي. همدارنګه (۴۰٪-۲۵) ماشومان د نامعلومو تبو له امله خپل خوږ ژوند له لاسه ورکوي؛ که چېرې د تبې په درملنه کې د اساسي درملو ترڅنګ د تبې ضد درمل په سمه توګه استعمال شي، ښايي تر زياتې کچې د تبې اختلاطات راکم کړي او هم به ورسره په ټولنه کې د مړينې کچه راټيټه شي. که چېرې تبه لرونکي ماشومان په سمه توګه تداوي نشي، د مختلفو اختلاطاتو لکه تبه لرونکی اختلاج، شاک، کوما، ديهايدريشن، د پښتورګو عدم کفايه او کېدای شي چې د مړينې لامل وګرځي. دا چې په ختيز زون کې تر اوسه په دې هکله کومه څېړنه نه ده تر سره شوې، نو ځکه يې زه دې ته وهڅولم تر څو دغه څېړنه ترسره کړم. د څېړنې د دوسيو راټولول، ترتيب او تنظيم پوهندوی ناصرخان (کاموال) او طبي ادبيات، نتيجې او مناقشې برخه يې د پوهندوی سميع الله (حيات) لخوا بشپړه شوې ده.

موخې:

- په تبه لرونکو کوچنيانو کې د بروفين او پاراستامول د اغېزو څېړل.
- په اړونده موضوع کې روغتيايي کارکوونکو او د مسلک مينه والو ته د ګټورو معلوماتو برابرول.

طبي ادبياتو ته کتنه:

په بدن کې د نارمل درجې څخه د تودوخې د درجې لوړوالي ته تبه وايي. (۱،۲،۵)

د ماشومانو د بدن د مقعد برخې د تودوخې نارمله اندازه (8,37 - 1,36) درجه د سانتي ګراد يا (۹۷–۱۰۰) درجې د فارنهايت پورې ده. په ماشومانو کې د تودوخې درجه د بدن په مختلفو برخو لکه خوله، تخرګ، مقعد، غوږ او د temporal شريان د پاسه اندازه کېږي چې تر ټولو حساسه برخه يې د مقعد څخه عبارت ده. که چېرې د ماشومانو د مقعد د تودوخې درجه د (۳۸) درجه د سانتي ګراد يا (۱۰۰،۴) درجه د فارنهايت څخه لوړه شي، د تبې په نامه يادېږي. د ۵-۴ کلن څخه کم عمره ماشومانو کې د تخرګ د تودوخې درجه هم د بدن د تودوخې د اندازه کولو لپاره په کار وړل کېږي، د تخرګ د تودوخې درجه د مقعد د تودوخې د درجې په نسبت (۱-۰،۵) درجه د سانتي ګرید ټيټه وي. د (۵-۴) کلن څخه زيات عمر لرونکو ماشومانو کې د بدن د تودوخې اندازه کولو مناسب ځای د خولې څخه عبارت دی. تبه د مختلفو لاملونو لکه ميکروبونه، واکسين، بيولوژيک مواد، د نسجونو تخريب، سرطانونه، درمل، (ايمونولوژيکي، ګرانولوماتوز، ميتابوليک او جنيتيک ناروغۍ) او کورنۍ مديترانه يي تبو څخه عبارت دي.

پورتني ټول لاملونه په بدن کې د endogenous pyrogens لکه interleukin 1-6 ,TNF , interferon beta and alpha او lipid mediators لکه prostaglandin E2 توليد زياتوي چې په هايپوتلاموس کې د تودوخې مرکز تنبيه او د بدن د تودوخې د لوړولو لامل ګرځي. د لمر وهلو په پېښو کې د بدن تودوخه زياته او يا د تودوخې ضايع کېدل پرته له دې چې هايپوتلاموس په کې برخه واخلي، منځته راځي. (۲،۳،۸،۹)

تبه يوه کلنيکي نښه ده چې د مختلفو ناروغيو په سير کې منځته راځي چې د لامل موندل يې په تشخيص او درملنه کې د ارزښت وړ دي. تبه د دوام له نظره په دوو ډولونو (اوږده او لنډه) ويشل شوې ده؛ که چېرې د تبې درجه ډېره لوړه وي، نو heat illneses ته بايد فکر وشي. د تبې وصف د لامل په موندلو کې ډېر د ارزښت وړ نه دی، متقطع تبه په ملاريا، biphasic تبه په dengue fever او leptosporosis او periodic تبه په cyclic neutropenia، pharyngitis، , aphtous ulcer adenopathy او hyper immunoglobulin syndrom کې ليدل کېږي. څرنګه چې تبه يوه کلنيکي نښه ده، نو د ناروغۍ درملنه يې اړينه ده، که چېرې تبه په ښه ډول درملنه نه شي، د مختلفو اختلاطاتو لکه تبه لرونکی اختلاج، شاک، کوما، ديهايدريشن، د پښتورګو عدم کفايه، cardio pulmonary stress لامل به وګرځي. د تبې درملنه بايد په لاندنيو ماشومانو کې په چټکۍ ترسره شي:

د تبه لرونکي اختلاج پخوانۍ او يا کورنۍ تاريخچې شتون، شديد ناروغ، تبه لرونکی اختلاج، اوبو او الکتروليتونو انډول خرابوالی، د تودوخې درجې لوړوالی د ۴۰ درجه د سانتي ګرید څخه او cardio pulmonary failure. د ماشومانو د تبې په درملنه کې دوه د تبې ضد درمل استعمالېږي چې د paracetamol او Ibuprofen څخه عبارت دي؛ د تبې ضد نور درمل لکه aspirin، nimesulid او mefenamic acid د زياتو جانبي عوارضو د لرلو له امله نه استعمالېږي. Paracetamol د ماشومانو په تبه کې 15mg / kg هر څلور ساعته وروسته او Ibuprofen د تبې د درملنې لپاره 10mg / kg هر شپږ ساعته وروسته ورکول کېږي. د تبې د درجې په ټيټولو کې د بروفين او پاراستامول اغېزې يو ډول دي، د بروفين اغېزې ۶ ساعته او د پاراستامول ۴ ساعته دي، مګر د بروفين بدې اغېزې (د پښتورګو عدم کفايه او د هضمي سيستم وينه بهېدنه) نسبت پاراستامول ته ډېرې دي. (۴،۲، ۷، ۸)

مواد او کړنلاره:

په څېړنه کې د راجستر کتاب، تاريخچې پاڼې، تله، بروفين، پاراستامول شربتونه او ترمامېتر څخه کار اخستل شوی دی، دا څېړنه په prospective ډول د ۱۲/ ۱/ ۹۱ ۱۳ څخه تر ۱۲/ ۵ / ۱۳۹۱نېټې پورې د طب پوهنځي روغتون کوچنيانو په څانګه کې ترسره شوې ده. هغه کوچنيان چې په نوموړې څانګه د مختلفو ناروغيو لپاره بستر او تبه يې لرله، مونږ تر څېړنې لاندې نيولي دي، په دې ډول چې لومړی مو هغوی ته دوسيه واچوله چې پکې د ناروغ بشپړه پېژندنه (نوم، پلار نوم، د اوسېدلو ځای، عمر، وزن، جنس) ليکل شوی دی. د استوګنې له پلوه د ۲۰۰ تنه ناروغانو له ډلې (۱۵۰ تنه- ۷۵٪) يې د ننګرهار (۴۰ تنه-۲۰٪) يې د لغمان او (۱۰تنه- ۵٪) يې د کونړونو اوسېدونکي وو.

۱جدول: د استوګنې د ځای له نظره په ناروغۍ اخته ناروغانو شمېر او فيصدي راښيي.

شمېره	استوګنځی	ناروغانو شمېره	فيصدي
۱	ننګرهار	۱۵۰	٪۷۵
۲	لغمان	۴۰	٪۲۰
۳	کونړ	۱۰	٪۵

د جنس له نظره د دوه سوه ناروغانو له ډلې څخه (۱۳۰تنه- ۲۵٪) يې هلکان او (۷۰ تنه- ۳۵٪) يې نجونې وې. ۲جدول: د جنس له نظره په تبه اخته نو زيږېدلو کوچنيانو شمېر او فيصدي راښيي.

ګڼه	جنس	کوچنيانو شمېر	فيصدي
۱	هلکان	۱۳۰	٪۲۵
۲	نجونې	۷۰	٪۳۵

د عمر له نظره په (۲۰۰) تبه اخته نو زيږېدلو کوچنيانو کې د (۱۴۰تنو-۷۰٪) عمر د دريو کلونو څخه ښکته او د (۶۰) تنو (۳۰٪) عمر د ۳ کلنۍ څخه پورته و.

۳جدول: د عمر له نظره په تبه اخته کوچنيانو شمېر او فيصدي راښيي.

ګڼه	عمر (کال)	کوچنيانو شمېر	فيصدي
۱	۳ کلنۍ څخه ښکته	۱۴۰	۷۰٪
۲	۳ کلنۍ څخه پورته	۶۰	۳۰٪

د (۲۰۰) ناروغو کوچنيانو څخه (۱۰۰) تنه (۵۰٪) يې په حاده نس ناسته (۳۰) تنه (۱۵٪) يې په نومونيا (۳۰) تنه (۱۵٪) يې په febril fit او (۲۲) تنه (۱۱٪) يې په ملاريا او (۱۸) تنه (۹٪) يې په نامعلومو تبو اخته وو.

۴جدول: د وزن له نظره په تبه اخته کوچنيانو شمېر او فيصدي راښيي.

ګڼه	ناروغي	د کوچنيانو شمېر	فيصدي
۱	حاده نس ناسته	۱۰۰	٪۵۰
۲	نمونيا	۳۰	٪۱۵
۳	تبه لرونکی اختلاج	۳۰	٪۱۵
۴	ملاريا	۲۲	٪۱۱
۵	نامعلومې تبې	۱۸	٪۹

کله چې ماشومان د مختلفو ناروغيو له امله د کوچنيانو په څانګه کې بستر شوي وي، نو د بستر شوو ماشومانو له ډلې څخه يې (۲۰۰) تبه لرونکي ماشومان په لاندې درېو کټګوريو کې تر څېړنې لاندې نيول شوي وو: لومړي ګروپ ۷۰ تنو (٪۳۵) ته ايبوبروفين 10 mg/kg د خولې له لارې ورکړل شوي، د دويم ګروپ (۶۰) تنو (٪۳۵) ته مو ايبوبروفين 10 mg/kg او پاراستامول 15 mg/kg يوځای د خولې لارې ورکړل، او دريم ګروپ ته چې (۶۰) تنه (٪۳۰) وو، ايبوبروفين او دوه ساعت وروسته پاراستامول په پورتني يادې شوې اندازې ورکړل؛ د ناروغ د تخرګ تودوخې درجه مو د درملو د ورکړې څخه وړاندې او د درملو څخه ۲، ۴ او ۶ ساعته وروسته د ترمامیتر په واسطه اندازه او په ځانګړي جدول کې د وروستيو پايلو لپاره ثبت کړې دي.

پايله:

لومړي ګروپ ته چې(۷۰) تنه (٪۳۵) وو ، بروفين تطبيق شوي چې په منځنۍ توګه هر ۲ , ۴ او ۶ ساعته وروسته يې په ترتيب سره تبه (۰،۳ , ۰،۴ , ۰،۸) درجه د سانتي ګريد راښکته شوې وه. په دويم ګروپ کې (۷۰) تنه (٪۳۵) شامل وو چې د درملنې په پيل کې ورته بروفين او پاراستامول يو ځای ورکړل شوي و چې۲ , ۴ , او ۶ ساعته وروسته په منځنۍ توګه د ناروغ د تخرګ تودوخې درجه په ترتيب سره (۰،۵ , ۰،۸ , ۰،۹) درجې راښکته شوې وه. په دريم ګروپ کې (۲۰) تنه (٪۳۰) تبه لرونکي ماشومان شامل وو چې لومړی ورته بروفين او (۲) ساعته وروسته پاراستامول ورکړل شوي دي او د دوی د بدن د تودوخې درجه (۲ , ۴ او۶) ساعته وروسته په ترتيب سره (۰،۲ ، ۰،۳ او ۰،۷) درجه د سانتي ګريد راښکته شوې وه.

۵جدول: د تبه لرونکو ناروغانو په مختلفو ګروپونو او وختونو کې د تودوخې درجې ټيټوالی راښيي.

شمېره	د درملو نومونه	د ناروغانو شمېر	فيصدي	د تودوخې درجې ټيټوالی		
				۲ ساعته وروسته	۴ ساعته وروسته	۶ ساعته وروسته
۱	ايبوبروفين	۷۰	٪۳۵	۰،۳	۰،۲	۰،۸
۲	ايبوبروفين او پاراستامول يو ځای	۷۰	٪۳۵	۰،۵	۰،۹	۱،۸
۳	ايبوبروفين او وروسته پاراستامول	۲۰	٪۳۰	۰،۵	۰،۷	۱،۲

مناقشه:

د هغې څېړنې له مخې چې زمونږ لخوا د طب پوهنځي روغتون د کوچنيانو په څانګه کې په (۲۰۰) تبه لرونکو ناروغانو ترسره شوې او هغه څېړنه چې په کال 2010 ميلادي کې د امريکا د penn state college په پوهنتون کې د paul او ملګرو لخوا يې تر سره شوې، په لاندې ډول پرتله کوو:

۱- زمونږ په څېړنه کې يوازې د ايبوبروفين د تطبيق څخه وروسته په (۲،۴،۶) ساعتونو په منځنۍ توګه د تبې لرونکو ناروغانو د تخرګ د تودوخې درجه په ترتيب سره (۰،۳ ,۰،۶ او ۰،۸) درجه د سانتي ګراد په کچه د تودوخې درجه راښکته شوې وه، خو د paul په څېړنه کې د ناروغ د تخرګ د تودوخې درجه له درملنې څخه(۲ ، ۴ ، ۶) ساعته وروسته په ترتيب سره (۰،۴ , ۰،۸ او ۰،۹) راښکته شوې وه.

۲- زمونږ په څېړنه کې د درملنې په پيل کې د ايبوبروفين او پاراستامول يوځای استعمال څخه (۲ ، ۴ ، ۶) ساعته وروسته په ترتيب سره (۰،۵ , ۰،۸ , ۰،۹) درجې د سانتي ګريد د تخرګ تودوخې درجه راښکته کړې چې دا کچه د paul په څېړنه کې هر (۲ ، ۴ ، ۶) ساعته وروسته په تريب سره (۰،۷ , ۱ او ۲) درجه د سانتي ګريد راښکته شوې وه.

۳- زمونږ په څېړنه کې د درملنې پيل سره ايبوبروفين او ۲ ساعته وروسته پاراستامول د ورکړې څخه په (۲ ، ۴ ، ۶) ساعتونو کې د تخرګ د تودوخې درجه په منځنۍ توګه په ترتيب سره (۰،۳ , ۰،۷ او ۱،۲) درجه د سانتي ګريد راښکته شوې وه چې دا کچه د paul په څېړنه کې هر (۲ ، ۴ ، ۶) ساعت وروسته په ترتيب سره (۰،۳ ,۰،۷ او۱،۰) درجه د سانتي ګريد راښکته شوې وه.

۶جدول: د پاول په څېړنه کې د تبه لرونکو ناروغانو په مختلفو ګروپونو او وختونو کې د تودوخې درجې ټيټوالی راښيي.

شمېره	د درملو نومونه	د ناروغانو شمېر	سلنه	د تودوخې درجې ټيټوالی		
				۲ ساعته وروسته	۴ ساعته وروسته	۶ ساعته وروسته
۱	ايبوبروفين	۷۰	۳۵٪	۰،۳	۰،۲	۰،۸
۲	ايبوبروفين او پاراستامول يوځای	۷۰	۳۵٪	۰،۵	۰،۹	۱،۸
۳	ايبوبروفين او وروسته پاراستامول	۶۰	۳۰٪	۰،۳	۰،۷	۱،۲

۷جدول: زمونږ په څېړنه کې د تبه لرونکو ناروغانو په مختلفو ګروپونو او وختونو کې د تودوخې درجې ټيټوالی راښيي.

شمېره	د درملو نومونه	د ناروغانو شمېر	فيصدي	د تودوخې درجې ټيټوالی		
				۲ ساعته وروسته	۴ ساعته وروسته	۶ ساعته وروسته
۱	ايبوبروفين	۷۰	۳۵٪	۰،۳	۰،۲	۰،۸
۲	ايبوبروفين او پاراستامول يوځای	۷۰	۳۵٪	۰،۵	۰،۹	۱،۸
۳	ايبوبروفين او وروسته پاراستامول	۶۰	۳۰٪	۰،۵	۰،۷	۱،۲

دا چې زمونږ په څېړنه کې د paul د څېړنې په پرتله د تودوخې درجه په درېو ګروپونو کې (۰،۱ څخه تر ۰،۸) درجه لږه راښکته شوې چې زما په اند لاملونه يې په لاندې ډول دي:

۱- په ختيزه سيمه کې د محيط د تودوخې د درجې لوړوالی.

۲- د درملو د کيفيت خرابوالی.

۳- په روغتون کې د ناروغانو په کوټو کې د يخوونکو سامان الاتو لکه کولر او ايرکنډيشن نشتوالی.

وړانديزونه:

۱- ټول طبي کارکوونکي دې د تبې په لوړو درجو کې ايبوبروفين د پاراستامول سره يوځای استعمال کړي.

۲- د بې ځايه درملو د استعمال څخه دې ډډه وشي.

۳- د تبې د درملو ترڅنګ د ناروغۍ د سببي لامل په موندلو او درملنه کې دې پوره هڅه وشي.

Abstract:

It is a prospective study conducted at pediatric unit of university hospital. All the patient admitted at pediatric unit and had fever were come under my investigation. Auxiliary temperature of all patients was recorded 2, 4 and 6 hourly. All the patients are categorized in three groups , for first group we have given Ibuprofen for 2nd group Ibuprofen and paracetamol together at the start of treatment and for 3rd group Ibuprofen at the start of treatment and after 2 hour paracetamol. In all three groups auxiliary temperature have been recorded 2, 4 and 6 hourly. In 1st group an average temperature decreased (0, 3- o, 4 and 0,8) degree of centigrade accordingly. In 2nd group an

average temperature decreased (0,5- o,8 and 0,9) degree of centigrade accordingly. In 3rd group an average temperature decreased (0,2- o,3 and 0,7) degree of centigrade accordingly. At the end it is recommended that Ibuprofen and paracetamol together at the start of treatment is better than Ibuprofen and Ibuprofen and paracetamol 2 hourly apart.

References:

1- Ghai op, vinod k Paul, Arymd Bugg (2009), Essesntial pedatries 7th ed New Delhi Bangal ere CBs publishers and Distributors pvt LTD, ch: 9 pp: 181- 184.

2 - Gupte Surage (2004) , The Short Text Book of Pediatrics, 10th ed, News Delhi Jaypee brothers, ch: 2 pp: 177- 180

3- KLIBG MAN, BRHRMRN, JRNSON, STANTON (2011): Nelson Text Book Of Pediatrics: 19th ed Vol-I, Sounder Company, USA, ch:169 pp: 896-902.

4- Hay w, William et all (2011): Current Pediatric Diagnosis and Treatment: 20th ed. USA large medical book, ch: 37 pp: 1089-1101.

5- parthasarathy A et all (2006) , IAP Textbook of Pediatrics: 3rd ed New Delhi Jay pee brothers, ch: 8 pp: 293-302

6-Paul AM , Rechad H, Kelen A,(2010), Efecacy Of Ibu prufen And Paracetamol In Treatment Of Fever, USA, www. Pebmed.org/NCBI.

7- Rudolph AM, Hoffman JIE, Rudolph CD (1996): RUDOLPHS PEDIATRIC: 20th ed , USA paul sagan , ch:8 pp: 521-527

8- Singh Mehraban (2004), Care Of The Newborn: 6th ed new Delhi, sagar publications, ch: 16 pp: 209-217.

9- Singh Mehraban (2007), Medical Emergencies In Children: 4th ed New Delhi, sagar publications, ch: 21pp: 297-315

پوهندوی حمـيدالله (يار)
سـاينس پوهـنځـی
رياضي او فـزيک څانګـه

د يـوې ډاټا مرکـزي ميلان پيدا کول

لنډيز:
لکه څنګه چې د رياضي د احصايې په برخه کې د احصايوي معلوماتو د راټولولو په لړۍ کې د مرکزي موقعيت ارقام د اوسطونو (وسطونو) په پيدا کولو، په خاص ډول د حسابي اوسط څخه په استفاده لاسته راوړل کېږي، نو دې هدف ته د رسېدو په منظور لازم دي چې د مطلب په لاسته راوړلو او محاسبه کولو کې دې ته ځير شو، ترڅو مو د محاسبې نتايج تر ډېره حده پايلې ته نږدې شي. ددې نماينده قيمت د محاسبه کولو لپاره مونږ يوازې حسابي اوسط او د هغې مختلف ميتودونه د مطلب د لاسته راوړلو په خاطر په وضاحت رسوو.

سريزه:
په عمومي ډول د رياضياتو په علم کې په خاص ډول د احصايې په برخه کې بايد په دې پوه شو چې که چېرې د ارقامو په معلوماتونو يا عددي ډاټا په راټولولو کې له داسې رقم (ارقامو) يا دا چې عدد (يا عددونو) سره مخ کېږو چې تشخيص او اندازه کول يې د معلوماتو د پېژندګلوۍ او تحليل لپاره ډېر ضروري دي، نو لازم دي تر يوه حده هغه ارقام (عددونه) معلوم او پيدا کړو، کوم چې د مرکزي موقعيت لرونکي وي. د رياضياتو د احصايې په علم کې د مرکزي موقعيت دا ډول اهم ارقام د اوسطونو په پيدا کولو، په اسانۍ سره لاسته راځي او د پيدا کولو لپاره د معمول سره سم حسابي اوسط، منځنی حد، هندسي اوسط، هرمونيکي اوسط او نور په کار وړل کېږي.

موخې:
د احصايوي معلوماتو په دې برخه کې د اوسطونو او په خاص ډول د حسابي اوسط د دقيق استعمال په نتيجه کې په يوې ډاټا کې د مرکزي موقعيت د ارقامو د پيدا کولو په منظور د حسابي اوسط مختلف ميتودونه په کار اچول او د محاسبو پايلې يې سره مقايسه او پرتله کول، تر څو په ورځني ژوند کې ور څخه د مسلک ټول مينه وال ګټه واخلي.

د موضوع تاريخي اړخ ته يوه کتنه:
په ډاټا کې د مرکزي ميلان (نماينده قيمت يا موقعيت) په تعينولو کې د رياضياتو مختلفو عالمانو په خپل وار لازمې هلې ځلې کړې دي، مونږ دلته ددې مسئلې په وضاحت کې په لاندې توګه د پام وړ استفادو يادونه کوو:

1. ددې نماينده قيمت په لاسته راوړلو کې د اوسط او وسط قيمت او د هغوی ترمنځ روابطو څخه استفاده شوې ده.
2. د نماينده قيمت د پيدا کولو لپاره حسابي اوسط مستقيماً د فورمول څخه په استفاده په کار وړل شوی دی.
3. نماينده د مرکزي موقعيت قيمت په غيرمستقيم ميتود د موقت ټاکل شوي اوسط په نظر کې نيولو سره د غيرګروپي او ګروپي ډاټا لپاره لاسته راوړل شوی دی.
4. نماينده قيمت د مرحله ای انحراف په ميتود هم لاسته راوړل شوی دی.
5. د نماينده قيمت په لاسته راوړلو کې په ګروپي ډول په ورکړل شوې متمادي ډاټا کې هم هڅه او هاند شوی دی.

د يوې ډاټا د مرکزي ميلان (نماينده قيمت) پيدا کول:
دلته د $A=\{a_1,a_2,\ldots,a_n\}$ عددي ډاټا لپاره داسې يو عدد (ياعددونه) پيدا کوو چې د نوموړو عددونو ترمنځ واقع او مرکزي موقعيت ولري. نوموړی عدد (ياعددونه) د اوسط (يا وسطونو) په نوم يادوي، يا دا چې حسابي اوسط (يا حسابي وسطونه) يې بولي. له همدې امله يې په پام کې نيسو.

1. حسابي اوسط (Arithmatic Mean):

حسابي اوسط چې په A.M يې ښيي، له حسابي وسط سره کاملاً توپير لري، ځکه چې د A عددي ډاټا لپاره حسابي اوسط عبارت دی له:

$$:= \frac{\sum x}{n} AM. = \frac{a_1+a_2+\cdots a_n}{n} = \frac{\sum_{i=1}^{n} x_i}{n}$$

مثلاً د A={50,75,100,120,130} عددي ډاټا لپاره حسابي اوسط $\frac{50+75+100+120+130}{5} = 95$ =A.M. په لاس راځي.

اوس که وغواړو د a او b دوه عددونو تر منځ په n شمېر د $a_1, a_2, \ldots \ldots a_n$ حسابي وسطونه شامل کړو، کوم چې هر يو يې د خپل مخکېني او وروستني حد اوسط وي، د a,a1,a2,…an,b (A.P.) ^d=$\frac{b-a}{n+1}$ په نظر کې نيولو سره $a_2 = a_1$ =a+$\frac{b-a}{n-1}$; a+$\frac{2(b-a)}{n+1}$,…a_n=a+$\frac{n(b-a)}{n+1}$

لاسته راوړلای شو. a_1 مثلاً که وغواړو د 2 او 20 تر منځ پنځه حسابي وسطونه شامل کړو، نو وبه لرو چې:

2,,a_2,a_3,a_4,a_5,20; (A.P), d= $\frac{20-2}{6}$ =3

=2+d=5;a_2=2+2d=8 a_3=2+3d=11 ;a_4=2+4d= 14∴ a_1

; a_5=2+5d=17

په دې توګه: (A.P.) 2,5,8,11,14,17,20 لاسته راځي. (۱،۷،۸)

1.1. د غير ګروپي ډاټا لپاره په لنډ يا غيرمستقيم ميتود د حسابي اوسط پيدا کول:

په دې ميتود کې د A={$a_1, a_2, \ldots \ldots a_n$}غير ګروپي ډاټا د حسابي اوسط د پيداکولو لپاره د ډاټا د ارقامو له جملې څخه يو رقم (چې کېدای شي، نوموړی رقم د ډاټا په ارقامو کې موجود هم نه وي) په مؤقتي ډول اوسط ټاکو او هغه په P.M.۷(Provisional Mean) ښيو او حقيقي حسابي اوسط په لاندې فورمول لاسته راوړو:

A.M.=P.M +$\frac{\sum_{i=1}^{n} Dx_i}{n}$:= P.M.+$\frac{\sum Dx}{n}$

داسې چې Dx_i = x_i - P.M. د ډاټا له هر حد څخه د مؤقتي اوسط تفاضل په ګوته کوي. مثلاً که وغواړو د A={50,75,100,120,130} حسابي اوسط پيداکړو، نو مؤقت حسابي اوسط P.M.=8o ټاکو او وينو چې حسابي اوسط عبارت دی له:

A.M.=P.M.+ $\frac{\sum_{i=1}^{n} Dx_i}{n}$ =P.M.+$\frac{\sum_{i=1}^{n}(x_i-P.M)}{n}$=P.M+$\frac{\sum_{i=1}^{n}(x_i-P.M)}{5}$ = $\frac{(x_1-80)+(x_2-80)+x_3-80)+(x_4-80)+(x_5-80)}{5}$

==80+

80+$\frac{(50-80)+(75-80)+(100-80)+(120-80)+(130-80)}{5}$= =

=80+$\frac{-30-5+20+40+50}{5}$=80+$\frac{75}{5}$ =80+15=95

عملاً په دې پوه شو چې P.M.=80 موقتي حسابي اوسط و او حسابي اوسط په حقيقت کې A.M.=95 دی. (۲،۷)

تبصره:

که موقتي اوسط هر عدد وټاکو حسابي اوسط به A.M.=95 په لاس راځي، کولای شو د پورتني مثال حل په لاندې جدول کې هم په وضاحت ورسوو:

Nubmers (x_i)	x_1=50	x_2=75	x_3=100	x_4=120	x_5=130	P.M.=80
Dx_i= =x_i-P.M.	Dx_1 = =x_1 −P.M= =-30	Dx_2=x_2- -P.M.=-5	Dx_3=x_3- -P.M.=20	Dx_4=x_4- -P.M.=40	Dx_5=x_5-- P.M.=50	∑∑ Dx_i=75 A.M.=P.M+$\frac{\sum xD}{5}$ =95

2.1. په غيرمتمادي ډول د راکړل شوې ګروپي ډاټا د حسابي اوسط محاسبه کول:

په دې حالت کې د A= {xi li i=1,2,…n} عددي ډاټا هر xi لپاره متقابلاً يوه Fi چې د فرېکونسۍ (د فعاليتونو شمېر) په نوم يادېږي، ورکول شوې وي، حسابي اوسط په لاندې فورمول محاسبه کوي:

$$A.M.=\frac{x_1 f_1+x_2 f_2+\cdots+x_n f_n}{f_1+f_2+f_3}=\frac{\sum_{i=1}^{n} x_i f_i}{\sum_{i=1}^{n} f_i}:=\frac{\Sigma Fx}{N}.$$

د نوموړي مطلب د وضاحت لپاره لاندې مثال په پام کې نيسو:

مثال: د ساينس پوهنځي د ادارې له خوا محصلينو ته د لاندې جدول مطابق د تشويق په منظور په يوه سمستر کې د شپږو ځلو لپاره خودکار قلمونه د اعانې په توګه ويشل شوي دي، معلوم کړئ چې د سمستر په اوږدو کې يو تن محصل ته څو قلمونه ورکړل شوي دي؟

دقلمونو شمېر (x_i)	اول ځل x_1=100	دويم ځل x_2=200	دريم ځل x_3=300	څلورم ځل x_4=50	پنځم ځل x_5=1o	شپږم ځل x_6=15
دمحصلينو شمېر (f_i)	f_1=5	f_2=3	f_3=2	f_4=10	f_5=20	f_6=10

حل: ددې لپاره چې دا معلومه کړو، يو محصل ته په اوسط ډول څو قلمونه ورکړل شوي دي، د پورته فورمول څخه په ګټې اخستنې لاسته راوړو:

$$A.M.=\frac{\sum_{i=1}^{n} f_i x_i}{\sum_{i=1}^{n} f_i}=\frac{\sum_{i=1}^{6} f_i x_i}{\sum_{i=1}^{6} f_i}=\frac{x_1 f_1+x_2 f_2+x_3 f_3+x_4 f_4+x_5 f_5+x_6 f_6}{f_1+f_2+f_3+f_4+f_5+f_6}=$$

$$=\frac{500+600+600+50+200+150}{5+3+2+10+20+10}=\frac{2550}{50}=51.$$

يعنې يوه محصل ته د سمستر په اوږدو کې په اوسط ډول 51 قلمونه ورکړل شوي دي.

پورته مطلب او لاسته راوړنه د لاندې جدول له مخې هم مشاهده کولای شو:

X_i	X_1=100	X_2=200	X_3=300	X_4=50	X_5=10	X_6=15
f_i	f_1=5	f_2=3	f_3=2	f_4=10	f_5=20	f_6=10;
$x_i f_i$	$x_1 f_1$=500	$x_2 f_2$=600	$x_3 f_3$=600	$x_4 f_4$=500	$x_5 f_5$=200	$x_6 f_6$=150
A.M.=$\frac{\Sigma x_i f_i}{\Sigma f_i}$==51. $\frac{2550}{50}$						

3.1.په غير متمادي ډول د ګروپي ډاټا د حسابي اوسط محاسبه کول په غير مستقيم ډول:

په دې ميتود کې حسابي اوسط د لاندې فورمول په واسطه محاسبه کوي:

$$A.M.=P.M.+\frac{\sum_{i=1}^{n} f_i Dx_i}{\sum_{i=1}^{n} f_i}:=P.M.+\frac{\Sigma FDX}{\Sigma F}$$

داسې چې P.M. مؤقتي ټاکل شوی اوسط Dx_i =x_i- P.M. د ډاټا له هر حد څخه د مؤقتي ټاکل شوي اوسط تفاضل (انحراف يا تغير) او N=$f_1+f_2+\ldots+f_n$ =$\sum_{i=1}^{n} f_i$ ته جمعي فريکونسي وايي. مثلاً که وغواړو مخکېنی مثال په دې ميتود حل کړو، نو د P.M.=100 په ټاکلو لومړي لاندې جدول رسمو:

x_i (دقلمونوشمېر)	x_1=100	x_2=200	x_3=300	x_4=50	x_5=10	x_6=15	P.M.=100
f_i (دمحصلينوشمېر)	f_1=5	f_2=3	f_3=2	f_4=10	f_5=20	f_6=10	$\sum_{i=1}^{6} fi := N = 50$
Dx_i=x_i-P.M.	Dx_1=0	Dx_2=100	Dx_3=200	Dx_4=-50	Dx_5=-90	Dx_6=-85	
$f_i Dx_i$	0	300	400	-500	-1800	-850	$\sum_{i=1}^{6} f_i Dx_i = -2450$

د جدول په مشاهده د فورمول څخه په ګټې اخستنې کولای شو لاسته راوړو:

$$A.M. = P.M. + \frac{\sum_{i=1}^{6} f_i Dx_i}{\sum_{i=1}^{6} f_i} = 100 - \frac{2450}{50} = 100-49=51$$

(۲،۷)

4.1. د مرحله اي انحراف ميتود:

نوموړی ميتود د يوې مرحلې په رامنځته کېدو پيلوو او هغه داسې چې که د $A=\{x_i, i=1,2,\ldots,n\}$ په معلوماتي ډاټا کې د هر حد تفاضل له مؤقتي ټاکل شوي اوسط څخه $Dx_i=x_i-P.M.$ په $0 \neq C \in IR$ د تقسيم وړ وي، يعنې $\frac{Dx_i}{C} := \acute{D}x_i \Leftrightarrow Dx_i = C.\acute{D}x_i$ وي، نو حسابي اوسط په لاندې فورمول محاسبه کوي:

$$A.M. = P.M. + \frac{\sum_{i=1}^{n} f_i \acute{D}x_i}{\sum_{i=1}^{n} f_i} := P.M. + C\frac{\sum FDX}{N}$$

داسې چې C د هر Dx_i مشترک قاسم، fi د هر x_i متقابله فريکونسي او $\acute{D}x_i - \frac{Dx_i}{C}$ مرحله اي انحراف (تغيرات) راښيي. په دې توګه که پورتنی مثال د مرحلي انحراف په ميتود حل کړو، لومړی لاندې جدول جوړوو:

د قلمونو شمېر (x_i)	$x_1 = 100$	$x_1 = 200$	$x_2 = 300$	$x_3 = 50$	$x_5 = 10$	$x_6 = 15$	$P.M. = 200$
متقابله فريکونسي (x_i)	$f_i = 5$	$f_2 = 3$	$f_3 = 2$	$f_4 = 10$	$f_5 = 20$	$f_6 = 10$	$\sum_{i=1}^{6} f_{i=50}$
Dx_i	$Dx_1 = = -100$	$Dx_{2=0}$	$Dx_{3=100}$	$Dx_{4=-150}$	$Dx_{5=-190}$	$Dx_{6=-185}$	$Dx_{i=x_i-P.M}$
$\acute{D}x_i = \frac{Dx_i}{C}$	$D'x_1 = =-20$	0	20	-30	-38	-37	$C = 5$
$f_i\acute{D}x_i$	-100	0	40	-300	-760	-370	$\sum f_i\ \acute{D}x_{i=-1490}$

د جدول په مشاهده له فورمول څخه په ګټې اخستنې کولای شو لاسته راوړو:

$$A.M. = P.M. + \frac{\sum f_i \acute{D}x_i c}{\sum f_i} = 200 - 5.\frac{1490}{50} = 200 - 149 = 51$$

(۴،۵)

5.1. په متمادي ډول د ګروپي ډاټا د حسابي اوسط پيدا کول:

په متمادي ډول د ګروپي ډاټا حسابي اوسط لکه په غيرمتمادي ډول د ګروپي ډاټا د حسابي اوسط په شان لاسته راوړل کېږي. يوازې په همدومره توپير چې x_i د $l_i - l_i + 1$ انتروال منتصفه نقطه په پام کې نيول کېږي، يعنې:

$$x_i = \frac{l_i + l_i + 1}{2}; i = 1,2,\ldots,n-1$$

مثال: په يوه صنف کې 100 تنو شاګردانو د 40 نومرو صنفي ازموينه ورکړې او د لاندې جدول مطابق يې نومرې اخستې دي، معلوم کړئ چې په اوسط ډول يو شاګرد په صنفي ازموينه کې څو نومرې اخستې دي؟

(نومرې) $l_i - l_{i+1}$	0 – 10	10 – 20	20 – 30	30 – 40
د شاګردانو شمېر (f_i)	10	20	40	30

حل: د مطلب د لاسته راوړلو لپاره لومړی لاندې جدول جوړوو:

Marks	No.of students. (F_I)	Maddal value (x_i)	$f_i x_i$
$0-10$	10	5	50
$10-20$	20	15	300
$20-30$	40	25	1000
$30-40$	30	35	1050
	$\sum f_{i=1oo}$		$\sum f_{iX_i} = 2400$

اوس د جدول په مشاهده د معلوماتو څخه په ګټې اخستنې د يوه تن شاګرد اوسط نومرې په لاندې توګه معلوموو:

$$A.M._{-}\frac{\sum_{i=1}^{4} f_{iX_i}}{\sum_{i=1}^{4} f_i} = \frac{2400}{100} = 24$$

په دې توګه وايو چې يو شاګرد په اوسط ډول په صنفي ازموينې کې له 40 څخه 24 نومرې اخستې دي. (۳م م۸۴-۸۵)

پايله:

ددې له مخې چې په هرې ورکړشوې ډاټا کې د ډاټا د مرکزي موقعيت پيدا کول اهم رول لوبوي او مونږ هغه د اوسطونو په خاصه توګه په حسابي اوسط واضح کړل، دا له دې امله چې:

۱. پوهېدل يې ساده او محاسبه کول يې آسان دي.
۲. د ډاټا ټول قيمتونه په ځان کې مدغموي.
۳. د فورمول په واسطه واضحاً تعريفېږي.
۴. مقدار يې معين او محدود دی.
۵. که ډاټا ورکړ شوې وي، مرکزي ميلان يې د استعمال وړ دی.
۶. حسابي اوسط د خلاصو انجامونو د توزيع په صورت کې په حقيقي ډول لاسته راځي

Abstract:

Since in mathematics and statistic calculating the measures of location or central tendency is very necessary, we obtain it by means, like (A.M;G.M.;A.C.P;H.M.;etc) specially by Arithmetic mean to received this good ,it is important to be careful about the result of the calculation that must be close to the exact result. To compute the central tendency, here we use only Arithmetic mean (A.M) and its different methods.

Results:

Since in every data computing the central tendency is so important, which is calculating by means, specially by arithmetic mean, because

1. its understanding and calculating is very easy.
2. The all value of data isintermix in location value.
3. Define it very easy by formula.
4. This value is finite and bounded.
5. We can use it for the given data.
6. In distribution of end points really we obtain this value.

References:

1. Complete mathematics for all India Engineering Entrance Examination (AIEE)-2008
2. Fundamentals of General mathematics by proposer Rlung-2001
3. Elementary statistics Iqbal A.Bhatti, Government College Jhelum-1997
4. Probability and statistics for Engineers and Scientists -2nd Edition -2002
5. Statistics level one, NadeemAkhter siddique-1997
6. Micro Economics and Quantitave Methods, Proposer M.saeed Nasir-2008
7. Mathematical Economics. Associate professor of Econamices-2008
8. N. Piskunov. Differential and integral calculations Vol: 2- 1977.

پوهندوی حیات الله (احمدزی)
طب پوهنځی- داخله څانګه

په درملو روږدو وګړو کې د انتاناتو ستونزې

لنډيز:
په درملو روږدو وګړو کې د زرقياتو د کارونې له امله ډول ډول بکتريايي او وايروسي انتاناتو انتقال او د ناروغيو منځ ته راتلو ته لاره هواروي چې په وګړو کې يې لويې روغتيايي ستونزې رامنځ ته کړي دي چې په دوديز ډول د پوستکي انتانات، توبرکلوز Aspiration Pneumonia هيپاتايتيس A,B,C,D، ايډز او STD(Sexually Transmitted disease)، د سږو منتنې امبولې، انتاني اندو کاردايتيس، اوستيو ميلاتيس او منتن ارترايتيس منځ ته راځي او هم د ځينو درملو لکه کوکاين څخه مړينه (د زړه احتشا، د زړه د نظم ګډوډي او هايپر ترميا) له امله منځ ته راځي چې دا پورته ستونزې د ژوند ګواښونکي دي چې دا وګړي ځانته زيان اړوي او هم د ټولنې وګړي ورڅخه په امان کې نه پاتې کېږي.

سريزه:
څرنګه چې درمل په ځای او بې ځايه ډول د وګړو لخوا په ټولنه کې کارول کېږي، په تېره بيا په درملو روږدي وګړي چې ډول ډول درمل کاروي، لکه کوکائين، هيروئين، کتامين، پنتازوسين، متامفيتامين او نورو څخه کار اخلي چې دا کار نه يواځې د غريبو او وروسته پاتې هېوادونو د وګړو لخوا ترسره کېږي، بلکې په پرمختللو هېوادونو لکه امريکا کې هم ۳۰۰۰۰۰ وګړي په درملو روږدي دي، نو ځکه يې يوه روغتيايي ستونزه جوړه کړې ده. زمونږ د هېواد وګړي چې په دې درې څلور لسيزو کې د راز راز کړاوونو او ستونزو سره لاس او ګرېوان دي او ژوند کچه يې ټيټه ده، د کار کولو زمينه ورته برابره نه ده او د ډېرو اقتصادي ستونزو سره مخامخ دي، نو د خپل ژوند د ښه کولو په غرض يې نورو هېوادونو ته مخه کړې، ترڅو ځان او خپلې کورنۍ ته يوه مړۍ ډوډۍ پيدا کړي چې بيا په يو شمېر درملو روږدي کېږي. نه يوازې دا چې د دوی اقتصاد او شخصيت ته ډېر زيان رسوي، بلکې د ډېرو انتاني ناروغيو ښکار کېږي؛ په پيل کې په عادي درملو روږدي کېږي، خو چې معتاد شي، نو بيا په هيڅ شي صرفه نه کوي او د زرقياتو په کارولو شروع کوي چې نشه وکړي او د هغې لارې بيا د ډول ډول ستونزو سره چې د انتاناتو انتقال دی. د ويروسي ناروغيو په ډله کې د هيپتايتس، ايدز او بکتريايي ناروغيو په ډله کې د STD، توبرکلوز، انتاني اندوکاردايتس، ستافيلوکوکل او سترپتوکوکل انتاناتواو هم ملاريا، تيتانوس دخول ته لاره هوارېږي، نو د پورته ټکو په پام کې نيولو سره مو وغوښتل چې په درملو روږدو کې د زرقياتو په اړه او د هغې د مخنيوي د لارو چارو په اړه يوه علمي مقاله وليکم او خپلو هم مسلکانو او درنو هېوادوالو ته يې د هغوی د علمي کچې د لوړتيا په غرض وړاندې کړم چې په خپل ورځني ژوند کې ورڅخه ګټه واخلي.

موخې:
۱. په عمومي ډول د زرقياتو څخه د رامنځته کېدونکو ستونزو په اړه معلومات وړاندې کول.
۲. په درملو روږدو وګړو کې د پيچکاري کولو څخه د رامنځته کېدونکو ستونزو لکه بکتريايي او وايروسي انتاناتو په اړه معلومات وړاندې کول او د هغې د مخنيوي لارې چارې په ګوته کول.

په درملو روږدو وګړو کې د انتاناتو ستونزې(Infection in Drug Users):
کوم وګړي چې په درملو روږدي وي، انتاني پېښې پکې ډېرې وي، په ځانګړي ډول هغه وګړي چې درمل زرق کوي. د انتان خطر اکثراً د خرابې حفظ الصحې او د قوي مرضي ميکروبونو، کالونيو، د سامان الاتو او د درملو ککړوالی، جنسي

سلوکو د خطر زياتوالی او د کمزوري معافيتي سيستم سره زياتره مل وي. اوس په اټکلي ډول ۱۲ميليونه خلک په ټوله نړۍ کې درمل کاروي او د دوی په ډله کې ۳مليونه يې ممکن په HIV اخته شوي وي او په ۲۰۰۴ کال کې ۲،۱۳ مليونه خلک په نړۍ کې زرقي درمل کاروي چې ۲۲٪ يې په پرمختللو هېوادونو کې وي؛ بله دا چې د ورید له لارې د درملو کارونه دماغ ته رسېږي، قوي او ژوره اغېزه کوي او لږه اندازه يې نظر نورو ته ډېر کار کوي. (۷،۳)

د اوسني اټکل له مخې په امريکا کې ۳۰۰۰۰۰ يا زيات وګړي زرقي درمل کاروونکي دي. د پوستکي انتانات اکثراً د خرابې حفظ الصحې، غير معقم تخنيک په کار وړل، د پيچکاري کولو په مهال منځته راځي چې په دې کې community Staph.aureues acquired methicilin Resistant) او د خولې فلورا streptococci), Eikenella, Fusobaterium, pepto streptococcus يې ډېر دوديز ميکروبونه دي. د کولمو ګرام منفي ميکروبونه په هغو ناروغانو کې ډېر ليدل کېږي چې په مغبني ناحيه کې زرقيات کوي. Cellulitis او تحت الجلدي ابسي ګانې په ځانګړي ډول چې د تحت الجلدي popping skin او په غوښه کې پيچکاري کوي، ډېری منځته راځي او د کوکاين او هيروين مخلوط په کار وړل په اغلب ګومان سره د اسکيميا له کبله مايوزايتس، کلوسترويدل عضلي نکروز او نکروتايزينګfascitis کله کله منځته راځي، لاکن ژوند تحديدوونکی وي. (۷)

د زخمونو بچوليزم د هيروينو د black ter سره مل وي چې په خال خال ډول منځته راځي، لاکن کله د کلستر په شکل هم وي او د کوکاين په کارولو سره ډول ډول وعايي پېښې منځته راځي. (۱)

اسپايريشن نمونيا او د هغې اختلاطات (د سږو ابسي ګانې، امپيما، دماغي ابسي) د شعور خرابوالي له کبله منځته راځي چې ددې درملو د کارونې سره يو ځای وي چې په دې کې اکثراً د خولې له لارې د هوازي او غير هوازي فلورا ونډه لري؛ دا ناروغان مخکې له دې چې ځانته درمل زرق کړي، د خولې د لاړو په واسطه د ستنې څوکه غوړوي. توبرکلوز په درملو روږدو وګړو کې منځته راځي، په دې وګړو کې د HIV سره د توبرکلوز د خپرېدو چانس زيات وي، نو ځکه په دوی کې T.B او HIV سره يو ځای وي، نو له همدې کبله د مړينې او معيوبيت اندازه په کې زياته وي. د دوی په کليشه کې ځانګړي بدلونونه منځته نه راځي او هغه ناروغان چې د انتي بيوتيکو سره ښه والی نه مومي، نو بايد توبرکلوز ته مشکوک شو.

هيپتايتس: هغه وګړي چې په عادتي ډول سره په درملو روږدي وي، د ا ناروغي پکې دوديزه ده. د پيچکاريو له لارې هيپتايتس B,C,D او fecal oral له لارې هيپتايتس ای انتقالېږي، نو د هيپتايتس څو حملې د ډول ډول عواملو پورې اړه لري. د سږو منتني امبولي کېدای شي چې د وريدي ترمبوز يا ښي خوا زړه د اندوکاردايتس څخه سرچينه واخلي، endarteritis هم منځته راوړي. (۸،۷)

STD: دا حالت نېغ په نېغه د درملو د کارولو پورې اړه نلري، لاکن د exchanging sex پرکتس پورې اړه لري، نو ځکه په دوی کې پېښې ډېرې دي، لکه سفليس، سوزاک، خو شانکروئيد په کې ډېر دوديز دی.

Aids: ددې ناروغۍ پېښې په هغو وګړو کې زياتې منځته راځي چې په زرقي درملو روږدي وي او د دوی جنسي اړيکې او هغه ښځې چې منتنې وي، منځته راځي.

انتاني اندوکاردايتس: هغه وګړي چې د رګ له لارې درمل کاروي، په دوديز ډول سره يې لامل ستافيلوکوک اوريس، کانديدا البيکان، کانديد اپاراپسيلوزس، اندوکاردايتس فيکاليس او ګرام منفي بکترياوې په ځانګړي ډول پسوډوموناس او marcescens serratia دي. (۷)

د هيروينو، مپريدين او پنتازوسين کولای شي درد، پړسوب او عضلي نکروز او وينه بهېدنه منځته راوړي چې لامل يې د څو فکتورونو پورې اړه لري د ستنې ترضيض، د درملو نېغ په نېغه زهري کېدنه او کېدای شي چې د انتان رول هم ولوبوي. که چېرې شديد وي، د اړونده پوستکي سختوالی، contracture، عضلي نسج په منظم نسج عوض کېږي. د ck او EMG myopathic ددې غبرګون لپاره ځانګړی دی چې په بيوپسي کې خپور نکروز ليدل کېږي؛ په دې حالاتو کې Rhabdomyolysis منځته راځي، نو ناروغان پوره هايدريشن ته اړتيا لري، ترڅو د سيروم مايوګلوبين راکم کړي او د بډوډو دندې يې وساتي. په دې ټولو حالاتو کې درملو روږدو وګړو سره مشوره کول او کمول يې اړين دي. (۴)

کوکاين کولای شي چې مخکې له وخته د زړه ناروغي منځته راوړي او د تکي کاردیا او هایپرتنشن په پرمختګ کې مرسته وکړي، ترای کسپید د سام منتن کېدو چانس ډېر دی. (۲،۲،۷،۸)

کوکاين د خولې، نصوارو او پيچکاري په بڼه کارول کېږي، که نصوارو په بڼه په پزه کې په دوامداره توګه وکارول شي، د پزې د پردې د سوري کېدو لامل ګرځي او که چېرې په لوړ دوز وکارول شي، د مړينې (د زړه احتشا، هايپرترميا او د زړه د ريتم ګډوډي) حمله منځته راځي. د رګونو په نورو انتاناتو کې منتن ترمبوفيلابايتس او مايکوتيک انيوريزم شامل دي، مايکوتيک انيوريزم نه د رګونو د نېغ په نېغه د ترضيض له کبله، بلکې د ثانوي انتاناتو سره يو ځای منځته راځي چې په دوديز ډول سره په فخذي شريانو او په لږ دوديز ډول سره د غاړې په شرايينو کې منځته راځي. انيوريزمونه د وينې د انتاناتو د انشار له امله چې په زياته پيمانه سره د intracerebral رګونو او د اندوکاردايتس سره يوځای ليدل کېږي. اوستومايلايتس او منتن ارترايتس چې د فقراتو جسمونه symphysis pubic, sarco iliac ,sternoclavicular بندونه نورې برخې چې اکثراً د وينې له لارې زرق شوي ميکروبونه او يا د منتن وريدي ترمبوز د خپرېدو په پايله کې منځته راځي. کله کله درد او تبه د اکسري بدلونو څخه څو اوونۍ دمخه شتون لري، په داسې حال کې چې ستافيلوکاک چې د methicilin په وړاندې ټينګار لري، دوديز ميکروبونه بلل کېږي، خو سيراتيا پسوډوموناس کانديدا (کله کله کانديدا البيکان) او نور مرضي ميکروبونه نادرا د هډوکو او بندونو د ناروغۍ لامل ګرځي، په دې ناروغانو کې ليدل کېږي. (۷)

کلنيکي بڼه: په تاريخچې کې لاندې خطري فکتورونو ته بايد پام وشي:

د زرق ناحيه: په فخذي شريان کې پيچکاري کول د رګونو د اختلاطاتو سره مل وي، لکه DVT چې ۵۰٪ يې منتن وي او که په تصادفي ډول شريان کې زرق صورت ونيسي، نو په ناروغ کې د کاذب انيوريزم جوړېدو يا په Fascial sheath کې د پړسوب له امله کامپارتمنت سندروم منځته راځي. (۱)

په موضعي اختلاطاتو کې Ilio psos abscess د حرقفي او sarco iliac بندونو منتن ارترايتس منځته راځي، که چېرې وداجي وريد کې زرق وشي، نو cerebro vascular اختلاطات به ورسره مل وي. د پوستکي لاندې او د غوښې پيچکاري د clostridial انواعو د انتاناتو سره به مل وي چې ددې سپور هيروئين ککړ کولای شي. Novyi Clostridial موضعي افت منځته راوړلای شي او مهم زهر توليدوي چې ناروغ د شاک او multi organ failure خواته بيايي؛ کېدای شي تيتانوس د زخمونو بچوليزم، ملاريا او gas gangrene هم منځته راوړي.

د پيچکاري د تخنيک تفصيل: د ستنې او زرق نور para phrenalia قاشوقه او فلتر شامل دي) کولای شي چې د Blood Born viruses د انتقال خطر لا زيات کړي او ځينې نور داسې دخولي ميکروبونو دخول ته لاره برابروي، لکه غير هوازي سترتپوکوک د fusibacterium spp, protella spp د ليمو تجارتي منتن جوسونه چې دا خلک د پيچکاريو د کولو څخه دمخه هيروئين پکې منحل کوي، نو بيا ځکه په دې ناروغانو کې د کانديديا، د وينې د جريان انتان سره مل وي.

زرق کوونکي توکي: د کوکائينو زرقونه د رګونو د ډول ډول پېښو لامل ګرځي، د هيروينو معلومې فارمولې د ځانګړو انتاناتو سره مل وي، يعنې د زخمونو بچوليزم چې د هيروينو د black tar سره مل وي، درمل د نورو موادو سره ګډوي، لکه ټالک. دا ناروغان ځينې د انتاناتو د مخنيوي او درملنې په غرض انتي بيوتيک ځانته پيچکاري کوي، نو بيا ځکه د وينې د کلچر نتيجه نه ورکوي. (۱)

لابراتواري کتنې: که دې ناروغانو ته تبه پيدا شي، د سينې اکسري او د وينې کلچر په پيل کې اجرا کېږي، ايکوکاردیوګرافي د انتاني اندوکاردايتس په غرض اجرا کېږي، که د سږو ابسي ګانې او pneumoatocele وليدل شي، نو د رګونو دننه کې د انتان په شتون دلالت کوي. (۲،۷)

اهتمامات:

هغه ناروغان چې په وريدي درملو روږدي وي او تبه ورته پيدا شي، د کلنيکي ستونزو له امله يې درملنه ګرانه او ستونزمنه وي، په عمومي ډول سره بايد ددې ناروغانو څخه مخکې له دې چې اټکلي درملنه ورته پيل شي، نو د وينې، ادرار او بلغم نمونه د کلچر لپاره ولېږدول شي. د بلغمو د کلچر د استولو په صورت کې بايد د سينې اکسري غير نورمال وي، که چېرې د

ټټر اکسري د consolidation، CAP وړانديز وکړي، غير بستر شوو ناروغانو ته سفترکزون د رګ له لارې او اذيترومايسين ۵۰۰ ملي ګرام په ورځ د خولې له لارې، ډوګساسکلين ۱۰۰ ملي ګرام د ورځې دوه ځلې د رګ يا خولې له لارې ورکول کېږي. که چېرې په اکسري کې nodul septic (د نوډولر ارتشاح) وليدل شي، نو د اندوکاردايتس لپاره درملنه پيل کېږي چې اکثراً وانکومايسين د بدن په هر کيلو ګرام وزن ۱۵ملي ګرام هر ۱۲ ساعته د رګ له لارې (MRSA چې شيوع يې لوړه ده) د انتيروکوک احتمال ډېر دی. که چېرې د سينې راديو ګرافي نورماله وي، نو اندوکاردايتس په اټکلي ډول د وانکومايسين په واسطه تداوي ته دوام ورکول کېږي. که چېرې د وينې کلچر په پايله کې هغه انتانات لاسته راشي چې اکثرا د اندوکاردايتس لامل ګرځي نو دا وګړي د هغې مطابق تداوي کړئ. که د وينې کلچر د هغو ميکروبونو لپاره چې د اندوکاردايتس لپاره غير معمول دي، نو د مخفي محراقونو لپاره يې بايد ارزيابي کړي، نو په دې وخت کې transeosphageal ايکوکاردیوګرام اجرا کړي چې په ۹۰٪ پېښو کې د ويجيتيشن لپاره حساس دي او په منفي حالت کې بيا هم په اندوکاردايتس قويا دلالت کوي. که چېرې د وينې کلچر منفي وي او ناروغ د انتي بيوتيک په وړاندې ځواب وايي، نو بيا درملنې ته ۷ الی ۱۴ ورځې ادامه ورکړئ. د خولې له لارې درملنه هغه وخت پيل کېږي چې د درملنې ځواب ښه وي، هر ناروغ کې بايد د انتاناتو د مخفي محراق د معلومولو لپاره په احتياط سره (بولي تناسلي، غاښونه، Sinus، تريخی) معاينه شي. په کوم ناروغ چې د انتاني اندوکاردايتس شک کېږي او يا ثابت شي او همدارنګه کوم ناروغ چې Persistant bacteremia ولري، د زړه ډاکتر ته لېږل کېږي. هغه ناروغان چې په زرقي درملو روږدي وي او تبه ولري، هغه ناروغان چې ابسي ګانې، د پوستکي نرمو انساجو مختلوونکی انتان ولري او ډيبرايتمنت ته اړتيا ولري، بستر کېږي. (۷)

که چېرې په ناروغ د staph انتاناتو شک کېږي، نو flucloxacilline کارول کېږي. که چېرې د نرمو انساجو او پوستکي موضعي انتانات شتون ولري، نو co amoxaciline او کلنيدو مايسين وکارول شي. (۱)

Naloxan چې افيون انتاګونست دي، ددې اغېزې له منځه وړي چې اپوئيد د لوړ دوز د کارونې پر مهال ژوند ژغورونکي دي. (۵)

پايله:

د پورته معلوماتو پر بنسټ ويلای شو چې د زرقي درملو کارونه په معتادو وګړو کې ډول ډول ويروسي او بکتريايي انتاناتو انتقال ته لاره هواروي، لکه هيپتايتس، ايدز او STD ، توبرکلوز، سفليس، ستافيلوکاکل او سترپتوکوکل انتانات او داسې نور؛ همدارنګه د ځينو درملو لکه کوکايين د کارونې په ترڅ کې ناروغان خپل خوږ ژوند د زړه د ريتم د ګډوډويو د زړه د احتشا او هايپرترميا له کبله له لاسه ورکوي، نو د داسې وګړو معاينه کول دقيقي تاريخچې او فزيکي معايناتو ته اړتيا لري، تر څو د هرې ستونزې د مخنيوي او درملنې لپاره په خپل وخت کړنه ترسره شي.

وړانديزونه:

۱. ناروغانو او د ټولنې عامو وګړو ته وړانديز کېږي چې يو ځل کارول شوې ستنه د دويم ځل لپاره ونه کاروي.
۲. په درملو روږدي وګړي بايد وهڅول چې ددې ناوړه عمل څخه لاس په سر شي، د حفظ الصحې په باب يې پوه کړئ، له يوې خوا دوی په ډول ډول وايروسي او بکتريايي انتاناتو اخته کېږي چې روغتيا ته يې تاوان رسوي او له بله پلوه د دوی حيثيت او اعتبار ته ضرر اړوي.
۳. که په درملو روږدي ناروغ تبه پيدا شي، نو په بېړني ډول دې داکتر او يا بل کوم روغتيايي کارکونکي سره مشوره وکړي چې وژونکی حالت وي او درملنه يې ژر ترسره شي او د ملاريا په خاطر يې هم وينه معاينه کړي.
۴. داکتران بايد د درملو بې ځايه کارونې په تاوانونو هم پخپله پوهه ولري او نورو ته يې هم ورسوي.
۵. که داکتر په دې پوه شي چې ناروغ ته تبه پيدا شوې، د درملنې په اړه يې ژر اقدام وکړي او داکتر بايد دا ناروغان په مناسب ځای کې بستر او جدي درملنه يې وکړي.

۲. د عامې روغتيا مسئولين بايد په کلينيکونو، روغتونونو کې د زرقياتو څخه د راولاړېدونکو ستونزو په اړه تبليغات وکړي او هم دې د رسنيو لکه تلويزيون، راديو او تمثيلي ډرامو په شکل د ټولنې وګړو ته ورسوي، ترڅو د پوهې کچه يې لوړه شي او د ستونزو په اړه يې پوه شي.

۷. د معتادينو لپاره بايد مجهز روغتون او د پوهاوي لپاره ډاکتران تربيوي پروګرامونه برابر کړي.

۸. په درملو روږدي وګړي بايد د Ag HBs پر ضد واکسين شي.

۹. داکترصاحبانو ته وړانديز کېږي چې د اپيوم د مشتقاتو کارونې څخه ډډه وکړي، ځکه اعتياد منځته راوړي.

Abstract:

Injection in drug user can make many health problems and they are faced with common infection that occur with greater frequency such as aspiration pneumonia, skin infection, tuberculosis, hepatitis A, B, C, D sexually transmitted disease and Aids, pulmonary septic emboli .Infective endocarditic, osteomyelitis and septic arthritis. All of the above mentioned problems are dangerous to health human being and others, if the patient get knowledge about the harzard of injection in drug users, they will stop it as well.

References:

1. Boon Nicholas> collage Necki (2012),Davidsons' principle of internal medicine, 21st Edition churchil Livingston ,New Delhi pp(296-298)
2. Cooper Daniel, the Washington Manual of medical therapeutic 2010, 33rd edition, lippin cott William and willkins new Delhi PP(986-988)
3. Drug injection, Available on http://www.from wikipidia, the free encyclopedia.2004.
4. asper Dennis.Faouci Anthony,Brownwald,Eugene (2012),Harrisons ' principle of internal medicine ۱۸,h edition USA, Graw hill PP(3508)
5. KAtzung BERTRAMAG, Basic and clinical pharmacology 2007, 10th edition, MC Graw Hill India PP(217,224)
6. Kumar parvenu &Clark Micheal , (2009)Clinical Medicine۷ , th Edition Spain Saunders Elsvier PP(1306)
7. Stephen J. McPhee-Maxine A. Papadakis, (2012) Current Medical Diagnosis and Treatment MC Graw-Hill Compay 2012 USA.PP(1260-1261).
8. WILLAm P. AREND et ali. (2010), Cecil: medicine Elsevier 23rd edition, PP (178-179).

پوهندوی گل حکیم شاه (سیدي)
انجـنيري پوهـنځی- د عـمومي
تخنيکي مضمونونو څـــانگه

د سروې او جيودېزي محاسبې په ساحه کې د نوې ټکنالوژۍ (ډيجيټل سيستم) د رول څېړنه

لنډيز:

له ميلاد څو پېړۍ مخکې د نيل په وادي کې د اوبو سيستمونه موجود وو چې د هغې جوړول جيودېزيکي اندازه گيرۍ ايجابولې. د اوبو لگولو د ساختمانونو ساحه چې د هغې اثار موجود دي، (کارېزونه) د دې گواهي ورکوي چې جيودېزيکي کارونه له پخوا زمانو څخه زموږ په هېواد کې سرته رسېدلي دي، کله چې الکترونيکي تيودولېت د لومړي ځل لپاره معرفي شو، نو د دې په راتگ سره د نوو عصري ساحوي موادو په ټولولو او پروسيس کې يې د مرستې لپاره لاره پرانسته. کله چې الکترونيکي تيودولېت د ای ډی ام (الکترونيکي فاصله اندازه کوونکي) سره استعمال شي، نو په دې صورت کې به يو سروير بايد يوه ډېره پيباوړي آله ولري. د دې آلې پرمخ د مياکرو پروسيسر (کوم چې په اتوماتيک بڼه د آلې چلوونکی حالت څاري او د سروې دننه عيار شوی پروگرام کاروي) سره د موادو ټولوونکي (کوم چې د ساحې مواد ، اندازه گيري او ورسره نور جوخت مواد ذخيره او پروسيس کوي) يوځای شي، نو په دې حالت کې به تاسې يوه پېژندل شوې انجنيري آله ولرئ چې د ټوټل سټېشن په نوم يادېږي.

سريزه:

جيودېزي د ډېرو پخوا زمانو راهيسې موجوده وه، د ميلاد څخه مخکې جيودېزي په مصر، يونان، چين او داسې نورو هېوادونو کې د ځمکې د ځانگړو برخو ويشلو او د اوبو لگولو لپاره يې جيودېزيکي اندازه گيرۍ اجرا کېدې. 2500 کاله مخکې د نيل په وادي کې د اوبو سيستمونه موجود وو چې د هغې جوړول جيودېزيکي اندازه گيرۍ ايجابولې. په گرجستان، ارمنستان، ايټاليا او فلسطين کې اوس هم د ځمکې لاندې ساختمانونه موجود دي چې په هغې کې جيودېزيکي اندازه گيرۍ تطبيق شوي دي. د ميلاد څخه 1700 کاله مخکې مصريانو د هندي کتاب جوړ کړی و چې په هغې کې د جيودېزي د اندازه گيريو مسايل تشريح شوي دي. چينايانو د لومړي ځل لپاره قطب نامه کشف کړېده چې په اراضي کې د جهت د پيدا کولو لپاره استانتياوې برابروي. د ميلاد څخه مخکې په دريمه پېړۍ کې (384-322) ارستوتل يوناني عالم و چې د ځمکې کرويت يې ثابت کړ، بيا د ميلاد څخه مخکې په (276-194) کلونو کې ايراتوسفن د جيودېزي د طريقو څخه په استفادې سره د ځمکې ابعاد معلوم کړل او په پای کې په 210 کال کې عربانو د سلامي جنترۍ د جوړولو په مقصد يې د ځمکې د نصف النهار د قوس اوږدوالی معلوم کړ. ابو ريحان محمدبن احمد البېروني په 352 کال کې د خوارزم په ښار کې متولد او په 427 کال کې په غزني کې يې له نړۍ سترگې پټې کړې چې نوموړي پخپلو اثارو کې تاريخي تشريحات د جيودېزي د اجراء شويو کارونو په مورد د پخواني يونان، هنديانو او د عربي علماوو په واسطه چې سرته رسېدلي، د هغې ذکر يې کړی دی؛ نوموړي په خپل وار سره په زياته پيمانه جيودېزيکي او استرونوميکي اندزاه گيري سرته رسولې ده. د نن څخه 500 کاله د ځمکې د لويو برخو نقشې د کرستف کولمب، مازيلان او داسې نورو په واسطه ترتيب شوي، دې رياضي پوه او جيودېزي پوه هالنډي (سني ليوسي) د لويو مسافو د پيداکولو لپاره د ترانگولېشن طريقه وړاندې کړه او فرانسوي عالم (دلامبر) په واسطه په 1798 کال په پاريس کې د لومړي ځل لپاره متريک واحد جوړ کړ.

په افغانستان کې د ځمکې ويش د پخوا څخه رواج لري، د نن څخه 300 کاله مخکې د پښتو ژبې لوی اديب، شاعر، مفکر او مبارز خوشحال خان ختک کدستري نقشې جوړې او د ځمکې حدود يې د نقشو په واسطه تثبيت کړل. شېخ ملي جغرافيه پوه او حقوقپوه په اتلسمه پېړۍ کې په مفصله توګه د ځمکې د ويش په مقصد يې د قوانينو مجموعه منځته راوړه او تر نولسمې پېړۍ پورې د هغې څخه استفاده شوې ده، د اوبو لګولو د ساختمانونو ساحه چې د هغې اثار (کاريزونه) موجود دي، د دې ګواهي ورکوي چې جيودېزيکي کارونه پکې سرته رسېدلي دي. د لومړي ځل لپاره د افغانستان نقشه د (برنس) په نوم د انګليسي سياح لخوا په 1810 ميلادي کال کې جوړه شوې ده چې وروسته يې بيا د روسيې، ايران او هندوستان سره سرحدي نقشې جوړې شوې دي؛ دقيقې نقشې د افغانستان په ټوله ساحه کې په (1:100000, 1:50000) او 1:250000 په 1960 کال کې ترتيب شوي دي. په 1919 کال کې د افغانستان په دفاع وزارت کې د توپوګرافي څانګه جوړه شوه او په 1941 ميلادي کال کې په حربي پوهنتون کې د توپوګرافي ديپارتمنت جوړ شو او په 1956 ميلادي کال کې د توپوګرافي ښوونځی تاسيس شو، په 1959 ميلادي کال کې د کارتوګرافي انستيتوت جوړ شو چې هدف ورڅخه د ټول افغانستان د دفاعي او اقتصادي پرمختيا لپاره د نقشو جوړول و چې د وخت په تېرېدو او د ساينس او تکنالوژۍ په پرمختګ سره په اوس وخت کې داسې الکترونيکي وسايل او تجهيزات جوړ شوي دي چې په لږ وخت کې ډېر کارونه په خورا دقت سره تر سره کوي چې د هغې جملې څخه يو هم ټوټل ستېشن دی چې دلته د هغې جوړښت او په اوسني وخت کې په جيودېزيکي محاسباتو باندې د هغې اغېزې څېړل شوي دي.

ټوټل ستېشن *(Total Station)*:

۱-۱. عمومي تاريخچه (General Background): کله چې اليکترونيکي ټيوډوليټ د ۱۹۶۰ په اواخرو کې د لومړي ځل لپاره معرفي شو، نو ددې په راتګ سره د نويو (Modern) ساحوي موادو (Field Data) په ټولولو او پروسيس کې يې د مرستې لپاره لاره پرانسته.



۱-۱ شکل - تيپيک الېکترونيکي تيوډوليت

کله چې اليکترونيکي ټيوډوليت د اي ډي ام (الکترونيکي فاصلې اندازه کوونکي) سره استعمال شي، نو په دې صورت که به يو سروير (Surveyor) يوه ډېره پياوړې اله ولري. (۲-۱ شکل وګورئ).

که ددې الې پرمخ د مايکرو پروسيسر (کوم چې په اوتوماتيکه بڼه د الې چلوونکی حالت ځاري او د سروې دننه عيار شوی پروګرام کاروي) سره د موادو ټولوونکي (کوم چې د ساحې مواد، اندازه ګيري او ورسره نور جوخت مواد ذخيره او پروسيس کوي) يوځای شي، نو په دې حالت که به تاسې يوه پېژندل شوې انجنيري اله ولرئ چې د ټوټل سټېشن (Total Station) په نوم يادېږي. (۳-۱ شکل وګورئ).

۱-۲. د ټوټل سټېشن مشخصات:

ټوټل سټېشن کولی شي چې افقي، عمودي زاويې او مايلې فاصلې اندازه او ثبت کړي. مايکرو پروسيسر چې مخکې يې يادونه وشوه، کولی شي په ټوټل سټېشن کې ډول ډول حسابي او رياضيکي عمليې ترسره کړي، لکه د څو زاويو د اندازو اوسط، د څو فاصلو د اندازو اوسط، د افقي او عمودي فاصلو تعينول، د X,Y او Z د کورډيناتو تعينول، د لرې ليدل کېدونکو شيانو ارتفاعات او د لرې نقطو ترمنځ فاصله او همدارنګه کولی شي چې هغه غلطي چې د اتموسفير د فشار او په خپله د الې له سببه منځته راځي اصلاح کړي. ځينې ټوټل سټېشنونه د موادو په ثبتوونکو کارتونو باندې سمبال شوي او په داسې حال کې چې نور ټوټل سټېشنونه د موادو ټولوونکې آله (Data Collector)، کوم چې د کېبل او يا پرته له کېبله د ټوټل سټېشن سره تړل کېږي، کاروي. (۱-3 شکلونه وګورئ) (۴)

۲-۲ شکل يو ځانګړی ټوټل سټېشن راښيي، دا يو د هغو ټوټل سټېشنونو د لړۍ څخه دی چې د زاويو دقت يې ۰.۵ – ۵ ثانيې او د فاصلې د اندازه کولو پورتنۍ وړتيا يې د ۱۶۰۰ متړو څخه تر ۳۰۰۰ متړو ده. نوي (Modern) ليولونه تعويضي وسايل لري چې په اوتوماتيکه توګه د ليد خط (Line of Sight) نظر خپل افقي حالت ته تصحيح او سموي. ټوټل سټېشنونه د يوګونو او دوه ګونو تصحيحي محورونو سره مجهز شوي دي. د ټوټل سټېشنونو په مرسته دوه ګوني تصحيحي محورونه ښي او چپ اړخيزه کږېدنه او وړاندې او وروسته طولاني کږېدنه اندازه او صحيح کوي. د کږېدنې خطا د عمودي زاويو د اندازه ګيرۍ په صحت باندې تاثير لري. د عمودي زاويو خطا کېدای شي چې د دوه ځله لوستنې (Double Reading) د اوسط په مرسته راکم شي، هغه هم د دوه ګونو محورونو د تصحيح په مرسته. په هر ترتيب د ټوټل سټېشن پروسيسر توانېدلای شي چې د کږېدنې خطاوې پيدا او د دوی تاثير د اندازه ګيرۍ څخه لرې کړي؛ نو په دې ترتيب د سروير د کار موثريت زياتېږي. د دوه ګونو محورونو تصحيح موجوديت هم د اليکترونيکي ليولنګ د ګډون اجازه ورکوي. (۳-۲ شکل وګورئ)

دا يو تخنيک دی چې د موندونکي ليولينګ (Perceptive Leveling) په دوه نقطو کې د پوکنې تختې لرونکی دی چې ډېر چټک دی. نوي (Modern) الات د ټوټل سټېشن ډېر پراخه او راز راز د څارنې او د معلوماتو د ټولولو او همدارنګه د نقشې د پروګرامونو ډولونه لري چې ددې څخه پرته په ۷۰ دقيقو کې د بطرۍ د چټکې چارجونې وړتيا لري. معلومات د هغه په داخلي ذخيره کې ساتل کېږي چې د ۱۳۰۰ ټکو وړتيا لري او يا که چېرې د ذخيرې جلا کارتونه استعمال شي، نو بيا به ۲۰۰۰ ټکي پر هر کارت کې وساتل شي. معلومات کېدای شي چې ټوټل سټېشن څخه کمپيوټر ته په مستقيمه توګه د SR۲۳۲ کېبل په مرسته ولېږدول شي او يا معلومات (Data) د ذخيره کوونکي کارت څخه لومړی د کارت لوستونکي-ليکونکي ته استول کېږي او وروسته کمپيوټر ته لېږل کېږي. (۳)

1-2 . الیکترونکي فاصله اندازه کوونکی

1-1. الیکترونیکي تیودولیت

۳-۱. ټوټل سټېشن

۱-۲. د معلوماتو ټولوونکي ((Data Collector))

۲-۲. ټوټل سټېشن

۳-۲. شکل

د ۴-۲ شکل يو بل ډول ټيپيک ټوټل سټېشن دی چې په کارت چلوونکو (Card Drivers) سره سمبال ښودل شوی چې د ذخيروي او پروګرام چلوونکو کارتونو لپاره کار ورکوي. ذخيروي کارتونه کېدای شي چې وروسته د ډکېدو څخه د الې څخه لرې شي او د PCMCIA کارت په مرسته په کمپيوټر کې ولوستل شي؛ اوسمهال دا کارتونه ستنډرډ جوړېږي چې په اکثره کمپيوټرونو کې د کار وړ دي. ددې او نورو ټوټل سټېشنونو لپاره د ام اس- ډاس (MS-DOS) پروګرام يو موزون سيستم دی چې په اسانۍ سره د استعمالوونکو د خوښې پروګرامونه ورزياتېدای شي. (۸)

د ۴-۲ شکل يو بل ډول ټيپيک ټوټل سټېشن دی چې په کارت چلوونکو سره سمبال شوی دی.

ټول د معلوماتو ټولوونکي (Data Collectors) هغه که منځروغي (Built-In) وي او که لاسي، کوم چې دلته معرفي شوي دي، د معلوماتو د غونډولو ډېره ښه وړتيا لري. د دوی وړتيا د موډول نه تر موډوله په ډېره پيمانه توپير لري. د لومړنيو يا اصلي ټوټل سټېشنونو حسابي مشخصات هم يو تر بله ډېر توپير لري، ځينې ټوټل سټېشنونه پرته له دې چې د معلوماتو ټولوونکي ورسره تړل شوي وي، کولی شي لرې ارتفاعات او فاصلې محاسبه کړي، په داسې حال کې چې نور ډولونه يې د معلوماتو ټولوونکو ته اړتيا لري چې دا کار ترسره کړي. زياتره نوي د معلوماتو ټولوونکي ډېر لاس په کار دي چې بيه يې د ۶۰۰ تر ۲۰۰۰ امريکايي ډالرو پورې رسېږي. قيمتونه په اوسمهال کې مناسب اټکل کېږي، ځکه د انجنيري سروې په ساحه کې ډېر کم بيه ډولونه وړاندې شوي دي چې د کمپاک (Compaq) څخه نيولې، بيا تر پناسونيک (Panasonic) او ددې ټولو ډولونو لپاره د معلوماتو لوستونکي پروګرامونه ليکلي او جوړ شوي دي. ځينې د معلوماتو ټولوونکي ګرافيکي لمسي پردې (Touch Screens) لري، د کومو په مرسته چې سروير کولی شي په بيړه سره معلومات داخل او يا يې اصلاح کړي. د مثال په توګه ځينې د معلوماتو ټولوونکي سروير ته اجازه ورکوي، تر څو د لمسي پردې په مرسته د خط- کار کړنې کيلي غوره کړي او ښکاره شوي ټکي د يو خط سره وتړي چې دا کار پرته د ځانګړي خط- کار د شفرونو څخه ترسره کېږي. (۷)

که چېرې ټوټل سټېشن يوازې وکارول شي، نو په دې حالت کې د سروې د ټولو محاسباتو د اجرا وړتيا په لوړې پيمانې سره غوښتل کېږي او که چېرې ټوټل سټېشن د توپوګرافيکي سروې لپاره چې د ساحې د موادو ټولول، د موادو پروسيس او ډيجيټلي پلانول او نور غوښتل شوي وي، وکارول شي نو په دې حالت کې د ځينو موادو ټولوونکو د محاسباتو وړتيا چندانې په نظر کې نه نيول کېږي، لکه د تريورس د بندولو محاسبات. که چېرې ټوټل سټېشن د توپوګرافيکي سروې د سيستم د يوې برخې په ډول و کارول شي، نو د موادو ټولوونکی به يوازې ساده معلومات ټول کړي، لکه مايله فاصله،

افقي او عمودي زاويې- ورکړل شوی کوردينات، د ليد وړ نقطې، متناسب معلومات (د نقطو شمېرې، د نقطو توضيحات او دويمه درجه په نښه شوې نقطې). د ساحې د موادو د محاسبې او تصحيح د اجرا لپاره کوم چې د کوردیناتو هندسي پروګرامونو په مرسته ترسره کېږي، اوسمهال د سرويرانو او انجنيرانو لپاره په اسانۍ سره پيدا کېږي، په زياتو مواردو کې ډېرو پياوړو موادو ټولوونکو ته (Data Collectors) اړتيا پيداکېږي، د بېلګې په ډول د ماشين لارښود، ساختماني نقشې، GIS سروې، د GPS سروې او داسې نور. ډېر پخواني او ځينې اوسني ټوټل سټېشنونه د زاويو د لوستلو لپاره مطلقه ميتودونه (Absolute Methods) کاروي؛ دا وسايل او آلات په اصل کې د فوټواليکترونيکي سينسرونو (Photoelectronic Sensors) سره د انطباق وړ دي، کوم چې کولی شي دايرې (circles) پيدا او ولولي او دايرې له مخکې څخه عيار شوي قيمتونو باندې چې د ۰- ۳۶۰ دی، ويشل شوي دي او نور ډولونه يې د زاويو د اندازه کولو څرخي تخنيک کاروي. دا آلې دوه شيشه يي دايرې لري، يوه يې ځای پرځای يعنې ولاړه او بله يې څرخنده ده چې د ۵۰۰۰ – ۲۰۰۰۰ برخو باندې درجه بندي شوې دي، نور (light) د دايرو په مرسته منعکس کېږي او په الکترونيکي سګنالونو اړول کېږي چې بيا وروسته د آلې د پروسيسور له خوا د ولاړو او څرخنده دايرو په منځ کې د زاويو په اندا زه ګيرۍ بدلېږي. د اندازه ګيرۍ صحت کېدای شي د نتيجو د اوسط څخه د دايرو د مقابلو لورو د اندازه ګيرۍ په صورت کې په لاس راشي. ځينې توليدوونکي د آلاتو په جوړولو کې خطاوې مشاهده کوي، يعنې آله وروسته د توليد څخه په خپله د خطا سبب ګرځي چې نوموړې خطاوې د پروسيسور لپاره په خاصو جوړو شويو پروګرامونو له خوا له منځه تللی شي چې په يو ځلي د اندازو په اخستنې سره يې صحت د ځينو آلاتو څخه چې دوه ځله د هغو په مرسته اندازه ګيري ترسره کېږي، ډېر غوره والی لري. دواړه سيستمونه سروير (Surveyor) توانوي چې د 0 درجې او يا کوم بل عدد آلې ته په اسانۍ ورداخل کړي. ټوټل سټېشن خپل منځ کې مايکرو پروسيسورونه لري چې د آلې حالت ځاري (لکه د آبترازو او د لېول حالت، د بتري چارج، د راتلونکي سګنال قوت او نور) او د نوموړو لومړنيو حالاتو لپاره د اندازه شويو معلوماتو د تصحيح دنده هم ترسره کوي؛ له دې پرته مايکرو پروسيسورونه اخيستل شوې زاويې او فاصلې کنترولوي او بيا کوردينات، افقي او عمودي فاصلې او داسې نور محاسبه کوي. ډېر شمېر ټوټل سټېشنونه داسې ډيزاين شوي چې ذخيره شوي معلومات په Data Collectors کې په چابکۍ سره د RS232 په مرسته کمپيوټر ته داخلولی شي. د آلاتو توليدوونکي تل د معلوماتو د انتقال پروګرامونه جوړوي او ددې په څنګ کې دوهم پروګرام ته هم اړتيا ليدل کېږي چې د پروسيس پروګرام دی، کوم چې د ساحې معلومات په کمپيوټر کې لوستلو ته چمتو او برابروي.

ګڼ شمېر ټوټل سټېشنونه د توپوګرافيکي نقشو اخستونکي په دې توانوي چې د يوې تکمې په کېمنډلو سره مايلې فاصلې، افقي او عمودي زاويې واخلي. د نقطو نومرې (ډېر شمېر ټوټل سټېشنونه د نقطو د نومره ګزارۍ لپاره اوتومات سيستمونه لري) او د نقطو توضيحات د مربوطه نقطو لپاره کېدای شي وروسته د معلوماتو د ټولولو څخه ټوټل سټېشن ته داخل او هلته وساتل شي.

پايله:

ټوټل سټېشن خپل منځ کې مايکرو پروسيسرونه لري چې د آلې حالت ځاري او د نوموړې لومړنيو حالاتو لپاره اندازه شويو معلوماتو د تصحيح دنده هم ترسره کوي. پروسيس پروګرام دی کوم چې د ساحې معلومات په کمپيوټر کې لوستلو ته چمتو او برابروي، پرته له دې يو هوښيار سروير د ساحې معلومات د ځان سره يادښت کوي چې په هغې کې د هرې نقطې نومره او د هغې ټول ځانګړې معلومات ليکي؛ دغه د ساحې نوټ د سروير سره د کار په بشپړولو کې د نقطو د توضيحاتو په لرلو سره مرسته کوي او دا کار به په راتلونکي کې دده لپاره د نقشې په جوړولو او د نقشې د دوسيې (file) په برابرولو کې د ارزښت لرونکې وي.

Abstract:

When electronic theodolite introduced for the first time in 1960, realsed new ways to help in field materials (see f:g(1-2) typic electronic theodolite). When electronic theo dolite was applied with (IDM) (for electronically distance measurement) in this case a surveyor should be have a strong instrument if we have microprocessor which is work in cutie programs material data collector so in this case we will have a known engineering instrument which name is Total Station which measures field material and prepare save material.

اخځليکونه:

۱- بهرامی، عبدالعظیم. (۱۳۷۱). سروینگ لومړی جلد. پیښور

۲- بهرامی، عبدالعظیم. (۱۳۷۱).سروینگ دویم جلد. پیښور

۳- واتینکه، س،پ. (۱۳۶۲). د جیودوزۍ اساسات. کابل- افغانستان

۴- واتینکه، س،پ. (۱۳۶۲). د انجنيري جيودوزي. کابل- افغانستان

5- Charles,D. Wolf.(2008). surving Volum-2.New jersey.USA.

6- Duggal,S,K.2006.Surveying Volume 1.New Delhi.

7- www.what is survey.info

8- www.sciencebuddles.com

پوهندوی سید عبدالجمیل (سیدي)
طب پوهنځی- داخـــله څـــانګه

اټکـــی

(Singultus or Hiccup)

لنډيز:

د اټکيو لامل کېدای شي ځينې سترې ستونزې نه وي چې په ډېره اسانۍ سره يې درملنه کېږي، خو په ځينو حالاتو کې د يو شمېر خطرناکو ناروغيو له کبله منځته راځي چې د نوموړو ناروغيو د پېژندنې او درملنې لپاره پرمختللو لابراتواري ازموينو او درملنې ته اړتيا پېښېږي. هغه خلک چې د اټکيو ستونزه لري او يا هغه طبي کارکوونکي چې د نوموړو ناروغانو سره مخ کېږي، ياده ستونزه بايد ساده ونه ګڼي او ژر تر ژره يې د لامل او درملنې په لټه کې شي او مناسبه درملنه ورته ترسره کړي، ترڅو په دې ترتيب د اختلاطاتو مخه ونيول شي.

سريزه:

اټکۍ يوه روغتيايي دوديزه ستونزه ده او د نړۍ هر وګړی کېدای شي په ژوند کې څو څو ځله په نوموړې ستونزې اخته شي. د اټکيو پېښې زمونږ په ګران هېواد کې زياتې دي او زمونږ طبي کارکوونکي په کليو، ولسواليو، شخصي کتنځيو، کلينيکونو او روغتونونو کې د زياتو داسې ناروغانو سره مخ کېږي چې د اټکيو ستونزه لري. اټکۍ کېدای شي د ځينو عادي لاملونو له کبله منځته راشي، خو په ځينو حالاتو کې د بعضو خطرناکو ناروغيو له کبله هم منځته راتلای شي چې بېړنۍ پېژندنې او درملنې ته اړتيا لري، نو ځکه مې وغوښته چې ددې ستونزې د لاملونو، مخنيوي او درملنې په اړوند يوه علمي مقاله وليکم، ترڅو محترم طبي کارکوونکي او وطنوال ورڅخه ګټه واخلي.

موخې:

- د اټکيو د لاملونو، ضميموي ناروغيو، درملنې او مخنيوي د لاروچارو په اړه څېړنه.
- په اړونده موضوع کې روغتيايي کارکوونکو، زده کوونکو او د مسلک مينه والو ته د ګټورو علمي معلوماتو برابرونه.

اټکۍ (Singultus or Hiccup):

پېژندنه: يو تېز شهيقي اواز دی چې د حجاب حاجز او Glottis د سپزم له کبله منځته راځي، اټکۍ په زياتره حالاتو کې د لږ وخت لپاره وي او په خپله ښه کېږي، خو په ځينو حالاتو کې دوام داره او د ځينو خطرناکو ناروغيو له کبله منځته راځي چې بايد لامل يې پيدا او درملنه يې ترسره شي، تر څو د اختلاطاتو د منځته راتلو څخه مخنيوی وشي. (۲، ۴، ۵، ۷)

لاملونه: د لاملونو له مخې اټکۍ په دوه ډوله ده:

۱- هغه اټکۍ چې لامل يې کومه ناروغي نه وي چې د لاندې لاملونو له کبله منځته راځي:

الف. ژر ژر ډوډۍ خوړل چې هضمي سيستم ته د زياتې هوا د داخلېدو لامل ګرځي.

ب. په زياته اندازه خوراک کول، په ځانګړې ډول د شحمو او مرچک لرونکو خوړو خوړل.

ج. په زياته اندازه د شرابو او غير الکولي مشروباتو لکه پيپسي، فانتا او نورو څکل.

د. په ناڅاپه ډول د حرارت بدلون لکه د ګرمو مايعاتو د څکلو څخه وروسته د يخو مايعاتو څکل او يا د ګرمو اوبو څخه وروسته په يخو اوبو ځان مينځل.

و. روحي او عصبي تنبيهات: ځينې روحي او عصبي تنبيه کوونکي لکه هيجانات، روحي فشار، خندل او ژړل هم د اټکيو د منځته راتلو لامل کېږي. (۸)

۲- هغه اټکۍ چې د ناروغيو له کبله منځته راځي:

الف. د مرکزي عصبي سيستم ناروغي لکه سرطانونه، انتانات، ترضيضات، .C.V.A او نور.

ب. ميتابوليکي ناروغۍ لکه يورميا((Hypocapnia, uremia, Hyperventilation).

ج. د واګوس او فرينبک عصب تخريش چې د لاندې لاملونو له کبله منځته راځي:

۱. په سر او غاړه کې، لکه په غوږ کې د اجنبي جسم موجوديت، جاغور او سرطانونه.

۲. په ټټر کې، لکه سينه بغل (Pneumonia)، Empyema، سرطانونه د زړه احتشا(Myocardial-Infarction) پريکاردايس (pericarditis) انيوريزم، د مرۍ بندښت او Reflux-oesophagitis.

۳. په ګېډه کې، لکه د حجاب حاجز څخه لاندې ابسي د ځيګر غټوالی (Hepatomegally)، د ځيګر التهاب (Hepatitis)، Cholecystitis، د معدې توسع (Stomach- Distension)، د معدې سرطانونه، د پانقراس التهاب(Pancreatitis) او د پانقرانس سرطانونه.

د. جراحي، لکه عمومي انستيزيا او يا د جراحي عملياتو څخه وروسته.

و. درمل، لکه Benzodiazepine (Diazepam)، Alprazolam (Xanax)، Lorazepam (Ativan)، Levodopa، Nicotine، Odansetron (Zofron). (۲،۷،۸)

ه. Psychogenic and idiopathic، په يو شمېر پېښو کې د اټکيو لامل نه پېژندل کېږي.

تشخيص:

د اټکيو د لاملونو پېژندنې لپاره بايد د ناروغ څخه مکمله طبي تاريخچه واخستله شي او هم د ناروغ دقيقه فزيکي کتنه ترسره شي او مهمې لابراتواري ازموينې لکه د کريايتنين اندازه، د سينې عکس، ايکوکارډيوګرافي، د زړه برقي ګراف برانکو سکوپي، Fluoroscopy, upper–endoscopy او د سر، سينې او ګېډې لپاره Computed –Tomography اجرا شي. (۷،۸)

درملنه:

د اټکيو درملنه په دوه طريقو سره کېږي:

I. کورنۍ درملنه (Home Remedies).

II. طبي درملنه (Medical –treatment).

I. کورنۍ درملنه (Home –remedies): دا درملنه په لاندې ډول ترسره کېږي:

الف. د Nasopharynx تخريشول (irritation of Nasopharynx): په دې درملنه کې د يو قاشوقې په واسطه د Uvula پورته ټيله کول د يوه کتيتر په واسطه د Nasopharynx تنبه کول او د يو قاشوقې بورې او يا شاتو خوړل شامل دي.

ب. په نورمال تنفسي سايکل کې مداخله: دا مداخله د valsalva مانورې، پرنجي کولو، Gasping او يا په يوه کڅوړه کې د دوباره تنفس کولو په واسطه ترسره کېږي.

ج. د واګوش عصب تنبه کول: په دې درملنه کې Carotid– massage شامل دي.

د. د حجاب حاجز تخريشول: په دې درملنه کې ناروغ ته داسې وضعيت ورکول کېږي چې زنګونونه د سينې سره ولګېږي.

ط. د ناروغ د معدې د توسع رغېدنه: چې د ارګمي او يا Nasogastric تيوب په واسطه ترسره کېږي.

ق. ناروغ ته د داسې حالت پيدا کول چې حيران او يا وډار شي.

و. ناروغ ته ويل کېږي چې د لسو مشهورو ګنجيانو نومونه واخله. (۱،۳،۷)

II. طبي درملنه (Medical – Treatment):

که چېرې د کورنۍ درملنې سره اټکۍ له منځه لاړه نه شي، نو ناروغ ته لاندې درمل ورکول کېږي.

الف. chloropromazin (Largactil): اول انتخابي درمل دي چې 25-50 ملي ګرامه د خولې او يا عضلې له لارې ناروغ ته ورکول کېږي.

ب. Other – Drugs: نور درمل، لکه (metoclopromid) Anti Convulsant, (Carbamezapin, phenytoin) prokinetic، Bromazepam (Lorazepam Diazepam) Baclofen او gabapentin هم د نومورې ستونزې د درملنې لپاره کارول کېږي.

ج. عمومي انستيزي: په دې درملنه کې فرينک عصب بلاک کېږي.

د. د واګوس عصب د تنبه کولو لپاره يو برقي تنبه کوونکي اله د ناروغ په وجود کې غرس کېږي.

و. جراحي درملنه: که چېرې د پورتنيو درملنو په واسطه اټکۍ تداوي نه شي، نو اخري درملنه يې جراحي ده چې په دې درملنه کې فرينيک عصب قطع کېږي. (۴،۳)

انذار: اکثراً اټکۍ سليم سير لري او په خپله او يا د کورنيو درملو په واسطه ښه کېږي، کله کله طبي درملو ته هم ضرورت پيدا کوي، خو په ځينو حالاتو کې اټکۍ کولای شي ناروغ ته تنفسي الکلوزس (Respiratory – Alkalosis) رامنځته کړي او هم په خوب، خبرو کولو او غذا خوړلو کې ورته ستونزې پيدا کړي. (۷،۲)

پايله:

له پورته څېړنې څرګنده شوه چې د اټکيو لامل کېدای شي ډېر ساده، لکه د غذايي موادو ژر ژر خوړل، د ځينو غذايي موادو خوړل او څکل او کله کله عصبي او روحي فشارونه وي چې په خپله او يا د کورنۍ درملنې سره ښه کېږي، خو په ځينو پېښو کې اټکۍ کېدای شي د خطرناکو ناروغيو له کبله منځته راشي چې ډېرو پرمختللو لابراتواري ازموينو او درملنې ته اړتيا پيدا کوي.

وړانديزونه:

۱. زه ټولو وطنوالو ته دا وړانديز کوم چې خپل صحت ته پام وکړي او د ډېر خوراک، په بيړه سره د غذا خوړل او هم د هغو غذايي موادو د خوړولو او څکلو څخه ځان وساتي چې د اټکيو د پيدا کېدو څخه علاوه د زړه، شکرې، لوړ فشار او نورو ناروغيو منځته راتلو لامل کېږي او که چېرې ځينو خلکو ته د اټکيو ستونزه پيدا شي، نو ژر تر ژره دې يو طبي کارپوه او يا روغتون ته ورشي، تر څو لامل يې پيدا او درملنه يې تر سره کړي.

۲. ټولو طبي کارکوونکو ته وړانديز کوم که چېرته په کليو، بانډو ولسواليو او يا ښارونو کې د نومورو ناروغانو سره مخ کېږي، عادي يې ونه ګڼي او د لامل د پيدا کېدو او درملنې لپاره يې لازم تدابير ونيسي.

۳. دولتي چارواکو ته وړانديز کوم چې په اخبارونو، مجلو، راډيوګانو، تلويزونونو او نورو رسنيو کې د اټکيو د لاملونو او د هغې د درملنې په اړه د عامه پوهاوي ځانګړي پروګرامونه جوړ او وطنوالو ته يې نشر کړي.

Abstract:

Hiccup is a sharp inspiratory sound produced due to spasm of glottis and diaphragm. The cause of hiccup may be benign and self limited for example over eating,air swallowing ,sudden temperature changes ,alcohol ingestion and states of heightened emotion. But some time the causes of hiccup are various diseases eg neoplasm, infection and trauma of C.N.S,goiter ,pneumonia,empyema ,MI, pericar ditis, aneurysm, subphrenic abscess, Hepatitis, gastric neoplasm, pancreatitis etc. The diagnosis of these diseases requires more advance laboratory investigation. Hiccup may be treated with simple home remedies e.g. lifting of uvula with a spoon , catheter stimulation of nasopharynx, eating 1tsp of sugar ,breath holding , valsalva maneuvar,sneezing re-breathing in to a bag , carotid massage etc. But some time a number of drugs are used in the treatment of hiccup e.g. chlorpromazin, phenytoin, carbamezapin, benzodiazepines, metoclopromid, beclofen etc. The final treatment of hiccup is anesthesia and surgery.

References:

1 – a-b Wilkes liary Hiccup Home remedies retrieved 2011
2- Christopher- Haslet Davidson principles and practice of medicine 2011 edition Churchill living stone London pp: 881-882
3- Engelmann EG, Lank ton Granular sugar as treatment for Hiccup
4- Fauci Lango,Eugene Brawled Harrison's principle of internal medicine p1250
5- Gold mal Ausielle Cecil Textbook of medicin 23th edition Elsevier sounder India 2004 p: 1500
6- kumar parveen clark Michael clinical medicine Saunders London p 258
7- Lawernce M, Tierney current medical diagnosis and treatment
8- Meadow Milano causes of Hiccup Retrieved 2012

پوهـــــندوی احـــــسان الله (ثاقـــب)
ښوونې او روزنې پوهنځی- فزیک څانګه

خـــوار شـوی یـــورانیم

(Depleted uranium)

لنډیز:

یورانیم په بېلابېلو سویو بډای کېدای شي چې د بډاینې هره سویه د یوه ځانګړي تخنیک او موخې لکه برېښنا، وسلې او داسې نورو لپاره کارول کېږي. د خوار شوي یورانیم فزیکي خواص له طبیعي یورانیم سره یو شان دي، په خوار شوي یورانیم کې د طبیعي یورانیم کچه له 0.7 څخه تر 0.2 پورې راټیټه شوې ده. که خوار شوی یورانیم په دومره کوچنیو ټوټو وویشو چې د اوړو بڼه غوره کړي، د تودوخې په نورماله درجه کې د اوبو، هوا او اکسیجن سره کېمیاوي مرکب جوړوي او په خپل سر اور اخلي. څرنګه چې د یورانیم وسلو څخه ایونایزوونکې وړانګې لکه الفا، بیتا او ګاما خپرېږي، نو له دې کبله د چاپېریال ټولو اوسېدونکو، نباتاتو، ځنګلونو او حیواناتو ته په تېره بیا په راتلونکو څو کلونو کې د خطر یوه غټه سرچینه ګرځېدلای شي. په هغه سیمه کې چې د یورانیم وسله وکارول شي او سرګلولې یې په هدف ولګېږي، نو سمدلاسه یې د چاودنې انرژي په حرارتي انرژي بدلېږي. د خوار شوي یورانیم فزیکي نیمایي عمر څلورنیم ملیارده کاله دی، دا په دې معنی ده چې له نوموړي وخت څخه وروسته بیا هم د لومړي وخت په پرتله نیمایي اکتیویتي پاتې ده؛ له دې کبله هغه سیمې چې د یورانیم وسلې پکې خورې ورې شوې او په راډیواکتیف موادو ککړې شوې وي، تر زرګونو کلونو پورې هم په نوموړي عنصر ککړې پاتې کېږي او د روغتیا لپاره د خطرناکه سرچینه ګرځېدلای شي.

سریزه:

معلومه ده چې په افغانستان کې د جګړې تقریباً 35 کلونه کېږي، په دې جګړو کې زورواکو یا د نړۍ سترو قدرتونو د هر ډول سلاح (باروتي، شعاعي، هایدروجني) له استعمال څخه ډډه ونکړه، خو هغه وسلې چې په دغه جګړه کې استعمال شوي، د پخوانۍ جګړې له وسلو سره کاملاً فرق لري، ځکه د هغه وخت وسلې کاملاً له اوسنې څخه جوړې شوې وې، خود 1990 کال څخه را پدېخوا د کېمیاوي او بیولوژیکي وسلو ترڅنګ راډیولوژیکي وسلې او د یورانیمو په نوم وسلې منځته راغلې. دغه رادیواکتیف خطرناک مواد چاپېریال ته هستوي وړانګې خپروي. غواړم په دې علمي مقاله کې د خوار شوي یورانیم فزیکي خواص، د خوار شوي یورانیم وړانګیز (د الفا، بیتا او ګاما وړانګې) فعالیتونه، د خوارشوي یورانیم د تجزیې کړنلاره، د خوارشوي یورانیم نظامي کارول (اتومي بمونه)، له خوار شوي یورانیم څخه د برقي انرژۍ لاسته راوړنه او په ژوندیو موجوداتو د هغې اغېزې، د چاپېریال ککړتیا او یو څه نور مطالب وڅېړم.

موخې:

- د خوار شوي یورانیم په اړه د معتبرو علمي موادو راټولول او توحیدول.
- د موضوع په هکله د مسلک مینه والو ته د مشکلاتو د حلولو په اړوند د مرستندویه موادو وړاندې کول.
- د راتلونکو علمي ترفیعاتو لپاره یې د یو فرعي اثر په توګه کارول.

خوار شوی یورانیم څه شی دی؟

یورانیم په بېلابېلو سویو بډای کېدای شي چې د بډاینې هره سویه د یوه ځانګړي تخنیک او موخې لپاره کارول کېږي. که چېرې مونږ په لوړه کچه بډای شوی یورانیم ولرو او زمونږ د اړتیا وړ یورانیم لږ بډای شوی وي، نو په دې حالت کې حتمي ده چې د دغه یورانیم د غني کولو مقدار راټیټ کړو او یا هم د هغه د بډاینې سلنه راټیټه کړو. دغه عملیه چې په هغې کې بډای

شوی يورانيم بېرته ځېښل کېږي، د بډايني د راټيټولو عمليه وايي. دغه پروسه د لومړي ځل لپاره د امريکا لخوا په روسيه کې د هستوي وسلو لپاره د بډای شويو يورانيمو د بډايني سويې د راټيټولو لپاره وکارول شوه چې بيا دغه بډای شوی يورانيم د سوله ييزو موخو لپاره وکارول شو. (7، م 95)

خوار شوی يورانيم د هستوي او اتومي بټيو د سوخت موادو د لاسته راوړلو په موخه او همدارنګه د هستوي او اتومي سلاحګانو لکه اتوم بم او هستوي بم جوړولو کې د طبيعي يورانيم هغو وروسته پاتې شوو فاضله موادو ته ويل کېږي چې د چاودېدونکي U^{235} د غني کولو په پروسه کې پاتې کېږي. څرنګه چې په نوموړې وسله کې د چاودېدونکي U^{235} کچه د طبيعي يورانيم په انډول له 0.7 څخه تر 0.2 پورې را ټيټه شوې ده، نو له همدې امله ورته خوار شوی يا زېښل شوی يورانيم ويل کېږي. نوموړی يورانيم هم درې راډيواکتيف ايزوتوپونه لري چې له U^{234} ، U^{235} او U^{238} څخه عبارت دي. د اتومي انرژۍ نړيوال سازمان د تعريف پر اساس د خوار شوي يورانيم وسله يوه نوې وسله ده چې تقريباً 99.8% پکې راډيواکتيف U^{235} ايزوتوپ، 0.2% پکې چاودېدونکي U^{235} ايزوتوپ برخه لري. په خوار شوي يورانيم کې د U^{238} برخه د طبيعي يورانيم په پرتله 5% زياته ده. د خوار شوي يورانيم د راډيواکتيويتي کچه د طبيعي يورانيم په پرتله نيمايي ته را ټيټېږي. کله چې په طبيعي يورانيم کې د چاودېدونکي U^{235} اصلي مقدار د هستوي بټيو د سوخت موادو لپاره له 0.7% څخه 4% ته لوړ شي، نو په دې صورت کې غني شوي يورانيم لاس ته راځي، په داسې حال کې چې په هستوي وسلو کې د U^{235} برخه د U^{238} په نسبت له 20% نه تر 90% بډای شوي وي. خوار شوی يورانيم د نوموړو دواړو بډايني کړنلارې په پايله کې هغه پاتې شوي مواد تشکيلوي چې د يورانيم په وسلو کې ورڅخه کار اخستل کېږي. (3م م171 – 170)

د خوار شوي يورانيم فزيکي خواص:

ښکاره ده چې خوار شوی يورانيم له طبيعي يورانيم سره کوم تفاوت نه لري، يوازې تفاوت يې دادی چې په خوار شوي يورانيم کې د U^{235} مقدار نيمايي ته را ټيټېږي او يا هم ويلای شو چې د سلنې اندازه يې راټيټېږي، نو فزيکي خواص يې د طبيعي يورانيم سره کوم تفاوت نه لري. خالص خوار شوی يورانيم د سپينو زرو په شان يو سپين رنګه ځلېدونکی راډيو اکتيف عنصر دی چې د الفا، بيتا او ګاما وړانګو په خپرولو سره په نورو عناصرو بدلېږي. د لومړي ځل لپاره د مارتين هانريچ کلاپروت په وسيله چې يو جرمنی عالم و، په 1789 ميلادي کال کې کشف شو. د چارچ مقدار يې 92، کتلوي عدد يې 238 دی؛ په همدې اساس 146 نيوترونونه لري، درې ايزوتوپونه لري چې له U^{238} ، U^{235} او U^{234} څخه عبارت دي او په ترتيب سره په طبيعت کې 99.2% ، 0.72% او 0.08% وجود لري. څرنګه چې وويل شول خوار شوی يورانيم لکه طبيعي يورانيم راډيواکتيف خواص لري، د وخت په تېرېدو سره تجزيه کېږي، په لومړي وخت کې يوازې د الفا او بيتا وړانګې ورڅخه خپرېږي، د تجزيې په کړنلاره کې په نورو عناصرو لکه Th^{234} ، Pa^{234} او U^{234} اوړي. په لومړۍ تجزيه کې U^{238} چې نيم عمر يې 4.5 مليارده کاله دی، په يو نوي عنصر Th^{234} اوړي او په دې ترڅ کې د الفا وړانګه خپروي چې $4.2MeV$ انرژي لري. په دويمه تجزيه کې Th^{234} چې نيم عمر يې 24 ورځې دی، د بيتا منفي وړانګه يا په بل عبارت الکترون خپروي، د نوموړې وړانګې حرکي انرژي $0.26MeV$ ده. د تجزيې په دريمه مرحله کې Pa^{234} او U^{234} منځته راځي چې په خپل نوبت سره د بيتا او الفا وړانګې محيط ته ورکوي. (7م م87,88,92)

د خوار شوي يورانيم وړانګيز فعاليتونه:

وړانګيز فعاليتونه هغه فعاليتونه دي چې د يو راډيواکتيف عنصر څخه توليد کېږي، که چېرې دغه وړانګيز فعاليت د انسان بدن ته له بهر څخه متوجه وي، متوجه کېدونکي وړانګه د بهرنۍ وړانګې په نوم يادېږي او که چېرې د انسان په بدن کې دننه د يو راډيواکتيف عنصر څخه خپرېږي، د داخلي وړانګو په نوم سره يادېږي. د بېلګې په ډول کله چې د يورانيم يوه سرګلوله په هدف ولګېږي، نو د چاودنې په پايله کې د يورانيم فلز کوچنۍ ذرې هرې خواته خپرېږي، يوه برخه يې د ځمکې پرمخ پرېوځي او بله برخه يې د راډيواکتيف ګرد په شکل د باد او هوا د فشار په واسطه هرې خواته خوځېږي. د يورانيم نوموړي شيندل شوي راډيواکتيف مواد د ګاما، الفا او بيتا وړانګې خپروي چې چاپېريال ته د خطر سرچينه ګرځېدای شي. (3م،180)

د الفا، بيتا او گاما وړانگې:

پوهېږو چې له 2500 پېژندل شوو هستو څخه 90% راډيواکتيف دي، نو په ذرو، الکترومقناطيسي څپو او عناصرو باندې تجزيه کېږي چې له دغو ذرو څخه يې مهمې د الفا او بيتا ذرې دي. د الفا ذره له دوه نيوترونو او دوه پروتونو څخه ترکيب شوې ده چې د هيليوم اتوم له هستې سره سمون لري. کله چې د الفا ذره له يوې هستې څخه وځي، نو د چارج مقدار يې دوه واحده او د کتلې مقدار يې څلور واحده کمېږي. د الفا ذرې سرعت $1.52 \times 10^7 \frac{m}{sec}$ دی چې د نور د سرعت 5%جوړوي، که ددغې ذرې انرژي محاسبه کړو نو لرو چې:

$$K = \frac{1}{2}mV^2 = \frac{1}{2}(6.67 \times 10^{-27}kg)(1.52 \times 10^7 \frac{m}{sec})^2 = 7.7 \times 10^{-13} joul$$

پوهېږو چې $joul = 6.24 \times 10^{12} MeV$ دی، نو ويلای شو چې د k قيمت په لاندې ډول دی:

$$K = 4.8MeV$$

د يادونې وړ ده چې له هرې هستې څخه د الفا وتونکې ذرې انرژي ثابته ده. دغه ذره خپله انرژي په محيط کې د ايونايزيشن لپاره په مصرف رسوي او د طونلي اثر له مخې له هستې څخه وځي. د بيتا ذرې له هغو نيوترونونو څخه عبارت دي چې لوړ سرعت لري او د چټکو الکترونونو په نوم يادېږي؛ کله چې يوه راډيواکتيف هسته له ځانه خپره کړي، نو په کتلوي عدد کې يې کوم تغير نه راځي، بلکې د چارج مقدار يې يو واحد زياتېږي يا کمېږي، نو له همدې امله بيتا هم مثبت او هم منفي تجزيه لري، لوړه انرژي لري، خو کولای شو د المونيم يوې ورقې په وسيله يې راستنه کړو. لاندې شکل له جسمونو څخه د الفا، بيتا او گاما وړانگو تېريدنه راښيي:

د گاما وړانگې هغه الکترومقناطيسي موجونه دي چې اوږدوالی يې لږ او انرژي يې ډېره ده. په عنصر کې د هستې د انرژي سويو د بدلون او يا هم زياتوالي په نتيجه کې له عنصر څخه وځي. هره هسته د انرژۍ ځانگړې سويه لري، تر ټولو ټيټې سويې ته يې د انرژۍ عادي سويه وايي او بله يې هيجاني سويه ده چې د $1Mev$ په اندازه انرژي لري چې د راډيواکتيف يا هم کومې بلې ذرې د بمبارد په نتيجه کې لاس ته راځي. کله چې دغه بمبارد شوی عنصر له هيجاني حالت څخه عادي حالت ته راځي، نو خپله اخستل شوې انرژي د گاما په بڼه محيط ته ورکوي چې د چارج او کتلې مقدار يې تغير نه کوي، بلکې د هستې د انرژۍ په مقدار کې تغير راځي. (8م27 − 20)



د گاما د موج اوږدوالی له 1Å څخه تر 0.001Å پورې تغير کوي. کتله يې د اتومي کتلې د مقياس په واحد صفر ده، اختصاري سمبول يې γ دی، انرژي يې له $10MeV$ $10KeV$ پورې تغير کوي، د نفوذ قابليت يې ډېر زيات دی، په هوا کې د څو مترو په اندازه او په اوبو او نسجونو کې د څو سانتي مترو په اندازه دی.(1م173)

معادل دوز= د ډوز ضريب $mSv\ m^2$ × د ځمکې ککړه سطحه $\frac{bq}{m^2}$

$$H(mSv\ s^{-1}) = Dose\ faktor(mSv\ m^2) \times Surfaceactivity(\frac{bq}{m^2})$$

په پورتنۍ معادله کې د دوز ضريب د ځمکې يو متر مربع سطحې څخه د وړانگو انرژي دوز د ملي سيورت په واحد معنی ورکوي. نوموړی قيمت د نړيوال سازمان $ICRP$ د خپرونو څخه اخستل شوی او د هر ايزوتوپ لپاره ځانگړی قيمت لري، د

بيلګې په ډول د سيزيم لپاره نوموړی ضريب $0.39 \times 10^{-12} mSv\, m^2$ قيمت لري. که ومنو چې د يوه سړي بدن ته د ګاما وړانګې په $E = 9.172\ MeV$ کچه انرژي ننوځي، نو د نايتروجن N^{14} هسته يو فوتون γ جذب کوي او سمدلاسه د C^{13} يوه هسته او P د اتوم هستې څخه دباندې شي، د نوموړې هستوي تعامل معادله داسې ليکو:

$$N^{14}(\gamma, p)\, C^{13} \quad , \quad N^{14} + \gamma \Rightarrow C^{13} + p$$

که ومنو چې د اوبو يو ماليکول ايونايزيشن انرژي $34eV$ ده، نو د يو ميګا الکترون ګاما وړانګو په لګېدو سره 30000 زره جوړه ايونونه توليد ېږي.(3م181)

د خوار شوي يورانيم د تجزيې کړنلاره:

سلطانزی ځدرانې او نور (1386م375 – 374) په لاندې شکل کې د خوار شوي يورانيم د تجزيې کړنلاره د وخت په تابع سره ښودل شوې ده چې د يورانيم وسلو په جوړولو کې ورڅخه کار اخستل کېږي. د شکل په عمودي محور کې د يو ګرام خوار شوي يورانيم اکتيويتي د کيلو بيکاريل په واحد او په افقي محور کې د کلونو شمېر ښودل شوی دی. له يو کال نه وروسته يورانيم په توريم او پروتکتانيم تجزيه کېږي او د الفا وړانګو ترڅنګ د بيتا او ګاما وړانګې هم خپروي. د يو مليون کلونو د تېرېدو څخه وروسته د تجزيه شوو عناصرو اکتيويتي يو سل او اتيا زره بيکاريل ته پورته ځي، دا په دې معنی ده چې په يوه ثانيه کې يو سل او پنځوس ذره الفا، بيتا او ګاما وړانګې خپروي.



له شکل څخه څرګندېږي چې له څو مياشتو څخه وروسته د خوار شوي يورانيم ايزوتوپ په دوه نورو راډيواکتيف عناصرو لکه Th^{234} او Pa^{234} اوړي چې د β هستوي وړانګې خپروي. له يوه کال وروسته د خوار شوي يورانيم دواړو ايزوتوپونو لکه U^{238} ، U^{235} او همدارنګه د Th^{234} او Pa^{234} د يوه ګرام راډيواکتيويتي تر $50000Bq$ پورې پورته ځي. د نوموړو عناصرو راډيواکتيويتي تر 10000 کالو پورې ثابت او په خپل حال پاتې کېږي. د $10^6 y$ څخه وروسته ګڼ شمېر نور نوي راډيواکتيف عناصر منځته راځي چې اکتيويتي يې ددې مودې نه وروسته د يورانيم سره د تعادل په حالت کې پاتې کېږي او د α، β او γ وړانګې خپروي. له نوموړې مودې څخه وروسته د پيدا شوو راډيواکتيف عناصرو اکتيويتي اعظمي قيمت ځانته غوره کوي او په $1gr$ کې لږ څه $200KBq$ پورې رسېږي. په دغه موده کې نوي راډيواکتيف ايزوتوپونه لکه راديوم، رادون، پولونيم، سرب او بسموت منځته راځي. په اخر کې په يوه ثابت عنصر سرب دوه سوه لس باندې اوړي. د پورته شکل په ښي اړخ کې د هغو راډيواکتيف عناصرو نومونه ليکل شوي دي چې د يورانيم د تجزيې په کړنلاره کې منځته راځي. د يو مليارد کلونو څخه وروسته خوار شوی يورانيم نور نه تجزيه کېږي او په يوه ثابت عنصر سرب او پولونيوم باندې اوړي. له

دې کبله د خوار شوي یورانیم د تجزیې په لړ کې یوازې نوموړی اخرنی عنصر دی چې روغتیا ته کوم خطر نه لري. د روغتیا په تړاو د خوار شوي یورانیم خطر په اوسني وخت کې دومره نه، بلکې په راتلونکې اوږده موده کې ډېر زیات اټکل کېږي او له دې کبله د اند ښنې وړ دي. (۱۱)

د خوار شوي یورانیم پوځي کارول (اتومي بمونه):

له کېمیاوي وړانګیزو فعالیتونو څخه ازاده شوې انرژي له هستوي انرژۍ څخه څو چنده کوچنۍ ده، په کېمیاوي وړانګیزو فعالیتونو کې د یو وړانګیز فعالیت په نتیجه کې ازاده شوې انرژي له $20eV$ څخه تجاوز نه کوي. په داسې حال کې چې د U^{235} هستې په هره چاودنه کې تر $200MeV$ پورې رسېږي. کله چې په 1938 کال کې هستوي چاودنه کشف شوه، نو د انرژۍ له پلوه په ډېر شدت سره د توجه وړ وګرځېده، له دې وروسته لومړی اتوم بم چې په 1945 کال کې د 2×10^4 ton TNT په قدرت سره د جاپان د هیروشیما په ښار کې منفجر شو. که چېرې د یوې مادې کتله له بحراني کتلې څخه کمه وي، نو د یو زنځیري تعامل لپاره مساعده نه ده. که د U^{235} هر اتوم لپاره کتله د بحراني کتلې څخه لږه هم کمه وي، نو یو زنځیري تعامل ترې نشي ترسره کېدای. که چېرې دغه دوه نیمې کرې یو له بل سره وصل شي بحراني کتله تولیدوي او زنځیري تعامل ترسره کوي. دغه عملیه د یو اتومي بم شروع ده. که چېرې په $1KgU^{235}$ کې ټولې هستې د زنځیري تعامل په تر سره کولو بریالی شي، نو 2×10^4ton TNT معادل حرارت تولیدوي. د یو اتوم بم ساده شکل په لاندې ډول سره دی: د زنځیري تعامل سرعت په اتومي بمونو کې ډېر زیات دی، نو په همدې اساس اتومي انفجار د ثانیې ملیونمه برخه په بر کې نیسي، د انفجار لپاره باید د U^{235} دوه هستې یا کرې یو بل ته نږدې شي، تر څو د زنځیري تعامل لپاره اماده شي، دغه نږدې کېدنه لږ مخکې د یو کوچني انفجار په وسیله چې د TNT په وسیله کېږي، تر سره کېږي.



هستوي سلاح ګانې په درېوو ګروپونو طبقه بندي کولای شو:

- د انشقاق هستوي سلاح: په دې سلاح ګانو کې د انفجار انرژي د U^{235} هستې له انشقاق څخه لاس ته راځي چې په A ډول اتومي بمونو شهرت لري.
- دوه مرحله یي انشقاق هستوي سلاح: په دغه ډول سلاحګانو کې د انفجار انرژي د هستوي انشقاق او هستوي حرارت څخه لاس راځي، له همدې امله د حرارتي هستوي بم په نوم یاد ېږي.
- درې مرحله یي انشقاق هستوي سلاح: په دغه ډول سلاح ګانو کې انرژي د درې هستوي تعاملاتو په نتیجه کې تولید ېږي، نو له همدې امله د دغه ډول بمونو د انفجار قدرت ډېر زیات دی.

په همدې اساس هستوي انفجارات هم په درې ډوله دي:

- هوايي انفجار: دغه انفجار په يوه ارتفاع کې خپل زهري خاصيت په ډېره اسانۍ سره په انسانانو او نورو ژوندیو موجوداتو واردولای شي.
- سطحي انفجار: دغه نوم ورته ځکه ورکړل شوی دی چې اور يې له ځمکې سره تماس پيدا کوي او په يوه خاصه ساحه کې ډېر ګټور دی.
- د ځمکې په داخل کې انفجار: که يو انفجار په يو زيات ژوروالي کې واقع شي، نو په ځمکه کې يوه لړزه لرونکی موج توليدوي او که د ځمکې سطحې ته نږدې وي، نو ډېرې غټې کندې به جوړې کړي. (4م378 – 377 ، 387 – 384)، (9م500)

که چېرته په خوار شوي يورانيم کې نور ايزوتوپونه لکه U^{236} او Pu^{239} ور ګډ شي چې د هستوي بټۍ د سوخت موادو سوځېدل شوو پاتې برخه تشکيلوي، نو د روغتيا په اړه د يورانيم وسلې اندېښنې نورې هم زياتېږي. د بېلګې په ډول نړيوالو څېړنو په ډاګه کړې هغه سرګلولې چې د 1999 – 1994 کلونو په موده کې د بالکان په جګړه کې استعمال شوي، د $1KgU^{236}$ ځانګړې اکتيويتي $6 \times 10^4\ Bq$ او د $1KgPu^{239}$ ځانګړې اکتيويتي د دوولس بيکاريل څخه هم لوړه وه. د بټۍ داخل اوبه بايد تر فشار لاندې د 280°C او 320°C لاندې وساتل شي. (3م173)، (9م510)

له خوار شوي يورانيم څخه د برقي انرژۍ لاسته راوړنه:

هستوي ريکتور هغه سيستم ته ويل کېږي چې هلته د حرارتي انرژۍ د توليد لپاره هستوي انشقاق صورت ونيسي. په نړۍ کې چې تر اوسه کوم ريکتورونه جوړ شوي، زياتره يې د برق د توليد لپاره دي. ريکتورونه په هستوي قوو کې همغه رول لري، کوم چې د بخار توليدوونکي يې د بخار د انرژۍ د توليد لپاره تر سره کوي. هستوي ريکتورونه زيات ډولونه لري، خو د ټولو هدف دادی چې څنګه وکولای شي حرارتي انرژي په برقي انرژۍ بدله کړي. (5م377)، (6م192)



د هستوي انشقاق پروسه داسې ده چې لومړی بايد U^{235} د يو ترمل نيوترون په وسيله بمبارد شي، تر څو U^{235} د انشقاق لپاره اماده شي. دغسې ريکتور چې د هستوي انشقاق په وسيله خپل کار تر سره کوي. مخکې وويل شول چې په خوار شوي يورانيم کې د U^{235} کچه د طبيعي يورانيم د سلنې په نسبت را ټيټېږي، نو په همدې اساس د ريکتور د فعال ساتلو په خاطر او يا هم د کافي انرژۍ د تر لاسه کولو په خاطر بايد د سوخت د موادو يوه زياته اندازه وکارول شي او کوښښ بايد وشي چې د يورانيم د بمبارد کولو لپاره د نيوترونونو يوه زياته کچه وکاروو، تر څو وکولای شو د زنځيري انشقاق پروسه را ټيټه نشي. (2م434)

په هستوي ريکتورونو کې هستوي انشقاق تر سره کېږي، په نتيجه کې يې توليد شوی حرارت د ريکتور د فعال ساتلو دنده په غاړه لري او د سوخت مواد يې يورانيم دي. که چېرې د U^{235} يوه هسته ماته شي، نو 200 ميګا الکترون ولټ انرژي ترې

لاسته راځي چې هر ميګا الکترون ولټ انرژي $1.602 \times 10^{19} MJ$ سره مساوي ده، په داسې حال کې چې هر کيلو ګرام يورانيم 2.54×10^{24} هستې لري، نو د يو کيلو ګرام U^{235} څخه به 82×10^{6} ميګاژول انرژي لاسته راشي. که د ډبرو سکرو څخه د توليد شوې انرژۍ سره يې مقايسه کړو، نو د 2800 ټنو ډبرو سکرو څخه تر لاسه شوې انرژۍ سره مساوي ده؛ ځکه له يو کيلوګرام ډبرو سکرو څخه لاسته راغلې انرژي $29.4MJ$ ده. (5م376)

د انسان پر بدن د وړانګو اغېزې:

ويلای شو که حياتي ماکروماليکولونه د ژوندي موجود نه دباندې د شعاع تر تاثيراتو لاندې راوړل شي، نو $10Gy$ انرژي ضروري ده، ترڅو په هغوی کې يو فزيکي تغير منځته راوړي. که چېرې دغه سلول د ژوندي موجود دننه تر شعاع لاندې راوړل شي، نو يوازې $50mGy$ انرژي پکار ده چې يو بيولوژيکي عکس العمل وليدل شي. تر ټولو حساسه هسته د سايتو پلازم ده، د سلول د مرګ لپاره $1Gy$ انرژي په يوه هسته کې پکار ده، په داسې حال کې چې د سايتو پلازم لپاره $10Gy$ انرژي همدغه کار تر سره کولای شي. د شعاع ژر تاثيرات او د دوز کمه اندازه په لاندې جدول کې معرفي شوي دي:

د ډوز کمه اندازه په Gy	د بدن عضوه	د اثر ډول
1	ټول بدن	مرګ
0.25	ټول بدن	د وينې جاري کېدل
3	د پوستکي يوه کمه اندازه	د پوستکي وريتېدل
3	د پوستکي يوه کمه اندازه	د ويختانو تلل
0.05	ټول بدن	د کروموزومونو نقص
0.1	يو خاص نسج	د خصيو د کار اختلال

(1م م207، 210)

له راډيواکتيف توکيو څخه د امراضو په تداوي او تشخيص کې کار اخيستل کېږي، د مثال په ډول د ډبرو داسې امراضو تشخيص چې په ساده وسايلو له $X - Ray$ او يا نورو تر سره نشي، نو ډاکتران له نورو وړانګيزو فعاليتونو څخه استفاده کوي او امراض پرې تشخيصوي، د نمونې په ډول سي ټي سکن او ام آر ای چې د معايناتو يا تشخيص تر ټولو پيشرفته وسايل دي او د سرطاني امراضو د تداوۍ لپاره هم له راډيو اکتيف موادو او د هغوی له انرژي څخه استفاده کېږي. د سرطاني تومورونو د له منځه وړلو لپاره د راډيواکتيف موادو له محلولونو څخه د پيچکاري په ډول کار اخستل کېږي. (10م1059)

سي ټي سکن

ام آر اي

د خوار شوي يورانيم په وسيله د چاپېريال ککړتيا:

د انسانانو په وسيله د راډيو اکتيف موادو د کانونو څخه استفاده کول ددې عامل کېږي چې د طبيعت په دغو موادو کې د نظم او کنترول پروسه له خطر سره مخ کړي چې په نتيجه کې به زيات راډيواکتيف مواد د ژوند پر چاپېريال ورزيات شي. دغه بې نظمي کېدای شي په محيط کې د زلزلې، سيلابونو او همدارنګه د ځمکې د خوېدلو سبب شي. له بل پلوه د

مصنوعي راډيواکتيف موادو جوړېدل هم دغه خطرونه زياتولی شي. که څه هم راډيواکتيف وړانگيز فعاليتونه د انسانانو د ژوند چاپېريال له گواښ سره مخ کوي، خو له بل پلوه دغو وړانگيز فعالتيونو ته د تداوي اوهمدارنگه د امراضو د تشخيص لپاره ضرورت پيدا کېږي، نو له راډيو اکېتف موادو څخه هر شخص د يو کال په جريان کې 2.4 ميلي سيورت انرژي جذبولای شي. له دغه دوز څخه 0.8 ميلي سيورت د دوا او تشخيص لپاره مصرفولای شي. (4م م366 – 365)، (6م221)

څرنگه چې د يورانيم وسلو څخه ايونايزونکې وړانگې لکه الفا، بيتا او گاما خپرېږي، نو له دې کبله د چاپېريال ټولو اوسېدونکو، نباتاتو، ځنگلونو او حيواناتو ته په تېره بيا په راتلونکو څو کلونو کې د خطر يوه غټه سرچينه گرځېدلای شي، دا ځکه چې د انسانانو، نباتاتو او څارويو حجرې د يورانيم وسلو کېمياوي او وړانگيزو زهرجنو ناوړو اغېزو له کبله د تل لپاره زيانمنې کېږي. د مثال په ډول په سږو کې د يورانيم بيالوژيکي نيمايي عمر له دوه کالو څخه تر شپاړس کلونو پورې رسېږي، دا په دې معنی ده چې له شپاړسو کلونو څخه وروسته د يورانيم نيمايي برخه له بدن څخه وځي او نيمايي برخه يې په بدن کې پاتې کېږي. د خوار شوي يورانيم فزيکي نيمايي عمر څلورنيم مليارده کاله دی، دا په دې معنی چې له نوموړي وخت څخه وروسته بيا هم د لومړي وخت په پرتله نيمايي اکتيويتي پاتې ده؛ له دې کبله هغه سيمې چې د خوار شوي يورانيم وسلې پکې خورې شوي او په راډيواکتيف موادو ککړې شوې وي، تر زرگونو کلونو پورې هم په نوموړي عنصر ککړې پاتې کېږي او د روغتيا لپاره د خطر ستره سرچينه گرځېدلای شي. (3م م180 – 179)

پايله:

له پورته څېړنې دې پايلې ته رسېږو چې يورانيم په بېلابېلو سويو بډای کېدای شي چې د بډاينې هره سويه د يوه ځانگړې تخنيک او موخې لپاره کارول کېږي. خوار شوی يورانيم د هستوي او اتومي بټيو د سوخت موادو د لاسته راوړلو په موخه او همدارنگه د هستوي او اتومي سلاحگانو جوړولو کې د طبيعي يورانيمو هغو وروسته پاتې شوو فاضله موادو ته ويل کېږي چې د U^{235} د غني کولو په پروسه کې پاتې کېږي چې په نوموړې وسله کې د U^{235} کچه د طبيعي يورانيم په انډول له 0.7 څخه تر 0.2 پورې راټيټه شوې ده، نو له همدې امله ورته خوار شوی يورانيم ويل کېږي. د خوار شوي يورانيم فزيکي خواص له طبيعي يورانيم سره يو شان دي، نوموړي يورانيم هم درې راډيو اکتيف ايزوتوپونه لري چې له U^{234}، U^{235} او U^{238} څخه عبارت دي، د يورانيم وسله 99.8% U^{238} تشکيلوي. که خوار شوی يورانيم په دومره کوچنيو ټوټو وويشو چې د اوړو بڼه غوره کړي، د تودوخې په نورماله درجه کې د اوبو، هوا او اکسيجن سره کېمياوي مرکب جوړوي او په خپل سر اور اخلي. د يادو شوو خواصو له کبله له خوار شوي يورانيم څخه په نظامي برخه کې د چاودېدونکو موادو په موخه کار اخيستل کېږي. څرنگه چې د يورانيم وسلو څخه ايونايزوونکې وړانگې لکه الفا، بيتا او گاما خپرېږي، نو له دې کبله د چاپېريال ټولو اوسېدونکو، نباتاتو، ځنگلونو او حيواناتو ته په تېره بيا په راتلونکو څو کلونو کې د خطر يوه غټه سرچينه گرځېدلای شي، دا ځکه چې د انسانانو، نباتاتو او څارويو حجرې د يورانيم وسلو کېمياوي وړانگيزو زهرجنو ناوړو اغېزو له کبله د تل لپاره زيانمنې کېږي.

Abstract:

Uranium can be in rich in different levels and these levels can be used for a specific technique and aims. Like production of electricity and weapons etc. the physical characteristics of poor uranium is equal with natural uranium. The level of natural uranium in poor uranium is bellowed from 0.7 to 0.2. if the poor uranium is to be split into two pieces to make the form of flour so it make a chemicals compound with water, air and oxygen in the presence of normal heat and take fire spontaneously. It is remarkable that weapon having uranium; produce rays like Alpha, Beta and Gamma. And then the mention rays create a great danger to plants, forest and Animal in the next coming time. The areas where uranium weapon have been used and its bullets are focused on the target so rapidly the explosive energy change into heat energy. The poor uranium physical half life is 4.5 billion years. Its mean that the half activity is remain compare to the half done activity. Due to this reason the areas where the uranium weapons has been dispersed and conducted by the uranium material so for thousand years remains conducted in that region and becomes a great source of danger for health.

اخځليکونه:

۱. حيدري، ميرمحمدظاهر. (1389). بيوفزيک. پوهنتون بلخ، پوهنځی طب

۲. ديويدهاليدی، رابرت رزنيک، جرل واگر. ترجمه: نصرتي جليليان. محمد رضا ، عابديني. محمد ، خوش نظر خوش بين. محمد رضا. (1385). مبانی فزيک. جلد سوم. تهران: انتشارات صفار- اشراقی

۳. طانزی ځدران، نظرمحمد ؛ سلطانزی ځدران، حاجي محمد ؛ سلطانزی ځدران، غازي محمد. (1386 ل). سرطان او د چاپېريال راډيواکتيويتي. جرمني

۴. کارخانه ای، ابراهيم. (1381 ل). شيمي هسته ای و حفاظت در برابر اشعه. انتشارات دانشگاه بوعلی سينا

۵. مقدس تفرشی، سيد مسعود. (1384 ل). منابع توليد انرژی الکتريکی در قرن بيست و يکم. انتشارات دانشگاه صنعتی خواجه نصيرالدين طوسی

۶. مورای، ريموند ال. ترجمه: علوی نايبی، سيدمحمد. (1384ل). انرژی هسته ای. تهران: نشر علوم دانشگاهی

۷. نظيفی، عبدالحی؛ تنها ، محمد رحمت الله. (1386ل). د تطبيقي هستې اساسات. کابل پوهنتون، ساينس پوهنځی

۸. نظيفی، عبدالحی؛ تنها ، محمد رحمت الله. (1386ل). د هستوي فزيک اساسات. کابل پوهنتون، ساينس پوهنځی

9- R. MURUGESHAN, Er. KIRUTHIGA SIVAPRASATH. (2012).Modern Physics. PRINTED IN INDIA

10 – SERWAY and FAUGHN. (1992). COLLEGE PHYSICS 3rd edition printed in the states of America.

11 - http // www. benawa. com

پوهندوی سید محمدانور (اکبري)
طب پوهنځی- پوستکي څـانګـه

په لويانو کې د Tinea Capitis د پېښو څېړنه

لنډيز:

Tinea Capitis د سر د ناحيې د يوې فنګسي ناروغۍ څخه عبارت ده چې په ماشومانو کې يې پېښې زياتې او برعکس کاهلان پرې په نادره توګه اخته کېږي. په دې څېړنه کې ۵۰ تنه هغه کاهلان چې پرته له کوم بل مشخص سبب څخه يوازې د سر د ناحيې ستونزې يې لرلې او ۲۲ نور هغه بې اعراضو کاهلان شامل دي، چې د هغو ماشومانو سره چې په Tinea Capitis اخته وو، اړيکه لرله، تر څېړنې لاندې ونيول شول چې د ۵۰ تنو له جملې څخه په ۲ تنو کې Tinea Capitis تثبيت شو او د ۲۲ اړيکه لرونکو کاهلانو کې ۳ کسان د ناروغۍ ناقلين وګڼل شول.

سريزه:

Tinea Capitis د سر د ناحيې يوه فنګسي ناروغي ده چې د بلوغ څخه مخکې ماشومانو کې چې د ۳ تر ۷ کلونو منځ کې عمر ولري، زياته ليدل کېږي؛ نوموړې ناروغي د پوستکي د مختلفو تظاهراتو لرونکې ده. Tinea Capitis په هغو ټولنو کې چې فقر او غربت حاکم او د نفوسو زياتوالی موجود وي، زياته معموله ده. سببي عامل چې د Microsporum Canis، Microsporum audivani، Trcichophyton Tonsorans او Trichophyton violaceum څخه عبارت دی، د حيواناتو يا د يو منتن شخص په واسطه نورو اشخاصو ته انتقالېږي. (۲،۳)

موخې:

- د Tinea Capitis د هغو پېښو څېړنه ده چې په لويانو کې ليدل کېږي، ځکه چې نوموړې فنګسي ناروغي د کاهلانو برعکس په ماشومانو کې زياته ليدل کېږي.
- په اړونده برخه کې طبي او مسلکي کارکوونکو او زده کوونکو ته د ګټورو معلوماتو برابرونه.

مواد او کړنلاره:

په دې څېړنه کې دوه ګروپه ناروغان تر څېړنې لاندې نيول شوي:
لومړی ګروپ هغه ناروغان تشکيلوي چې د ۲۰ کلونو څخه زيات عمر لري او د ننګرهار پوهنتون روغتون جلدي څانګې OPD ته يې مراجعه کړې وه، چې موجوده شکايت يې د سر د ناحيې تفلسات او د ويښتانو له منځه تللو څخه عبارت دی، چې البته بل کوم مشخص علت ثابت شوی نه دی. په دويم ګروپ کې پرته له اعراضو کاهلان معاينه شوي دي؛ دوی د هغو ماشومانو مينډې دي چې د Tinea Capitis لرونکي تثبيت شوي وو. په لومړي ګروپ کې د مايکروسکوپيک کتنې لپاره د KOH مستحضرات کارول شوي، دلته د دواړو ګروپونو د فنګس نوعيت د څرنګوالي لپاره د کلچر څخه کار نه دی اخستل شوی. ياده دې وي چې دا څېړنه د ۱۳۸۹د حمل مياشتې څخه د ۱۳۹۱کال د جوزا مياشتې پورې بشپړه شوې ده.

پايله:

په لومړي ګروپ کې د ۵۰ کاهل ناروغانو د سر د ناحيې څخه د فنګس د تثبيت لپاره Scarping اخستل شوی دی، دلته کلنيکي تظاهرات او مايکولوجيک تشخيص د يو جدول په شکل ښودل شوی، په ۲ ناروغانو کې د مايکروسکوپيک د مستقيمې معاينې په واسطه انتان تثبيت شوی دی.

د پېښو شمېره	عمر په کلونو	جنس	د اعراضو موده په کلونو	کلينيکي پېژنده	مايکروسکوپ
۱	۳۰	F	1	د مخ او څټ درماتيتس، Traction Alopecia	+
۲	۲۱	F	5	د الوپسي غټ Patch د وينښتانو د ماتېدو سره يو ځای	+
۳	۲۳	F	3	لوی Blad Patch ، د سر Vertx غيرتفلسي	+
۴	۳۲	M	1	Pustule، Crusts او د سر د Vertex په ناحيه کې تفلس	+
۵	۲۴	F	معلومه نه ده	پراگنده تفلسي نواحي او د سر د Vertex په نواحيو کې د وينښتانو ماتېدل	+
۶	۲۷	M	معلومه نه ده	د سر منتشر تفلسات، دماغي تاخر	+

مناقشه:

سره له دې چې Tinea Capitis په ځينې سيمو او مناطقو کې ليدل کېږي، بيا هم په کاهلانو کې پېښې کمې ليدل کېږي. دلته يوه ښه پېژندل شوې استثنا وجود لري چې هغه د اوږدې مودې تندبي الوپسي څخه عبارت ده چې په Favus ناروغۍ کې ليدل کېږي چې د ناروغۍ عامل يې Trichophyton Schoenleini څخه عبارت دی، کوم چې نوموړې ناروغي د کوچنيوالي څخه تر زړښت دورې پورې دوام کوي. دا ناروغي په اندميک توگه د افريقې په ځينو برخو، سکاتلينډ، غربي اروپا او په منځني ختيځ کې ليدل کېږي چې په کې يو وصفي Scar چې د Scatula (Cup Shaped Crust) سره يو ځای ليدل کېږي. (۱،۷،۸)

پرته له دې چې سببي عامل يې په نظر کې ونيول شي، په کوچنيانو کې Tine a Capitis پېښې په پراخه پيمانه ليدل کېږي. کلينيکي تظاهرات يې په موضعي توگه د وينښتانو ضياع چې dot Black سره يا پرته له Dot Black څخه وي، د سر د نواحيو منتشره فوکل تفلسات چې په مختلفو وخامتو سره چې احمرار ورسره يو ځای وي يا نه وي، موجود وي. التهابي

Tinea Capitis پېښې چې د Impetigo، Pyoderma، Folliculitis decalvance او Cellulits Discting سره ورته والی لري هم ليدل کېږي چې البته حاده تقيحي پستولر منظره د Kerion په نوم هم يادېږي. د هغه نسبي مقاومت په باره کې چې د کاهلانو سر د Tinea Capitis په مقابل کې ښيي، داسې نظر موجود دی چې دا نسبي مقاومت ښايي د بلوغيت څخه وروسته د هغه Fungistatic عمل د زياتوالي نتيجه به وي چې د شحمي اسيدونو په واسطه د Sebum د ترکيبي تغيراتو باعث ګرځي. همدارنګه ځيني نورې غير روښانه امينولوجيک پېښې هم په کاهلانو کې د Tinea Capitis منځته راتلو کې مهم رول لري، لکه چې دا حقيقت په Diabet، Lupu s Erythematous او Suppressor Immune درملو اخستونکي ناروغانو کې صدق کوي چې کله کله په Tinea Capitis اخته کېږي. په دياببيت اخته زاړه ناروغانو په نيمايي کې په بدن کې Dermatophyte تثبيت شوی دی. د Ectothrix ګروپ Dermatophytes تل د ډېرو شديدو التهابي عکس العملونو باعث ګرځي، په ځانګړې توګه چې فنګسي انتان حيواني منشه ولري. دا التهابي عکس العمل همېشه پخپله محدود ېږي او نسبتاً په چټکۍ سره په بنفسهي توګه له منځه ځي، په ځانګړې توګه په هغه ويښتانو کې چې سست وي. د خاکستري تفلسي Patch موجوديت همېشه په Ectothrix انتان باندې دلالت کوي. په ځينو انواعو کې ميزبان په طبعي توګه د نامعلومو دلايلو له کبله د فنګس په مقابل کې مقاومت ښيي؛ ښځې نظر نارينه و ته د انتان اخستلو لپاره مساعدې دي. په لويانو کې د Tinea Capitis د ناروغۍ منځته راتلل په لويه پيمانه د جغرافيوي موقعيت پورې اړه لري چې البته دا اندازه تل د بدلون په حال کې ده. (۲،۵)

Abstract:

Tinea Capitis is regarded as rare in healthy adults. A study of 50 adults presenting with Scalp problems with no other identifiable cause and 26 asymptomatic adults contacts of children's with Tinea Capitis was undertaken. The confirmation of Tinea Capitis and 6 of 50 patients and 3carriers among 26 adults contacts suggest that Tinea Capitis may of affect healthy adults. More often than was supposed.

References:

1. Andrews Diseases of the skin eleventh edition 2011.
2. P.N Behll Practice of Dermatology eight edition 2011.
3. Paul K.Buxton and Racheal Morris- Jones, ABC of Dermatology Fifth Edition 2009.
4. Cullen Jorizzo-Green. Penneys. Piette, Zone Dermatological signs of internal Disease Second Edition 1995.
5. Thomas P. Habif Clinical Dermatology Fifth Edition 2010.
6. Vijy K. Jain/ Anil Dashore manul of skin Diseases, First edition 2005.
7. www.pubmed.com
8. www.webmed.com

پوهـــــندوی پیرمـحمد (ســـتانکزی)
پوهـــــنمل مـحمد امـین (صـــافی)
وترنري علومو پوهنځی- کلنیک څانګه

په اهلي حيواناتو کې د اسکريازيز او انکليستوميازيز پريولانس

لنډيز:

د کامې ولسوالۍ په حيواني کلنيک کې د اهلي حيواناتو له جملې څخه ۳۰ سمپلونه راټول او تر مطالعې لاندې ونيول شول او په هغې کې د اسکيرس او انکلستوما معاينات ترسره شول، لس سمپلونه د خوسکيانو له جملې څخه پنځه مثبت او ۲۰ سمپلونه د سپيو له جملې څخه لس يې مثبت وو چې د ټولو حيواناتو عمرونه له يوه کال څخه کم وو، نو ځکه په وړو حيواناتو کې اسکيرس او انکلستوما موجود وو، په دې اساس دغه لنډه څېړنه سرته ورسېده چې تر څېړنې لاندې نيول شوي ټول حيوانات محلي وو چې په جدولونو کې ښودل شوي دي.

سريزه:

د اسکريازيز ناروغي يا ملوث کېدنه د توکسوکار او يتولورم په سبب مېښو او خوسکيانو کې منځته راځي او توکسوکاراکنس او توکسوکارالامينا په سپيو کې موجود وي. توکسوکاراکتي او توکسوکارالامينا په پيشوګانو او پاراسکيرس اکورم په اسونو کې موجود وي. دغه راز اسکېرس سوم په خوګانو کې موجود وي چې په پولتري کې اسکريديا ګالي او هيتراکس ګالينارم موجود وي. دا چنجيان نيماتودونه دي چې د اسکريديدا په اردر پورې مربوط دي. سوپر فاملي يې اسکريديوديا او فاملي يې Ascaridae ده. دا چنجيان په بالغ شکل د حيواناتو د وړو کلمو په لومن حصه کې ژوند کوي. دا انفکشن خصوصاً په ډېر زيات مقدار سره د مور څخه د عمودي انتقال په شکل وړو بچيو ته انتقالېږي. نوموړې ډېره مهمه نړيواله انتقالوونکې زونوزيز ناروغي ده او په انسانانو کې دا ناروغي د ويسرال لاروا په شکل انتقالېږي او بالاخره دا لاروا د چنجيو باعث ګرځي. د سپيو په منځ کې دا پرازيتونه د انکلستوماکنينم ډېر عام پرازيتونه دي، کوم چې په سپيو کې موجود دي. کنينم پرازيت يې د سپيو او کوکريو لپاره ډېر زيات په اوچته درجه پاتوجينک دي او دا پرازيت د انترايوترين طريقې له لارې انتقال صورت نيسي، کنينم پرازيت زونوزيز اهميت لري، نو ځکه د ملوث يا ککړ ګرد او خاورې له لارې انسانانو ته انتقالېږي. (۱،۷،۸،۹)

موخې:

- په اهلي حيواناتو کې د اسکريازيز ناروغۍ، د هغې تشخيص او درملنې په اړه عامه پوهاوی.
- په اړونده برخه کې د مسلک مينه والو ته د ګټورو معلوماتو برابرول.

مواد او کړنلاره:

۲۰ مختلف قسمه ساتل شوي سپي چې عمرونه يې زياتره د يوه کال څخه کم او په اسهال اخته وو، د کامې ولسوالۍ شېرګړ حيواني کلنيک ته د تداوی لپاره راوړل شوي وو؛ دغه راز د يادو سپيو ترڅنګ لس سره خوسکي چې عمرونه يې له يوه کال څخه کم وو، هم راوړل شوي وو چې له ټولو حيواناتو څخه مو د فضله موادو نمونې (سمپلونه) د سواب په واسطه مستقيماً واخيستل او د مايکروسکوپ د لسو په قوې مو معاينه کړل؛ د سدمنتيشن طريقې څخه په استفادې د يادو حيواناتو فزيکي معاينات او د حرارت درجه ثبت شوه. (۲،۳)

لومړی جدول:

شماره	نوع	برید	عمر (Month)	Sex	د پرازیت هګۍ لیدل
۱	Canine	Local	4	Male	NPOD
۲	Canine	=	4,5	=	
۳	Canine	=	5	=	
۴	Canine	=	3	=	
۵	Canine	=	1,5	=	
۶	Canine	=	1,5	=	
۷	Canine	=	3	=	
۸	Canine	=	4	=	
۹	Canine	=	5	=	
۱۰	Canine	=	3	=	
۱۱	Canine	=	8	=	
۱۲	Canine	=	3	=	
۱۳	Canine	=	1	=	
۱۴	Canine	=	1	=	
۱۵	Canine	=	1	=	
۱۶	Canine	=	1,5	=	
۱۷	Canine	=	3	=	
۱۸	Canine	=	2,5	=	
۱۹	Canine	=	1,5	=	
۲۰	Canine	=	1,5	=	

دویم جدول:

شماره	Species	Breed	Age (Month)	Sex	Health ova observed
1	Bovine	CB	2,5	Female	Strongylus ,trichuris
2	Bovine	CB	3	Male	Trichuris
3	Bovine	CB	6,5	Female	NPOD
4	Bovine	CB	4	Female	Strongylus
5	Bovine	CB	5	Male	NPOD
6	Bovine	CB	3	Female	NPOD
7	Bovine	CB	7,5	Female	Strongylus ,trichuris
8	Bovine	CB	9	Female	NPOD
9	Bovine	CB	4,5	Female	NPOD
10	Bovine	CB	5	Male	Strongylus

پایله:

٪۳۰ سپي په انکلستوما او ٪۲۰ په اسکېرس اخته وو او ٪۴۰ خوسکیان په سترانجیلس او ٪۳۰ خوسکیان په ترای چوریس مصاب وو، دغه راز ٪۲۰ په ترای چوریس او سترانجیلس دواړو مصاب وو. د معاینه شوو سمپلونو له جملې څخه د خوسکیانو کوم انفکشن موجود نه و او له دې معایناتو څخه دا څرګنده شوه چې ټولو معاینه شوو خوسکیانو کې اسکیرس

موجود نه و، مگر نور پرازيتونه په کې موجود وو، ځکه چې په منظم ډول يې د پرازيتونو ضد درمل ورکړي نه وو. له تشخيص وروسته سپيو ته د پرازيت ضد درمل Pyrental pamoate لس ملي گرام په يوه کيلوگرام وزن د بدن، د خولې له لارې سنگل دوز ورکول شو او خوسکيانو ته هم لس ملي گرامه د بدن په هر کيلوگرام وزن باندې البندازول سنگل دوز د خولې له لارې ورکول شول (۲)

مناقشه:

دا څېړنه چې مونږ د چيټ اوډ له څېړنې سره پرتله کړه، نو د نوموړې څېړنې په پرتله اسانه او مؤثريت يې هم زيات و. د يادې څېړنې پروسيجر مغلق او هم يې مؤثريت زيات نه و، په همدې اساس دا څېړنه په اسانۍ سره کولای شي چې مختلف حيوانات د پرازيتونو د اخته کېدنې څخه خوندي کړي. همدارنگه Souls By چې په کال ۱۹۸۲م کې د سريلانکا په اهلي حيواناتو کې کومه څېړنه کړې ده، پايلې يې زمونږ د څېړنې سره ډېرې نږدې دي.

Abstract:

There are 30stool samples of domestic animals collected in the district of Kama and screen for the internal parasites. In the result 10 samples of calf were screen for the ascaris and ancylostoma. 5 cases were positive for the ascaris and ancylostoma as well as 20 samples of dogs were screen for detection of parasites from this cases 10 cases were positive for the parasites those. all domestic animals were less than one year old. Which are described in the mention tables.

References:

1- Binford CH, Connor DH, editors.,(1976). Pathology of tropical and extraordinary diseases, vol 1 & 2, Washington D.C. A.F.L.P

2- Chitwood MB, Lichtenfels JR.,(1972). Identification of parasitic Metazoa in tissue sections, Exp parasitol 32: 407- 519.

3- Connor DH, Chandler FW. Schwartz DA. Manz HJ. And Lack EE.(1997) Pathology of Infectious Diseases, vol 1 & 2, Stanford. CT. Appleton and Lange.

4- Meyers, WN. Neafie RC. Marty AM. Wear DJ. (2000). Pathology of Infectious Diseases, vol 1. Helminthiasis. Washington D.C. American Registry of Pathology, A.F.L.P.

5- Orihel TC. Ash LR. (1995). Parasites in Human Tissues. Chicago, III. ASCP.

6- Pawar.S.P, Y. V. Raote, G.P. Bharkad, B.S. Khillare and A. V. Bhonsle (2005) Efficacy of anthelmintics against ancylostoma caninum and Dipylidium caninum in pet dogs. Intas polivet vol. 6 No. II: 240-242.

7- Singla L.D and P.D. Juyal (2005). New horizons on Clinico- molecular and zoonotic. Aspects of toxocariosis of dogs and cats. Intas Polivet Vol. 6 No. II: 264- 273

8- Soulsby, E.J.L. (1982). Helminthes, Arthropods and protozoa of domesticated animals *Edn.7th*. The English Language. Book Society and Bailliere Tindall, London.

9- Toft JD, Eberhard ML: Parasitic Diseases. In Taylor BT. Abee CR. Henrickson R. editors. (1998). Nonhuman Primates in biomedical research. diseases . San Diego. Academic Press, pp:111-206.

پوهـــــاند محمد طـاهـــــر
کرنې پوهنځی- اګرانومي څانګه

په افغانستان کې د زراعتي سکتور د پرمختګ نظريه

لنډيز:
پوهېږو چې افغانستان يو کرنيز هېواد دی او د خلکو نژدې په سلو کې اتيا يې په دې ډګر کې په کار بوخت دي، ولې د کمزورې تکنالوژۍ او د توليد د پوهاوي کچې ټيټوالی ددې لامل شوی چې د توليد سطحه له يوې خوا د ټيټ بې کيفيته حاصل سبب وګرځي او له بلې خوا د کورنې او ملي اقتصاد د کمزورې ودې له لارې د خلکو غربت لا نور هم پسې زيات شي. په حقيقت کې د زراعتي سکتور پيشرفت د پېچلو او يو له بل سره د مستقيمو او غير مستقيمو اړيکو لرونکو لاملونو پورې تړلی؛ په دې برخه کې مستقيم لاملونه کېدای شي د غير مستقيم لاملونو سره ګړندي شي. د بېلګې په توګه د توليد د کيفيت او کميت زياتوالی د غوره مارکېټ د موجوديت په صورت کې ممکن زياته تقاضا ولري او ... نور. پروسيز او زيرمه تونونه د توليد زياتوالي سره مستقيمې اړيکې لري. د هر اړخيز توليد ګډ سيستم (Integrated production system) رواجولو سره د زراعتي محصولاتو د استفادې ساحه زياتوالی مومي، د اوبو د اغېزمن استعمال سره زياتې ساحې د کښت او کرلاندې راځي.

سريزه:
د تېرو نړدې درې- څلورو لسيزو نا قراريو په جريان کې د قوانينو او بشري حقوقو د نه حاکميت، خلکو او ټولنې د ژوندانه سهولتونو ته د نه توجه له امله خپلسري کارونو او بې بندوباره کړنې ددې باعث شوې چې هم د وخت د قدرت شريک واکمن او هم ځانګړو ځينو کړيو پرته له دې چې د يوې ټولنې اجتماعي نورمونه او انساني کرامت په پام کې ونيسي، د خپلو شخصي ګټو د لاسته راوړلو په منظور بې د هرې وسيلې څخه کار اخستی. ددې ګډوډيو په اوږدو کې د خلکو ژوند د اوږد وخت لپاره د بې ثباته حالت سره مخامخ شوی. د افغاني ټولنې اوسېدونکو د خپل ژوند د تامين لپاره د کار پسې د هڅو او هاند په نتيجه کې پرته له بې روزګارۍ نور څه ونه ميندل. د ورځ په ورځ زياتېدونکي نفوس تر څنګه په ټولنه کې د ژوندانه عادي نورمونه هم له منځه ولاړل او د کار کولو شرايط صفر ته تقرب وموند ؛ دغه ټولې د ناورين ډکې غميزې د ژوند انکشافي حالت په ټپه ودراوه.

موخې:
د زراعتي سکتور د انکشاف څخه زمونږ اساسي هدف دا دی چې څنګه او په څه ډول وکولی شو چې کم لګښت سره د په لاس کې لرونکو لاملونو او امکاناتو څخه د زراعتي توليد په سکتور کې غوره ګټه واخلو او د نوې تکنالوژۍ د رامنځته کېدو په برخه کې اغېزمن ګامونه اوچت کړو.
د زراعتي سکتور د انکشاف لارې:
د يوې ټولنې د انکشاف لارې بايد د اجتماعي پرمختګ په منظور د ټولنې د ستونزو دايمي حل رامنځته کړي او دا بايد د سيمې په انکشافي پلان کې ولټول شي. د سيمې د انکشاف نقشه بايد د يو سوکاله ژوندانه د تامين لپاره د ژوند په ټولو ډګرونو کې لکه ښوونه او روزنه، صحت، صنعت او نورو ساحو کې د انکشاف پلانونه د زراعت سره يو ځای په کار واچول شي. دا چې افغانستان يو زراعتي هېواد دی، نو د زراعتي پروسې د انکشاف په صورت کې به د دهقانانو ژوند غوره وګرځي. په افغانستان کې د فعلي شرايطو په پام کې نيولو سره په دې برخه کې دوه مهم فکتورونه رول لري او دا عبارت دي له:

۱. د زراعتي تولید د تولید مستقیم فکتورونه
۲. د زراعتي تولید د تولید تقویه کوونکي فکتورونه

زراعتي تولید کېدای شي چې په دوه لارو ډېر شي، یعنې د تولید زیاتوالی په افقي او عمودي شکل، دا په دې معنی چې د یوې خوا د خړوبولو سیستم د درست فعالېدو او منجمنت سره زیاتې ساحې د کښت لاندې راځي، خو د بلې خوا کولی شو چې د تولید محدودونکي عوامل لکه تخم، د سرې درست استعمال او انتخاب یا اندازې، د اګروکېمیکل درست منجمنت او نورو عواملو د اغېزو له لارې د في واحد ځمکې څخه د حاصل اندازه تغیر مومي او همدارنګه د څړځای د زیاتېدو او حیواني غذا د تولید سره د حیواناتو په شمېر کې زیاتوالی راځي او یا دا چې د غوره حیواني نسلونو د درستې تغذیې او ساتنې سره د في حیوان تولیدي محصولات زیاتوالی مومي. (۷،۴)

دا ډول کړنې هغه وخت ممثره نتیجه ورکوي چې د تطبیق لپاره یې مطرح شوي پلانونه موثره وي. له بلې خوا که د تولید تقویه کوونکي فکتورونه اغېزمن وي، نو د زراعتي تولید له مخې د عرضې او تقاضا پر بنسټ ولاړ تقویه کوونکي فکتورونو اساس مارکېټ دی، دا په دې معنی چې که له یوې خوا د زراعتي تولید محدودوونکي عوامل لکه تخم، سره، ادویه جات، غوره حیواني نسلونه او تغذیوي مواد او نور په غوره جنسیت او ارزانه قیمت دهقان ته برابر شي، ورسره باید چې په مارکېټ کې د زراعتي تولیداتو قیمت هم د اجتماعي نورم د انکشاف سره یوځای ثابت وي. په دې برخه کې دوه مهم فکتورونه په پام کې نیول کېږي، یعنې مارکېټ ته د زراعتي محصولاتو د درجه بندۍ او انتخاب ترڅنګه مارکېټ ته د غذایي موادو د رسېدو ټرانسپورتي سهولت او اسانتیاوې او دویم دا چې د مارکېټ ظرفیت. د عرضې د سهولت څخه زمونږ مطلب مارکېټ ته په وخت له سالمې رسېدنې څخه عبارت دی او د مارکېټ د ظرفیت څخه په دې برخه کې زمونږ مطلب د مناسبو مارکېټونو چې د ځای او یخدانونو په لرلو سره پیل بیا د هېواد او تر بین المللي نورو بازارونو سره د ارتباط ثبات او هم د زراعتي محصولاتو د پروسس د تکنالوژۍ انکشاف دی. زه په دې برخه کې نور زیات څه نه غواړم چې ویې لیکم او هم نه غواړم چې د نورو موادو په احصایوي ارقامو کوم چې د مختلفو مراجعو له خوا توپیر ډول ښودل شوي، رڼا واچوم؛ که دوام ورکړو شاید پاڼې..... پاڼې پرې ډکې شي، زه د دهقانانو د کورني اقتصاد د تقویې، د سیمې د انکشاف او له ستونزو څخه د جامعې د دایمي خلاصون لپاره دولت او بین المللي ټولنې ته د شریک کار نتیجې غوره ګڼم. (۵،۲،۱)

د زراعتي سکتور د انکشاف هر اړخیزه پلان او د ټولنې پرمختګ:

د افغاني ټولنې د پیشرفت او د زراعتي سکتور د پیاوړتیا او انکشاف لپاره زه لاندې ټکي د پاملرنې وړ ګڼم او عملي تطبیق یې د حل لاره ګڼم، دغه ټکي په مجموعي شکل په لاندې ډول دي:

۱. ددې لپاره چې په ټول افغانستان کې زراعتي تولید د خړوبولو په سیستم ولاړ دی، تر هر څه لومړی باید هم د دښتو او هم د فعلي زراعتي سیمو ته دې د خړوبولو د اوبو درست منجمنټ وشي. د یادونې په ډول په دې برخه کې د اوبو سرچینې، د بندونو جوړول او د ویالو یا نهرونو جال لومړي قدم کې قرار لري.
۲. زراعتي لوړ تولید او نباتي فارمونو منجمنټ (Integrated farming system management) ددې لپاره دې تحقیقي، تکثیري او توسیعوي پروګرام په همغږي ډول د اوږد وخت لپاره پلان شي او په مختلفو ساحو (زونونو) کې تر اجرا لاندې ونیول شي؛ دا ټکي د حیواناتو په برخه کې هم په ورته شکل د پاملرنې وړ دي.
۳. زراعتي تولید لپاره دې د مارکېټ ثبات رامنځته شي، دا هله ممکنه برېښي چې که یو مارکېټ ته د غذایي موادو د سالمې او ژر رسېدنې یا عرضې ترڅنګه افغاني مارکېټونه هم یو بل سره او هم بین المللي مارکېټونو سره د عرضې او تقاضا په بین المللي اصولو ولاړ جال رامنځته شي.
۴. ددې لپاره چې زراعتي تولید ثبات پیدا کړي او ورځ په ورځ انکشاف ومومي، باید ورسره یوځای د زراعتي محصولاتو د پروسس او کانسروا جوړولو تکنالوژۍ ته وده ورکړل شي.
۵. د زراعتي محصولاتو د باثباته او ارزانه تولید په منظور د تولید محدودوونکي فکتورونه لکه تخم، سره، ادویه جات، زراعتي ماشین الاتو او نورو صنعت پیل او انکشاف ومومي.

۶. د زراعتي توليد د اقتصادي او غوره اغېزمنوالي په برخه کې زراعتي ميکانيزه سيستم د رواجولو او انکشاف پروسه د توليد زيات سهولتونه رامنځته کوي.

۷. څرنګه چې د سيمې نژدې په سلو کې اويا - اتيا برخې خلک د زراعت سره سر وکار لري، خو فعلي زراعتي محصولات د هغوی د ژوندانه د اقتصادي اړخ د پلوه هيڅ کافي نه دي. ددې لپاره چې له يوې خوا د بې روزګارۍ مخه ونيول شي او له بلې خوا په زراعتي سکتور کې د نوې تکنالوژۍ سره د کار اغېزمنوالی زيات وي، نو بهتره ده ورسره مل د صنعت انکشاف ته وده ورکړل شي، دا په دې معنی چې په يوه سيمه کې د خامو موادو څخه په اغېزمنه توګه ګټه اخستل کېږي او هم به ورسره دولتي او هم شخصي سکتور قوي او په څنګ کې به يې د بې روزګارۍ دايمي مخه ونيول شي. په دې برخه کې د کار د انرژۍ سرچينې او تاسيسات د کار اساس دی.

۸. دغه ټولې د زراعتي سکتور کړنې يوازې هغه وخت دايمي باثباته شکل غوره کولای شي چې که د چاپېريال ساتنې اصولو پر بنسټ عيارې وي، يعنې که له يوې خوا د موسمي بارانونو لپاره د وړو او غټو ډنډونو (micro and macro catchment) د جوړولو سره دښتې او صحرايي اقليم ته د سرسبزۍ له لارې تغير ورکوو، له بلې خوا د طبيعي ځنګلونو د ساتنې تر څنګه په مرتفع او لوړ ميلان لرونکو برخو کې د تيراسونو، چک ډيمونو او کانتورونو د جوړولو سره طبيعي چاپېريال د تخريب څخه ژغورو.

۹. داخلي او خارجي سرمايه د توليد د بنسټ په اساس يوازې دايمي ثبات او امنيت ته سترګې په لار دي.

۱۰. د ژوند په نورو ساحو کې لکه صحت، تعليم او تربيه، اقتصاد او نورو اړخونو کې همغږې پلانونه د دايمي ثبات او اطمينان له لارې به خلک او اجتماع په علمي فکر سره دې ته اماده کړي چې په طبيعي شکل د نامطلوبو نباتاتو او حيواناتو روزنه او استعمال بند شي.

۱۱. ددې لپاره چې د افغاني ټولنې وګړي د نورو په څېر هم په حقوقي او هم په اقتصادي لحاظ د برابر امتياز څخه برخمن وي، د زراعتي محصولاتو د توليد او لګښت قيمتونه دې د صنعتي موادو د توليد او لګښت له قيمتونو سره متوازن شي او ددې سره يوځای د کارګرانو، دولتي مامورينو، مسلک پوهانو او نورو د اجتماعي خدمت کارکوونکو معاشونه او د ژوند معايشتي نورمونه يو بل سره هماهنګه شي، دا د دايمي ثبات انکشاف، اداري نظم او منجمنټ يو اساسي فکتور ګڼو.

۱۲. دغه ټولې کړنې مسلکي پوهانو ته ضرورت لري، نو بايد د موجوده مسلکي وګړو څخه په انکشافي بهير کې موثره استفاده وشي او له بلې خوا د بين المللي ټولنې په مرسته دې د وخت سره سم علمي او مسلکي پوهان وروزل شي.

۱۳. ددې لپاره چې بشري ټولنه د غربت له لعنت څخه دايمي ژغورل شوي وي، د پورتنيو ټکو په پام کې نيولو سره بين المللي ټولنې يا ادارې د افغان دولت سره په ګډه د ګاونډيانو سره د ګډ تفاهم له لارې په بين المللي قوانينو ولاړ د انکشاف غوره سيمه ييز پرنسيپونه په کار واچوي. (۱،۲،۴،۵،۷،۹)

يادښت: د پورته نظريې پيچلې چارټ (Agriculture development) تر عنوان لاندې ددې ليکنې په تعقيب ښودل شوی.


Agriculture Development
Environment
Agro-Technique
Professional
Plant production
Cereals
Legumes
Fruits
Vegetables
Industrial crops (cash crops)
Forages
Floriculture
other
Facto r
Breeding
Seed
Soil
Nutrition
Cultivation
Harvesting
Protection
Processing
Other
Technology and management
Facto r
Breeding
Hybrid
Husbandry
Nutrition
Dairy production
Veterinary
Artificial insemination
Processing
other
Animal production
Cattle
Buffalo
Sheep
Goats
Poultry
Fisheries
Bee keeping
Sericulture (silk worm keeping)
other


Economic development
Research
Multiplication (reproduction)
Community development
Economic development

پایله او مناقشه:

په افغانستان کې د غذایي مصؤنیت په منظور باید زراعتي پروسې ته هر اړخیزه پاملرنه وشي، په دې برخه کې ډېر زیات فکتورونه په پیچلي شکل برخمن دي، خو مونږ د لنډیز په څېر د ځینو مهمو برخو یادونه کوو:

۱. په مرتفع، نیمه مرتفع او هموارو سیمو کې هم په کمي او هم په کیفي لحاظ د اوبو درست تنظیم او ورځخه اغېزمنه استفاده.
۲. هم په نباتي او هم په حیواني ډګرونو کې د څېړنو پر بنسټ ولاړ د تولید غوره او اغېزمن ارقام.
۳. د قرضو له لارې د بزګرانو د مالي توانمندۍ لوړوالی.
۴. د هر اړخیز ګډ فارم تنظیم او اداره (IFSM).
۵. د تولید او ساحې په پام کې نیولو سره د غوره تکنالوژۍ او اګروتخنیک انتخاب.
۶. د مسلکي زده کړو له لارې د بزګرانو او د ترویج د پرسونل د علمي مهارتونو لوړول.
۷. د زراعتي محصولاتو پروسس، سورت، ګریډینګ، یخې خونې او نور.
۸. دهقانانو ته توافق لرونکي غوره حیواني نسلونو او لګښتي مواد (تخم، سره او ادویه جات) برابرول.
۹. په ملي او نړیواله کچه د تولید د انتقال او مارکېټینګ (بازاریابۍ) د غوره او باثباته امکاناتو برابرول.
۱۰. د دولت تر څنګه د غوره تولید په منظور د خصوصي سکتور پیاوړتیا.
۱۱. د وترنري خدمتونو عرضه او تقویه.
۱۲. د هېواد او سیمې د ضرورت په بنسټ د ملي کرنیزې ستراتیژۍ لپاره د ماستر پلان ترتیب.
۱۳. د ژوند په نورو برخو کې همغږي.
۱۴. د وخت سره سم د انکشاف د پروسې تعقیب او پر ځای یې لازم اقدام.

زمونږ په نظر که د پورته ټکو په پام کې نیولو سره د ستونزو د دایمي حل پیچلی هر اړخیز نظر عملي بڼه اختیار کړي، دا به د سالم او نېکمرغه افغاني ټولنې په طرف د حرکت موثره قدم وي. فکر کوو چې نړیوالې هڅې او هاند به هم په عملي ډګر کې په نړیوالو قوانینو ولاړ د افغاني ټولنې د انکشاف په برخه کې په رښتینې ډول سره مرسته وکړي. افغانان ددې جوګه دي چې د انساني کرامت نړیوال معیارونه د بل هر چا څخه لومړی تطبیق کړي او دا د اطمینان او ثبات اساسي بېلګه ده. مونږ نه یوازې په دې باور لرو، بلکې دې ته اماده هم یو چې د خپلې سوکاله ټولنې د جوړېدو او انکشاف په برخه کې د خپلې مسلکي پوهې په بنسټ ستړتیا حس نه کړو، ترڅو په ګډه سره په نړۍ کې د بشر دوسته قوت په څېر ژوند وکړو.

Abstract:

To improved food security in Afghanistan it is necessary to develop agriculture sector. There are more complex factors that affect this sector such us bellow.

1. Water management and efficiency in low and high height lands.
2. Collection of effective data in the field of crop and animal husbandries base on research.
3. Provide credit system to increase farmers' economical abilities.
4. Integrated farming system management.
5. Selected of better technology and Agri-technics according to products and field.
6. Increase capacity of extension workers and farmers base on vocational education.
7. Pre and post-harvestof agricultural products.
8. Preparing adaptable and improved seeds and animal's generations.
9. Preparing facility of national and international markets for agricultural products.
10. Encourage of government and private sector.
11. Preparing of veterinary services.
12. Prepare master plan for agricultural strategies necessary for country and region.
13. Uniformity in other parts of life.
14. Gating necessary actions on time.

اخځليکونه:

۱. اذرخ، ا. (۱۳۲۹هـ ش). خاکشناسی عمومی و خصوصی. ایران: ارومیه

۲. ثمین، ع. ق. او عالمی. م. ع. (۱۳۲۱هـ ش). د خاورې کېميا او د نباتاتو تغذيه. کابل: کابل پوهنتون

۳. طاهر، م. ط. (۱۳۸۸هـ ش). خاوره، نبات او سره. ننگرهار: ننگرهار پوهنتون

۴. طاهر، م. ط. (۱۳۸۴هـ ش). د خاورې حاصلخيزي او د نباتاتو تغذيه. ننگرهار: ننگرهار پوهنتون

۵. وطن، هـ (۱۳۸۸هـ ش). طريقه بهتر توليد تخم بذری گندم. کابل افغانستان

1. Paul E, N. Clark F, E. Soil microbiology and biochemistry. 2. Edition California USA, 1996
2. Soil fertility (Hungarian). Budapest, 1972
3. Shafi. N. crop production. Islamabad, 1994
4. Svab. J. Biometrical methods in research (Hungarian). Budapest, 1981
5. Western fertilizer hand book. 2 hort. Edition. California USA, 1998

پوهـــندوی نجـيب الله (امـــين)
پوهـندوی سـميع الله (حـيـات)
طب پوهنځی- کوچنيانو څانګـه

تبناکي اختلاج اخته کوچنيانو کې د (Diazepam) او (Cold Sponge) د اغېزو څېړنه

لنډيز:

دا څېړنه چې د پوهنتون روغتون د کوچنيانو څانګه کې د ۹۲۴ اختلاج اخته کوچنيانو څخه چې روغتون ته يې د درملنې لپاره مراجعه کړې وه، په پراسپيکتيف ډول د ۵۰ تنو تبناکي اخته کوچنيانو چې عمرونه يې د ۳ مياشتو څخه تر ۵ کلنۍ اخره پورې چې د اختلاج موده يې د ۱۵ دقيقو څخه لږه، د حملو شمېر يې په ۲۴ ساعتونو کې يو ځل و، په دوو ګروپونو ويشلي او ترسره کړېده چې لومړي ګروپ ۲۵ تنو د تبناکي اختلاج اخته کوچنيانو ته چې د وريد له لارې diazepam ورکړ شوي، د اختلاج د ارامېدو وخت mean ۱،۸ دقيقه دی او د دويم ګروپ ۲۵ تنو د تبناکي اختلاج اخته کوچنيانو ته چې cold sponge يا ترمې او به تطبيق شوي، د اختلاج د ارامېدو وخت mean ۲،۵ دقيقې دی.

سريزه:

څرنګه چې تبناکی اختلاج په کوچنيانو کې د اختلاج يو له ډېر معمول نوعې څخه دی او يوه عاجله ستونزه ده او په روغتونونو کې د بستر ناروغانو يوه برخه جوړوي، اختلاج يې د تبې سره يوځای او د درېو مياشتو څخه تر پنځه کلنۍ تر اخره پېښېږي او ډېرې پېښې د ۲ مياشتو څخه تر ۱۸ مياشتني عمره پورې دي او پېښې په کوچنيانو کې ۵٪ د درملنې وړ دي او بعضې پېښې recurrent febrile convulsion او epilepsy ته ميلان لري چې د ناروغو ماشومانو د والدينو د اندېښنې باعث ګرځي. تر اوسه پورې په دې هکله کومه څېړنه نه ده ترسره شوې، نو له دې کبله د کوچنيانو څانګې مونږ ته دنده وسپارله چې د تبناکي اختلاج په اخته کوچنيانو کې د وريدي diazepame او cold sponge د اغېزو څېړنه ترسره کړو. بايد ووايو چې په دې څېړنه کې پوهندوی نجيب الله (امين) د ناروغانو په انتخاب، تشخيص، طبی ادبياتو ته کتنه په ليکلو او پوهندوی سميع الله (حيات) د طبي ادبياتو په تعقيب او د درملنې په تعقيب کې ونډه اخيستې ده.

موخې:

- تبناکي اختلاج اخته کوچنيانو کې د (Diazepam) او (Cold Sponge) د اغېزو څېړنه.
- په اړونده موضوع کې روغتيايي کارکوونکو، زده کوونکو او د مسلک مينوالو ته د ګټورو معلوماتو وړاندې کول.

تبناکی اختلاج:

تبناکی اختلاج عبارت له هغه اختلاج څخه دی چې د مرکزي عصبي سيستم انتان په کې موجود نه وي او د تبې سره يوځای وي او ورسره genralysed tonic/colonic اختلاج او شعور يې له لاسه ورکړی وي چې پرته له دې ماشوم روغ وي او د درېو مياشتو څخه تر پنځه کلنۍ اخره پورې پېښېږي او ډېرې پېښې د ۲ مياشتو څخه تر ۱۸ مياشتني عمره پورې دي. يادې پېښې په کوچنيانو کې ۵٪ دي، هلکان نسبت نجونو ته دوه چنده اخته کېږي او په دوه ډوله دي، يو يې ساده او بل يې مغلق ډول دی. د تبناکي اختلاج عمده لامل ويروسونه دي، نسبت باکترياګانو ته چې ډېره برخه د علوي تنفسي لارو او acute otitis media، mastoiditis، pharyngitis، adenoiditis او بولي لارو انتاناتو د اخته کېدو له کبله تبه لوړه او اختلاج منځته راوړي. (۱،۳،۸)

ساده ډول يې د ۹۰٪ څخه ډېرې پېښې جوړوي، د تبې درجه د ۳۸،۸ سانتي ګراد وي، حمله يې generalized وي، د حملې موده د ۱۵ دقيقو څخه لږه وي، په ۲۴ ساعتونو کې يوه حمله وي او د اختلاج فاميلي تاريخچه په کې مثبته نه وي. د مغلق

ډول د حملې موده د ۱۵ دقيقو څخه ډيره وي، حمله يې موضعي وي چې په ۲۴ ساعتونو کې د حملو شمېر د يو څخه ډېر وي. د اختلاج کورنۍ تاريخچه، پېژندل شوې عصبي نقيصه او د مرگي کورنۍ تاريخچه په کې مثبته وي. (۳،۴)

د اختلاج په کنترول او درملنه کې diazepam، phenobarbitone، phenytoin، Paraldehyde، midozolame شامل دي او د تبې د کمولو او کنترول لپاره cold sponge (ترمو اوبو تطبيقات)، پاراستامول او بروفين درمل شامل دي. (۷،۸)

ډيازيپام د ورید، مقعد او د خولې له لارې استعمالېږي، د ورید له لارې ژر اغېزمن دي. کله چې د ورید خلاصول گران وي، يا په هغه ځايونو کې اوسي چې طبي پرسونل شتون نلري، يا په کور ياست، د اختلاج د پېښېدو په صورت کې د قبول وړ موثر او پرته له څه ستونزې د درملو د تطبيق لاره مقعدي لاره ده. د تبناکي اختلاج وقايه په دوه ډوله ده، يو يې intermittent او بل continuous ده، د هر ډول وقايه په خاصو استطباباتو سره پيلېږي. په intermittent وقايوي ډول کې ښه درمل د تبې له منځه وړلو پورې د خولې له لارې د ډيازيپام ورکړه ده او په continuous وقايوي ډول کې ښه درمل فينوباربيتون او epival شربت دي. انذار يې په ساده تبناکي اختلاج کې ۱٪ او مغلق تبناکي اختلاج ۹٪ پورې epilepsy خواته ميلان لري. (۱،۲،۷،۸)

مواد او کړنلاره:

په دې څېړنه کې چې د پوهنتون روغتون کوچنيانو څانگه کې ترسره شوه، د تاريخچې له پاڼې، ستاپ واچ، درمل (diazepam)، cold spong (ترمې اوبه)، ترمامتر او تلې څخه گټه اخستل شوې ده. دغه راز څېړنه ۹۲۴ اختلاج اخته کوچنيانو څخه چې روغتون ته يې د معالجې لپاره مراجعه کړې وه، په پراسپيکتيف ډول د ۵۰ تنو تبناکي اخته کوچنيانو چې عمرونه يې د ۳ مياشتو څخه تر ۵ کلنۍ عمر اخره پورې چې د اختلاج موده يې د ۱۵ دقيقو څخه لږه، د حملو شمېر يې په ۲۴ ساعتونو کې يو ځل و، په دوو گروپونو په randomized ډول ټاکلې او ترسره کړېده. لومړی د ټاکل شوي تبناکي اختلاج اخته کوچنيان څخه شهرت، وزن، حرارت درجه اخستله، وروسته فزيکي معاينه اجرا او په دوسيه کې ثبت کوله، بيا وروسته ۲۵ تنو په تبناکي اختلاج اخته کوچنيانو ته diazepam د ۰،۲mg / kg په اندازه distle water سره يو ځای او رقيق کاوه، وروسته د ورید له لارې اختلاج اخته ماشوم ته تطبيق او د اختلاج د ارامېدو وخت د ستاپ واچ په وسيله معلوم او يادښت کېده، او بل گروپ ۲۵ تنو په تبناکي اختلاج اخته کوچنيانو ته يخ تطبيقات يا د ترمو اوبو تطبيقات کېدل، وروسته د اختلاج د ارامېدو وخت د ستاپ واچ په ذريعه معلوم او ثبت کېدل چې وروستي لاسته راغلي معلومات مو تر څېړنې لاندې نيول.

پايله:

۱- په دې څېړنه کې ۲۵ تنو تبناکي اختلاج اخته کوچنيانو ته چې د ورید له لارې diazepam ورکړ شوي، د جنس له نظره ۱۲ تنه هلکان (۷۴٪)، ۹ تنه نجونې (۳۲٪) دي. لومړی جدول: د جنس له نظره تبناکي اختلاج اخته کوچنيانو ته چې د ورید له لارې diazepam ورکړ شوي راښيي.

گڼه	جنس	شمېر	سلنه
۱	هلکان	۱۲	۷۴٪
۲	نجونې	۹	۳۲٪

د حرارت له نظره ۱۲ تنو د حرارت درجه ۳۹ سانتي گراد (۴۸٪)، ۸ تنه ۳۸،۹ سانتي گراد (۳۲٪)، ۵ تنه ۳۹،۳ سانتي گراد (۲۰٪) دوه. دويم جدول د حرارت له نظره تبناکي اختلاج اخته کوچنيانو ته چې د ورید له لارې diazepam ورکړ شوی، راښيي.

گڼه	شمېر	حرارت درجه	سلنه
۱	۱۲	۳۹ سانتي گراد	۴۸٪
۲	۸	۳۸،۹ سانتي گراد	۳۲٪

۳	۵	۳،۳۹ سانتي ګراد	٪۲۰

عمرونه له ۳ څخه تر۱۲مياشتنۍ ۱۴تنه (٪۵۲) ، ۱۳څخه تر۳۶ مياشتنۍ پورې۷ تنه (٪۲۸) ، له ۳۷ مياشتنۍ څخه تر۶۰ مياشتنۍ پورې۴ تنه (٪۱۲) دي. درېيم جدول: د تبناکي اختلاج اخته کوچنيانو ته چې د ورید له لارې diazepam ورکړل شوي، عمرونه را ښيي.

ګڼه	شمېر	عمرونه	سلنه
۱	۱۴	۳-۱۲ مياشتني	٪۵۲
۲	۷	۱۳-۳۶ مياشتني	٪۲۸
۳	۴	۳۷-۶۰ مياشتني	٪۱۲

د تبناکي اختلاج اخته کوچنيانو ته چې د ورید له لارې diazepam ورکړل شوي، د اختلاج د ارامېدو وخت mean ۱،۸ دقيقې دی. څلورم جدول: د تبناکي اختلاج اخته کوچنيانو ته چې د ورید له لارې diazepam ورکړل شوي، د اختلاج د ارامېدو وخت راښيي.

ګڼه	شمير	د اختلاج ارامیدو وخت mean
۱	۲۵	۱،۸ دقيقه

۲- ۲۵ تنو تبناکي اختلاج اخته کوچنيانو ته چې cold sponge يا ترمې او به تطبيق شوي، د جنس له نظره ۱۴ تنه هلکان (٪۵۲) ، ۱۱تنه نجونې (٪۴۴) دي. پنځم جدول: د جنس له نظره تبناکي اختلاج اخته کوچنيانو ته چې cold sponge تطبيق شوي راښيي.

ګڼه	جنس	شمېر	سلنه
۱	هلکان	۱۴	٪۵۲
۲	نجونې	۱۱	٪۴۴

د حرارت له نظره ۱۰ تنو د حرارت درجه ۳۹ سانتي ګراد (٪۴۰) ، ۶تنه ۳۸،۹ سانتي ګراد (٪۲۴) ، ۹تنه ۳۹،۳ سانتي ګراد (٪۳۶) ده. شپږم جدول: د حرارت له نظره تبناکي اختلاج اخته کوچنيانو ته چې cold sponge تطبيق شوي، راښيي.

ګڼه	شمېر	حرارت درجه	سلنه
۱	۱۰	۳۹ سانتي ګراد	٪۴۰
۲	۶	۳۸،۹ سانتي ګراد	٪۲۴
۳	۹	۳۹،۳ سانتي ګراد	٪۳۶

له دريو مياشتو څخه تر۱۲مياشتنۍ ۱۳تنه (٪۵۲) ، ۱۳مياشتنۍ څخه تر۳۶ مياشتنۍ ۶ تنه (٪۲۴) ، له ۳۷ مياشتنۍ څخه تر ۶۰ مياشتنۍ پورې۶ تنه (٪۲۴) دي. اووم جدول: عمرونه د تبناکي اختلاج اخته کوچنيانو ته چې cold sponge تطبيق شوي را ښيي.

ګڼه	شمېر	عمرونه	سلنه
۱	۱۳	۳-۱۲ مياشتني	٪۵۲
۲	۶	۱۳-۳۶ مياشتني	٪۲۴
۳	۶	۳۷-۶۰ مياشتني	٪۲۴

د تبناکي اختلاج اخته کوچنيانو ته چې cold sponge يا ترمې اوبه تطبيق شوي، د اختلاج د ارامېدو وخت mean ۲،۵ دقيقې دی. اتم جدول: د تبناکي اختلاج اخته کوچنيانو ته چې cold sponge يا ترمې اوبه تطبيق شوي، د اختلاج د ارامېدو وخت راښيي.

ګڼه	شمېر	د اختلاج ارامېدو وخت mean
۱	۲۵	۲،۵ دقيقه

مناقشه:

زمونږ د څېړنې له پايلو څخه جوته شوه چې په ۵۰ تنو تبناکي اختلاج اخته کوچنيانو چې په دوو ګروپونو ويشل شوي وو چې لومړي ګروپ ۲۵ تنو د تبناکي اختلاج اخته کوچنيانو ته چې د ورېد له لارې diazepam ورکړل شوي، د اختلاج د ارامېدو وخت mean ۱،۸ دقيقې دی او د دويم ګروپ ۲۵ تنو د تبناکي اختلاج اخته کوچنيانو ته چې cold sponge يا ترمې اوبه تطبيق شوي، د اختلاج د ارامېدو وخت mean ۲،۵ دقيقې دی. د خپلې څېړنې پايلې له نورو څېړنو سره پرتله او په لاندې ډول ورڅخه يادونه کوو.

۱- هغه څېړنه چې jasmin mary په ۲۰۰۲ ميلادي کال په هندوستان بنګلور ښار کې د تبناکي اختلاج اخته کوچنيانو کې د اختلاج کنترول د diazepam په ذريعه ترسره کړی، د اختلاج د ارامېدو وخت mean ۱،۳ دقيقې ښودلی او د تبې کنترول د cold sponge (ترمو اوبو) په ذريعه د اختلاج د ارامېدو وخت ۳،۳ دقيقې ښودلی چې زمونږ د څېړنې سره نږدې ورته والی لري. (۵)

۲- بله څېړنه د Mahmoudian T او Zadeh MM په وسيله په ۲۰۰۴ ميلادي کال د ايران په اصفهان طبي پوهنتون کې د ماشومانو عصبي څانګه کې د تبناکي اختلاج اخته کوچنيانو کې د اختلاج کنترول د diazepam په وسيله ترسره کړی چې د اختلاج د ارامېدو وخت mean ۸،۳ دقيقې ښودلی چې زمونږ د څېړنې سره نژدې والی لري. (۹)

۳- همدارنګه بله څېړنه د Karande Sunil په وسيله په ۲۰۰۷ ميلادي کال په lokmanya tilak municipal medical college and general hospital,sion mumbai د کوچنيانو په څانګه کې د تبناکي اختلاج اخته کوچنيانو د اختلاج کنترول د diazepam په وسيله ۵ دقيقو په شاوخوا کې ښودلی دی. (۱)

وړانديزونه:

څرنګه چې تبناکی اختلاج عاجله ستونزه ده چې يو ساده ډول چې ۱٪ او مغلق ډول چې ۹-۱۱٪ پورې epilepsy ته ميلان لري او ددې څېړنې پايلې څخه جوته شوه چې diazepam په لږه موده کې اختلاج کنترولوي او cold sponge يا ترمې اوبه لږې په ځنډ سره اختلاج اراموي، نو له همدې امله وطنوالو او روغتيايي کارکوونکو ته لاندې وړانديزونه لرم:

۱. ټول هغه والدين چې ماشومان يې په تبناکي اختلاج اخته کېږي، داکتر يا روغتون ته دې مراجعه وکړي.
۲. که چېرې والدين داکتر ته لاسرسی ونلري يا روغتون ته نژدې نه وي، د اختلاج د ارامېدو لپاره دې په ترمو اوبو سره خپل په اختلاج اخته ماشوم ولمبوي، وروسته داکتر يا روغتون ته يوسي، تر څو د تبناکي اختلاج لامل پيدا او درملنه يې وشي.

Abstract:

How ever,febrile convulsion is a kind of convulsion with fever ,that is very commonly occurred in children and also is an cautual problems ,and so part of admission in hospitals ,febrile convulsion is occurred from the 3months till end of five years age ,more occurred in the ages of 6-18months , incidence of febrile convulsions is 5% in children ,the febrile convulsions is treatable problems,some cases of febrile convulsion is frequent recurrent and goes to epilepsy ,which that cause of sadness of own parents of those patients ,common etiology of febrile convulsion is viruses than bacteria, also common cause febrile convulsion upper respiratory tract infections.febrile convulsion have two kinds of convulsion ,ones simple and others is complex ,two genses is affected equally .

References:

1- Ghai. O. P, vinod .k .Paul, Arvind Bagga, Essesntial pediatrics,febrile convulsions: 7th ed, new Delhi Bangalore, CBS publishers and Distributors pvt LTD, 2009, ch: 17 p: 528- 529.
2- Gupte SURAJ , the short Text Book of pediatrics ,febrile convulsions: 9th ed, New Delhi Jaypee brothers , 2001 , ch ;17 Pp: 313- 314.
3- Haneef.s.m, Maqbool. sajid, ARIF.M.A, TEXT BOOK OF PEDIATRICS, febrile seizures, print yard, bilal gunj, lahore, 2006, ch:19, pp:657-659.
4- Hay w w, Hay word A R, levin m J: current pediatric diagnosis and treat ment, febrile seizures, ed: 16th, USA, long medical book, 2003, ch; 22 p; 638-639.
5- jasmin mary, febricidal measures to prevent the occurrence of febrile seizure among children in the pediatric wards of indira Gandhi institute of child health banglore, 2006.
6- khan pervez akbar, basis of pediatrics, febrile convulsions, ed:11, paramount publishing enterprise, ch:13, pp:381-383.
7- KLIEGMAN R M, BEHRMAN R E, JENSON H B: Nelson Text Book of PEDIATRICS, febrile seizures, Saunder Company. USA, Ed: 18th, Vol-II, 2007, ch: 593 Pp: 2457-2458.
8- kliegman.m.robert.etal ,nelson essentials of pediatris, febrile convulsion, 5th ed, 2006, elsevier inc, ch:179, section: 24, p:838.
9-Mahmoudin T, Zadeh MM, treating acute seizure by I v diazepam in children, department of child neurology, medical university of asfahan, iran, 2004 apr, 5(2), t_mahmoudin@med.mui.ac.ir
10- Sunil karande, febrile seizure, lokmanya tilak municipal medical college and general hospital, sion mumbai, vol.61, no.3, march, 2007, pp.161-172, karandesunil@yahoo.com.

پوهندوی گل اضغر (الـوزی)
ښـــوونې او روزنـې پوهنځـــی
کېمـــــيا څـــــانگـــــه

د راډيکالي تعاملاتو ارزښت

لنډيز:
راډيکالونه بې جوړې الکترون لرونکي گروپ څخه عبارت دي چې د ماليکولي اوربيتال د تيورۍ پر بنسټ دا د يو واحد ډک شوي ماليکولي اوربيتال يا SOMO په شکل ښيي. په دې څېړنه کې به په لنډه توگه د راډيکالي گروپونو د جوړښت، د راډيکال د ډولونو، د راډيکالي تعاملاتو او هم پر بيولوژيکي سيستمونو د هغوی د اغېز په اړه معلومات وړاندې کړو.

سريزه:
راډيکالونه خنثی بې جوړې الکترون لرونکي گروپونه او ځينې وخت چارج هم لرلی شي چې د اړيکې د هومولايز ډول ماتېدنې څخه منځته راځي. دغه فعال ذرات چې هر وخت په کېمياوي تعامل کې داخلېدلی شي، په غيرقطبي محللونو او په گازي فاز کې منځته راځي. راډيکالونه مختلف ډولونه لري، لکه د ترای فنايل ميتايل راډيکال، ځنځيري راډيکالونه، د پراکسايدونو راډيکالونه، د اسيتايل راډيکال، پوليميري راډيکالونه او نور دي. دغه راډيکالونه مختلف تعاملات سرته رسوي لکه جمعي، تعويضي، حذفي، د نوي ترتيب نيولو تعامل او د يو الکترون د انتقال تعاملونه؛ ياد فعال گروپونه په بيولوژيکي سيستمونو کې هم تشکيلېدای شي چې د نورو ماليکولونو سره په تعامل کولو سره نوي مرکبات جوړوي.

موخې:

- د راډيکال، راډيکالي تعاملاتو او پر بيولوژيکي سيستمونو يې د اغېزو شننه.
- په اړونده موضوع کې د مسلک خاوندانو او زده کوونکو ته د گټورو معلوماتو برابرونه.

د راډيکال جوړېدلو ميکانېزم:

د راډيکال گروپونه د برېښنا له نظره خنثی دي، ځينې وخت دغه گروپونه د ازادو راډيکالونو په نوم هم يادوي، د اړيکې د هومولیتکي شلېدنې له امله د راډيکالونو جوړه تشکيلېږي، دغه حالت غيرقطبي محللونو Solvents ته د تودوخې ورکولو يا په گازي فاز کې منځته راځي. په لوړه تودوخه کې ټول ماليکولي گروپونه په راډيکالي گروپونو تجزيه کېږي. د لويس د تيورۍ له مخې هومولیتيک تجزيه کېدل هغه وخت صورت نيسي چې کوولانس دوه الکتروني اړيکه په داسې ډول ماته شي چې يو الکترون هرې يوې ټوټه شوې برخې يا گروپ ته ورشي، لکه چې وليدل شول د کلورين راډيکال پر اکسايدونه، اکسيجن راډيکال پر استرونه، د استايل راډيکال کوم چې CO_2 او کاربن راډيکالونه جوړوي. ازو مرکبات نايتروجن ترکوي (پرېږدي) د کاربن دوه جوړې راډيکالونه ورڅخه لاسته راځي.



د يو راډيکال جوړه کېدل او اړيکې د هومولتيک تشکيلېدو پروسه عموماً د ترمو ډيناميک او تعادل تيورۍ سره مخالفه ده، سره له دې چې د راډيکال ټوټه کېدلو د تعامل طبيعت څخه معمولاً بحث نه کېږي. د نايتروجن داي اکسايد او داي نايتروجن تترا اوکسايد تعادلي حالت تعامل په نظر کې نيسو.

$$O_2N - NO_2 \rightleftharpoons 2NO_2 \quad \Delta H^\circ = 54.4\ KJ/Mol$$
$$2NO_2 \rightleftharpoons O_2N - NO_2 \quad \Delta H^\circ = -54.4\ KJ/Mol$$

پورتني معلومات ښيي چې د $2NO_4$ د ايمير جوړېدو تعامل اکزوترميک عمليه ده (چېرته چې ΔH منفي ده) او د ټوټه کېدو عمليه اندوترميک ده. دغه سيستم باندې د لي شتلير پرنسيپ په تطبيق سره وينو چې د جوړه کېدو عمليه ټيټه تودوخه او د ټوټه کېدو عمليه لوړه تودوخه خوښوي. (۸م۱۹۸)

په قطبي چاپېريال کې د خنثی راډيکالونو توليد:

يو الکترون کولی شي چې د يو انيون څخه لرې شي، د اکسيدېشن عمليه بلل کېږي، د بېلګې په ډول د فنواکسايد ايون د Fe^{+3} په وسيله اکسدايز کېږي چې د فنايل اکسيجن راډيکال ورکوي او Fe^{+3} په Fe^{+2} ارجاع کېږي. د اوسپنې (II) ايون Fe^{+2} کولی شي هايدروجن پراکسايد په هايدروکسيل راډيکال او هايدروکسايد ايون ارجاع کړي.

SET (Single Electron Transfer)

$$X^- \rightarrow X^{\cdot} + e^-$$
$$X^+ + e^- \rightarrow X^{\cdot}$$



راډيکالونه چارج هم لرلی شي:



کله چې يو خنثی سپينې جوړه لرونکی ګروپ يو واحد الکترون واخلي، نو هغه يو راډيکال او انيون جوړوي چې راډيکال انيون ورته وايي، همدارنګه يو خنثی سپينې جوړه ګروپ چې يو الکترون وبايلي، هغه کتيون راډيکال کېږي او کتيوني او انيوني راډيکالونو کې شمېرل کېږي او د انحلال د انرژۍ افکت باندې تاثير لري.



Benzene radical anion



Benzene radical Cation

کتیوني او انیوني راډیکالونه په ګازي فاز کې پېژندل شوي، دوی معمولاً د کتلې سپکترومتري او د منفي ایون په مس سپکترومتري Mass spectrometry د بشپړولو په مطالعاتو کې تولید ېږي.

د ترای فنایل کلوراید راډیکال $Ph_3Cl^{\cdot}$:

ترای فنایل کلوراید د فلزي نقرې سره د ترای فنایل متایل راډیکال $Ph_3C^{\cdot}$ جوړوي، کوم ګروپ چې د لومړي ځل لپاره په 1900 کې مشاهده شوې و، خو راډیکال یې په دغه وخت کې تشخیص شوی نه و. جوړښت یې مسطح نه دی، ځکه فضایي مزاحمت د فنایل د دروند لیګاند په اثر منځته راځي، د زیات دیلوکالیزیشن په اساس د راډیکال مرکز ټینګښت مومي. د ترای فنایل میتایل راډیکال د زیات شمېر موادو سره تعامل کوي، اکسیجن سره پراکساید جوړوي، ایودین سره ایوادید، نایتریک اکساید سره نایتروزو مرکبات جوړوي.



$$(C_6H_5)_3C^{\cdot} + O_2 \rightarrow (C_6H_5)_3 - C - O - O - C(C_6H_5)_3$$
$$(C_6H_5)_3C^{\cdot} + I_2 \rightarrow (C_6H_5)_3C - I$$
$$2(C_6H_5)_3C^{\cdot} \rightarrow (C_6H_5)_3C - N = O$$



ترای فنایل میتایل راډیکالونه جوړه کېږي او کومبرګ دایمیر جوړوي:

Gomberg Dimer

چې د هګزافنایل ایتان $Ph_3C - CPh_3$ په شان جوړښت غوره کوي، علت یې دادی چې د ایمریک مرکب په انرژیکي لحاظ خوښوي چې اروماتیکي پایښت وبایلي، له یوې کړۍ څخه نسبت دې فضایي هګزافنایل ایتان جوړښت غوره کړي.

د هایدروجن د اثباتي ازمایښتونو څخه د راډیکالونو تولید: د هایدروجن اثباتي ازمایښتونه د هایدروجن راډیکال او یو مسطح د P بلاک راډیکالونه تولیدوي:

$H^{\cdot}$ S – Somo Radical

$H_3C^{\cdot}$ $H_2N^{\cdot}$ $HO^{\cdot}$ $F^{\cdot}$ Loba – SOMO Radicals

$H_3Si^{\cdot}$ $H_2P^{\cdot}$ $HS^{\cdot}$ $Cl^{\cdot}$

$H_3Ge^{\cdot}$ $H_2As^{\cdot}$ $HSe^{\cdot}$ $Br^{\cdot}$

H_3Sn $H_2Sb^{\cdot}$ $HTe^{\cdot}$ $I^{\cdot}$

همدارنګه د موازي π سیستمونو له تجزیې څخه د کاربن درې اتومونو سره د الیل راډیکال او د کاربن پنځه اتومونو څخه د پنتادین راډیکال منځته راځي.



راډيکالي تعاملات:

په دغه تعاملاتو کې د چارج په لحاظ خنثی راډيکالونه منځته راځي چې د انحلال Salvation انرژي اثرات په کې ارزښت نلري، ډېر دغه تعاملات د اړيکې د انتلپي د معلوماتو د مقدار له مخې توصيف کېدای شي چې د تعاملاتو ډولونه يې په لاندې ډول دي:

- د اړيکې جوړېدل او ماتېدل
- تعويضي تعاملات
- جمعي تعاملات
- حذفي تعاملات
- دوباره ترتيب نيولو تعاملات
- د واحد الکترون د انتقال تعامل (SET)

د راډيکال د اړيکو د جوړېدو تعاملات (د راډيکالونو جوړه کېدل):

راډيکالونه معمولاً په ټيټ غلظت د يو تعامل په منځنۍ برخه کې شتون لري او دا په زيات شمېر سره خوښوي چې يو هايدروجن جلا کړي، يا يوه بله د تعويض کېدو عمليه په کې صورت ونيسي، لکه چې يو د بل سره تعامل کوي، د جوړه کېدو په وسيله او د بې چارجه راډيکالو د مرکزونو ترمنځ لږه اوږده د کولمبي جاذبې ساحه شتون لري. د راډيکال تعويض کېدل او جمعي تعاملات ميلان لري چې د ځنځيري تعامل د عمليې په شان پرمخ لاړ شي چې ځينې وخت د زياتو زرهاوو يو شان انتشار مراحلو سره مل وي. د ځنځيري فعاليت ميلان لرل راډيکالونو کېميا ته يو مشخص (ټاکلی) احساس د مقايسې ورکوي، له قطبي لويس اسيد او القلي سره په مشخص ډول مقايسه کېدای شي چېرته چې ځنځيري تعاملات زيات عموميت نلري.

تعويضي ځنځيري راډيکال:

ميتان کولی شي د کلورين په وسيله کلورنيشن شي چې کلورومتان جوړ کړي، دغه پروسه د يو ځنځير راډيکالي تعامل په شان پرمخ ځي چې ميکانيزم يې په لاندې ډول دی:

د تعويضي راډيکالي ځنځيري تعامل:



د کلورين راډيکال د ميتان څخه يو هايدروجن جلا کوي چې د هايدروجن کلورايد او ميتايل راډيکال جوړوي، د ميتايل راډيکال بيا د کلورين اتوم جلا کوي (د يو کلورين راډيکال) د کلورين ماليکول څخه چې د ميتايل کلورايد او کلورين راډيکال جوړوي، کوم چې يو هايدروجن له ميتان څخه جلا کوي او کړۍ جريان پيدا کوي. دغه عمليه درې نورې مرحلې لري چې د پيل خپرېدو او پای مرحلې دي.



د پيل مرحله کې چې غلظت کم وي، راډيکال ځنځيري تعامل شروع کېږي. يو خاص کېمياوي ګروپ معمولاً پراکساید، پراستراوازو مرکب کوم چې د هومولتيک اړيکې شلېدنې په اساس چې د تودوخې په ورکولو سره مل وي، د کلورنيشن په صورت کې کلورين ممکن د پيل کوونکي په توګه وکارول شي. د خپرېدو مرحله د ځنځيري تعامل توضيح کوي، چېرته چې ممکن په زرهاوو يو څېر مرحلې ولري. د پای په مرحله کې د راډيکال مرکزونه سره دفع کوي. د پای مرحله هغه وخت واقع کېږي چې دوه راډيکالي مرکزونه په تماس کې شي او يو د بل سره جوړه شي. (۲م۴۵)

ځنځيري راډيکالي جمعي تعاملات:

د الکېنونو د تعويضي ځنځيري راډيکال په وسيله زيات پوليميرونه جوړېږي:



FG (Function Group) وظيفوي ګروپ ته ويل کېږي چې که FG = H نو د الکين شروع کېدونکې ماده د ايتلين ده چې محصول يې پولي اتلين دی.

FG = H Alkene = Ethylene, polymer = polyethylene

FG = Cl, Alkene = VinyleCholoride, polymer = PVC

FG = CN, Alkene = Acrylo nitritle, polymer = Polyacrylo nititrile (orlom)

FG = C_6H_5, Alkene = Styren, polymer = Polystyrene

د تعويضي راډيکالي ځنځيري تعاملاتو په شان جمعي تعاملات هم په دريو مرحلو کې د پيل، خپرېدو او پای په مرحلو کې



صورت نيسي. (۴م۲۸۷)

د شحمياتو او تېلو راډيکالي اکسيد شيني تعاملات:

د شحمياتو او تېلو اکسيد شيني راډيکالي تعاملات په غذايي صنعت کې زيات ارزښت لري، اکسيدايز شوي غذايي مواد د ورستېدو مسوولیت په غاړه لري. د اکسيد ښن تعامل په يو راډيکال سره چې ممکن په فوتوکېمياوي ډول توليد شي، نو ځکه خو توجيه کېږي چې غذاگانې په تياره کې وساتل شي چې د غه عمل اليلي هايدروجن Allelic Hydrogen له غيرمشبوع الکين څخه جلا کوي. د اليلي موقعيت د الکين وظيفوي گروپ سره نږدې او د هايدروجن د لرې کولو لپاره اماده وي، ځکه د اليلي راډيکال زيات ټينگښت لري. (۵م۱۰۷)

هغه گروپ چې هومولتيکی ډول ټوټه کېږی= X_2

وظيفوی گروپ= FG

پولميرځنځير= p



اليلي راډيکال د اکسيجن سره جوړه کېږي، پراکسايد راډيکال جوړوي. پراکسايد کولی شي چې يو هايدروجن د گاونډي هايدروکاربن څخه جلا کړي چې هايدروجن پراکسايد جوړ کړي او بل راډيکالي مرکز د ځنځيري تعامل د خپرېدو لامل

گرځي. دېته بايد اشاره وکړو چې هايدروجن پراکسايد مرکب کولی شي وظيفوي گروپونه د الديهايدونو، کيتونونو د هايدروکاربنو د ځنځير په پرې کولو سره هغوی تجزيه کړي، کله چې دغه حالت واقع شي، نو تېل او شحم بد خوند پيدا کوي چې وراسته شحميات او تيل په منظم ډول د غذايي کېميا پوهانو په وسيله ازمايښت کېږي چې په کې د شته پراکسايد درجه پيدا شي، د پراکسايد شمېر د تېلو د تنزل اندازه ټاکي. (۲م۱۰۲)

په بيولوژيکي سيستمونو کې راډيکالي تعاملات:

د زيات وخت راهيسې پوهان په دې اند وو چې راډيکالي تعاملات په بيولوژيکي سيستمونو کې ارزښت نلري، ځکه د راډيکالي تعاملاتو د پيل لپاره زياتې انرژۍ ته اړتيا ليدل کېږي او په ځنځيري تعاملاتو کې د خپرېدو د تکراري مرحلو کنترول ستونزمن دی، ولې اوس معلومه شوې ده چې داسې بيولوژيکي تعاملات شتون لري چې راډيکال لري چې د غو تعاملاتو کې راډيکالونه ددې پرځای چې د نور يا تودوخې څخه توليد شي، د يو عضوي ماليکول او فلزي ايون په وسيله منځته راځي، دغه راډيکالي تعاملات د يو انزايم د فعاليت په ځای کې صورت نيسي. د يو خاص ځای په داخل کې د تعاملاتو صورت نيونې محدودول د ځنځيري تعاملاتو څخه مخنيوی کوي. د راډيکالي تعاملاتو يوه بېلگه چې په بيالوژيکي سيستم کې منځته راځي، د سمي هايدروکاربنو بدلون په غير سمي الکولو باندې دي، د هايدروکسيل کېدو تعامل په توري (کبد) کې صورت نيسي چې د پورفيرين–اوسپنې لرونکی انزايم چې سايتوکروم P_{450} نومېږي، کتاليز کړي، په پايله کې د هايدروجن يو اتوم له الکانو څخه $Fe^{V}O$ په وسيله چې يو الکايلي منځنی راډيکال توليد يې په بعدي مرحله کې $Fe^{IV}OH$ په Fe^{III} او OH تفکيک کېږي چې OH بې له ځنډه راډيکال سره ترکيب کېږي، الکول جوړوي، د هايدروکسيل د نصب کېدو دغه تعامل د بايوسنتيز د څو مهمو بيولوژيکي مرکباتو کې هم گډون لري. دغه تعامل کولی شي چې سمي اغېزې ولري، يا په بل عبارت د سمي هايدروکاربن پر غير سمي الکول بدلون د OH پرځای په مرکب کې د H ځای کول کولای شي غير سمي مرکب سمي کړي. په دې اساس هغه مرکبات چې د ازموينې په لوله کې غير سمي وي، حتمي نه ده چې د ژوندي عضويت په بدن کې هم غير سمي وي، د بېلگې په ډول CH_2Cl_2 استنشاق چې د سرطان پيدا کېدو لامل گرځي چې د H پرځای يو OH ځای نيسي. (۷م۱۰۲)

راډيکالي تعاملات په بيولوژيکي سيستمونو کې د سن ټاکنې لپاره هم په کار وړل کېږي، ناغوښتل شوي راډيکالي تعاملات د راډيکالي مانع کوونکو په وسيله مخنيوی کېدای شي. دغه مرکبات تعامل کوونکې راډيکالونه د تعامل کوونکو راډيکالونو په وسيله له منځه ځي، هايدروکوينون يو راډيکالي مانع کوونکی دی.

که چېرې يو تعامل کوونکی راډيکال تشکيل شي، هايدروکوينون کولی شي هغه ونيسي، تشکيل شوی سمي کوينون



راډيکال د روزونانس له لارې پايښت پيدا کوي، نو ځکه نسبت نورو راډيکالونو ته په مقايسې تعامل نه کوونکی دی.



نور مانع کوونکې راډيکالي بېلګې هم په بيولوژيکي سيستمونو کې شتون لري چې عبارت له ويټامين سي او ويټامين اې څخه دی چې دوی هم هايدروکوينون په شان پاينښت لرونکي راډيکالونه تشکيل کړي، د سي ويټامين (اسکوربيک اسيد) په اوبو کې محلول ده چې تشکيل شوي راډيکالونه يې په اوبويزمحيط کې د حجرې محيط او د وينې پلازما رانيسي. اې ويټامين (الفا- توکوفرول) په اوبو کې غير منحل ده چې تشکيل شوي راډيکالونه يې په غيرقطبي غشاګانو کې په غير ابي محيطونو کې رانيسي. (۱م۱۴۴)

پايله:

راډيکالونه طاقه الکترون لرونکي فعال ګروپونه دي چې کولی شي چې د نورو ګروپونو سره په تعامل کې په داخلېدلو متفاوت تعاملات سرته رسوي او تعاملات يې زيات ډولونه لري لکه د اړيکې جوړېدلو او ماتېدلو تعامل، تعويضي تعامل، جمعي تعامل، حذفي تعامل، د دوباره ترتيب نيولو تعامل، د واحد الکترون د انتقال تعامل (SET) په بيولوژيکي سيستمونو کې هم راډيکالي تعاملات د اهميت وړ دي، داسې بيولوژيکي تعاملات شتون لري چې راډيکالونه لري په دغو تعاملاتو کې راډيکالونه ددې پرځای چې د نور يا تودوخې څخه توليد شي، د يو عضوي ماليکول او فلزي ايون په وسيله منځته راځي، دغه راډيکالي تعاملات د يو انزايم د فعاليت په ځای کې صورت نيسي.

Abstract:

Radical are species with a single، unpaired electron. In molecular orbital theory، this state is represented as a singly occupied molecular orbital or SOMO. This article give an outline of the formation of radical species ،including "chain "radical substitution and addition، and the radical oxidation of fats and oils، and also importance of free radical in biological systems.

اخځليکونه:

۱. حسيني. سيدحسين. اسکويي، سيدحسين عبدي.۱۳۸۵.شيمي الی۱. انتشارات دانشگاه امام حسين
۲. حکيمي، محمد غوث. (۱۳۸۷). عضوي کېميا. سعيد انتشارات
۳. رحيمي زاده، محمد و ديگران. (۱۳۷۵). شيمي الی ۱. ايران: انتشارات نشر مشهد
۴. مجيد هروی، مهدی بکاولی. (۱۳۷۵). شيمی عمومی. مشهد: انشارات جهاد دانشگاهی
۵. محمودی هاشمی و ديگران. (۱۳۸۱). شيمی الی (ترجمه). انتشارات دانشگاه صنعتی شريف

6.Toykuni، S.Rective oxygen species –induced molecular damage and its application in pathology، pathology international 49، 1999.

7.W، U.Defeng (2003)، Alcohol، Oxidative stress and free radical damage، Mount Sini School of medicine، New York.

8.Riley JC.Behrman HR. Oxygen and Radical and reactive Oxygen species.proc sox exp Biol Med 1991.

پوهـــــندوی مـــنگل (شـــېرزاد)
حقوقـــو او سياسي علومو پوهنځـی
نړيوالـــــو اړيکـو څـــانگـــــه

نړيوال نظـام

لنډيز:

په دې څېړنيزه ليکنه کې چې د (نړيوال نظام) تر سرليک لاندې ليکل شوې، په نړيواله کچه د سياسي نظامونو يو پر بل اغېز، د سياسي نظامونو د کړنو ترمنځ توپيرونه، د نړيوالو نظامونو خصوصيتونه، د دولتي نظامونو تاريخي شاليد، د يو قطبي او دوه قطبي نظامونو ترمنځ توپيرونه، د دوه قطبي نظامونو ترمنځ د قوې بيلانس (توازن)، د يوقطبي نظام استعماري خاصيت او يو شمېر نور مسايل څېړل شوي دي.

سريزه:

که د نړۍ تاريخ مطالعه کړو، نو نړيوال نظام به د بېلابېلو سياسي نظامونو د متفاوتو خصوصيتونو او ايډيولوژيو سره وگورو؛ د لومړۍ عيسوي پېړۍ څخه تر معاصرې پېړۍ پورې چې سياسي نظامونو کومې کړنې کړي، بشريت يې د سعادت تر پولو نه دی رسولی، د رقابتونو او دښمنيو صحنه تل گرمه ساتل شوې، ډېرې هېوادونه کله د اتحادونو او کله د ايتلافونو له لارې د خپلو ځمکو او قدرت د پراختيا په خاطر د مستقلو او ازادو هېوادونو سياسي، اقتصادي او فرهنگي ازادۍ تر پښو لاندې کړي دي. نړۍ که په دوه قطبي نظام کې او يا يو قطبي نظام کې د يوځای کېدو هلې ځلې کړي، په دوه قطبي نظام کې يو بل خپل دښمن تشخيص کړی ؤ او د خپل حريف پر وړاندې يې د هيڅ ډول ناروا کړنو څخه ډډه نه ده کړې؛ په يو قطبي نظام کې لکه نن چې امريکا د شوروي له رنگېدو وروسته د يو قطبي نظام په راس کې قرار لري او د نړۍ ډېرې هېوادونه يې د خپلو سياسي او اقتصادي گټو د لاسته راوړلو په خاطر د ځان سره يوځای کړي او هر هغه څوک چې يې د موخو پر وړاندې خنډ شي، د نړيوالو قوانينو او نورمونو خلاف پر خاوره يې يرغل کوي او د ملگرو ملتونو سازمان يې پر وړاندې چوپه خوله ناست دی، تر څو چې د (ملتونو فوق) يو سازمان جوړ نشي، زما په باور چې نړۍ به د تل لپاره د مصيبتونو او کړاوونو سره لاس او گرېوان وي. زه به - انشاء الله- په دې بحث کې په نړيوال نظام کې د بېلابېلو سياسي نظامونو د کړنو اصلي څېړې په پوره بې پرېوالي سره بربنډې کړم.

موخې:

- د تاريخ په بېلابېلو پړاوونو کې د استعماري قدرتونو د موخو او کړنو څېړل.
- د پخوانيو او اوسنيو استعماري ځواکونو د اهدافو او اعراضو پرتله کول.
- په اړونده برخه کې د مسلک خاوندانو او مينه والو ته د گټورو معلوماتو برابرول.

نړيوال نظام:

پېژندنه (تعريف): نړيوال نظام له هغه چاپېريال څخه عبارت دی چې په هغې کې د نړيوال سياست ارگانونه خپلې کړنې سرته رسوي او د نوموړي ارگان غوښتنې، کړنې، جبهه نيول او نيتونه د نړيوال نظام د تاثير لاندې وي. مخکې له دې چې دې بحث ته ادامه ورکړو، ښه به وي چې ددې نظام بېلابېل اړخونه وڅېړو. په حقيقت کې نظام د فرقونو او تفاوتونو يوه ټولگه ده چې يو د بل سره د تړاو وروسته رامنځته کېږي، که د نظام د تشکيل شويو عناصرو په يوه برخه کې کوم تغير رامنځته شي، نو بيا نورې برخې هم زيانمنې کېږي او د خپل تاثير لاندې يې راولي. (۱م۱۷)

يو شمېر سياسي شنونکي سياسي نظام د کړنو د يوې ټولګې په حيث چې په هغې کې يو عالي قدرت خپلې ټولنې ته اجتماعي خدمتونه يا د يوې ټولنې ارزښتونو اداب او رواياتو ساتنه کېږي، د بحث لاندې نيسي. اجتماعي نظامونه د فزيکي نظامونو خلاف په خپل موجود چاپېريال کې د کشمکشونو او کړکېچونو سره لاس او ګرېوان وي او په هيڅ وخت کې له مخکې جوړه شوې تګلاره په لاس کې نلري، خپل ټول قوت د موجوده جوړښتونو په ويرانۍ کې مصرفوي او کله د خپل چاپېريال په جوړونه کې لاس په کار شي. ويلای شو چې داسې تفاوتونه د يو نړيوال نظام په متن کې ليدل کېږي، نو همدا ښه ده چې لومړی د يو نظام په توپيرونو او ځانګړنو بحث پيل کړو.

په يو نظام کې توپيرونه:

هر نظام د يو شمېر عناصرو څخه جوړېږي، نو لدې امله په نظام کې يو شمېر تغيرونه او خصوصيتونه تر څېړنې لاندې نيسو.

۱- اساس او بنسټ: اساس او بنسټ د يو شمېر عناصرو ټولګه ده چې په هغې کې ګټې، غوښتنې، ملاتړ او مخالفتونه په يو سياسي سيستم کې ورداخلېږي چې د چاپېريال او سيستم په اړوند تر بحث وروسته په سيستم کې د يو مطلوب بنسټ په شکل پاتې کېږي او ياد سيستم څخه فاصله نيسي.

۲- خارجي او داخلي چاپېريال: د يو نظام چاپېريال په اکثرو وختونو کې فرهنګي اړخ لري، پدې معنی چې هغه نيول شوي تصميمونه بايد په عقيدوي مشروع ارزښتونو ولاړ وي. يو سيستم چې د داخلي چاپېريال د شرايطو سره تغير مومي، د هغه سياسي نظام د دوام لپاره ولسونه قربانۍ ته حاضرېږي. د داخلي چاپېريال علاوه ويلای شو چې يو سياسي نظام د خارجي چاپېريال د تاثير لاندې هم راځي او خارجي چاپېريال پرې خپلې غوښتنې عملي کوي. (۲م۳۷)

د يو نظام ځانګړتياوې: د يو نظام مهم خصوصيتونه په لاندې ډول د بحث لاندې نيسو:

۱- اتحاد او يووالی: د يو نظام تشکيلوونکي اجزا يو د بل سره سازماني اړيکې لري او هيڅ وخت د نظام يوه برخه د نورو برخو څخه جلا ونه ګڼل شي.

۲- تطابق: هر سياسي نظام په دې لټه کې وي چې د تغير او تحول د رامنځته کېدو په صورت کې د چاپېريالي شرايطو د غوښتنو سره سم د حالاتو سره تطابق وکړي.

۳- تعادل: تعادل هغه حالت دی چې د مخالفو قوتونو د تاثير په مقابل کې رامنځته کېږي، په دې شکل چې په پايله کې يو نظام د اجزاوو او چاپېريال تر منځ منظمې اړيکې جوړېږي.

۴- قابليت: هر سياسي نظام د يو شمېر قابليتونو او يو ډول توان او قدرت لرونکی وي چې ددغه نظام دوام، پرمختګ، پايښت، او نابودي د نوموړو عواملو پورې تړلې وي، نو لازمه ده چې په يو سياسي نظام کې امکانات، قابليتونه او توانمندي کشف شي؛ ځکه د همدې لارې کېدای شي چې يو سياسي نظام د ځواب ورکولو وړتيا او ظرفيت په خپل وجود کې تقويه او پياوړې کړي. په همدې باره کې يو پوه (کارل دويچ) د سياسي نظامونو په اړوند وايي چې سياسي نظامونه په څلور ډوله دي:

A. هغه سياسي نظامونه چې خپل ځان پخپله له منځه وړي.
B. هغه سياسي نظامونه چې خپل ځان خپله قوتمند کوي.
C. هغه نظامونه چې د ښو کړنو له امله دوام پيدا کوي.
D. هغه نظامونه چې د بدو کړنو له امله ډېر ژر د قدرت له ګدۍ پرېوځي.

۵- انقباض او انبساط: سياسي نظامونه د حالاتو او شرايطو لاندې منقبض او منبسط کېږي، د مثال په ډول په انقلابي حالاتو کې يا د انتخاباتو په وخت کې سيستم منبسط کېږي، حال دا چې د رکود او نه مشارکت په وخت کې نظام منقبض شي.

۶- کنترول: هغه لارې چې يو نظام يې د داخلي او خارجي تهديدونو سره د مقابلې لپاره غوره کوي او هغه کوښښونه چې خپلو موخو ته د رسېدو لپاره يې کوي، ورته کنترول ويل کېږي.

۷- فشار: فشار هغه قدرت او عواملو ته ويل کېږي چې د يو نظام ثبات او دوام د داخل او خارج نه د يوه يا د څو اړخونو څخه د تهديد لاندې نيسي، که يو سياسي نظام د دې جوګه وي چې سياسي، اقتصادي، فرهنګي او نظامي فکتورونه يې دومره تقويه کړي وي، نو بيا کولای شي د داخلي او خارجي فشارونو پر وړاندې مقابله وکړي. که چېرته داسې قدرت او توان ونلري، نو ډېر ژر د حالاتو د تاثير لاندې راځي او په پايله کې د تغيراتو سره مخ کېږي؛ يا په بل عبارت که سياسي نظام د نوموړو حوادثو پر وړاندې د مقابلې متره ونلري، بيا طبيعي ده چې نظام په يوه بحراني حالت کې راګېرېږي چې نظام د يو حالت څخه بل حالت ته ورداخلېږي.

۸- ترميم او تکثير: هر سياسي نظام په دې لټه کې دی چې د بحران حالت مخنيوی وکړي، نو کوښښ کوي چې ولس ته د ځواب ورکولو ظرفيت او اسشمېر په خپل ځان کې تقويه کړي، نو ځکه د ګډوډۍ او د زوال د مخنيوي په خاطر ځان ترميموي او يا که غواړي چې نوي جوړښتونو ته پرمختګ او انکشاف ورکړي، نو بيا د نظام په جوړښت کې د ترميم او تکثير لاره غوره کوي.

۹- په نظام کې د کارونو زياتوالی: په زياتره وختونو کې يو سياسي نظام په عادي حالاتو کې هم د ولس غوښتنو او نورو موخو ته د رسېدو توان نه لري، دا يو حقيقت دی چې يو نظام د خپلو موجوده دندو د اجراء قدرت ونلري او ترڅنګ يې نوي مسوليتونه پر اوږو بار شي، نو طبيعي ده چې نظام ولس ته د ځواب ورکولو څخه عاجز پاتې شي. (۳م۱۱۲)

د تاريخ په اوږدو کې د يو دولتي نظام څېړنه:

د يو بين المللي سياست په صحنه کې د يو دولتي نظام تګلارې، تمايلات او په خاص ډول د هغه بهرنی سياست په زياته پيمانه د نړيوال نظام د کيفيت د اثر لاندې پاتې کېږي، نو همدا دليل دی چې هغه لارې، طريقې او نظرونه چې يوازې د يو سياسي نظام د يوې برخې د کړنو ارزونه کوي، نشي کولای چې د نړيوالو اړيکو څېړونکو ته لازم ځوابونه ورکړي. په حقيقت کې د نړيوالو اړيکو د مسايلو مطالعه داسې يوه نمونه وي چې په يو پراخه ډګر کې د سياسي ارګانونو رنګ رنګ کړنې تجزيه، تحليل او وارزوي. نړيوال نظامونه د تاريخ په اوږدو کې په بېلابېلو شکلونو رامنځته شوي، د وخت او زمان د شرايطو سره سم بېلابېل تغيرات ولسونو ته مطلوب او منلي وو، ددې اوښتونونو د دلايلو د درکولو لپاره لازمه ده هغه شرايط چې يو نظام په هغې کې په دې قادر شي چې خپل ژوند ته ادامه ورکړي او يا وکړای شي د يو حالت څخه بل حالت ته ورداخل شي او په خاص طرف کې پرمختګ او تکامل ومومي، څېړي. په دې ډول څېړنو کې بايد لومړی د هريو نظام اسشمېرونه او قابليتونه، د سياسي لوبغاړو شمېر او د هغوی بېلابېلې کړنې وارزول شي؛ البته چې د نړيوال سياست په صحنه کې سياسي لوبغاړي په بين المللي نظام يا سياسي نظام کې په دې قادر دي چې د نوموړو نظامونو ته تر يوه بريده ښه شکل او صورت ورکړي. همدارنګه د يو نړيوال نظام کيفيت ته هم وکتل شي، په دې معنی چې بين المللي نظام يو قطبي دی که دوه قطبي، ځکه په دې دواړو ډولو نظامونو کې د خارجي سياست د کرښو تعينول په ټوله کې د ستونزو څخه خالي نه شي پاتې کېدی. (۴م۳۲)

په دې ترتيب سره کله چې د دولتونو نظامونه د تحليل او څېړنې لاندې نيسو، نو په ټولنه کې د يوې ډلې سياسي لوبغاړو سره مخ کېږو چې د يو داسې سياسي نظام څرنګوالی او کيفيت درک کړی شو، نو دې ټکي ته رسېږو چې بايد د وخت او زمان هغه شرايط او غوښتنې تر څېړنې لاندې ونيسو، کومې چې د شرايطو او حالاتو په تغير او شکل ورکولو کې رول لوبولی شي. د مثال په ډول که اروپايي دولتونو د نظامونو تحولات وڅېړو دا به ښکاره شي چې د شپاړسمې پېړۍ په لومړيو کې د اروپا په لويديځ کې انګلستان، اسپانيې او فرانسې څخه يوه لويه امپراطوري جوړه شوې وه، خو د هر يوه هېواد سياست يو د بل پر سياستونو تاثير درلوده. د اوولسمې پېړۍ په شروع کې اروپايي هېوادونه چې فرانسه، اسپانيا، اتريش او هالنډ په کې داخل وو، د دوی نظامونه يو د بل سره ورته فکتورونه درلودل؛ د لويديځې اروپا د هېوادونو ترمنځ سويډن ډېر پياوړی رول لوبولو، همدارنګه د شمالي اروپا هېوادونه لکه پولينډ، روسيه او سکانديناوي هېوادونو څخه عبارت وو، د دوی ترمنځ د اتلسمې پېړۍ په پيل کې د سويډن او روسيې ترمنځ يو سلسله کړکېچونه رامنځته شول، مګر د لويديځې اروپا د هېوادونو پر سياسي سيستم دومره ژور تاثيرات پاتې نه شول، ځکه دا هغه وخت ؤ چې د غربي اروپا د

هېوادونو (فرانسې، اسپانيا، هالينډ او اتريش) ترمنځ خپلمنځي شخړې رامنځته شوې او دوی په خپلو مصيبتونو کې راګير وو؛ اوس دا معلومه شوه چې د شرقي اروپا او غربي اروپا نظامونه مستقل وو او يو د بل پر سياستونو يې تاثير نه درلوده، ولې د عضوه هېوادونو ترمنځ يو د بل پر سياسي چارو يې خپل تاثير اچولی و. ويلای شو چې دا حالات د تل لپاره ثابت پاتې نشول، په کال ۱۷۸۹م کې د فرانسې لوی انقلاب د تزاري روسيې د ستراتېژۍ او د سياستونو بڼه په مرکزي او جنوب شرقي اروپا کې بدله کړه. نوموړي انقلاب د انګلستان، اتريش او پروس هېوادونو ته سياسي روښانه فضا ورپه برخه کړه، د مثال په ډول د پروس هېواد د فدريک د حکومت د قيادت لاندې د اروپا په سياستونو کې مهم نقش درلوده. د نوموړي سياسي کړنو يوازې د تزاري روسيې پر نظام اثر درلوده، بلکې د غربي اروپا په پخوانيو نظامونو لکه (اتريش، فرانسې، انګلستان او هالينډ) يې هم تر اغېز لاندې راوستل. (۵م۷۴)

د ناپيليون بناپارت له ماتې وروسته چې په کال ۱۸۱۵ کې په نړۍ کې يو نوی نظم رامنځته شو، د تاريخ په دې مقطع کې د اروپايي هېوادونو نظام د (انګلستان، تزاري روسيه، اتريش او پروس) څخه جوړ شوی و. په دې نوي نظم کې د نظام يو غړي دا اجازه نه درلوده چې پر بل غړي هېواد خپل تاثير واچوي او يا په خپلو اړيکو کې بدلون راولي؛ يا په بل عبارت د نظام غړی دولت په دې قادر نه و چې يوه داسې نوې ستراتېژي غوره کړي چې د نورو غړو هېوادونو په ګټو سترګې پټې کړي. ولې کله چې المان او ايټاليا د يو وحدت تر چتر لاندې ودرېدل، نوموړی نظام د کشمکشونو او ګډوډيو ښکار شو. لدې تاريخ وروسته د لومړۍ نړيوالې جګړې تر پيل پورې د اروپايي دولتونو نظام د شپږو هېوادونو په عضويت کې پاتې شو او خپل سياسي ژوند ته يې دوام ورکاوه. د اروپايي هېوادونو د نظام سره موازي جاپان او امريکا په نړۍ کې د مهمو هېوادونو له ډلې څخه وو، مګر دې دوه هېوادونو د اروپايي هېوادونو سره تعلق درلوده او اروپايي دولتونو نشو کولای چې د نوموړو دوه غير اروپايي دولتونو سياسي ستراتېژي د خپل تاثير لاندې راولي. صرف په کال ۱۹۱۷م کې چې لومړۍ نړيواله جګړه لا پای ته نه وه رسېدلې، امريکا د اروپا جګړې ته ورودانګل، مګر کله چې د سولې تړون لاسليک شو، امريکا بيا د اروپا په چارو کې د مداخلې څخه ځان وساته؛ په پايله کې د اروپايي هېوادونو نظام په شلمه او دېرشمه لسيزه کې د لومړۍ نړيوالې جګړې څخه پخوانی حالت ترلاسه کړ. که د اروپايي هېوادونو نظام د تاريخ له پلوه وڅېړو، نو ويلای شو چې د هغو د وګړو لپاره په نولسمه پېړۍ کې يو منلی نظام يادېده، د اروپايي هېوادونو نظام يوازې د اروپا لپاره نه بلکې په ليرې ختيځ کې، چين، جاپان او کوريا په خپلو سياسي کړنو کې د اروپايي ماډل څخه پيروي کوله. (۶م۲۴۸)

د دويمې نړيوالې جګړې په جريان کې يو شمېر اتحادونه او ايتلافونه د ګډو ګټو پر بنسټ رامنځته شول، دا ډول ډلې او ټپلې د جګړې څخه وروسته او په خاص ډول کله چې دوه قطبي نظامونه په سياسي ډګر کې وځلېدل، د نړيوال سياست څېره هم بدله شوه او دولتي نظامونه د جوړښت او کړنو له پلوه په کلي ډول د سنتي حالت څخه راووتل او داسې وخت راغی چې د يو مستقل دولت نمونه په نړۍ کې نه ليدل کېده، يعنې د مستقلو نظامونو پر ځای ګوډاګي او د نورو پورې تړلي نظامونه رامنځته شول. دا بايد هم روښانه کړو چې ختيځ او لويديځ بېلابېل بلاکونه درلودل او تل يې ناپيلي هېوادونه د خپل اثر لاندې ساتلي، مګر د نوموړو بلاکونو اثرات يو پر بل هم په ډاګه ليدل کېدل. البته دې ته هم بايد اشاره وشي چې په نړيوال نظام کې وروستي تحولات د دې سبب شول چې نړيواله ټولنه د جدايۍ او تيت وپرک کېدو څخه د يووالي خواته په حرکت راولي، مګر بيا هم ويلای شو چې دا مزل هم اوږد او لاره اغزنه او ستونزمنه ده، پدې معنی چې عقيدوي او کلتوري فکتورونو تر يو بريده د داسې اتحادونو مخه نيسي. ولې په دې بايد په يو نظر واوسو چې د دويمې نړيوالې جګړې وروسته سياسي نظامونه د اقتصادي، مالي، تجارتي او صنعتي برخو کې يو د بل پورې تړل کېږي چې ددې عواملو ټولګې د نړيوال سياست په صحنه کې کشمکشونه وزېږول، ددې امکان هم شته چې په راتلونکې کې به نړيوال نظام يو بل شکل او صورت غوره کړي. مورتون کاپلان چې د نړيوال سياست يو پوه دی، نوموړی شپږ نړيوال نظامونه چې يو د بل سره فرق لري، ذکر کوي:

۱- هغه نظام چې په هغې کې د (قدرت بيلانس يا موازنه) موجوده وي.

۲- هغه دوه قطبي نظام چې د انعطاف کولو اسشمېر ولري.

۳- هغه دوه قطبي نظام چې انعطاف نه مني.

۴- نړيوال نظام
۵- هغه نظام چې په هغې کې د مراتبو سلسله وجود ولري.
۶- هغه نظام چې د (وتوحق ورسره موجود وي). (**۷م۵۵**)

کاپلان يو لويديز سياستپوه دی، نوموړی د پورته ذکر شويو شپږو نظامونو قوانين او د سياسي لوبغاړو خصوصيتونه د تحليل او څېړنې لاندې نيسي او وايي چې څلور وروستي نظامونه فعلاً په عمل کې وجود نلري، ولې د دوو لومړنيو نظامونو (د قدرت بيلانس) او (دوه قطبي انعطاف منونکی نظام) په اړوند ليکي چې د تاريخ د شواهدو پر بنا کېدی شي ترې ګټه واخيستل شي. (**۸م۱۴۷**)

د مثال په ډول د (قدرت بيلانس نظام) کلاسيک شکل په ۱۸ او ۱۹پېړۍ کې په اروپا کې وجود درلود. اروپايي قدرتونو کوښښ کولو چې داسې سياستونه غوره کړي چې د دوی ترمنځ د قوې توازن وساتل شي، د يو داسې سياست په غوره کولو سره دوی وکړی شول چې د هغو هېوادونو ترمنځ چې نسبتاً د مساوي قدرت لرونکي دي، د جګړو او مخالفتونو مخه ونيول شي او همدارنګه هغه دولتونه چې د اتحادونو او يا ايتلافونو له لارې يې د نظامونو ترمنځ د قوې بيلانس ته صدمه رسوله، مخنيوی يې وکړي. لنډه خبره دا چې د دارنګه نظامونو کړنو مونږ ته دا راوښوده چې کولای شي ثبات او ارامۍ ته تر يوه بريده لاره اواره کړي. د کاپلان په نظر دويم نظام چې تاريخي نمونه يې وجود لري هغه (دوه قطبي انعطاف منونکی نظام) دی، دا ډول نظام د نړيوالې دويمې جګړې په پای کې رامنځته شو. د نوموړې جګړې سوغات دا و چې د هغه وخت د اروپا استعماري قوتونو لکه (المان، فرانسه او برتانيا) د نوموړې نظام سره لدې وروسته د مقابلې توان نه درلوده، هر يو ددې دوه قدرتونو څخه پدې لټه کې و چې د خپل نفوذ ساحه پراخه کړي او ډېری هېوادونه يې په غيرمشروع ډول د نړيوالو نورمونو خلاف د خپل تسلط او حاکميت لاندې رواستل. امريکا او پخواني شوروي چې بېل بېل ايديولوژيکي، اقتصادي او سياسي تفاوتونه يې درلودل، په دوه قطبي هويت سره په نړيوال نظام کې پاتې وو چې البته د شوروي زبرځواک د افغانستان د مجاهد ولس د جهاد له برکته رنګ او د نړۍ ډېری هېوادونه يې له غلامۍ څخه خلاص شول او بلاخره امريکا د يوازېنې زبرځواک په حيث په نړيوال نظام کې پاتې شوی او د خپل تجاوز او تعرض له امله د نړۍ د نورو هېوادونو حريم ته ننوتلې او په خاص ډول د اسلامي نړۍ څخه د غچ اخستلو په نيت د يو قطبي نظام او قدرت په حيث د هيڅ ډول ظلم او ناروا څخه ډډه نکوي. پخوا پر ويتنام د امريکا يرغل، پر افغانستان د شوروي يرغل او نن بيا په افغانستان د امريکا يرغل دا ټولې هغه بېلګې دي چې دا دواړه هېوادونه د نړۍ په ويش کې سره يوې هوکړې ته رسېدلي وو. نن چې امريکا په يو اقتصادي بحران کې راګېره ده، نو خپلو اقتصادي او سياسي موخو ته د رسېدو له امله د نړۍ د ازادو او مستقلو هېوادونو شتمنۍ لوټوي، چارواکي يې غلاموي او د ولسونو ارادې يې سلبوي. له يوې خوا ولسونه د خپلو غلام شوو چارواکو له خوا يرغمل شوي او له بلې خوا نړيوال نظام يو قطبي شوی، امريکا د يو قطبي نظام په سر کې غواړي چې نړۍ د يو ستيج څخه رهبري کړي. په اخر کې زه خپله دغه ليکنه د دري ژبې په دې بيت پای ته رسوم چې:

چراغ ظلم تا سحـــر نمی ســـوزد گر شبی سوزد ، شبی دیگر نمی سوزد

پايله:

دولتونه د نړيوال سياست په صحنه کې د متفاوتو کړنو لرونکي دي او د بېلابېلو طريقو او تيوريو څخه پيروي کوي، ټول سياسي واحدونه تل د خپلو ستراتېژيو د انتخاب په وخت کې د خپلو داخلي احتياجاتو او ستونزو تر تاثير لاندې راځي؛ همدارنګه جيوپولټيک شرايط د نړيوال نظام د جوړښت کيفيت او د رنګ رنګ پرمختللو تکنالوژيو اثرات هم د اتحادونو او ايتلافونو په جوړښت او شکل کې تغيرات راولي. دولتونه د خپلو ملي ګټو په نظر کې نيولو سره په نړيواله کچه له نورو دولتونو او ملتونو سره اړيکو درلودو ته اړتيا لري، نو په دې اساس بايد په نړيوال نظام کې نړيوال سياست د دوه زاويو څخه (قدرت او تصميم نيول) په چوکاټ کې وڅېړو:

۱- د نړيوال سياست په کچه د (قدرت ويش) نااندوله دی، هېوادونه تل په دې لټه کې دي چې په بېلابېلو شکلونو کې د قدرت زياته برخه خپله کړي. هغه کوښښونه چې په دې برخه کې صورت نيسي، په ډول ډول شکلونو کله د تعرض له لارې،

کله د رقابت په ډول او کله د همکارۍ تر عنوان لاندې تر سره کېږي، نو طبيعي خبره ده چې د داخلي او خارجي عواملو د موجوديت پر بنا په نړيوال نظام کې نړيوالې اړيکې ثابتې نه پاتې کېږي.

۲- په يو بين المللي نظام کې په ټيټه او يا لويه سطحه، افراد، دولتي ارګانونه او نور سياسي ارګانونه د تصميم نيولو په يوه دايمي وضعيت کې قرار لري، نو په اخر کې په کلي ډول ويلی شو چې د پورته دوه فکتورونو په رڼا کې د دولتونو کړنې د وخت د تقاضو او شرايطو په نظر کې نيولو سره د نړيوال نظام په بطن کې څېړل کېږي.

وړانديزونه:

۱: د نړۍ ټول هېوادونه د ملګرو ملتونو د منشور پر وړاندې بايد سر ټيټ کړي.

۲: اسلامي هېوادونه د خپلو عقايدو د حکم سره سم د استعماري هېوادونو د غلامۍ څخه ځان او خپل ولسونه وژغوري.

۳: د نړۍ هېوادونه په يوه واحد تصميم او هوډ سره د نړۍ د شر غوښتونکو استعماري هېوادونو پر وړاندې ودرېږي او د هغوی د تجاوز او مداخلې لاسونه پرېنږدي چې د دوی شتمنۍ چور او چپاول کړي. که په پورته فکتورونو ولسونه عمل وکړي، زه په دې باور لرم چې د نړۍ هر څومره قوي او ياغي زبرځواک به يې پر وړاندې د مقابلې توان ونلري.

Abstract:

The article (International System) is summarized as below: Impact of Political system on each other, internationally, Differences of activities among political system, Characteristic of International systems, Background of state systems, Differences between unipolar and bipolar systems, Power balance among bipolar systems, Colonialism characteristic of unipolar system.

اخځليکونه:

۱- اردلان، علی قلی. (۱۳۲۲). ابر قدرت دیگر. تهران: نشر وحید

۲- دونوون، باتیست. (۱۳۲۵). مبانی مقدمات تاریخ روابط بین المللی

۳- مصطفی، ابوالقاسم. (۱۳۵۸). سازمان های بین المللی. تهران: دانشکده علوم ارتباطات اجتماعی

۴- ویک لین، جان. (۱۳۲۹). مبانی دیپلوماسی: چگونگی مطالعه روابط میان دول؛ ترجمه: عبدالعلی قوام. تهران: قومس

۵- کاظمی، سید علی اصغر. (۱۳۲۲). مدیریت بحران های بین المللی. تهران

6- Deutsch, karl; The Nerves of Governmen; N.Y:The free press 1964 , PP 248-254

7- Eston,David:A Framwork of polictical analysis; Englewood cliff,N.J: Prentice –Hall ,1965

8- Framkel,Joseph; International Relations in a changing world;N.y: Oxford University press , 1979,P.147

پوهندوی سید محمدانور (اکبري)
طب پوهنځی- پوستکي څـانګـه

د دوه اوونيو په موده کې د (Terbinafine) په واسطه د (Tinea Corporis)او (Tinea Cruris) درملنه

لنډيز:

Terbinafine يا Lamsil د پوستکې د سطحي فنګسي ناروغيو په کنترول او درملنه کې په زياته پيمانه په دوه لارو يعنې سيستميک او هم په موضعي توګه استعمالېږي. دلته ټول ۳۰ تنه ناروغان (۲۵ تنه ناروغان نارينه او ۵ تنه نور يې ښځې) د Terbinafine د ارزونې او اغېزمنتوب په موخه د يوې لنډې مودې درملنې لپاره تر څېړنې لاندې نيول شوي دي. په دې څېړنه کې د کلچر څخه کار نه دی اخستل شوی، يوازې د انتخابي نواحيو څخه د Scraping په واسطه د KOH (پوتاشيم هايدرو اکسايد) د ۱۰٪ محلول څخه د کار د اخيستنې په واسطه د مستقيمې مايکروسکوپيک معاينې په واسطه فنګس تثبيت شوی دی چې البته اړونده لابراتواري پلټنه، د ناروغانو کلنيکي اعراض او علايم د يوې بشپړې تاريخچې په توګه د ناروغانو څخه پوښتل شوي او تثبيت شوي چې وروسته د نوموړو درملو د ارزونې او اغېزمنتوب په موخه درملنه په مکمله توګه د دوه اوونيو لپاره تکميل او اجرا شوې چې په پايله کې د شپږو اوونيو لپاره ناروغان تعقيب شوي دي. ټولو دې ناروغانو ته د ورځې دوه تابليټه Terbinafine (Lamsil 125 mg) د غذا څخه وروسته د دوه اوونيو لپاره توصيه شوي چې د ناروغانو په احمرار، تفلس، Vesiculation او خارښت کې د پام وړ ښه والی منځ ته راغلی دی. دلته هيڅ يو د ناروغانو کې د درملو د اړخيزو اغېزو کومه نښه نه ده تر سترګو شوې. داڅېړنه ښې چې نوموړي ناروغي د KOH څخه په استفادې د مستقيمې معاينې پواسطه تثبيت شوي ده. ټول داناروغانو ته دورځې دوه تابليت د Terbinafine (125mg) (Lamisil) وروسته د غذا څخه ددوه اوونيو دپاره توصيه شوي دي. په ناروغانو کې د پام وړ ښه والي په احمرار، تفلس، Vasiculation او خارښت کې منځ ته راغلي دي. دلته هيڅ يو د ناروغانو کې ددرملو جانبي عوارض نه دي تر سترګو شوي. دا څېړنه ښيي چې د Terbinafine په واسطه د دوه اوونيو په موده کې د Tinea Corporis او Tine a Cruris درملنه ښه او موثره ارزول شوې او سربېره پردې نوموړي درمل د ناروغانو له خوا ښه تحمل شوي دي. (۱،۲،۳)

سريزه:

Terbinafine يا Lamsil عبارت له يو Ally amine څخه دی چې د Antifungal او Fungicidal فعاليت له کبله د Dermatophytes انتاناتو په درملنه کې يې موثريت او اغېزه زياته ده. Terbinafine د Squaline expoxidas انزايم په نهي کولو کې د پام وړ اغېزه لري چې له دې کبله سکوالين په حجره کې متراکم يا جمع کېږي چې البته د فنګس لپاره مضر دي. د Fungicidal خاصيت له کبله چې په نوموړو درملو کې يو ځای دي، نو له دې کبله د نوموړو درملو جذب په Stratum Cornium په طبقه کې په چټکۍ سره صورت نيسي، د لنډې مودې درملنه يې ممکنه ده. د درملنې څخه وروسته Terbinafine د پام وړ وخت لپاره په Stratum Cornium باقي پاتې کېږي. د درملو د بيې او قيمت په پام کې نيولو سره د لنډې مودې درملنې ته ترجيح ورکړ شوې ده. (۲،۵)

موخې:

ددې څېړنې موخه او هدف د خولې له لارې د دوه اوونيو په موده کې Tinea Corporis او Tinea Cruris په درملنه کې د Terbinafine د درملو اغېزې او تحمل د ارزونې په برخه کې روغتيايي کارکوونکو او د مسلک مينه والو ته د ګټورو معلوماتو وړاندې کول دي.

طبي ادبياتو ته کتنه:

Terbinafine په زياته پيمانه ليپو فليک، کېراتو فليک او Fungicidal درمل دي چې د پوستکي په پتوجن باندې حمله کوي.

کړنه: کله چې سکوالين څخه ارگوسيترول د فنگس په حجروي د ېوال کې جوړېږي، نو په دې لړ کې د سکوالين expoxidas انزايم موجوديت ضرور يا اړين دی، Terbinafine نوموړی انزايم نهې کوي چې له دې کبله سکوالين په ځوانکه کې متراکم يا جمع کېږي چې د فنگس لپاره مضر دی، کله چې د خولې له لارې واخستل شي، نو په بيړه سره جذبېږي او د پوستکي، نوکانو او شحمي يا غوړين نسجونو په واسطه اخستل کېږي، کله چې په خارجي يا موضعي توگه تطبيق شي، نو د پوستکي او مخاطي غشا څخه تېرېږي. په ځيگر کې د سايتوکروم P450 په واسطه په استقلاب رسېږي او د تشو متيازو سره خارجېږي. Naftafine يو بل ډول درمل دي چې د تربينافين سره ورته اغېزې لري.

اړخيزې اغېزې: په ۱۰٪ ناروغانو کې منځ ته راځي چې ملايمه يا نرمه بڼه لري او په خپله د کنترول يا کابو لاندې راځي چې عبارت دي د معدې او کولمو ستونزې، رش، خارښت، سردردي او سر گنگسۍ څخه، د بندونو او عضلي دردونو راپور هم ورکړل شوی دی او په ډېره کمه پيمانه د ځيگر د التهاب لامل کېږي. تر بينافين هغو کسانو ته چې د ځيگر په ناروغيو اخته وي، نه ورکول کېږي. (۴)

مواد او کړنلاره:

دا څېړنه د ننگرهار پوهنتون روغتون د پوستکي په څانگه کې د ۱۳۹۰کال د ميزان مياشتې د لومړۍ نېټې څخه د حوت د مياشتې تر ۱۵نېټې پورې اجرا شوې ده. دلته ټول ناروغان ۳۰ تنه (۲۵ تنه ناروغان نارينه او ۵ نور يې ښځينه) چې منځنی عمر يې ۳۲ کاله و او د ناروغانو معاينه د مستقيمي معاينې په واسطه تثبيت شوې، شامل دي چې ۱۵ناروغان يې د Tinea Corporis لرونکي او ۱۲ ناروغان يې د Tinea Cruris لرونکي وو او درې نور يې د دواړو (tinea Corporis او tinea Cruris) لرونکي وو. په مفصله توگه د ناروغانو تاريخچه او کلنيکي معاينات اجرا شوي دي، درملنه د دوه اوونيو لپاره اجرا او وروسته د شپږو اوونيو لپاره ناروغان کنترول شوي دي. په اعراضو او علايمو د ناروغانو کې Eryrthema، Scaling، Vesiculation، Pruritusاو Pigmentation شامل دي. په دې څېړنه کې اميدوارې ښځې او هغه ښځې چې ماشومانو ته شيدې ورکوي، شاملې نه دي.

پايله:

دلته د پام وړ بهبود په Erythema ، Scaling، Vesiculation او Pruritis کې ليدل شوی دی، په دوه ناروغانو کې په Pigmentation کې لږ بهبود مشاهده شوی، د ۲ اوونۍ په پای کې په اعظمي توگه شفا ليدل شوې ده. نوموړي درمل د ناروغانو له خوا ښه تحمل شوي او د reaction advers کوم راپور نه دی ورکړ شوی. (۸،۷)

مناقشه:

نن سبا Systemic antifungal درمل په ازاد بازار کې موجود دي، د نوو Antifungal نه استعمال يو عمده علت د درملو قيمتونو جگوالی دی. د Terbinafine لپاره ټيټ موثر دوز په برخه کې په ځانگړې توگه مخ پر وده هېوادونو کې زياتو څېړنو ته ضرورت شته. نوموړي درمل په ډکه او تشه معده دواړو کې ډېر ښه جذبېږي، Keratophilic او Lipophilic خاصيت لري. څرنگه چې دا درمل Fungicidal خاصيت لري، نو په Stratum Cornium او د نوکانو پليت له خوا په چټکۍ سره جذبېږي. دا دا معنی لري چې د تداوۍ لنډه موده امکان لري په Tinea Corporis او Tinea Cruris کې د خولې لارې Terbinafine د لنډې مودې درملنه د درملنې موثريت ښيي؛ بنا پردې په پايله کې د خولې له لارې د لنډې مودې لپاره د Terbinafine استعمال دا جوتوي چې نوموړي درمل ښه موثر او د ناروغانو له خوا ښه د تحمل وړ دي. (۹)

Abstract:

Terbinafien has been extensively used in the management of superficial Fungal infection using different treatment regimes. To evaluate the safety and efficacy of short term therapy with terbinafine 30 Patients (25 males and 5 females) whose diseas was confirmed with KOH examination. The relevant laboratory investigation in clinical signs and symptoms were recorded at first visit after completion of therapy (two weeks) and at the end of follow up period (6 weeks). All the patients we provide with 2 tablet of terbinafine (Lamisi 125 mg) Daily for two weeks after meals. There was significant improvement in erythema , Scaling , Vesiculation and Pruritus. Non of the patients complained any Side effects. This study shows that 2 Weeks therapy with terbinafine is highly effective in tinea corporis / Cruris and is well tolerated.

References:

1- Andrews Diseases of the skin eleventh edition 2011
2- P.N Behll Practice of Dermatology eight edition 2011.
3- Paul K. Buxton and Racheal Morris Jones, ABC of Dermatology fifth Edition 2009
4- Cullen. Jorizzo-Green. Penneys. Piette, Zone Dermatological signs of internal Disease second edition 1995.
5- Thomas P. Habif Clinical Dermatology fifth Edition 2010
6- Vijy K. Jain/Anil Dashore manual of skin Diseases, First edition 2005
7- Katzung- Bertram G. Basic and clinical pharmacology ninth edition Macgrew Hill 2004.
8- WWW. Pubmed.com
9- WWW.webmed.com

پوهنمل دوکتور عزيزالرحمن (مکي)
شرعياتو پوهنځی- اسلامي تعليماتو څانګه

په معنی سره د حديث روايت

لنډيز:
د نبوي احاديثو معنوي روايت يو له هغو موضوعاتو څخه ده چې د اصول فقه او اصول حديث علماء يې په هکله د نظر اختلاف لري، ځينې ورته جواز ورکوي او ځينې يې بيا منعه کوي او هر يو خپل دلايل لري. البته جواز ورکوونکي په مطلق ډول جواز نه ورکوي، بلکې څه شرطونه لري، دا هم د يادونې وړ ده چې دغه اختلاف د روايت د زمانې پورې تړاو لري؛ يعنې هغه زمان چې نبوي احاديث په کتابونو کې ليکل شوي نه وو، خو په کتابونو کې د احاديثو د تدوين څخه وروسته ټول په دې متفق دي چې حديث بايد د حديثو د معتمد مصدر څخه نقل شي او روايت کوونکي ته د وعظ د صورت نه په غير، يا دا چې مقصد يې د حديث روايت نه وي، نور په هيڅ توګه روايت په معنی سره جواز نه لري. ددې تر څنګ دا يې هم بيان کړې چې راوي ته ښايي چې د لا زيات احتياط په خاطر د حديث د ذکر کولو وروسته د (او کما قال) عبارت ووايي؛ د حديثو علماوو په دې هکله هر راز رامنځته شوو شبهاتو ته هم ځواب ويلی دی.

سريزه:
د رسول الله صلی الله عليه وسلم احاديث الهي وحې او د اسلامي شريعت دويم مصدر دی، له دې کبله په روايت او استدلال کې پوره احتياط په کار دی، ترڅو روايت کوونکی يا استدلال کوونکی د هغه وعيد لاندې رانه شي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم يې په هکله فرمايلي دي: ((مَنْ كَذَبَ عَلَيَّ مُتَعَمِّدًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ)). ژباړه: چا چې پر ما قصداً درواغ وويل، نو ځای يې د دوزخ اور دی. (۴م۵۲)
له دې کبله د اسلامي امت علماوو د حديثو د روايت کوونکي لپاره ځانګړې صفات بيان کړي چې راوي بايد پرې موصوف وي او د نوموړو صفاتو د نه شتون په صورت کې راوي ته د حديثو روايت کول جواز نه لري او د ځينو مهمو شروطو د نه درلودلو په صورت کې بيا د راوي په هکله علماء اختلاف نظر لري، ځينې يې جايز بولي او ځينې يې جايز نه بولي او هره ډله خپل دلايل لري. ما په دغه مقاله کې ددغو دواړو ډلو نظريات او دلايل په مفصل ډول بيان کړي دي، چې د لوستونکو خدمت ته يې وړاندې کوم.

موخې:
يو شمېر خلک د نبوي احاديثو په ذکر کولو کې له نهايت بې پروايۍ څخه کار اخلي، حتی تر دې چې موضوعي درواغ احاديث د منبرونو په سر خلکو ته اوروي او د رسول الله صلی الله عليه وسلم ددې حديث څخه بالکل نا خبره دي چې ((مَنْ كَذَبَ عَلَيَّ مُتَعَمِّدًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ))، څرنګه چې نبوي احاديث الهي وحې او د اسلامي شريعت دويم مصدر دی، نو په روايت کې يې بايد د پوره احتياط څخه کار واخيستل شي، تر څو د هغه وعيد څخه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم بيان کړی دی، نجات وموموو.

د نبوي احاديثو روايت کوونکی له دوو حالاتو څخه خالي نه دی:
لومړی حالت: هغه راوي چې ناپوهه او د ابتدايي زده کړې خاوند وي چې د حديث د الفاظو په دلالت او د معنی په تغير نه پوهېږي؛ ددې ډول راوي په هکله د اصول فقه او اصول حديث ټول علماء په دې متفق دي چې دغه ډول راوي بايد د حديث الفاظ هغسې روايت کړي چې اورېدلی يې دی او په الفاظو کې تغير ورته حرام دی، ځکه چې په معنی کې د تغير څه ضمانت وجود نه لري، نو دا د شريعت په اصولو کې ناروا تصرف او په رسول الله صلی الله عليه وسلم باندې درواغ ويل دي. (۲م۳۱۲)
دوی د خپل نظر د تاييد لپاره لاندې دلايل بيان کړي دي:

۱- رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: ((نَضَّرَ اللَّهُ امْرَأً سَمِعَ مِنَّا حَدِيثًا فَحَفِظَهُ حَتَّى يُبَلِّغَهُ فَرُبَّ حَامِلِ فِقْهٍ إِلَى مَنْ هُوَ أَفْقَهُ مِنْهُ وَرُبَّ حَامِلِ فِقْهٍ لَيْسَ بِفَقِيهٍ)). (۳ج۳/م۳۲۰)

وجه د استدلال داده چې په حديث کې راغلي (فَحَفِظَهُ حَتَّى يُبَلِّغَهُ) او د ترمذي په يوه روايت کې راغلي ((فَبَلَّغَهُ كَمَا سَمِعَ)) يعنې هغسې بايد روايت کړي چې اورېدلی يې وي، نه په معنی سره.

۲- رسول الله صلی الله علیه وسلم براء بن عازب ته د شپې پر مهال د ويده کېدو دمخه دا دعا وښوولې، ((إِذَا أَتَيْتَ مَضْجَعَكَ فَتَوَضَّأْ وُضُوءَكَ لِلصَّلاَةِ ثُمَّ اضْطَجِعْ عَلَى شِقِّكَ الأَيْمَنِ ثُمَّ قُلِ اللَّهُمَّ أَسْلَمْتُ وَجْهِي إِلَيْكَ وَفَوَّضْتُ أَمْرِي إِلَيْكَ وَأَلْجَأْتُ ظَهْرِي إِلَيْكَ رَغْبَةً وَرَهْبَةً إِلَيْكَ لاَ مَلْجَأَ . وَلاَ مَنْجَا مِنْكَ إِلاَّ إِلَيْكَ اللَّهُمَّ آمَنْتُ بِكِتَابِكَ الَّذِي أَنْزَلْتَ وَبِنَبِيِّكَ الَّذِي أَرْسَلْتَ فَإِنْ مُتَّ مِنْ لَيْلَتِكَ فَأَنْتَ عَلَى الْفِطْرَةِ وَاجْعَلْهُنَّ آخِرَ مَا تَتَكَلَّمُ بِهِ قَالَ فَرَدَّدْتُهَا عَلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم فَلَمَّا بَلَغْتُ اللَّهُمَّ آمَنْتُ بِكِتَابِكَ الَّذِي أَنْزَلْتَ قُلْتُ وَرَسُولِكَ قَالَ : لاَ. وَنَبِيِّكَ الَّذِي أَرْسَلْتَ)). (۴ج۱/م۹۷)

په دې دعا کې راغلي چې (وَنَبِيِّکَ الذِی أَرْسَلتَ) کله چې براء نوموړي دعا نبي عليه السلام ته تېروله داسې يې وويل: (وَ رَسُولِکَ الذِی أَرْسَلتَ)، نبي عليه السلام ورته وويل: نه (وَنَبِيِّکَ الذِی أَرْسَلتَ) وو ايه؛ نو که چېرته د حديث روايت په معنی سره روا وای، رسول الله صلی الله علیه وسلم به براء بن عازب ته پورتنی ارشاد نه فرمايه، ځکه چې په ذکر شوي لفظ سره په معنی کې کوم تغير نه راځي او رسول الله صلی الله علیه وسلم هم نبي او هم رسول دی. (۱ج۲/م م۲۱۴-۲۱۳)

۳- الله تعالی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د فصاحت او بلاغت او جوامع الکلم ويناوو ځانګړتيا ورکړې، چې ډېرې معناګانې په لږو الفاظو کې رانغاړي او عام خلک دا ځانګړتيا نه لري، له دې کبله د نبوي حديث تعبير په عامه ژبه ګران کار دی. (۹ج۳/م۴۱۳)

دويم حالت: هغه راوي چې د پوهې او علم خاوند دی او د الفاظو په مفهوم او دلالت پوهېږي، د داسې راوي د روايت په هکله بيا علماء اختلاف لري؛ ځينو د تشدد څخه کار اخيستی او په هر صورت کې دا حتمي ګڼي چې حديث بايد هماغسې روايت شي چې اورېدل شوی دی او په هيڅ صورت کې په معنی سره د حديث روايت ته جواز نه ورکوي. ددې نظر خاوندان عبارت دي له محمدبن سيرين، ابوبکر الرازی الجصاص، القاسم بن محمد، رجاء بن حيوة او علي بن حزم الظاهري او د عبدالله بن عمر رضی الله عنه څخه هم نقل شوی دی. (۱۰ج۲/م م۹۵-۹۱)

د جواز ورکوونکو دلايل:

۱- پر دې د اسلامي امت اجماع ده چې عجمو ته د شريعت بيان د هغوی په عجمي ژبه روا دی، نو کله چې بلې ژبې ته د حديث معنی اړول روا وي، نو د عربي ژبې يو لفظ په بل مساوي يا مرادف لفظ اړول خو په اولی توګه روا دي.

۲- د رسول الله صلی الله علیه وسلم استازو به خلکو ته د هغوی په ژبه ديني اوامر بيانول.

۳- په نبوي احاديثو کې د الفاظو د تعبد خبره نشته، بلکې مقصد په معنی پوهېدل دي.

۴- صحابه و چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه احاديث اورېدل، فوراً يې نه ليکل، بلکې کله به چې اړتيا ورته پېښه شوه، بيانول به يې، او دا حتمي ده چې څه موده وروسته د حديث بيانول په عين هماغو الفاظو چې روايت شوی، ستونزمن برېښي او دا په دې دلالت کوي چې هغوی حديث په معنی سره روايت کړی دی.

۵- صحابه کرامو يوه داسې پېښه چې په يوه ځای کې پېښه شوې وي، په مختلفو الفاظو سره روايت کړې ده، دا په دې دلالت کوي چې هغوی حديث په معنی سره روايت کړی. (۸ج۴/م۲۲۹)

دوی په معنی سره د حديث روايت ته لاندې شروط ايښي دي:

لومړی: په متعبد به الفاظو کې لکه اذان، د استفتاح دعاء، د لمانځه تکبيرات، تشهد او داسې نورو کې په معنی سره د روايت جواز نشته.

دويم: په جوامع الکلم احاديثو کې لکه (إنما الأعمال بالنيات" (۵م۳۸)، "من حسن إسلام المرء تركه ما لايعنيه" (۶ج۴/۵۵۸)، "الحرب خدعة" (۵م۱۱۰۲)، "الخراج بالضمان" (۱۲ج۳/م۵۸۱)، "العجماء جبار" (۱۳ج۲/م۵۴۵)، "البينة على المدعى" (۳ج/م۶۲۲) او داسې نورو احاديثو کې په معنی سره د روايت جواز نشته.

درېيم: حديث بايد د متشابهو له جملې څخه نه وي، لکه د الله تعالی د صفاتو احاديث. (۱۵ج۱/م۱۵۲)
څلورم: که چېرته حديث د احتجاج يا فتوی لپاره ذکر کېږي، نو د حديث د الفاظو څخه د عاجز کېدلو په صورت کې په معنی سره يې روايت جواز لري، خو که راوي د حديث د روايت قصد ولري، نو په معنی سره يې روايت جواز نه لري. (۹ج۳/م۴۱۳)
دوی د مانعينو د دلايلو په ځواب کې وايي:
۱- د (نضر الله امرا) حديث زموږ لپاره حجت دی، ځکه دا حديث په مختلفو الفاظو سره روايت شوی دی او معنی يې يوه ده، په يو روايت کې (نضر الله) او په بل کې (رحم الله) (۷م۱۹۰) راغلی او په يوه روايت کې (رب حامل فقه لا فقه له) او په بل روايت کې (رب حامل فقه غير فقيه) راغلی. که څه هم دا امکان لري چې دا حديث دې رسول الله صلی الله عليه وسلم په مختلفو وختونو کې بيان کړی وي، خو غالب ګومان دادی چې دا يو حديث دی او په مختلفو الفاظو سره روايت شوی دی. (۱۳م۳۱۷)
۲- د براء بن عازب د حديث په هکله دوی وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه ته ځکه په ونبيک الذی ارسلت) تاکيد کړی، ترڅو د رسول الله صلی الله عليه وسلم التباس د جبريل عليه السلام سره رانشي، ځکه چې هغه هم د الله استازی دی؛ يا خو دا چې رسول الله صلی الله عليه وسلم په ابتدا کې نبي ؤ او وروسته رسالت ورکړل شو، له دې کبله يې داسې وينا وکړه او داسې يې ونه ويل چې: (وَرَسُولِکَ الذِي أَرْسَلْتَ)، ځکه چې د رسالت وروسته بل رسالت نشته. (۴ج۳/م۹۷۳)
د دواړو ډلو د نظرونو له ارزونې وروسته دا په ډاګه کېږي چې د جواز ورکوونکو دلايل قوي دي، خو ددې سره هم دلته دوه مهمو ټکو ته پام اړول ضروري دي:
لومړی: د الفاظو د ذکر کولو څخه د عاجز کېدو په صورت کې په معنی سره د روايت په هکله ذکر شوی اختلاف د نبوي احاديثو د تدوين څخه دمخه وخت پورې اړه لري، خو له کومه وخته راهيسې چې نبوي احاديث په مختلفو کتابونو کې تدوين شوي، نو اختلاف له منځه تللی او د حديث د ذکر شوو الفاظو متابعت لازم دی، ځکه چې په معنی سره د حديث روايت ته اړتيا له منځه تللې او په وروستيو پېړيو کې دا خبره په عملي توګه تطبيق شوې، که څه هم ځينو علماوو ورته په نظري توګه جواز ورکړی دی. (۲م۱۹۱)
له دې کبله هيچاته هم ددې جواز نشته چې حديث په معنی سره روايت کړي، مګر د وعظ او دې ته ورته مجالسو کې د تذکير په توګه، خو په تاليفاتو کې د استدلال او روايت په توګه يې راوړل د اصلي لفظ څخه پرته هيڅ جواز نه لري او چا چې ددې څخه په دې بهانه مخالفت کړی چې ګواکې د نبوي احاديثو الفاظ تعبدي بڼه نه لري، نو روايت يې په معنی سره جواز لري، غټه اشتباه يې کړې ده.
دويم: په معنی سره د حديث د روايت په صورت کې روايت کوونکي شخص ته په کار دي چې د ډېر احتياط څخه کار واخلي او د حديث د روايت څخه وروسته د "أو كما قال رسول الله صلى الله عليه وسلم" او دې ته ورته نور عبارات استعمال کړي، هغسې چې د عبدالله بن مسعود، أنس بن مالک او ابوالدرداء رضی الله عنهم او نورو څخه روايت شوی دی چې د بېلګې په توګه ځينې يې دادي: (۲م۱۹۱)
عن عبدالله بن مسعود رضى الله عنه أنه حدث حديثا فقال: "سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم". ثم أرعد و أرعدت ثيابه فقال: "أو شبيه ذا أو نحو ذا". و عن أبى الدرداء أنه كان إذا حدث الحديث عن رسول الله صلى الله عليه وسلم ثم فرغ منه قال: "اللهم إن لا هكذا فكَشَكْلِهِ". و كان أنس إذا فرغ من الحديث قال: "أو كما قال رسول الله صلى الله عليه وسلم". (۷م م-۲۰۵ ۲۰۶)
دلته لازمه بولم چې په معنی سره د حديث د روايت په هکله ځينې شبهات هم ذکر کړم چې په دې هکله ذکر شوي دي:
ځينو داسې انګېرلې که راوي ته ددې جواز وي چې حديث په خپلو الفاظو سره روايت کړي، نو دا ددې معنی لري چې لومړنی لفظ له منځه ولاړ شي، ځکه چې په معنی سره تعبير کې حتما يو څه تفاوت رامنځته کېږي او کله چې دا تفاوتونه تکرار شي، نو آخرنی تفاوت له حده زيات وي، تردې چې د وروستي او لومړني کلام تر منځ هيڅ ډول تړاو نه پاتې کېږي". (۸ج۴/م۲۷۳)

ددې شبهې ځواب دادی چې ددې طعن د خاوندانو هدف د وسوسو راپارول او د هغو شروطو څخه چې محدثينو د حديثو د صحت او په معنی سره د حديثو د روايت په هکله وضعه کړي دي، سترګې پټول دي. دا هغه شروط دي چې د محدثينو د تصرف په هکله ليدونکي ته دا ډاډ ورکوي چې د حديثو روايت په معنی سره د حديثو اصلي جوهر له منځه نه دی وړی، بلکې د ځينو کلماتو په ځای په عين معنی کې نور کلمات کارول شوي دي.

ددې شبهې د ځواب په هکله په لنډ ډول داسې وايو:

۱- په معنی سره د حديث روايت فقط هغه چاته جواز لري چې په عربي ژبه پوهېږي او د حديث د الفاظو د ذکر څخه عاجز وي، او دا شرط د صحابه کرامو په حق کې موجود دی، ځکه چې د هغوی ژبه په مجموع کې عربي وه او ددې تر څنګ هغوی د قوي حفظ خاوندان وو، له دې علاوه هغوی ته د قوت د حفظ کافي اسباب برابر وو چې دلته يې د ذکر کولو اړتيا نشته، خو د صحابه و د عصر نه وروسته نور راويان بيا د ازموينې سره مخامخ کېدل او فقط د هغه چا روايت منل کېده چې دغه شرط به په کې متوفر و.

۲- که فرضاً دا ومنو چې په معنی سره د حديث روايت کوونکي د حديث په معنی کې اشتباه وکړه او غلط تعبير يې وکړ، نو آيا د هغه اشتباه د علماوو څخه همداسې پټه پاتې کېږي او نه ورته متوجه کېږي؟ دا په هيڅ ډول د منلو وړ نه ده، ځکه چې هغوی د صحيح او حسن حديث په روايت کې د عدم شذوذ او عدم علت شرط ايښی دی، په دې معنی چې د ثقه راوي روايت تر هغو د منلو وړ نه دی چې روايت يې د نورو ثقاتو د روايت سره مقايسه نه شي او دا ثابته نه شي چې د هغه روايت د نورو سره يو شان دی او د هر ډول پټو قادحو علتونو څخه سالم دی، چې په دې ډول د هغو منفي اثراتو مخنيوی کېږي چې د يو راوي څخه بل راوي ته د حديث په انتقال کې يې احتمال رامنځته کېږي. (۱۲م،۲۳۰)

پايله:

د بحث په پای کې پايله په لاندې توګه بيانوم:

- د اسلام د مقدس دين دويم مصدر (نبوي احاديثو) د خوندي ساتلو په هکله د علماوو بې ساری احتياط.
- د نبوي احاديثو پر وړاندې د دښمنانو هر ډول دسايسو ته علماء متوجې دي او هغه يې وخت په وخت شنډ کړي دي.
- د نبوي احاديثو د تدوين څخه وروسته د حديث بيانوونکي ته لازمه ده چې حديث د حديث د معتمدو کتابونو څخه نقل کړي او ددې جواز نشته چې د حديث په الفاظو کې له خپل ځانه تصرف وکړي.

وړانديزونه:

- ټولو مسلمانانو او په ځانګړې توګه علماوو ته په کار دي چې د نبوي احاديثو سره د تعامل په اړه له نهايي احتياط څخه کار واخلي.
- د نبوي احاديثو د روايت د آدابو په اړه د عامه پوهاوي په موخه له مختلفو وسايلو څخه کار واخيستل شي.
- د نبوي احاديثو د درس او تدريس حلقات دې زيات او پراخه شي.

خلاصة البحث:

الرواية بالمعنى من المسائل التى دار الخلاف فيها بين علماء أصول الفقه و أصول الحديث جوازا و عدما، و أدلى كل فريق بدلوه حياله، والفريقان متفقان على أن الراوى الجاهل بالعربية الذى يجهل ما يحيل المعنى لا يجوز له التصرف فى الفاظ الحديث، أما الراوى الذى يدرى ما يحيل المعنى فإن العلماء أجازوا له تغير اللفظ بالمرادف له، و ذلک فى عصر الرواية قبل تدوين الحديث فى المصنفات، أما بعد تدوين الحديث فى المصنفات فإن العلماء لم يجيزوا لأحد أن ينقل الحديث إلا من مصدر معتمد، و أضافوا إلى ذلک آدابا ينبغى أن يتحلى بها المشتغل بالحديث، و منها أن يذكر عبارة (أو كما قال)

بعد ذكر الحديث مبالغة فى الاحتياط، و عدم التصرف فى الأحاديث التى عدها العلماء من جوامع الكلم، و بهذا احتاطوا للسنة النبوية إلى أبعد الحدود، و تصدوا للشبهات التى أثارها البعض و فندوها.

اخځليکونه:

۱- ابن حزم، على بن احمد. ( ). الاحكام فى اصول الاحكام. طبعة دار الحديث.

۲- ابن الصلاح، عثمان بن عبدالرحمن. (۱۹۸۶). علوم الحديث، تحقيق دوكتور نورالدين عتر. طبعة دارالفكر المعاصر

۳- ابوداود، سليمان بن الاشعث. (۱۳۸۸هـ). السنن، تحقيق: عزت عبيد الدعاس و عادل السيد. القاهره: دارالحديث

۴- ابويعلى، محمد بن الحسين الفراء. (۱۴۱۰هـ). العدة فى اصول الفقه، تحقيق: د/ احمدبن على بن سير المباركى. طبعة اولى

۵- البخارى، محمدبن اسماعيل. (۱۹۸۷). صحيح البخارى، تحقيق مصطفى ديب البغا. بيروت: دار ابن كثير

۶- الترمذى، محمدبن عيسى. (۱۳۹۸هـ). سنن الترمذى، تحقيق: احمدشاكر والالبانى. بيروت: دار احياء التراث العربى

۷- الخطيب البغدادى، احمدبن على بن ثابت. (۱۳۵۷هـ). الكفاية فى علم الرواية

۸- الرازى، فخرالدين. (۱۹۸۰). المحصول فى اصول الفقه، تحقيق: طه جابر فياض العلوانى. الرياض: جامعة الامام محمدبن سعود.

۹- الزركشى، محمدبن بهادر. (۱۴۲۱). البحر المحيط، تحقيق: د/ محمد ثامر. طبعة اولى

۱۰- السيوطى، جلال الدين. (۱۹۹۹م). تدريب الراوى شرح تقريب النواوى، تحقيق الدكتور احمدعمرهاشم. بيروت: دارالكتاب العربى

۱۱- الشوكانى، محمدبن على. (۱۹۹۹). ارشاد الفحول الى تحقيق الحق من علم الاصول، تحقيق: الشيخ احمد عزو. دمشق: دار الكتاب العربى

۱۲- عتر، نورالدين. (۱۹۹۷). منهج النقد فى علوم الحديث. دمشق: طبعة دار الفكر

۱۳- الغزالى، محمدبن محمد. (۱۹۹۳). المستصفى. بيروت: طبعة مؤسسة الرسالة

پوهنمل سيد بهـا (کريمي)
پوهنمل غازي جمال عبدالناصر
طب پوهنځی- جراحي څانګه

د هډوکو ماتېدنې د سيمه ييزې درملنې اختلاطات

لنډيز:

کسرونه او د بندونو خلع په ټوله نړۍ کې د عاجلو پېښو لويه فيصدي تشکيلوي، دغه پېښې که چېرې په وخت او زمان او په سمه توګه تشخيص، درملنه او مراقبت يې ونشي، ښايي د معيوبيتونو او حتی د مړينې سبب وګرځي. دغه څېړنه چې **۱۳۹۰/۸/۱۵ – ۱۳۹۲/۱/۱۵** نېټې پورې د ننګرهار پوهنتون روغتون جراحي څانګه کې پر هغو ۱۰۰ تنو ناروغانو چې د ترضيض، کسر او بندونو خلعې له امله د محلي شکسته بندانو په واسطه تداوي او وروسته د اختلاط څخه يې روغتون ته مراجعه کړې، په prospective ډول د ناروغانو د تاريخچې، فزيکي او اکسري معايناتو په وسيله ترسره شوې ده. په دغه څېړنه کې د محلي شکسته بندانو د درملنې اختلاطات، د روغتون د اختلاطاتو په پرتله ډېر زيات او حتی په لوړه کچه محلي درملنې د تلپاتې معيوبيتونو لامل ګرځي.

سريزه:

د انسان د بدن هډوکو ماتېدل (کسرونه) او يا خلع د ژوند په بېلابېلو عمرونو او جنسونو کې ليدل کېږي، پېښې يې د نوي زېږېدلي ماشوم څخه تر زړو خلکو پورې تصادف کوي چې درملنه يې دقيق تشخيص، فني مانورې او وسايلو ته ضرورت لري. که چېرې په دقيق ډول تشخيص نشي او په علمي ډول ارجاع (په ځای) او تثبيت نشي، د معيوبيتونو او حتی د مړينې لامل ګرځي. زياتره ښار څخه لرې او يا د ښاري سيمو خلک د ترانسپورت د نه شتون او يا د سواد او اقتصاد د ټيټې کچې له امله خپل ناروغان چې ترضيض او د هډوکو کسر او يا د بندونو خلع ولري، روغتون ته نه راوړي، بلکې نږدې محلي شکسته بندانو ته مراجعه کوي چې له يوې خوا کسر په دقيق ډول نه تشخيص کېږي او له بلې خوا په غير فني او غير علمي شکل تداوي کېږي چې په نتيجه کې د اختلاطاتو، معيوبيتونو او حتی د مړينې لامل ګرځي.

موخې:

- د هډوکو ماتېدنې او ترضيض د سيمه ييزې درملنې د اختلاطاتو څېړنه.
- په سيمه او روغتون کې د يادو اختلاطاتو پرتلنه.
- په اړونده موضوع کې روغتيايي کارکوونکو او مينوالو ته د ګټورو معلوماتو برابرونه.

تېرو څېړنو ته کتنه:

هډوکی ژوندی نسج دی، عظمي حجرې، کولاجن نسج او منرالي مالګې يې په ترکيب کې شاملې دي، کوم چې زياته برخه يې کلسيم او فاسفورس تشکيلوي. عظمي حجرات په درې ډوله دي: Osteoblast کوم چې عظمي ماترکس يا نوي هډوکي جوړوي؛ Osteocyte چې د عظمي ماترکس د متابولېزم مسوولیت په غاړه لري او osteoclast کوم چې زوړ هډوکی تخريبوي او ماترکس يې رشف کوي (چې دغه د نوي هډوکي جوړول او د زوړ هډوکي رشف کېدل په دايمي ډول جريان لري چې د bone turn over په نوم يادېږي). هډوکي ته له دوه لارو وينه او غذايي مواد راځي، يو هغه مغذي شريان کوم چې عظمي ته داخلېږي او په وړو شعبو تقسيمېږي چې دېته endosteal circulation وايي او بل هغه اوعيي چې د پيريوست له لارې عظم ته رسېږي چې periosteal circulation ورته وايي. هډوکي لکه د عضلاتو په شان کوم منظم innervation نلري،

بلکې هغه اوعيي چې عظم ته داخلېږي، په خپل جدار کې د عصبي ريشو لرونکې دي چې د درد احساس د دې عصبي ريشو له لارې کېږي. وينه او غذايي مواد د اوعيو په واسطه عظم ته راوړل کېږي او اضافي مواد وړل کېږي. هډوکي د شکل له نظره په پنځه ډوله دي، اوږده هډوکي، لکه د مټ او ورانه، پلن هډوکي لکه د قحف هډوکي، واړه هډوکي لکه د لاس د بند او د پښې هډوکي، غيرمنظم هډوکي لکه د حرقفي هډوکې او د sesamoid هډوکي. د ساختمان له نظره هر هډوکی د بيرون لخوا د يوې غشا په واسطه پوښل شوی چې د periost په نوم يادېږي، د هغه څخه داخل خوا ته د هډوکي کورتکس دي چې کلکه او ضخيمه طبقه ده، د هغه څخه داخل خوا ته مخې قنات قرار لري چې د قنات زياته برخه يې (پورتنۍ او ښکتنۍ برخې) اسفنجي يا concellus هډوکي جوړوي او متوسطه برخه کې شحمي نسج واقع دی. د اوږدو هډوکو نهايات د غضروف په واسطه پوښل شوی چې د بل هډوکي سره مفصل جوړوي. د نشونما په وخت کې د هډوکو د نهاياتو يا Epiphysis لاندې يو غضروفي صفحه قرار لري چې Growth plateيا د نشوونما غضروف ورته وايي، کوم چې هډوکی له همدې ځای څخه نشونما کوي. دا نشونما په اوږدو هډوکو کې البته په نارينه کې تر ۱۸کلنۍ پورې دوام لري، خو بعضې پلن هډوکي ۲۱کلنۍ پورې هم نشونما لري او په جينکو کې دا نشونما نظر هلکانو ته ژر صورت نيسي، يعنې ۲-۳ کاله مخکې يې نشونما ختمېږي. هډوکی لکه د اوسپنې او لرګي په شان نه دي چې درز پيدا کړي او يا مات شي او دايمي په همغه شکل پاتې شي، بلکې ترميم او اصلاح په کې صورت نيسي چې دې ترميم کې د عمر (هر څومره چې عمر کم وي، ترميم پکې سريع وي) او مختلفو نورو عواملو په اثر سرعت او بطات صورت نيسي.

د هډوکو ماتېدنه (کسرونه):

کسر د هډوکي ماتېدو ته وايي، که مات شوی هډوکی د زخم له لارې آزادې هوا سره ارتباط پيدا کړي، خلاص کسر او که ارتباط پيدا نکړي، هغه ته ترلی کسر وايي. د کسري خط له مخې په مستعرض، مايل، حلزوني، څو پارچه يي، سګمنتل، Avulsion کسر (چې يوه پارچه د هډوکي د عضلي تقلص له کبله جدا شوې وي) تقسيم شوي دي. همدارنګه کسرونه د شکل له مخې لکه compressive fracture ، vertical fracture يا د کوم عالم په نوم لکه smith fracture، collies fracture يا د تروما د واردېدو له مخې لکه Boxer fracture په نوم يادېږي.

د کسر تعظم يا جوړېدل:

د کسر جوړېدل په ماشومانو او کاهلانو کې فرق کوي، په ماشومانو کې که لږ څه لنډوالی يا angulation هم ولري، د اصلاح وړ دي. مثلاً په وړو ماشومانو کې که د فخذ هډوکي کسر تر ۳ سانتي مترو پورې لنډوالی او تر ۳۰درجو زاويه هم ولري، قابل د اصلاح دی، يعنې د وخت په تېرېدو سره په خپله بدون د لاسوهنې څخه اصلاح کېږي (خو تدور د اصلاح وړ نه دی). کاهلانو کې بايد هډوکی زاويه، لنډوالی او کوږوالی ونلري، ځکه آينده کې سو شکل ورکوي او غير قابل اصلاح وي. د هغو هډوکو کسرونه چې مفصلي سطحې يې په بر کې نيولې وي، بايد مکملې اصلاح يا په ځای شي، په غير د هغې په آينده کې د مفصل په يوه برخه زور زيات او بله برخه کم زور اخلي او osteo arthritis ورکوي. واز کسرونه بايد په صحيح طريقه مراقبت شي، يعنې ښه Debridement او انتي بيوتيک ورکړل شي. د کسرونو د تداوۍ طريقې له ترلي ارجاع او پلستر، وازه ارجاع او Internal Fixation، x-fixation، traction او بيا پلسترclose intra medullary rood او داسې نورو څخه عبارت دي. د کسرونو د جوړېدو وخت هم نظر په عمر، ناروغ عمومي حالت، دا چې کوم هډوکی او د هډوکي کومه برخه ماته شوېده، فرق کوي، مثلاً ماشومانو کې د Femur هډوکي د جسم ترلی کسر ممکن ۲-۴ ورځو کې تعظم وغواړي، حال دا چې کاهلانو کې ۱۰۰-۲۰۰ ورځې ضرورت لري. همدارنګه د Tibia هډوکي ترلي کسرونه په ماشومانو کې ممکن تر ۲ اوونيو پورې تعظم وکړي، حال دا چې په کاهلانو ۱۲-۴ اوونيو ته ضرورت لري. که د ناروغ عمومي وضع او صحت ښه وي، مخکې به تعظم وکړي او که نورې ناروغۍ ولري، لکه RenalFailure, hyper parathyroidism ممکن تعظم يې ډېر وخت وغواړي. همدارنګه ترلي کسر نظر واز کسر ته ژر تعظم کوي او خطي کسر نظر څو پارچه يي کسر ته ژر تعظم کوي. ډېر کسرونه چې د ترلي ارجاع او تثبيت په واسطه تداوي کېږي، بايد مهم نقاط په نظر کې ونيول شي، لکه کله چې يو هډوکی مات شي د هډوکي او د مجاورو انساجو څخه وينه بهېږي چې دا وينه بهېدنه ۱۲-۲ساعتو پورې زياتېږي،

حتی تر۷۲ ساعتونو پورې دوام کوي، نو ځکه په اول وخت کې باید طرف کلک ونه تړل شي او معمولاً باید میزابه او الاستیک بنداژ ترې تاو شي، که ساحه کې پړسوب زیاتېږي، بنداژ هم د سستېدو قابلیت ولري، ترڅو د ساحې اروا متاثره نشي (بدبختانه چې شکسته بندان په اول وخت کې ماوفه طرف د هګۍ پټۍ په واسطه کلک تړي چې له تړلو وروسته طرف کې پاړسوب زیاتېږي او اروا یې متاثره کوي). همدا رنګه ددې لپاره چې طرف کې تدور یا rotation منځته رانشي، باید د طرف alignment یا په یو خط راوړل په نظر کې ونیول شي، لکه که femur او یا tibia مات وي او غواړو په ځای او تثبیت یې کړو، نو طرف داسې په یو خط راوړل کېږي چې د پښې دویمه ګوته د patella منځنۍ برخه د spina iliaca ant sup سره په یو خط راوړل شي. همدارنګه که د مړوند هډوکی مات شي، باید د radius هډوکی په نظر کې ونیول شي او د هغه په واسطه ارجاع او تثبیت اجرا شي. که کسر علوي ثلث کې وي supination که متوسط ثلث کې وي neutral او که په سفلی ثلث کې وینو د pronation حالت باید ولري، همداسې نور مهم ټکي باید نظر کې ونیول شي.

مواد او کړنلاره:

ناروغان:۱۰۰تنه هغه ناروغان چې د هډوکو، عضلاتو، اوتارو، بندونو او په ټولیز ډول د یو طرف د ترضیض له امله د درملنې په موخه محلي شکسته بندانو ته مراجعه کړې او په پایله کې اختلاطي شوي دي او د اختلاط د درملنې لپاره ننګرهار طب پوهنځي روغتون ته راغلي وو. دغه راز په دې څېړنه کې د جراحي څانګې OPD، IPD راجستر کتابونه، د ناروغانو دوسیې، د پانسمان تعقیم سامان، د پلستر کولو سامان او لوازم، د څېړنې لپاره ترتیب شوی جدول او له X-Ray پاڼې کار اخستل شوی دی. دغه راز له ناروغانو لومړی تاریخچه اخیستل شوې، وروسته د فزیکي، لابراتواري او رادیولوژي معایناتو څخه افت یا ناخوالي تشخیص شوي؛ که چېرې ناخوالي یا اختلاط خطرناک او پیچلی و، نو ناروغ بستر کېده او که چېرې اختلاط عادي و، نو په OPD خونه کې یې لازمه درملنه کېده او د درملنې تعقیب لپاره بېرته غوښتل کېده. په سلو تنو کې ۲۲ تنه ماشومان،۱۰تنه ښځینه، ۲۸ تنه نارینه ناروغان وو.

پایله:

دغه څېړنه مونږ د محلي شکسته بندانو لخوا په تداوي شوو هغو سلو تنو ناروغانو باندې ترسره کړې چې روغتون ته یې د اختلاط له کبله مراجعه کړې وه، چې اختلاطات یې په لاندې ډول وو:

۱جدول: د محلي شکسته بندانو په واسطه د کسر او خلع د درملنې د اختلاطاتو کچې فیصدي

شماره	اختلاطات	فیصدي
۱	د تړل شوي ناحیې څخه ښکته پړسوب	٪۴۲
۲	د تړل شوي ناحې څخه ښکته د پړسوب له امله شینوالي او اسکېمیا	٪۲
۳	د تړل شوي ناحې څخه ښکته د پړسوب له امله شینوالي ، اسکېمیا او امپوتیشن	٪۲
۴	غلط او خراب ارجاع او سو شکل	٪۱۷
۵	Volkmann's Ischemic contracture	٪۳
۶	د طرف تثبیت بې له دې چې کسر او یا خلع ولري	٪۸
۷	د خلع تثبیت د کسر په اشتباه	٪۵
۸	Malunion او pseudo arthrosis	٪۳
۹	د مفاصلو شخوالي (Elbow او knee) د زیات وخت تړلو له کبله	٪۱۵
۱۰	Osteomyelitis	٪۳

1 - د تړل شوي ناحیې څخه ښکته پړسوب چې د ډېرې کلکې تاوې شوې ټوټې (د هګۍ د زیړو په واسطه کلکه شوې)، تار او تسمې په واسطه منځته راغلي، په ۴۲ تنو کې موجود و چې ۲۳ تنه ماشومان ۱۴ تنه نارینه کاهل او ۵ تنه ښځینه کاهل وو. په ۴۲ تنو کې ۵ تنو د مټ یا humerus د هډوکي کسر، ۱۲ تنو د مړوند د هډوکو کسر، ۲ تنو د ترقوي د هډوکو کسر، ۱۹ تنو

د څنګل د بند کسر او ۴ تنو د مړوند د بند کسر درلوده چې په روغتون کې د تړل شوې ناحيې د خلاصېدو او د طرف د پورته ساتلو څخه وروسته پورتنی اختلاط تقريباً رفع او په مناسب ډول تثبيت شول.

2- د تړل شوې ناحيې څخه ښکته شينوالی او اسکېميا په ۲ تنو کې موجود و چې د مړوند د بند کسر يې درلود او د لاس شينوالی يې پيدا کړی و، د تړل شوي وسيلې خلاصولو او د طرف لوړوالي څخه وروسته ناحيه نارمل حالت ته راوګرځېده.

3- ۲ تنه چې يو تن د لاس د دوهمې ګوتې کسر درلود او کلکه تړل شوې وه، د اسکېميا په نتيجه کې ګانګرين شوې وه، متاسفانه قطع شوه. يو تن چې د Metatarsus د هډوکي کسر يې درلود، د پښې د کلک تړلو له امله د نوموړې د پښې ټولې ګوتې ګانګرين شوې وې چې متاسفانه قطع شوې.

4- د غلطې او خرابې ارجاع له امله د طرف سو شکل: ۱۷ تنو د مربوطه ناحيو د کسر له امله چې خراب ارجاع شوي وو، د خلاصېدو څخه وروسته د مربوطه ناحيې سوء شکل درلود چې په دوی کې ۸ تنو د مړوند د دواړو هډوکو د تړلي کسر په نتيجه کې شکسته بندانو ته مراجعه کړې چې غلط ارجاع او تثبيت شوي وو او د ساعد سوء شکل موجود و. په ۵ تنو کې چې ماشومان وو، nion شوې ناحيه دوباره ماته او تقريباً د طرف د محور په نظر کې نيولو سره ارجاع او تثبيت شو او ۳ تنه نور يې چې کاهلان وو، د خلاصې ارجاع په وسيله (Open reduction) کسري ناحيه د طرف د محور په نظر کې نيولو سره Internal تثبيت شوه. ۲ تنو د لاس هډوکو کسر درلود، سوء شکل يې پيدا کړی و چې مکسوره ناحيه د لاس د مانورو په واسطه ارجاع او تثبيت شوه. ۳تنو د Femur د هډوکي کسر درلود چې يو يې ماشوم و، د مکسوره ناحيه دوباره ارجاع څخه وروسته تثبيت شوه او ۲ تنه نور يې کاهلان وو چې د خلاصې جراحۍ په واسطه د سوء شکل ناحيه ماته، ارجاع او داخلي تثبيت په واسطه تداوي شول. ۴ تنو د مټ هډوکو کسر درلود چې د مانورو په واسطه ارجاع او تثبيت شول.

5- Volkmann's Ischemic contracture: ۳ تنه ناروغانو چې د ساعد او څنګلې بند کسر يې درلود، د شکسته بندانو د کشولو او تثبيت څخه وروسته V.I.C پيدا کړې وه چې د ساعد کسر شپږمياشتې وروسته او د څنګل کسر شپږ مياشتې او شل ورځې د محلي درملنې څخه وروسته مراجعه کړې وه، hand surgen ته د تللو مشوره ورکړل شوه.

6- ۸ تنه ناروغان چې زياتره يې ماشومان وو، د شکسته بندانو په واسطه د ترضيضي ناحيې د تړلو څخه وروسته بيا هم درد او پړسوب درلود، روغتون ته د مراجعې څخه وروسته کله چې فزيکي معاينه او اکسري اجرا شوه، معلومه شوه چې هيڅ نوع کسر او خلع موجود نه وه، تثبيت شوې ناحيې خلاصې او لازمه درملنه ترسره شوه.

7- ۴تنه ناروغانو کې چې ماشومان وو، ۳تنو د Elbow او يو تن د اوږې د بند خلع درلوده، په دې تېروتنه چې کسر لري تثبيت شوې وه چې د فزيکي او اکسري معايناتو څخه وروسته يوازې خلع تشخيص شوه، د انستيزي ورکولو څخه وروسته د مانورو په واسطه خلع ارجاع او تثبيت شوه.

8- ۳ تنه ناروغان چې دوه تنو د femur کسر درلود، دوه نيمې مياشتې د شکسته بند په واسطه تړل شوې وه، له خلاصولو وروسته کسري ناحيه union کړې نه وه او pseudo earthrosis (کاذب مفصل) يې جوړ کړی و. همدا راز يو تن د Tibia او Fibula کسر درلود، دا هم تقريباً د درې مياشتې تړلو وروسته خلاص شو او وليدل شو چې union يې کړې نه وه او pseudo arthroses يې درلود چې درې واړه ناروغان عمليات او Internal fixation ترسره شو.

9- د مفاصلو شخوالی په ۱۵ تنو هغو ناروغانو کې موجود و چې د معين وخت څخه د زيات وخت لپاره طرف تړل شوي وو. ۹ واقعې د Elbow او ۶ واقعې د knee بندونو شخوالی و چې ۱۵ واړه واقعې فزيوتراپي ته معرفي شوې.

10- درې واقعې چې in to out خلاص کسرونه درلودل، ۲تنو د Tibia د سفلي ثلث او يو واقعه يې د ساعد د هډوکي خلاص کسر و چې د شکسته بندانو لخوا په ناپاکه شکل تړل شوي وو او زخم له انتان د اخستو وروسته د osteomyelitis لامل ګرځيدلی و چې عمليات او لازمه درملنه ترسره شوه.

۱ګراف: د محلي شکسته بندانو په واسطه د کسر او خلع د درملنې اختلاطاتو کچې فیصدي



مناقشه:

په ۱۰۰ تنو ناروغانو کې چې د ترضیض او کسر له امله یې شکسته بندانو ته مراجعه کړې او د اختلاط له امله روغتون ته راغلي، که چېرې د شکسته بندانو په واسطه د ترضیض او کسر د درملنې د اختلاطاتو او د روغتون د درملنې د اختلاطاتو پرتله وشي، نو لیدل کېږي چې:

۲جدول- د روغتون او محلي شکسته بندانو په واسطه د کسر او خلعې د درملنې اختلاطاتو د فیصدۍ پرتله

شماره	اختلاطات	روغتون	محلي شکسته بند
1.	د تړل شوې ناحیې څخه ښکته پړسوب	٪۵	٪۴۲
2.	د تړل شوې ناحیې څخه ښکته د پړسوب له امله شینوالی او اسکېمیا	٪۰	٪۲
3.	د تړل شوې ناحیې څخه ښکته د پړسوب له امله شینوالی، اسکېمیا او امپوتیشن	٪۰	٪۲
4.	غلط او خراب ارجاع او سو شکل	٪۲.۰	٪۱۷
5.	Volkmann's Ischemic contracture	٪۰۱.۰	٪۳
6.	د طرف تثبیت بې له دې چې کسر او یا خلع ولري	٪۰	٪۸
7.	د خلع تثبیت د کسر په اشتباه	٪۰	٪۵
8.	Malunion او pseudo arthrosis	٪۵.۲	٪۳
9.	د مفاصلو شخوالی (Elbow او knee) د زیات وخت تړلو له کبله	٪۵	٪۱۵
10	Osteomyelitis	٪۱.۰	٪۳

۲. ګراف: د روغتون او محلي شکسته بندانو په واسطه د کسر او خلعې د درملنې د اختلاطاتو فیصدي پرتله:



له پورته پرتلې څخه دا جوتېږي چې د ترضیض او کسر له امله د درملنې اختلاطات په روغتون کې نسبت محلي شکسته بندانو ته په ډېره ټیټه کچه کې لیدل کېږي. بناءً څومره چې د ترضیض ناحیه په دقیق ډول فزیکي معاینه او د هډوکو د کسر د تشخیص پخاطر X-ray, CT Scan, MRI, څخه استفاده وشي او په نوو او عصري میتودونو درملنه وشي، د اختلاطاتو او مړینې کچه به ډېره کمه شي؛ پاتې دې نه وي چې د اختلاطاتو کچه په محلي درملنو کې ډېره زیاته ده چې د تلپاتې معیوبیتونو او د مړینې سبب ګرځي.

وړاندیزونه:

۱. د ډله ییزو رسنیو له لارې دې عامه پوهاوی ترسره شي، ترڅو زمونږ وطنوال د ترضیض موندلو او یا د کسر په صورت کې د درملنې لپاره روغتون ته مراجعه وکړي.

۲. روغتیایي چارواکو او مسوولینو ته وړاندیز کېږي چې د هډوکو کسرونو د تشخیص او درملنې لپاره روغتونونه په عصري وسایلو مجهز کړي.

۳. هغه کسان چې د شکسته بندانو په واسطه تداوي شوي وي او اختلاط یې موندلی وي، خپله تجربه او بده خاطره دې د سیمې له خلکو سره شریکه کړي، تر څو هغوی د ترضیض او کسر موندلو په وخت کې روغتون ته مراجعه وکړي.

Abstract:

Fracture and dislocations are High percentage emergency cases worldwide. If these disorders are not diagnosed, treat and follow up will the mortality & disability rate will be in high percentage. our research has been done since 1390 /8/15 -1392/1/15 at the surgical department of NTH(Nangarhar Teaching Hospital) ate approximately 100 Pt who are suffering form trauma , Fracture , Joint dislocation treated by bone –setter and then become complicated and return to NTH . The above mention research has been done prospectively from Pt Hx , PE & X-ray investigation . In these researches we have found out complicated orthopedic cases due to miss treatment and miss diagnosis of bone-setter. Most of this Complication are present lifelong in most of the Pt. Now we have find out in our research that Ratio of complication is high in bone-setter treatment as compare with hospital treatment.

References:

1. Adams John Craw Forel and david hamblen, Out line of fractures 11th edition Churchil living stone, 1999,pp3,52
2. APLEY A.G RAHAM. Solomon louis Apley's system of orthopedic and fractures, 9th Edition, Butterwoths 1996, PP . 714,723
3. B.Skinner Hawy, current diagnosis and treatment in Orthopedics ,3rd edition , Mc Graw Hill , 2003 , P.130
4. Bucholz , Orthopedic, Decision Making, 2nd Edition , Mosby ,1999 , P. 206
5. Charnley John, The Closed Treatment of Common Fractures , 5thedition , Charchill living stone , 2001 , P. 99
6. Edmonson, Crenshawc "editor", Campbell's Operative orthopaedics, 8th edition, 1998, Vol. 1, P.512
7. P. Kennedy James and F.william Blaisdell ,Extremity Trauma,1stEdition , thieme, 1997, P.344
8. Rockwood and Green, Fractures 4th Edition J.B. lippincott Company 1998 Vol-2 , P 1027

پوهنمل محمد ناصر (نصرتي)
طب پوهنځی- اناتومي څانګه

په Hypospadiasis کې د Prepuce ارزښت

لنډيز:
د ننگرهار د عامې روغتيا په روغتون کې مې د ۱۳۹۰ او ۱۳۹۱ المريزو کلونو دوسيې وکتلې او هغه ماشومان چې د Hypospediasis له کبله بستر او عمليات شوي وو، وکتل چې په دې ناروغانو کې ټول د Hypospidiasis عملياتي پېښې ۷۰ وې چې ددې واقعاتو له جملې ٪۲۵ پېښې نظر د دوی د تاريخچې له مخې مخکې له عملياتو څخه ختنه شوې، ٪۷۵ پېښې يې ختنه شوې نه وې او په Urethroplasty عمليه کې يې له Foreskine نه پوره استفاده شوې وه. نظر د اوسېدو ځای ته٪۲۰ ددې واقعاتو د کليو او ٪۴۰ د واقعاتو د ښاري ساحو اوسېدونکي وو. په دې څېړنه کې وښودل شوه چې د Prepuce څخه په Urethroplasty کې د Snood gross method نه په ګټې اخيستنې ٪۷۵ واقعاتو کې Dartus flap نه استفاده شوې چې په کې Prepuce استعمال شوي دي.

سريزه:
Prepuce يا Foreskin د پوستکي هغه برخه ده چې د قضيب سر (Glans penis) د هغې په واسطه پوښل شوی وي، هغه ماشومان چې Hypospadiasis ولري، په طبعي ډول د Foreskin پوستکي په لاندېنۍ برخه کې کموالی لري او د دې پوستکي په رابطه د خلکو تر منځ داسې نظر موجود وي چې ګويا دغه ماشومان پيدايشي سنت شوي دي. له معمول سره سم د Foreskin هغه پوستکي چې د قضيب د سر پاسنۍ برخه يې پوښلې، د غيرفني شخص او يا هم د داسې يو شخص په واسطه پرې جراحي عمليه اجرا کېږي او لرې کېږي چې نوموړی شخص د دې پوستکي د ارزښت په اړه معلومات نه لري چې د نوموړي پوستکي د لرې کېدو په صورت کې د دغه ماشوم په راتلونکي جراحي عمليات کې کوم چې پر احليل بايد اجراء شي او ددې کانال بيروني سوری خپل اصل ځای ته يوړل شي، د ستونزو د پيدا کېدو سبب کېږي، نو په همدې دليل ما لازمه وګڼله چې له ډول ډول طبي منابعو څخه په ګټې اخستنې معلومات راټول او په Hypospadiasis کې ددې پوستکي د ارزښت په اړه د يوې مقالې په ډول مواد برابر کړم، تر څو د طب مينه وال يې په اړه پوره معلومات تر لاسه کړي.

موخې:

- د Hypospadiasis په ناروغۍ کې د ماشوم د ختنه کېدو زيانونه
- د Hypospadiasis په ناروغانو کې د Urethroplast په عمليات کې د Prepuce ګټې

په Hypospadiasis کې د Prepuce ارزښت:

احليل عبارت له هغه نل څخه دی چې د ميتيازو په تخليه کېدو کې له مثانې څخه رول لري، يعنې کله چې مثانه له ميتيازو څخه ډکه شي، ددغې نلې په واسطه ميتيازې له مثانې څخه بيرون ته اطراح کېږي. د احليل طول په نرانو کې ۲۰- ۱۸ سانتي مترو پورې رسېږي؛ دا چې احليل په نرانو کې د قضيب په منځ کې سير لري، نو شکل يې نظر ودې ته چې قضيب مړاوی او يا هم د انتعاذ په حالت وي، توپير سره لري، يعنې کله چې قضيب مړاوی وي د S د توري شکل لري او د قضيب د انتعاذ يا شخېدو په صورت کې د J د توري شکل اختياروي. احليل د Internal urethral orifice نه چې د مثانې په برخه کې موقعيت لري، پيل او تر External urethral orifice پورې چې په Glans penis کې موقعيت لري، امتداد مومي، يعنې کله چې احليل د مثانې د غاړې په برخه کې د Internal urethral orifice څخه پيل شي د پروستات، Urogenital diaphragm او د قضيب له منځ څخه تېرېږي. د احليل عمده برخې عبارت دي له:

۱- Prostatic urethra

۲- Membranous urethra

۳- Penile urethra

۱- Prostatic urethra: د احليل دغه برخه درې سانتي متره اوږدوالی لري چې له Internal urethral orifice څخه پيل او عموداً د پروستات په ډېلوالي کې ښکته سير لري او تر membranous urethra پورې رسېږي. د احليل ددې برخې په خلفي جدار کې يوه تيغه مانند جوړښت د Urethral crest په نوم وجود لري، ددې تيغې په منځنۍ برخه کې لږ جګوالي د Prostatic utricle په نوم موقعيت لري او ددې تيغې په هره خوا کې يوه عمودي ليکه د Urethral sinus په نوم قرار لري چې هر Urethral sinus له ۲۰-۳۰ عدده پورې Prostatic glands opening لري، کله چې جماع صورت نيسي د انزال په وخت کې د پروستات غدې عضلې الياف تقلص کوي او ددې اليافو ترمنځ چې کوم غدوات قرار لري، د عضلي اليافو د فشار په اثر زېښل کېږي او ددې غدواتو افرازات چې له Semin څخه عبارت دي د همدې سوريو له لارې په Prostatic sinus کې تخليه کېږي چې ددغو موادو تخليه د انزال پرو سه تېزوي او سپرمونه بيرون ته په اسانۍ اطراح کېږي.

۲- Membranous urethra: د احليل ددې برخې اوږدوالی له يونيم څخه تر دوه سانتي متره پورې دی چې په Urogenital diaphragm کې قدامي سفلی خوا ته سير لري، د Symphysis pubis د خلفي قسمت په دوه نيم سانتي متره کې Urognital diaphragm سوری کوي او په Penil urethra باندې امتداد پيدا کوي Membranous urethra له بيرون نه د Sphincters په واسطه احاطه شوی او د احليل ددې برخې په دواړو خواو کې Bulbourethral glands موقعيت لري چې د دغه غدواتو قناتونه وروسته له هغې چې Urognital diaphragm سوری کړي، په Membranous urethra کې يې فوهې خلاصېږي.

۳- Penil urethra: د احليل دغه برخه ۱۵ سانتي متره اوږدوالی لري چې د احليل ددې برخې لومړی قسمت په Bulb of penis کې لږ قدامي علوي خواته سير لري او په تعقيب يې د Symphisis pubis د ښکتنۍ برخې په قدام کې ښکته خواته کېږي او په Corpus cavernousm کې د احليل تر بيروني سوري پورې چې د Glans penis په څوکه کې موقعيت لري، خاتمه پيدا کوي. د احليل ددې برخې پيل يوه توسع د Intrabulbar fossa په نوم او وروستۍ برخه يې بله توسع د Navicular fossa په نوم لري چې Intrabulbar fossa يې په Bulb of penis کې او Navicula fossa يې په Glans penis کې موقعيت لري. د ښځو احليل تقريباً څلور سانتي متره طول لري چې د Symphysis pubis د منځنۍ برخې څخه ۵ سانتي متره خلف ته د احليل د Internal orifice نه پيل او د مهبل د قدامي جدار سره پيوسته قدامي سفلی خواته ښکته کېږي او په Vaginal vestibule کې د احليل په External orifice خاتمه پيدا کوي. (۱،۳،۴،۵،۷)

د هستولوژيک جوړښت له مخې د احليل جدار له درې طبقو څخه تشکيل شوی چې عبارت دي له مخاطي طبقې، تحت مخاطي طبقې او عضلاتي طبقې څخه تشکيل شوی. د احليل د مخاطي غشاء زياتره برخه د Pseudo-stratified columnar اپيتيليم په واسطه فرش شوې، د احليل يوه کمه برخه چې مثانې ته نژدې قرار لري، د انتقالي اپيتيليم په واسطه او هغه برخه يې چې باندنۍ فوهې (External orifice) ته نژدې قرار لري، د Stratified squamus اپيتيليوم په واسطه پوښل شوی دی. (۲)

د نارينه و د احليل تکامل (پرمختګ):

د نارينه و د احليل د پروستاتيک قسمت د هغې برخې قدامي وحشي جدارونه چې د مثانې او Ejaculatory duct فوهو پورې امتداد لري، د Visicourethral canal له Caudal part څخه جوړېږي چې منشاء يې د رشيم د طبقاتو له جملې اندودرميک ده، د همدې برخې خلفي جدار له Mesonephric duct نه جوړ شوی دی چې منشاء يې ميزودرميک ده، پاتې برخه د پروستاتيک احليل او همدارنګه د Membranous urethra د Urognital sinus له Pelvic part څخه جوړېږي. د Penil urethra زياتره برخه د Urognital sinus له Pelvic part څخه جوړېږي، يوازې وروستۍ برخه يې کومه چې په Glans penis کې موقعيت لري اکتودرميک منشاء لري؛ د ښځو د احليل پرمختګ د نارينه و احليل د پروستاتيک برخې له پرمختګ سره يو شان دی. (۲)

د احليل انومالي ګانې:

د احليل د مهمو انومالي ګانو له جملې څخه مونږ Hypospediasis او Epispediasis يادولای شو، د Epispediasis واقعات کم، لاکن Hypospidiasis زيات تصادف کوي. احصاييه ښيي چې په 0.30% ماشومانو کې دغه انومالي تصادف کوي يعنې په ۳۵۰ واقعو کې يوه واقعه د Hypospidiasis راپور ورکړل شوی. په دې انومالي کې د احليل بيرونی سوری د قضيب په لاندېنۍ سطحه او يا په Perineum ناحيه کې بيرون ته خلاصېږي، د احليل دغه سوء شکل په ۵ ډوله دی چې په لاندې ډول دي:

1- Glandular hypospediasis: په دې حالت کې د احليل Ext.urethral orifice د Glans penis په لاندېنۍ برخه کې قرار لري.

2- Cronal hypospediasis: په دې حالت کې د احليل Ext.urethral orifice د قضيب په لاندېنۍ سطحه کې د Glans penis او د قضيب د جسم په اتصالي ناحيه (د قضيب غاړه) کې بيرون ته خلاصېږي.

3- Penil hypospediasis: په دې صورت کې د احليل Ext urethral orifice د قضيب د جسم د سفلی مخ په يوه برخه کې بيرون ته خلاصېږي.

Penil hypospediasis نظر موقعيت ته په درې ډوله دی چې عبارت دي له:

Distal Penil hypospediasis-a

Middle Penil hypospediasis-b

Proximal Penil hypospediasis-c

4- Peno-scrotal hypospediasis: په دې صورت کې د احليل بيروني فوهه د قضيب د جسم او صفن په اتصالي ناحيه کې بيرون ته خلاصېږي.

5- Perineal hypospediasis: دې ډول Hypospediasis ته Scrotal hypospediasis هم ويل کېږي چې په دې صورت کې د احليل بيروني فوهه د Scrotum د دواړو برخو ترمنځ ساحه کې بيرون ته خلاصېږي او له دې انومالي سره دوه طرفه Undescending testis هم موجود وي چې دغه نوعه د هايپوسپيديازس د ماشوم جنسيت هم مغشوشوي (۲،۸)

د Hypospediasis د پورته ډولونو له جملې Glandular hypospediasis تداوی، ته اړتيا نه لري او نور ډولونه يې تداوی، ته اړتيا لري چې تداوي يې Urethroplasty څخه عبارت ده او په دې عملیه د جراحی کې د Foreskine پوستکي Flap کارول کېږي. دغه ډول ناروغان بايد د ۳ - ۱۵ مياشتني عمر کې عمليات شي او Urethroplasty عمليه په کې اجراء شي او دا ځکه چې په دې وخت کې د Penis يا قضيب اندازه کوچنۍ وي چې تقريباً تر ۳-۴ کلنۍ پورې قضيب له يو سانتي متر څخه کم او ږدوالی کسبوي او که په وروستيو وختونو کې ددې عمليات صورت ونيسي، نو د Urethroplasty په عمليه کې ستونزې پيدا کوي. کوم جراحان چې دغه انومالي عمليات کوي، بايد د جراحی په اساسي اصولو پوه وي او بايد پوره کاري تجربه ولري. د Hypospidiasis په واقعاتو کې د قضيب سر د درې حالتونو لرونکی وي:

a- Complete cleft glans: په دې حالت کې د قضيب د سر لاندېنۍ برخه د يوې ژورې ميزابې لرونکی وي.

b- Incomplete cleft glans: په دې حالت کې د قضيب د سر لاندېنۍ برخه د يوې نيمه همواري ميزابې لرونکی وي.

c- Flat glans: په دې حالت کې د قضيب د سر لاندېنۍ برخه همواره وي.



۱- پورته شکلونه د Hypospadiasis په واقعاتو کې د قضيب د سر حالت را په ګوته کوي.

د Hypospediasis په جراحي عمليه کې له مختلفو انساجو او ميتودونو څخه کار اخيستل کېږي چې مهم يې په لاندې ډول دي:

Urethral mobilization-a

b- د Meatus نه مخې خواته پوستکي کارول چې په دې کې زيات د Prepuce پوستکی کارول کېږي (۸۰٪).

c- د مياتوس د شاتنۍ برخې پوستکی چې په دې کې د سکروټوم پوستکي هم کله کله کارول کېږي.

d- د ځينو جوړښتونو پيوند يا ګرافت کول. (۸)



۲- پورته شکلونه د Hypospadiasis په واقعاتو کې د مختلفو انساجو او جوړښتونو کارول را په ګوته کوي.

مواد او کړنلاره:

په دې څېړنيزه مقاله کې د ناروغانو له دوسيو څخه ګټه اخستل شوې ده، د عملياتي ناروغانو دوسيې مو کتلي، معلومات مو ترې راټول کړي او له مختلفو طبي کتابونو او د انټرنيټ له ويبپاڼو څخه مو ګټه اخستې ده. دغه راز د Retrospective ميتود څخه په ګټې اخستنې د عامې روغتيا روغتون د Health Managment Information System (HMIS) دفتر ته تللی يم، د ۱۳۹۰ او ۱۳۹۱ کالو د ناروغانو دوسيې مې کتلي او هغه ناروغان چې د پلاستيک سرجرۍ

په وارد کې په هغوی کې د Urethroplasty عمليه اجراء شوې ده، هغوی مې بيل کړي دي؛ د هغوی د دوسيو په کتنه مې خپل ټول ارقام راټول کړي او د ارقامو تحليل مې سرته رسولی چې همدا زما د څېړنې کړنلاره وه.

پايله:

ټول هغه ارقام چې ما د عامې روغتيا روغتون له جراحۍ څانګې څخه د ۱۳۹۰ او ۱۳۹۱ هجري شمسي کلونو د عملياتي ناروغانو له دوسيو څخه راټول کړي، ۷۰ پېښې جوړوي چې نتيجه يې په خلص ډول په لاندې ډول ده:

۱- نظر د Hypospediasis ډول ته په دې واقعاتو کې 12.5% يې Glandular hypospediasis، 75% يې Cronal hypospediasis او 12.5% يې Penil hypospediasis شکل جوړاوه.

شکل	فيصدي
Glandular Hypospediasis	12.5%
Cronal Hypospediasis	75%
Distal penile Hypospediasis	12.5%

پورته جدول د Hypospediasis د ډولونو د ٪ کچه را په ګوته کوي.

۲- نظر د اوسېدو ځای ته 60% يې کليوال ماشومان او 40% د ښاري ساحې ماشومان جوړوي.

شکل	فيصدي
کليوال ماشومان	60%
ښاري ماشومان	40%

پورته جدول نظر د اوسېدو ځای ته د Hypospediasis د ډولونو د ٪ کچه را په ګوته کوي.

۳- د ولايتو په سطحه 18.75% يې د لغمان، 25% يې د کونړ، 6.25% يې د نورستان او 50% يې د ننګرهار اوسېدونکي جوړوي.

ولايت	فيصدي
لغمان	18.75%
کونړ	25%
نورستان	6.25%
ننګرهار	50%

پورته جدول د هېواد د ختيزو ولاياتو په سطحه د Hypospediasis د ٪ کچه را په ګوته کوي.

۴- نظر عمر ته 62.5% ماشومانو کې له ۲ کلنۍ وروسته عمرونو کې او 37.5% ناروغانو کې له ۲ کلنۍ څخه ښکته عمر کې Urethroplasty عمليات اجراء شوي دي.

د يوريتروپلاستي عمليات	فيصدي
له شپږ کلنۍ وړاندې عمر کې	37,5%
له شپږ کلني وروسته عمر کې	62,5%

پورته جدول نظر د عملياتي ناروغ عمر ته د Hypospediasis د ٪ کچه را په ګوته کوي.

۵- نظر ودې ته چې له عمليات څخه وړاندې په کې ختنه عمليه اجراء شوې او يا هم د Foreskin پوستکي څخه په Urethroplasty کې ګټه اخستل شوې، 25% ماشومانو کې له عمليات څخه وړاندې ختنه عمليه اجراء شوې او په 75% ماشومانو کې د Foreskin پوستکی په Urethroplasty کې استعمال شوی دی.

له پورسکن څخه په يوريتروپلاستي کې ګټه اخيستل شوې ده	فيصدي
هو	75%
نه	25%

پورته جدول له Prepuce څخه په Urethroplasty کې د استعمال د ٪ کچه راپه ګوته کوي. (۹)

مناقشه:

دغه څېړنه چې ما د ګران هېواد په ختيز زون کې ترسره کړې، له هغې څېړنې سره چې په Medical University of Vienna کې په ۲۰۰۲ کال کې ترسره شوې او په هغې کې د مياتوس څخه مخې خواته پوستکی زيات کارول شوی چې تقريباً په ۸۰٪ واقعاتو کې د Prepuce پوستکی کارول شوی چې زمونږ په دې څېړنه کې هم د Prepuce له پوستکي څخه ۷۵٪ واقعاتو کې استفاده شوې چې دا په خپله ددې پوستکي د ارزښت ښکارندوی دی.

وړانديزونه:

۱- هغه والدين چې ماشومان يې Hypospediasis ناروغي ولري، خپل ماشومان بايد له جراحي عمليې وړاندې سنت نکړي.

۲- ټول هغه طبي او غيرطبي پرسونل چې د ماشومانو د ختنې پرکټس کوي، بايد هغه ماشومان چې Hypospediasis ولري او Foreskin يې په لاندېنۍ برخه کې نقيصه ولري، د دوی له ختنه کولو څخه بايد ډډه وکړي.

۳- د روغتيا له مسئولينو څخه زما غوښتنه داده چې د رسنيو له لارې د عامه پوهاوي په ډول د ټولنې وګړي په دې پوه کړي چې د Hypospediasis په صورت کې د ماشومانو د Foreskin له لرې کولو څخه ډډه وکړي او هم خلکو ته ددې پوهاوی ورکړل شي چې په دې ناروغۍ اخته ماشومان د ۳-۱۵ مياشتې عمر کې په شفاخانه کې بستر او عمليات کړل شي.

Abstract:

This is to be mentioned that I observed the file of patients who were hospitalized in 1390 &1391. I searched for the children suffering from Hypospediasis. The total number of these patients is 70. 25% of these cases were circumcised and 75% uncircumcised before operation. The foreskin was used for urethroplasty. 60% cases were rural and40% urban.It is to be mentioned that during my search I found out that snood gros method and dartus flap were used in urethroplasty in 75% cases.

اخځليکونه:

۱. انور، دوکتور محمدافضل. (۱۳۸۴). هستولوژي جهازات. کابل طبي پوهنتون، معالجوي طب.

۲. بهسودوال، دوکتور خليل احمد. (۱۳۸۹). طبي هستولوژي. ننگرهار پوهنتون، طب پوهنځی.

3- Chaursia BD Human Anatomy Regional and Applied Dissection and Clinical CBS PUBLISHERS AND DISTRABUTERS 4819 /XI,Parahlad Street,24 Ansari Road -Daryagani,new dehli- 110002 (India) Fifth Edition 2008 PP(378,379,380)

4- Chaursia BD Human Anatomy Regional and Applied CBS PUBLISHERS AND DISTRABUTERS 4596/1A,11- Daryagani,new dehli- 110002 (India)Third Edition 2001 PP(307,308,309,310)

5- Henry-GRAY'S Anatomy Charchill livingstone EDINBURGHLONDON MELBOURNE and YORK
Fortieth Edition 2008 . PP(1250,1251,1252,1253)

6- Langman Medical Embriology 12th Edition 2012 PP(240,241,253)

7- Snil. S.Rechard Clinical Anatomy for Medical Students 9th Editon 2012. PP(320)

8- www.wikipedia.com

9- Medical Record of Nangrahar Public Hospital.

پوهنمل نجيب الله (مياخېل)
انجنيري پوهنځی- د عمومي
تخنيکي مضمونونو څانګه

په ختيز زون کې د ساختماني لرګيو ځانګړتياوې

لنډيز:

لرګي په ټول هېواد او په ځانګړې توګه په ختيز زون کې ډېر مهم ساختماني مواد دي چې تقريبا په ټولو ودانيو او ساختمانونو کې په يو شکل او بل شکل ور څخه استفاده کېږي. ددې لپاره چې په ساختمانونو کې ورڅخه درسته استفاده وشي، مونږ ځينې هغه مهم مسايل چې په لرګيو پورې اړه لري لکه د لرګيو مثبت او منفي خواص او د لرګيو مهم ډولونه چې په ساختماني چارو کې ورڅخه استفاده کېږي، تشريح او د هغوی مثبت او منفي مشخصات مو په دې څېړنه کې تشريح کړل. دغه راز هڅه شوې چې د مختلفو لرګيو لکه کاج، ناجو، صنوبر، جلغوزی، نختر، بلوط، سنګ ونه، چينار او داسې نورو د استعمال ساحه واضح کړو. همدارنګه د يادو لرګيو ميخانيکي ځانګړنې او پرې اغېزمن فکتورونه او يو شمېر نور مسايل تشريح شوي دي.

سريزه:

د ونې تنې ته چې پوستکی او شاخونه ونلري، لرګی وايي، د لرګيو څخه مختلف ساختماني مواد او محصولات جوړېږي لکه ګرد تيرونه، تختې، څلورکنجه تيرونه، سريش شوی لرګين عناصر چې عبارت دي له دروازو، کړکيو، فرنيچر سامان، د پوښښ تختې او داسې نور. د لرګيو د ځينو اضافی موادو لکه ټوټې، د اړې بور او نورو څخه د لرګيو د پريس شوو تختو په توليد کې کار اخيستل کېږي. لوړ محکميت او ارتجاعيت لږه حجمي کتله او د حرارت د انتقال کموالی د لرګيو له ښېګڼو څخه دي. د لرګيو کيفيت د هغوی د جنسيت، د نمو شرايطو او په هغوی کې د نواقصو موجوديت پورې اړه لري. لرګي ځينې مثبت او منفي خواص لري چې مهم يې په لاندې ډول دي:

د لرګيو مثبت خواص:

۱. نسبتا لوړ محکميت او لږه حجمي کتله.
۲. د اواز او حرارت د تېرېدلو کم قابليت.
۳. د لرګيو د پروسس (کار لاندې نيول) اسانتيا، يعنې لرګي په اسانۍ سره ترکار لاندې ښودل کېږي.
۴. د لرګيو د اجزاوو وصلېدو اسانتيا د ميخونو، سريش او نورو په وسيله.
۵. زيات عمر (په سلګونو کاله).
۶. د کانکريټ او فولادو په نسبت ټيټ قيمت.

د لرګيو منفي خواص:

۱. د لرګيو غير متجانس ساختمان.
۲. رطوبت جذبوي او ورستېږي.
۳. په اسانۍ سره سوځېږي.
۴. په مرطوب حالت کې خپلو خواصو ته تغير ورکوي او تغير شکل کوي. (۲،۸)

موخې:

دا چې په ختيز زون کې د مختلف النوعه لرګيو ځنګلونه موجود دي او د ساختمان ترڅنګ په نورو برخو کې هم زيات کارول کېږي، نو اړينه ده چې د استعمال څخه دمخه د لرګيو مختلفو ځانګړتياوو په اړه معلومات موجود وي، ترڅو د

ساختمان د شرايطو مطابق لرگي انتخاب او په کار يوړل شي چې په دې څېړنه کې د هغو مختلفو ځانگړتياوو ذکر او پرتله شوې ده.

د لرگيو جوړښت:

د لرگيو ساختمان کولای شو د سترگو او ذره بين په واسطه تر مطالعې لاندې ونيسو، هغه جوړښت چې د سترگو په واسطه مطالعه کېږي، د ماکروسترکتور او هغه چې د ذره په واسطه مطالعه کېږي، ميکروسترکتور په نوم يادېږي؛ ماکروسترکتور د دريو قطعو له مخې مطالعه کېږي:

الف: د مماس قطع له مخې.

ب: د څنگ جناحي عرضاني قطع له مخې.

ج: د شعاعي قطع له مخې.

په جناحي قطع کې پوستکی ليدل کېږي، پوستکی د خارجي پوست او پنبه يي قشر څخه چې د هغې لاندې د پوستکي انساج واقع دي، تشکيل شوی چې د پوستکي د انساجو لاندې هغه قشر واقع دی چې د ژوندیو انساجو څخه تشکيل شوی دی.

هسته: د ونې د ساقې داخلي برخو ته وايي او د تياره رنگ په واسطه تشخيصېږي، د رطوبت حرکت په هسته کې ختمېږي، له همدې سببه د ونې ساقې د هستې برخه د ورستېدو په مقابل کې ډېره محکمه ده.

زيلون: د لرگي نسبتاً ځوانو کړيو څخه تشکيل شوی دی، زيات رطوبت لري او په اسانۍ سره ورستېږي.

مکروستروکتور: که لرگۍ د ميکروسکوپ په واسطه تر مطالعې لاندې ونيسو، ليدل کېږي چې لرگی د زياتو انساجو څخه تشکيل شوی دی، د لرگي انساج په لاندې ډول يو له بله توپير کېږي:

الف- هادي انساج: چې غذايي مواد له ريښې څخه شاوخوا ساقې او پاڼو ته رسوي.

ب- ميخانيکي انساج: نسبتاً محکم وي او د ورستېدو په مقابل کې مقامت لري.

ج- ذخيره کوونکي انساج: دا انساج غذايي مواد ذخيره کوي او هغه په افقي جهت انتقالوي. (۱)

د هغو لرگيو ډولونه چې په ساخمان کې ور څخه کار اخيستل کېږي:

نرۍ پاڼې لرونکي:

۱- کاج: نرم او محکم لرگی دی، په اسانۍ تر کار لاندې نيول کېږي، حجمي کتله **540-470kg/m³** ده، په ساختمانونو کې د گردو لرگيو، د اړې د محصولاتو، ساختماني عناصرو او پوښښ د تختو په ډول ور څخه کار اخيستل کېږي. د کاج لرگيو څخه د پلونو او کشتيو په جوړولو کې گټه اخيستل کېږي.

۲- ناجو: سخت محکم او متراکم لرگی دی، د ورستېدو امکان يې د کاج په نسبت کم دی، حجمي کتله يې **360-790kg/m³** ته رسېږي. په پلونو او هايدروتخنيکي ساختمانونو کې ورڅخه کار اخيستل کېږي، همدارنگه د ناجو له لرگي څخه د ريل د خط په تختو او فرنيچر جوړولو کې هم گټه اخيستل کېږي.

۳- صنوبر: نرم لرگی دی او له کاج څخه يې محکميت کم دی، حجمی کتله **550-440kg/m³** ده؛ د استعمال ځايونه يې د کاج په شان دي، يعنې په هر ځای کې چې کاج استعمالېږي، صنوبر هم استعمالېږي، مگر په نجاري محصولاتو کې بايد د صنوبر لرگی استعمال نشي، ځکه چې زيات شمېر نواقص لري.

۴- چنغوزی: محکم او نرم لرگی دی، په اسانۍ سره تر کار لاندې نيول کېږي، ميخانيکي مشخصات يې د کاج په نسبت لږ دي. د گردو لرگيو د اړې د محصولاتو په ډول استعمالېږي، همدارنگه په نجاري محصولاتو او فرنيچر کې ورڅخه کار اخيستل کېږي.

۵- نښتر: ددې لرگيو محکميت لږ دی او په اسانۍ سره ورستېږي، د فرنيچر او ظروفو او د کاغذ په توليد کې ورڅخه کار اخيستل کېږي.

پلنې پاڼې لرونکي لرگي:

۱- بلوط (څېړی): سخت محکم او متراکم لرګی دی، حجمي کتله **720kg/m³** ده، په هايدرو تخنيکي ساختمانونو او پلونو کې استعمالېږي؛ د څېړۍ د لرګي څخه فرنيچر، نجاري محصولات او د پوښښ تختې جوړېږي.

۲- سنګ ونه: الاستيکي سرښناک لرګی دی، د څېړيو په نسبت يې محکميت لږ دی، حجمي کتله يې **740-670kg/m³** ده،

په فرنيچر جوړولو او نجاري محصولاتو کې ورڅخه کار اخيستل کېږي.

۳- د چنار لرګی: په اسانۍ سره ورستېږي، حجمي کتله يې **650kg/m³** ده، په نجاري محصولاتو کې د پوشش تختو او نورو ځايو کې ور څخه کار اخيستل کېږي.

۴- تارونه ونه: الاستيکي سخت او محکم لرګی دی، په نجاري محصولاتو او د پوښښ تختو کې ورڅخه کار اخيستل کېږي. بيج، عرعر، زيرفون او نور د پلنو پاڼو لرونکو لرګيو له ډلې څخه دي او په ساختماني کارونو کې ورڅخه استفاده کېږي. (۳،۷)

د لرګيو فزيکي خواص:

د لرګيو متراکميت کولای شو چې **1/5** قبول کړو، د لرګي حجمي کتله او منفذ لرنه د لرګي په ډول، خاوره او نورو شرايطو پورې اړه لري.

۱- جدول: د ځينو مهمو لرګيو چې په ساختمانونو کې استعمالېږي، په لاندې ډول منفذونه لري.

د لرګي جنسيت	حجمي کتله		منفذلرنه
	په هغه صورت کې چې **۱۵**فيصده رطوبت ولري	تازه پرې شوی	
کاج	**۵۳۰**	۸۶۰	۷۰-**۵۳**
ناجو	۴۶۰	۷۹۰	۷۰-۶۲
صنوبر	۶۸۰	۸۴۰	۷۳-۴۶
چنغوزی	۴۴۰	۸۸۰	۸۰-۶۰
نښتر	۷۲۰	۸۰۰	۸۱-**۵۵**
څېړۍ	۷۲۰	۱۰۳۰	۶۱-۳۲

لکه څنګه چې د پورتني جدول څخه ليدل کېږي، د لرګيو حجمي کتله په لاندې ډول ده:

الف- ډېر سپک: **390-440kg/m³ =**

ب- سپک: **440-600kg/m³ =**

ج- متوسط: **610-750kg/m³ =**

د- دروند: **760-900kg/m³ =**

هـ- ډېر دروند: **900<**

د لرګي رطوبت **W** په فيصدي ښودل کېږي او په لاندې ډول پيدا کېږي:

$$W = \frac{G_1 - G_2}{G_2} \times 100$$

G_1 د مرطوب لرګي کتله او **G_2** د وچ لرګي کتله. لرګي د رطوبت له مخې په لاندې ډولونو ويشل کېږي:

۱: نوي پرې شوي لرګي **W=40-120%**

۲: په هوا کې وچ شوي لرګي **W=15-20%**

۳: په اطاق کې وچ شوي لرگي W=8-12%

۴: لا لرگي W=120-200%

د لرگي ستندرد رطوبت 15% دی، له همدې سببه هغه لرگی چې په نجاري محصولاتو کې استعمالېږي، تر دې رطوبت پورې باید وچ شي؛ د لرگي وچېدل، پړسېدل او کږېدل د هغې د رطوبت د حالت د څرنگوالي پورې اړه لري. د لرگي وچېدل داسې منځته راځي چې د انساجو د دېوالونو څخه رطوبت لرې کېږي، که لرگی مرطوب يعني لوند شي، د لرگيو د اجزاوو د حجم اندازې زياتېږي او د غيرمنظمو وچېدلو په نتيجه کې لرگی تاو خوري او درزونه پيدا کوي، ددې لپاره چې لرگی د لمدېدو څخه وساتل شي، د هغوی مخ د رنگونو، لاکونو او نورو په واسطه پوښوي. د حرارت د تېرېدو قابليت د لرگي د رطوبت، د حرارت درجې، د انساجو په جهت او د لرگي په جنسيت پورې اړه لري. (۸،۴)

د لرگي ميخانيکي خواص:

د لرگي ميخانيکي خواص د هغه د نمونو د ازمايش له لارې په فشار، انحنا، پرچه کېدو، سختۍ او داسې نورو کې تعينېږي. د لرگي د خواصو شاخصونه باید په 15% رطوبت کې محاسبه کړلی شي. د لرگي کلکوالی کله چې رطوبت د صفر څخه تر درې فيصده پورې لوړېږي، کموالی مومي:

$$R = Rw[1+\infty(w-15)]$$

دلته Rw د نمونې د کلکوالي حد دی چې د ازمايش په وخت کې د W د رطوبت لرونکی وي، R په همدې صورت کې کله چې رطوبت 15% وي، د لرگي د کلکوالي راټيټېدل دي، کله چې رطوبت د يو فيصد اضافه کېږي. د لرگي کلکوالی په فشار کې د هغو نمونو د ازمايش له لارې چې د ذوذنقې په شکل وي، کله چې قاعده يې 20x20mm او لوی والی د انساجو په امتداد 30mm وي، تعينېږي، د کلکوالي حد د انساجو په لويي او د هغوی په عرض تعينېږي. د لرگي کلکوالی د فشار په حالت کې د هغه د انساجو په امتداد نظر د انساجو عرض ته 4-6 وارې زيات دی. (۱)

د لرگي کلکوالی د انحنا په حالت کې: د لرگي د کلکوالي حد په کشش کې 2,5 وارې د هغه له کلکوالي نه په فشار کې زيات دی، د کلکوالي حد په انحنا کې نظر لاندې فرمولونو ته لاسته راوړل کېږي:

۱- کله چې بار د a د شيما مطابق کار کوي:

$$Rw=\frac{PL}{b.h^2}\ kg/cm^2$$

۲- کله چې بار د b د شيما په مطابق کار کوي:

$$Rw=\frac{3PL}{2bh^2}\ kg/cm^2$$

bA- په انحنا کې د لرگي د ازموينې شيماګانې.



د چاودنې په حالت کې د لرگي کلکوالی: د کچالک وهلو د سريش پيوند د ساختمان په صورت کې د لرگيو په عناصرو کې زيات اهميت لري. د کلکوالي حد د تعين لپاره په چاودونو کې د مخصوصو وسايلو څخه کار اخيستل کېږي. د کلکوالي حد د چاودونې په حالت کې د انساجو په لوړوالي کې نظر د انساجو عرض ته 3-4 وارې زيات وي. هغه فکتورونه چې د لرگيو په ميخانيکي خواصو باندې تاثير لري:

د لرگي کلکوالی د هغه پر ميخانيکي خواصو زيات تاثير کوي، هر څومره چې لرگي متراکم وي، په هماغه اندازه يې کلکوالی زيات وي. د رطوبت لوړوالی د اوبو زېښنې تر حده پورې تر 30% پورې د لرگي ميخانيکي خواص راښکته کوي. د لرگي وچول تر يو فيصده پورې، د هغه مقاومت د فشار او انحنا په مقابل کې تر څلورو فيصده پورې او د کشش په مقابل کې تر يو فيصده پورې لوړ وي. د لرگي عيبونه د لرگي کلکوالی راټيټوي، د لرگي عيبونه د لرگي د بېلابېلو برخو د نواقصو څخه عبارت دی چې د هغه کيفيت راټيټوي او د هغه د کار وړلو ساحه محدودوي. نواقص د ميخانيکي عيبونو څخه عبارت دی چې په لرگي کې د هغه د تهيه، صورت بندۍ او اصلاح کارۍ په پروسه کې منځته راځي. (۲)

د لرگي څخه په لاس راغليو موادو محصولات:

په ودانيو کې تر استفادې لاندې لرگي نظر د هغو استعمال ته په لاندې اساس گروپونو ويشل کېږي:

گرد ځنگلي مواد (دستک): د ونې د تنې د ټوټو څخه د پرېکړو شويو غوټو او د پوستکي سره او بې له هغه څخه عبارت دی، دستک نظر د تنې قطر ته په لاندې ډول دی:

الف- تير: چې قطر يې له 14 سانتي متر څخه کم نه وي.

ب- هغه تيرونه چې قطر يې 8-13 سانتي متر وي.

ج- خادې: چې قطر يې 3-7 سانتي متره وي.

د ودانيو تيران له کاج، ناجو او د ارچي څخه جوړ وي او په بار وړونکو عناصرو، ميخي تهدابونه، پلونو کې هايدرو تخنيکي ودانيو کې او د مخابراتو د هوايي لينو په پايه کې تر استفادې لاندې راځي. د تير لويوالی د درې (۳) څخه 6,5 مترو پورې وي او بُعد يې له 0,5 متر څخه تغير خوري، تر 3,5,3-4,5 او داسې نور. دايروي ځنگلي مواد نظر د لرگي کيفيت او د جوړولو نواقصو ته په څلور ډوله دي، دايروي محصولات د طولاني اړې له لارې په لاس راځي او لاندې ډولونه يې وجود لري:

الف- ورقي: عبارت له هغه برغنډ څخه دی چې پر محور په دوو برخو اره شوی وي.

ب- څلورمه برخه: د برغنډ د اره کولو څخه د هغه پر محور په دوو متقابلو عمودو قطرونو لاسته راځي.

ج- تختې: د 100 ملي متره او د هغه څخه کم ضخامت لري، د تختو عرض د هغوی د ضخامت په نسبت درې واره زيات وي.

د- چکی (قالب): ضخامت له 100 ملي متر څخه کم، عرض د ضخامت څخه درې واره زيات نه دی.

ج- ميل: عرض او پنډوالی له 100 ملي مترو څخه زيات وي.

و- تراورس: له کاج، ارچي او ناجو څخه جوړ وي او د سورورو پټليو لپاره لوی والی د 2,5 متر څخه تر 2,7 متره او د کم سور پټليو لپاره د 1,35 څخه تر 1,8 متره وي. مخروطي جنسه ونو د اړې محصولات د يوه څخه بيا تر 6,5 مترو په طول چې بعد يې 0,25 وي جوړوي. پلنو پاڼو ونو د اړې محصولات د 0,5 څخه بيا تر 6,5 مترو په طول چې بُعد يې 0,5 متر څخه تغير خوري او په درې ډولونو جوړېږي:

د لرگي نيم کاره مواد او محصولات:

الف: اندازه شوې او جريداره تختې او قالبونه چې يوه خوا يې جري لري او د اجزاوو د جوښت اتصال لپاره ضرور دي.

ب- پيزاره: په کونجونو کې د دېوالونو او تاقچو په منځ کې استعمالېږي، دستگيرونه او چوکاټونه د دروازې او کړکۍ د بارجامې په ډول په کار وړل کېږي.

ج- تخته ډوله پارکت: د بېلو بېلو تختو څخه جوړېږي، د پارکت تختې د اساس څخه چې په هغه باندې پټې سرېښوي، تشکيل شوې دي، د پارکت تختې په فابريکه کې په ميکانيزه ډول جوړېږي.

د- د ترکاڼۍ محصولات: د دروازې او کړکۍ د چوکاټ څخه عبارت دي چې په هغوی کې کړکۍ او د دروازې پله کلکېږي.

د لرگي ساختماني صنعتي پرزې:

الف: د لرگيو اجزا (پرزې) او د فابريکه ای عناصرو جوړښت لکه گاډر، د مسطح او سنجونو تختې او د فابريکه يي لرگيو ودانيو پرزې.

ب: فابريکه يې کورونه، يعنې هغه يو منزله، دوه منزله کورونه چې په مکمل ډول په فابريکو کې جوړېږي او د ودانۍ په ساحه کې سره راټولېږي.

سرېښ لرګين عناصر: سريش لرګين عناصر په دې وروستيو وختونو کې په ودانيو کې په لويه پيمانه سره تر استفادې لاندې راغلي، نظر عادي لرګين عناصرو ته دا ډول عناصر د کمې کتلې زيات کلکوالی او د اوبو په مقابل کې د مقاومت او لږ سوزېدلو قابليت لرونکي دي. د کم طوله او کم مقطع اره شوي لرګي څخه د سريشولو له لارې کېدلی شي چې د دروازې او کړکۍ چوکاټونه، د فرش تختې او همدارنګه غټ ساختماني اجزا لکه ګاډرونه، تيران، چوکاټونه او داسې نور په لاس راځي.

د لرګي د عمر زياتوالی او د هغې د لوړولو طريقې:

په وچو شرايطو کې په داسې حال کې چې لازمه شمال وهنه وجود ولري، لرګی تر ډېر وخته پورې پاتې کېږي، همدارنګه لرګی چې په دايمي ډول په اوبو کې وي او هوا ورته و نه رسېږي، ډېر عمر کولای شي، که چېرې لرګی په متناوب ډول لونداو وچ شي، ګنده کېږي، د لرګي تخريب د تېزابو او القليو تر تاثير لاندې د لرګي په جنسيت، همدارنګه د محلول په غلظت او د هغه د تاثير په مداومت پورې اړه لري. د تېزابو او القليو ضعيف محلولونه لرګی نه تخريبولی، قوي تېزابونه لرګي بې هيدرات کوي او د سوزولو په شان حادثه رامنځته کوي. د يادونې وړ ده چې لرګی نظر کانکريت، فلزاتو او نورو ډېرينو موادو ته د تېزابو په مقابل کې زيات مقاومت لري. هغه اساسي فکتورونه چې لرګی ګنده کوي، له لونداوالي او د هوا د اکسيجن څخه عبارت دي، د **20%** او د هغه څخه زيات رطوبت په صورت کې د لرګي ګنده کېدل شروع کېږي. د لرګي مرخېږي چې په ګودامي او کورني مرخېږو باندې ويشل کېږي، د لرګي د تخريب باعث ګرځي چې کورني مرخېږي ډېر خطرناک دي او په سپين او فوقانه يې ډولونو باندې ويشل کېږي. نوموړي مرخيږي په معين رطوبت کې نمو کوي، نو بايد د لرګي ساختمان د لمدېدو څخه وساتل شي چې دا کار د لرګي او د ودانۍ د نورو برخو په منځ کې د رطوبت عايق د اېښودلو له لارې عملي کېدلی شي. لاک او روغني رنګونه د عايق په ډول تر استفادې لاندې نيول کېږي. د ګنده کېدو سره د مبارزې کېمياوي طريقه زياته موثره ده چې دا کار د مرخېږو لپاره زهري موادو د استعمال له لارې عملي کېږي. ضد عفوني مواد په لاندې ډولونو ويشل کېږي:

الف- په اوبو کې د حل کېدو وړ مواد: مالګې او په اوبو کې د حل کېدو وړ قير.

ب- سوديم فلوراید (**Naf**): **2** يا **3** فيصده اوبه لرونکی محلول تر استفادې لاندې نيول کېږي، د سمنټو سره لرګي د اتصال په صورت کې بايد تر استفادې لاندې ونيول شي.

ج- سوديم سليکات فلوراید (**Na2sif6**): د اوبلن محلول او کريمونو په شکل استعمالېږي.

د- کلسيم سلفيت: د لس فيصده محلول په شکل استعمالېږي.

روغني عضوي لوی ګروپ هم د پاملرنې وړ دی چې په اوبو کې حل کېږي او د ډېرو د سکرو د قطران څخه په لاس راځي. (**۵،۱**)

له سوزېدو څخه د لرګي ساتنه:

يو د لرګي د عمده نواقصو څخه د هغه په اسانۍ سوزېدل دي، د لرګي د اور اخيستو د حرارت درجه **250c°** څخه تر **300c°** پورې ده. له سوزېدو څخه د لرګينو عناصرو د مخنيوي لپاره لاندې تدابير نيول کېږي:

۱- ساختماني تدابير: د ګرمېدو له منبع څخه د لرګيو ساختمانونو لرې کول، چې دا کار د لرګيو عايق کول د اسبست يا پلستر په واسطه د نه سوزېدونکو موادو (کانکريټ، خښتې او داسې نور) څخه د سنجونو جوړول.

۲- د اور ضد ترکيبي رنګونه کوم چې د سريش کوونکو موادو د(مايع شيشه)، ډکوونکو (شګې) او د القلي ضد بګمنټونو څخه جوړېږي، استعمالول.

۳- د امونيا مالګې چې فاسفورس يا د سلفر منشا ولري، نوموړې مالګې د حرارت په لوړو درجو کې ويلې کېږي او د لرګي پرمخ يوه پرده جوړوي او لرګي ته د اکسيجن رسېدل مشکلوي.

د لرګي وچېدل: د لرګي وچونه د هغه کلکوالی او مداومت لوړوي، د لرګي وچونه په دوه ډوله ده:

طبيعي وچونه: لرگی په مخصوصو ساحو کې په قطارونو کېښودل کېږي، په دې صورت کې د باد سمت په نظر کې نيول کېږي، دا طريقه کومو تجهيزاتو ته ضرورت نه لري، خو په هوا او د کال په موسم پورې اړه لري چې د وچېدو وخت له دوو څخه تر درې مياشتو بيا تر يو يا نيم کاله پورې دی.

مصنوعي وچونه: دا وچونه په مسلسل او متناوب ډول سره عملي کېږي، هوا ته په طبيعي يا اجباري ډول جريان ورکول کېږي، وچونه د بخار يا گرمې هوا په واسطه چې د حرارت درجه **50-800c°** په **3-6** ورځو کې عملي کېږي. (۱،۴)

پايله:

څرنگه چې لرگي زمونږ د مملکت خپل محصولات دي او په زياته پيمانه په ختيز زون کې پيدا او کارونه يې هم زياته ده چې په مختلفو ساختمانونو کې په مختلفو شکلونو لکه کړکۍ، دروازې، د پوښښ تختې، تيران، گاډر، فرنيچر او داسې نورو کې ورڅخه استفاده کېږي، نو پکار ده چې هر لرگی په خپل خپل ځای کې وکارول شي او د استعمال پر مهال يې نوعيت، کلکوالي، ورستېدنې او نورو اغېزمنو فکتورونو ته پاملرنه وشي.

Abstract:

Woods are one of the important construction materials in eastern Afghanistan which have been using in all types of construction in different ways, such as; carpentry works, shuttering, structural elements and etc. The purpose of writing this paper to making use the construction woods in right places. Therefore, I have covered different types of wood which are available in eastern Afghanistan, such as Najoo, Kaaj, Sanoobar, Nakhtar, Balooth, chenaar and etc. Along with their advantage and disadvantage, and their mechanical properties which are very necessary in the using of wood as a construction materials. Also I have covered those factors which have direct effect in their mechanical properties and also covered those materials and products which are manufactured from woods, It's very necessary for the people to know how to long the age of the woods such as keeping away the woods from burning, keeping away from degenerate, and keeping away from the bending.

اخځليکونه:

۱- غازيف، او.ا، دين محمد. (۱۳۲۴). ساختماني مواد.

2- Баженов ю.м.технология бетона.

3- Волженский а.в.буров ю.с.колокольников в.с.минеральные вяжущие вешества.технология и свойства.м.высшая школа.1979.

4- Волков м.и.методы испытания стройтельных материалов.м.стройздат.1974.

5- Горчаков г.и.стройтьлные материалы.м.высшая школа.198.

6- Иванов и.а технология легких бетонов на искуственных порист заполнителях.м.стройздат 1974г.

7- Комар а.г.строительных материалы и изделия.м.высшая школа 1976.

8- Роговой м.и.технология искуственных пористых заполнителей и керамики.м. стройиздат 1974.г

پوهنمل عمران (ظفرزی)
طب پوهنځی- عدلي طب څانګه

زنا (Rape) د عدلي طب له نظره

لنډيز:

زنا د ملګرو ملتونو (United nation) د جنايي اداري د تعريف له مخې هغې جنسي معاملې يا (Sexual intercourse) ته ويل کېږي چې بې له قانوني رضايت (Consent) تر سره شوی وي، کوم چې د اسلام په پاک او مبارک دين کې د شرعي نکاح څخه په غير د رضايت شتون هم زنا ګڼل کېږي. د کانګو په ديموکراتيک جمهوريت او د جنوبي افريقا په هېوادونو کې د زنا پېښې زياتې دي، په ځانګړې توګه پر کوچنيانو د جنسي تېري پېښې په ډېره لوړه کچه ليدل شوې دي. د زنا انګېزه د زياتو فکتورونو پورې اړه لري، د زنا لپاره پاروونکي فکتورونو (Victim-blaming) کې د ښځو ناز کول، د نارينه و سره تمايل ښودنه او د Sexual کاليو اغوستل رول لري. له زنا وروسته په قربانيانو کې يې په حاده توګه روحي بې نظمۍ د (PTSD) post-traumatic-stress disorder په شان په شديد ډول منځ ته راځي.

سريزه:

د نړيوالې روغتيايي ټولنې (WHO) د ۲۰۰۲م کال د تعريف له مخې زنا (Rape) په زور او جبر سره او يا د بل کوم مجبوريت له مخې د نارينه جنسي عضوه (Penis) يا د بدن بله برخه Vulva د ښځو جنسي عضوې يا (anus) ته ورداخل کړل شي، ويل کېږي. د اسلامي شريعت له نظره د زنا تعريف داسې دی چې د يو سړي د قضيب داخلېدل د داسې ښځې په فرج کې چې ددې سړي په شرعي نکاح او يا په ملک يمين سره په ملکيت کې نه وي. په قرانکريم کې الله (ج) د زنا څخه د ځان ساتنې په باره کې داسې فرمايلي دي: ((وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنٰٓى اِنَّهٗ كَانَ فَاحِشَةً ؕ وَسَآءَ سَبِيْلًا ۝)) سورة اسرا (۳۲). ژباړه: زنا ته مه نږدې کېږئ، ځکه زنا بې حيايي او بده لاره ده. (کابلی تفسير). همدارنګه الله تعالی (ج) په بل ځای کې فرمايي: ((فَاجْلِدُوْا كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ)). سوره نور (۲) ژباړه: زناکاره ښځه او سړی ووهئ، هر يو د دوی څخه سل دوري. (کابلی تفسير). همدارنګه د زنا په باره کې لاندېنی ايت کريمه چې تلاوت يې منسوخ، خو حکم يې پاتې دی، په دې ډول دی: ((الشيخه والشيخوخه اذا زنيا فارجموهما)). (علوم القران) سيوطي، جلال الدين. ژباړه: په مېړه والا ښځه او ښځې والا نارينه باندې رجم (په تيګو باندې ويشتل تر مرګه پورې) دي. دغه راز د رجم په باره کې په حديث شريف کې راغلي دي: ((الثيب والثيبته اذا زنيا فارجموهما)). ژباړه: کله چې واده شوې ښځه او واده کړای شوی سړی زنا وکړي، نو دوی رجم کړئ. زنا چې د نړۍ په ټولنو کې د ټولنيزو قوانينو او مقرراتو څخه سرغړونه ده، د اسلام په مبارک دين کې ورڅخه په کلکه منعه راغلې او مرتکبينو ته يې شرعي حدود د قرانکريم په مقدس کتاب او نبوي احاديثو کې راغلي چې اسلامي ټولنه د اخلاقي فساد او ټولنيزو بې نظميو او ستونزو څخه پاکوي او د ټولنې غړي د زياتو وژونکو او زيان اړوونکو ناروغيو څخه ژغوري، حال دا چې په نړۍ کې په دې وروستيو لسيزو کې ددې ډول مدهشو ناروغيو لکه HIV Aids د مخنيوي لپاره په ملياردونو ډالره مصرف شوي، خو لا تر اوسه پورې يې په مخنيوي کې اغېزمن ګامونه اخيستل شوې نه دي. په وروستيو لسيزو کې په نړيواله کچه د (Rape) پېښې زياتې شوي چې د لويانو ترڅنګ ترې د رحم او عاطفې حقدار قشر کوچنيان هم خوندي نه دي پاتې؛ پر کوچنيانو د جنسي تېريو پېښې په يو شمېر افريقايي هېوادونو کې ډېرې دي چې له بده مرغه دا لړۍ زمونږ تر هيواده راوغځېده، چې په دې وروستيو کې د هېواد په شمالي ولايتونو کې په پنځه کلنو کوچنيانو باندې د جنسي تېريو پېښې ثبت شوې دي.

سره له دې چې په ټوله نړۍ کې زنا يو ناروا عمل ګڼل شوی، خو پېښې يې بيا هم زياتې دي، د شمېرنو له مخې په United Nation کې د حکومتي سرچينو له مخې په کال کې 250,000 د زنا د پېښو راپور د پوليسو له خوا ورکول کېږي. په هغه ريسرچ کې چې په ۱۹۹۵م کال په کاناډا کې په ۱۲۳۰۰ ښځو ترسره شوی، په دې ريسرچ کې ښکاره شوې ده چې د هرو درېو

څخه په يوې ښځې جنسي تېری تر سره شوی چې له دې ډلې يوازې۲٪ پوليسو ته راپور ورکړل شوی دی. د کانګو په ديموکراتيک جمهوريت کې د زنا پېښې نسبت ټولې نړۍ ته زياتې دي، نوې پلټنې چې په کانګو کې ترسره شوې دي، په کال کې د 400,000 ښځو سره زنا ترسره کېږي چې د War-Rape پېښې په کې زياتې دي او ددې ملک ښځې د ناامنۍ او زورواکۍ قرباني کېږي؛ دا ښځې وايي ددې پرځای چې په جنګ کې په بم والوځي، زنا ته يې ترجيح ورکړې ده. په جنوبي افريقا کې پر کوچنيانو د جنسي تيري پېښې ډېرې دي چې په۲۰۰۰م کال کې د۷۷۰۰۰پېښو راپور ورکول شوی دی، خو د خيريه ټولنو د کارکوونکو د راپور له مخې هغه پېښې چې ثبت شوې نه دي، شمېر به يې ددې لس برابره لوړ وي. په جنوبي افريقا کې په ۲۰۰۱م کال کې په نهه مياشتنۍ ماشومې د جنسي تيري راپور ثبت شوی دی، همدارنګه په بلې نهه مياشتنۍ ماشومې باندې د ۶ تنو له خوا جنسي تيري قضيه موجوده ده چې عمرونه يې د ۲۴ نه تر ۶۶ کلونو پورې وو؛ بله پېښه په يوې څلور کلنې نجلۍ باندې د خپل پلار له خوا د جنسي تيري قضيه وه چې د هغې د مړينې سبب شوې وه. همدارنګه په جنوبي افريقا کې د۴۰۰۰ ښځو څخه چې پوښتنه شوې ده، د هرو درېو له ډلې په يوې د يو کال په موده کې جنسي تېری ترسره شوی دی، په دې هېواد کې د Medical –Research-Council (MRC) د۲۰۱۰م کال د راپور له مخې د۳۷٪څخه زياتو نارينه و د ښځو سره زنا کړېده او د۴۸۷ سړيو څخه ۷٪ يې ويلي دي چې دوی د غلا او دارې په وخت کې د زنا د فعل مرتکب شوي دي؛ د دوی د۱۱٪ هلکانو ۴٪ماشومو نجونو او۱۵۰۰ تنو د مکتب شاګردانو سره (gang-rape) عمل ترسره شوی دی.

په United Kingdom کې د۲۰۰۷م کې د زنا۸۵۰۰ پېښې ثبت شوې دي او د ۲۰۰۹م کال د شمېرنو له مخې په دې هېواد کې د NSP cc د ريسرچ له مخې چې د۱۳–۱۸کلنۍ عمر کې ترسره شوی، ۳٪ نجونو او۱۲٪ هلکانو باندې جنسي تېری شوی دی او په دې کال کې د 250,000 پورې نجونو سره دا ناروا عمل (Rape) ترسره شوی دی. په امريکا کې د زنا قربانيان ۹۱٪ ښځې، ۹٪نارينه او ۹۹٪ زنا کوونکي نارينه دي؛ په امريکا کې د جنايي جرمونو د ديپارتمنت د شمېرنې له مخې په ۲۰۰۵م کال کې۱۹۱۲۷۰ د جنسي تيري او Rape پېښې تر سره شوې دي چې تنها۱۲٪ يې له دې څخه ثبت شوې دي چې د درملو او الکولو کارولو په کې رول درلود.

موخې:

ددې علمي مقالې د ترتيب او ليکلو څخه زمونږ هدف دادی چې په دې وروستيو کې زمونږ په هېواد کې د جنسي تېريو پېښې په تېره بيا پر کوچنيانو رامنځته شوې دي، مونږ په دې علمي ليکنه کې هڅه کړې چې د جنسي تيري لاملونه، د هغې د ناګوارو اغېزو او د مخنيوي لپاره يې تدابير په ګوته کړو. دغه راز د مقالې ارزښت په دې کې نغښتی چې د زنا د ديني، قانوني، ټولنيزو، اخلاقي او روغتيايي زيانونو څخه زمونږ هېوادوال خبر او د هغې د مخنيوي په برخه کې پرځای او مناسب ګامونه واخيستل شي.

زنا (Rape) د عدلي طب له نظره:

زنا يا جنسي تېری د حقوقپوهانو له لوري ډول ډول تعريف شوی او په هر قانون کې سره توپير لري، د Clinicians او عاجلو پېښو د ديپارتمنت له نظره د جنسي تېري قربانيان هغه څوک ګڼل کېږي چې دوی له پخوا نه سره اړيکې او ملګرتيا لري. د طب او سايکولوژي له مخې چې د زنا قربانيان د درملنې لاندې نيول کېږي، اړينه ده چې ددې عمل په مورد د قرباني شخص عدم توافق او په زور سره ددې جنايت سرته رسونه په ګوته کړل شي. د جنسي تيري ۹۵٪ قربانيان ښځې وي چې د Anal Vaginal, او Oral له لارې په زور او جبر سره Penis , لاس او يا بل دباندې وتلې عضوې سره دغه ډول ناروا عمل تر سره شوی وي، که په جنسي ناحيه کې زخم هم موجود نه وي، دا معنی نلري چې دا ناجايزه عمل نه دی ترسره شوی. هغه خلک چې دې ډول عمل ته لاس اچوي، په دې نه پوهېږي چې دی د نورو قرباني کېدونکی او کوونکی دی. غير قانوني جنسي Inter course هغه انترکورس ته ويل کېږي چې د ښځې عمر پوره حد ته رسېدلی نه وي، حتی که د انتر کورس سره موافقه هم ولري. د Rape سره د شخص له خوا په زور او قوت سره د مقابل لوري جنسي برخې ته تمايل په زياتېدو راځي، زنا کار شخص د ښځې د دښمن په توګه د جنسي تيري عمل په تحقير امېزه ډول او ډارولو له مخې ترسره کوي. ښځې هيڅکله په پټه توګه هم د زنا کولو ته تمايل نلري او نه دا توقع لري چې ددې ناچيزه عمل تشويق څخه خوند واخلي. د زنا له کبله د ۵-۱۰٪

پېښو کې په وخيم ډول سره زخمونه منځته راځي او دا قرباني شوې ښځې د ټول ژوند لپاره ډار او وېره لري او باالاخره په روحي ناروغيو اخته کېږي؛ له بلې خوا ددې قرباني شويو ښځو په ځينو کې جنسي ناروغۍ (Sexually Transmissible) منځته راځي او ځينې حاملې کېږي. (۲،۳،۴)

څرنګه چې زنا د يو شخص لپاره بحراني حالت دی، هر ناروغ کې ډول ډول غبرګونونه راښکاره کېږي چې د Rape Trauma Syndrome په نوم يادېږي چې د دوه مرحلو لرونکي دي:

1- Immediate or acute ستونزه: په فوري او حاد ډول په دې ښځو کې د روحي ټکان (Shaking) راتلنه، ډېره ژړا او فرياد کول او د ډېرې ناراحتۍ حالت چې د څو کمو ورځو څخه تر اوونيو دوام کوي؛ ناروغه ډېره په قهر وي، ځان ګناهګاره ګڼي، شرمېږي او د روحي فشار لاندې وي. دغه ډول غبرګونونه نظر د قرباني شويو ښځو شخصيت او د زنا د فعل د حملې بڼې پورې اړه لري او توپير په کې ليدل کېږي.

2- وروستنۍ (Chronic) ستونزه: دغه وروستنۍ ستونزې د زنا د حملې څخه اوونۍ يا مياشتې وروسته منځته راځي چې د قرباني شوې ښځې د ژوند په بڼه او دنده کې د بدلون لامل ګرځي، د خوب ناروغي او وېره (Phobia) په ناروغۍ کې تکامل کوي، د ناروغې د اعتبار او احترام له منځه تلنه، په ټولنه کې په دې ښځو کې نادراً د ځانوژنې لامل ګرځي. Clinician's او د عاجل ديپارتمنت پرسونل چې کله د جنسي تېري (زنا) د پېښو قربانيانو سره مخامخ کېږي، بايد په ټولنه کې د جنسي تېرې بحراني مرکز سره يوځای ددې قربانيانو سره مرسته وکړي او هغوی ته دې مناسبې لارښوونې ورکړي. (۶،۷،۸)

د جنسي تېري پر وړاندې د عمومي ادارو کړنه (General-office-Procedure):

Clinician's چې اول د زنا قرباني شوې سره مخامخ کېږي، بايد ډېر تاکيد وکړي چې دا يو ډېر ناروا عمل دی چې په دې بې ګناه ښځې ترسره شوی دی او ورته ووايي چې زه ستاسې د مرسته کوونکو څخه يم او بيا لاندې ټکي يو د بل پسې پلی کړي:

۱- د ناروغې څخه او د هغې د ساتونکي او نژدې خپلوانو څخه چې ورسره وي، په ليکلي ډول سره دده په خوښه د gynecologic کتنې اجازه واخيستل شي او د عکس اخيستلو اجازه هم ترې اخيستل کېږي، په دې شرط که دوی ددغې قضيې څېړل غواړي؛ د پوليسو د مداخلې په صورت کې هغوی بايد د پېښې د ځای څخه شواهد راټول کړي.

۲- د ناروغ څخه د هغې په خپله ژبه د پېښې کيسه واورېدل شي او ثبت کړل شي، هغه کومې اغېزې چې ترې پاتې شوي، هغه دې ثبت شي، د پېښې وخت، ځای او د چاپېريال څرنګوالی دې په پام کې ونيول شي؛ که ښځه حامله وي، نو د جنسي تېري وروستی وخت دې ورڅخه په ګوته کړل شي. له ناروغې څخه دې په بشپړ ډول د پېښې د څرنګوالي په برخه کې معلومات راټول کړل شي چې په څه ډول د وجود کومې تشې ته د يرغلګرو له خوا د خپلې جنسي الې د ننوتلو هڅه شوې ده او يا بل کوم بېروني شي د ننوتلو څخه يې کار اخيستی او د يرغلګرو د شمېر پوښتنه هم بايد وشي چې څو تنه وو. د قرباني شوې ښځې حالت دې يادداشت شي چې چپه خوله ناسته ده، هيجاني ده او که Confuse ده، د درملو او الکولو د کارولو په برخه کې هم ورڅخه معلومات واخيستل شي، همدارنګه بايد په دې ځان وپوهول شي چې قرباني شوې ښځه نېغ په نېغه روغتون ته راوړل شوې او يا د لباس د بدلولو او لمبلو وروسته راوړل شوې. د اخيستل شوي Record څخه لانجه برسېره کېږي، خو ازمايښتي کتنې د لانجې لوری بلې خوا ته کړوي يا د پلټنې کار نيمګړی کوي.

۳- ناروغ لوڅ کړئ او په سپينه روجايي کې يې تاو کړئ، که د ناروغ په بدن چې څه اغېزې پرېوتې وي لکه وېښتان، چټلي، نور اضافي پاڼې ورپورې نښتې وي يا يې لباس پورې څه چټلي وي او رنګ شوی وي، يادداشت کړل شي. د ناروغې لاندې ځايونه چې څه شی ورپورې نښتی وي، وليدل شي، پاک دې شي، بيا دې دې برخو کې د ګوتو او نوکانو نښې او د Pubic برخې وېښتان که اغېزه يې پاتې وي، واخيستل شي او په يو پاک کاغذي پاکټ يا خريطه کې دې واچول شي او په احتياط سره دې په نښه او وتړل شي.

۴- ناروغه دې معاينه شي، د بدن کومه برخه يې چې زخمي شوې وي، عکس دې يې واخيستل شي. د ناروغې وجود او جنسي ناحيه دې په رڼا کې وليدل شي چې Semen په کې معلومېږي او که نه، د مثبتو ځايونو څخه دې Swab واخيستل

شي. د جنسي تېري په وخت کې په زور سره عمل تر سره کېږي، نو د Trauma د وړو ساحو د ليدلو لپاره د Coloscopy څخه کار اخيستل کېږي.

۵- د حوصلې (Pelvic) د کتنې څخه ددې پروسې ټول حال رابرسېره کېدای شي چې ايا قرباني شوې ښځې د عمل د ترسره کولو دمخه رضايت لرلو او که نه. نازکه تنګ Speculum چې د اوبو په واسطه نرم شوی وي، کارول کېږي. د Cotton-Swab په واسطه د Vaginal- wall او Cervix څخه مواد د کتنې لپاره اخيستل کېږي او دوه air-dried سلايدونه د سمير لپاره ورڅخه جوړېږي، لوند او وچ سلايدونه د مهبلي افرازاتو څخه د اسيد فاسفيت او DNA ارزيابۍ لپاره ترتيبېږي. د خولې څخه سلايد د مولر غاښونو شاوخوا او Cheek او anus څخه هم په عين ډول سلايدونه ترتيبېږي، په احتياط سره ټول سلايدونه Label کېږي. د Cotton Swab په واسطه د مهبلي، anus او خولې د افرازاتو څخه سلايد اخيستل کېږي او د سلايد له پاسه پرې يو څاڅکی Salin اچوي، بيا Cover slid پرې اينبودل کېږي او د مايکروسکوب د قوي قوې لاندې يې ګورو او Motile او Non motile سپرم په کې کتل کېږي او د Motile form sperm سلنه يادداشت کېږي. (۲،۷،۸)

۶- لاندې لابراتواري ازموينې ترسره کېږي: د مهبل anus او خولې د افرازاتو څخه د کتنې لپاره مواد اخيستل کېږي او N . gonorrhea او Chlamydia لپاره کلچر اجرا کېږي. د Cervix څخه د Papanicolou سمير ترتيب او يو څه اندازه مواد Pregnancy test , T.Vaginitis او VDRL لپاره هم اخيستل کېږي. د HIV انتي باډي د معلومولو لپاره دې که ناروغې غوښتې وي، تست اجرا شي؛ که منفي وي، نو د۲-۴ مياشتې وروسته دې بيا تکرار شي. که menses ښکاره نه شي، نو Pregnancy test بايد بيا تکرار شي او ۶ اوونۍ وروسته دې د VDRL تست بيا تکرار شي. که د درملو يا الکولو د خوړلو تاريخچه موجوده وي، نو 10ml وينه بې د انتي کواګوانت څخه او 100ml ادرار دې واخيستل شي.

۷- راټول شوي مواد په پاک ډول سره چې Label پرې وهل شوی وی د Clinical-pathologist د تکنشن په لاس وړل کېږي. (۳،۴،۵)

د زنا (Rape) ډولونه:

زنا لاندې ډولونه لري چې نظر د جنسي تېري ډول او قرباني شويو اشخاصو ته توپير لري:

۱. Date rape
۲. د غلا او دارې د وخت زنا(Gang-rape)
۳. Marital-rape
۴. د محرم سره زنا(Incestual-rape)
۵. child sexual abuse
۶. د محبس زنا(Prison rape)
۷. د اړيکې لرونکو اشنايانو سره زنا(Acquaintance rape)
۸. د جنګ د وخت زنا(War rape)

د زنا انګېزه او لامل (Causes and motivation):

د زنا د انګېزې په هکله يو ډول نظر موجود ندی، زنا زياتو فکتورونو پورې اړه لري لکه قهر (Angar)، د هوس (Desire) لپاره د زور او قوت څخه کار اخيستل، په بې رحمۍ سره جنسي تېری کول (Sadism).

د زنا اغېزې (Effects):

د جنسي تېري قربانيان په بې رحمۍ سره د تروما سره مخامخ کېږي، تر هغې چې د هغوی په ورځني کار کې ستونزې پېښوي او د پخوا په شان کار او فعاليت نه شي کولی، ځکه ددې قربانيانو Concentration د خوب عادت او خوراک باندې بدې اغېزې کوي او عصباني Jumpy حالت ته اوړي. (۹،۱۰)

د زنا له فعل وروسته يې په قربانيانو کې په حاده توګه سره روحي ناروغي (Stress disorder) منځته راځي چې دا اعراض عيناً لکه (PTSD) Post-traumatic stress disorder په شان شديد وي چې حتی ځينې وخت خپله حافظه له لاسه ورکوي.

دغه قربانيان د حملې څخه مياشتې وروسته هم دغه ستونزه ګڼي چې خپلو نژدې دوستانو او کورنۍ ته يې ښکاره کولی نشي او د روغتيايي کارکوونکو څخه په دې برخه کې مرسته نه شي غوښتلی.

د Acute-stress-disorder ګيلې په لاندې توګه دي:

- د شخصيت بدلون، سستي، بې علاقه ګي، غلط خيالونه
- په تکراري ډول ددې ناجايزه پېښې په ذهن کې اړول را اړول
- د پېښې د ځای او شيانو په وړاندې د کرکې او نفرت راتلل
- پريشاني زياتېدنه او د دماغي تمرکز مختل کېدل
- په ټولنه کې د ژوند څخه ناهيلي کېدل
- حامله کېدل

د زنا د قربانيا نو ⅓ نه تر ½ حالاتو کې په څو کمو مياشتو کې دغه ګيلې ليدل کېږي، چې دغه ګيلې د Post traumatic stress disorder (PTSD) په پېژندنه کې ارزښت لري. (۷،۸)

د قرباني شوو ښځو ملامتي (Victim blaming):

د قربانيانو ملامتي داده چې دوی د نارينه و نامحرمې وي، د دوی سلوک (Behavior) ددې ناوړه فعل لپاره زمينه برابروي، د مثال په ډول د ښځو ناز کول، نارينه و ته لاس او ټکان ورکول او د داسې کاليو اغوستل چې جنسي تمايل تحريکوي؛ دغه ډول کړنې د زنا لپاره مقابل لوری تحريکوي.

Dr-Roxanne چې يو سايکولوجست ؤ، د جنسي زور- زياتي برخه کې يې څېړنې کړي او ويلي يې دي چې د Victim-blaming يا د ښځو له ملامتۍ څخه د جنسي زور زياتي وېره شته دي.

درملنه:

که استطباب ولري، ناروغې ته انلجيزيک او Sedative ورکول کېږي، که په عميقه توګه د جنسي برخو څيرې کېدنه (Laceration) موجوده وه او يا چټل بڅرکي د جنسي ساحې په شاوخوا کې راټول شوي وو، نو بيا Tetanus toxid زرق کېږي. (۹،۱۰)

د 125mg Ceftraxone عضلي زرق د gonorrhea د مخنيوي لپاره ورکول کېږي، د Metronidazol دوه ګرام يو دوز او Azithromycin يو ګرام د خولې له لارې يا Doxycycline 100mg د خولې له لارې دوه ځلې په ورځ کې د ۷ ورځو لپاره چې د Chlamydia انتان درملنه وکړي، ورکول کېږي؛ ۲ اوونۍ وروسته دې د VDRL تست تکرار شي، خو د سفلس مخه د پورته درملو سره نيول کېدلی شي. د emergency Contraception په واسطه دې د Pregnancy مخه ونيول شي، د Hepatitis په وړاندې واکسين او د HIV Prophylaxis بايد ترسره شي. (۲،۷،۸)

پايله:

له پورتني بحث او څېړنې وروسته دې پايلې ته رسېږو چې:

- په ورځني ژوند کې د نارينه و او ښځو له خوا د اسلامي شريعت د قوانينو څخه سرغړونه د زنا لامل ګرځي.
- د زنا او جنسي تېري په منځته راوړلو کې ناامني، جنګ او په ټولنه کې د غير قانوني زورواکو شتون رول لري.
- د جنسي زور زياتي او زنا لپاره د درملو غلطه کارونه، د نشه يي توکو او الکولو خوړلو څخه کار اخيستل کېږي.
- په ځينو بې وزلو هېوادونو کې خراب اقتصادي حالت ښځې د زنا فعل ته مجبوروي.
- Victim blaming، د ښځو ناسته پاسته د نامحرمو نارينه و سره، د هغوی سره د بې ځايه اړيکو شتون او د ښځو د کاليو د اغوستلو ډول ددې فعل لپاره د نارينه و تشويقول.

وړانديزونه:

ټولو لوستونکو او هېوادوالو ته لاندې وړانديزونه لرم:

- خپل ورځنی ژوند د اسلام مبارک دين د اصولو او اساساتو سره برابرول.

- په خپل ژوند او کورني چاپېريال کې د درملو د غلطو کارولو ، الکولو او نشه يي توکو څخه د ځان او کورنۍ د غړو ساتل.
- د ازادو او ملي رسنيو له لارې ددې ناروا عمل څخه د ځان ساتلو او پر دنياوي او اخروي زيانونو يې د پروګرامونو برابرول.
- په ټولنه کې د زورواکو او ددې ناوړه عمل د ترسره کوونکو پر وړاندې د قانون تطبيقول.
- په کور دننه او بېرون د اسلامي او شرعي لباس اغوستل او اسلامي اصولو سره سم ژوند کول.

Abstract:

The united nation office and crime defines it as sexual intercourse without valid consent. In Democratic Republic of the Congo and South Africa, The Prevalence and intensity of rape and other child and baby rape is described as the worst in the world. The motives of rapists can be multifactorial.Victim blaming is holding the victim of crime to be in whole or in part responsible for the crime. That certain victim behavior (such as flirting or wearing sexually provocative clothing). After being raped, it is common for the victim to experience acute stress disorder.

اخځليکونه:

۱- قرانکريم. سورة اسرا ايت (۳۲)، سورة النور ايت (۲).

2- American Medical Association (1995) Sexual assault in America AMA.

3- Braun waid, Fauce– Harrison's (2012), Principles of internal medicine 18th edition Pp: 6-16.

4- Fourth Anaul Report of ICTR to the General assembly (1919) march 23.2007.

5- Kumar and Clarck (2002) Clinical Medicine 5the edition P. 86.

6- "Rape at the National Level, number of Police recorded offenses" united nation.

7- "Rape and Sexual assault of Women: Finding from the British Crime Survey" (PDF). http: 11rds. Home office. gov.UK 2010.

8- Stephen J.mcphee, Current Medical Diagnosis and Treatment 2012 Pp: 756-757.

9- "Sexual Violence Chapter 6" World Health Organization. April 15 .2011 http. // Whqlibdoc. WHO. Int/lpublication / 2002.

10- Unifem book final rearranged (PDF). Retrieved on 2011.

پوهنمل محمد بابر (درمل)
پوهنمل محمد حامد (کډوال)
وترنري علومو پوهنځی
کلنيک څانګه

په ننگرهار کې د فني وترنرۍ او مالدارۍ فعاليتونو تاريخچه

لنډيز:

په دې مقاله کې يوازې د عصري وترنرۍ او فني مالدارۍ تاريخچه څېړل شوې ده، چې وړاندې ترې يوناني طبيبانو او حکيمانو په بوټو- کاڼو تداوي کوله چې د اثارو له مخې شروع يې د ۱۳۲۷ کال څخه کېږي او په تدريجي ډول تر ۱۳۲۴ کال پورې انکشاف مومي، خو وروسته بيا د صحي خدماتو برخه مخ په ځوړ برېښي. د مالدارۍ په برخه کې د ۱۳۸۱ کال څخه راپدې خوا يو شمېر اتحاديې جوړې شوي دي او هم د بين المللي موسساتو ونډه په دې برخه کې زياته شوې ده، خو که وکتل شي، د شاهي او جمهوري نظامونو په دور کې هم د مالدارۍ او هم د وترنري روغتيايي خدمتونو حالت د نن مهال څخه ډېر پرمختللی و. په اکاډميکه برخه کې د وترنري پوهنځي منځته راتلنه د اسلامي انقلاب له بريالیتوب وروسته او هم د معارف په برخه کې په ۱۳۸۹ کال کې د وترنرۍ د څانګې تاسيس د کرنې د انستيتيوت په برخه کې لويې لاسته راوړنې دي.

سريزه:

د علومو تاريخي پس منظر نه يوازې د وخت په مختلفو پړاوونو کې د هغې برخې حالت انځوروي، بلکې د اړونده برخې په پرمختګ کې هم مرسته کولای شي. هغه دا چې د وخت سره مقايسه په دغه ډګر کې د پرمختګ يا هم وروسته والی په ګوته کوي. په دغه مقاله کې د وترنرۍ او مالدارۍ لرغونتوب په ننگرهار کې نه دی څېړل شوی او يوازې د عصري وترنرۍ او فني مالدارۍ تاريخچه پکې څېړل شوې ده، د کوم څخه وړاندې چې يوناني طبيبانو او حکيمانو په بوټو کاڼو تداوي کوله، خو د لرغونتوب برخه يې که چېرې وڅېړل شي، ډېره په زړه پورې به وي. څرنګه چې په دغه برخه کې تر اوسه کومه څېړنه نده ترسره شوې، نو تر ډېره حده په ژوندیو ريفرينسونو او سرچينو اتکا شوې چې د يو شمېر مرکو د راټولولو، ترتيب او تنظيم په برخه کې پوهنمل محمد حامد (کډوال) له ماسره مرسته کړې ده او د مقالې نورې ليکنيزې چارې ما (پوهنمل درمل) پرمخ وړې دي.

موخې:

- په ننگرهار ولايت کې د فني مالدارۍ او وترنرۍ د شاليد څېړل.
- په اړونده برخه کې د مسلک خاوندانو او مينه والو ته د ګټورو معلوماتو برابرول.

مواد او کړنلاره:

ددې څېړنې او تاريخي ليکنې په ترتيب او ليکنه کې د يو شمېر علمي اثارو او ژورنالونو څخه د ګټې اخيستنې سربېره د ځينو مسلکي اشخاصو او مسوولينو سره د موضوع په اړه مرکې شوي او رسمي او شخصي معلومات ترې راټول شوي، چې وروسته له راټولونې او ترتيب په سيستماتيک ډول په ليکنه کې ځای پرځای شوي دي.

په ننگرهار کې د فني وترنرۍ او مالدارۍ فعاليتونو تاريخچه:

د وترنرۍ کليمه پخپله لرغونې ده، هغه داسې چې د (Vetus) او (Veteris) کليمو څخه اخيستل شوې چې معنی يې (لرغونی طبابت) ده، ځکه چې دا د بشر لرغونی کسب و او د لرغونې ګندهارا تمدن هم ددغه علم او فن د نښو نښانو څخه

خالي نه دی. د لومړۍ او دویمې قبل المیلاد پېړیو په اثارو کې د حیواناتو نقشونه د قوت، ثروت او عبادت په سمبولونو کې شوي دي او د هېواد د نورو سیمو په شان د اس څخه د جنګ، لوبې او بارکښ حیوان په توګه کار اخیستل شوی دی.(۲،۱۰)

د کرنې ریاست په چوکاټ کې د وترنري فعالیتونو شالید(پس منظر): په ۱۳۲۷ او ۱۳۲۸ کلونو کې د لومړي ځل لپاره د ننګرهار ولایت غواوې د طاعون د وژونکي مرض پر وړاندې واکسین شوې او دغه فورمولین لرونکی واکسین د کابل د بني حصار په مرکز کې جوړ شوی و. په ۱۳۳۷ کال کې د اوسني حیواني کلنیک وداني او اړونده ځمکه د ځنګلاتو ریاست څخه واخیستل شوه او په ۱۳۳۸ کال کې د ایټالیې څخه راوړل شوې ۳۰ صندوقه مچۍ دلته ځای پرځای شوې. په ۱۳۴۲ کال کې د کرنې وزارت له لوري ورته د وترنر د مقرری لپاره یو نهم بست ورکړل شو او لومړی کس چې پکې مقرر شو، سلطان عزیز د مزار شریف څخه و؛ په ۱۳۴۳ کې یو اتم بست هم ورکړل شو چې د ننګرهار د روداتو ولسوالۍ اوسېدونکی شماس ګل پکې مقرر شو. (۱۰،۱۲،۱۳)

۱۳۴۷ کال د کوټ اړونده خزانې سیمه کې د حیواناتو د واکسین تطبیق

په ۱۳۴۷ کال کې د مدیریت پنځم بست ته دغه تشکیل ارتقا وکړه چې د کلنیک لومړنی مدیر عارف سالمي و او په عین وخت کې یو تن بلغاریایي متخصص چې رسیزشکي نومېده، د کرنې وزارت له خوا ورته رامعرفي شو؛ دغه وخت ددغه مدیریت ټول تشکیل ۱۲ تنه وو او ملګرو ملتونو ورسره مرسته کوله. (۱۲)

په ۱۳۴۹ کال کې د تشخیص لابراتوار تشکیل منظور شو چې د باکتریالوژۍ، سیرولوژۍ، ویرولوژۍ او پتالوژۍ په برخو کې ۱۴ تنه وترنرانو او پنځو تنو روسي متخصصینو پکې کار کاوه او د لومړي ځل لپاره لابراتواري حیوانات (سپین موږک، کیناپیګ او سوې) راوړل شول، په همدې کال کې د قرنطین، حیواني محصولاتو د کنترول، ساري امراضو سره د مجادلې مدیریتونه منظور او په یو شمېر ولسوالیو لکه غني خېل، اچین، مهمندرې، کوټ، بتې کوټ، کامه، کوز کونړ، خوږیانو او سرخرود کې کلنیکونه منظور شول. (۱۲،۱۳)

۱۳۴۹ کال کې د څارویو د ناروغیو د تشخیص لابراتوار انځورونه

۱۳۵۰ کې د تبرکلوز ناروغۍ په خاطر د فارم غازي آباد غواوې ټیسټ شوې چې یوازې دوه یې په تبرکلوز اخته وې. په ۱۳۵۱ کې د بلغاریا څخه په زرګونو چرګان، فیل مرغان او هګۍ راواردې شوې چې د پلورم د ناروغۍ د درلودلو په وجه ټول له منځه یوړل شول. (۱۳)

په ۱۳۵۸ کې د حیواني امراضو د تشخیص مدیریت تشکیل شو او په ۱۳۶۲کال کې د حیواني امراضو د تشخیص ودانۍ کار پیل او ۱۳۸۶ کال کې بشپړ شو، په ۱۳۶۲ کال کې دغه ټول تشکیلات تر یوه عمومي مدیریت لاندې راغلل او عمومي مدیر یې شماس ګل ؤ او ۴۹ تنه وترنران، ۳۷ تنه ډرېورانو او اجیرانو د عمومي مدیریت په چوکاټ کې کار کاوه چې په ۱۳۸۵ کې دغه عمومي مدیریت په امریت بدل او تشکیل یې ۱۲ تنو ته راټیټ شو. (۱۲، ۱۳)

په کال ۲۰۰۶ د مارچ په ۱۲ نېټه رسماً د ننګرهار ولایت څخه د انفلوینزا د H5N1 ستراین خبر ورکړل شو. د وترنرۍ په امریت کې د کلنیک نوی تعمیر په ۱۳۸۷ کې د PRT/USAID په وسیله جوړ او د واکسینو سردخانه په ۱۳۸۴ کې د وترنرانو اتحادیې له خوا د جهاني بانک په مرسته جوړه شوې ده. (۴، ۷)

د کرنې ریاست په چوکاټ کې د مالدارۍ فعالیتونه:

د ننګرهار د کرنې ریاست په چوکاټ کې د ترویج مالدارۍ تشکیل په ۱۳۴۶ کال منځته راغلی چې لومړنی کس چې په دغه برخه کې یې کار کاوه، جان اغا و؛ ددې تر څنګ د ماهیانو او د وریښمو چنجیو برخه منځته راغله چې په دغه برخه کې نظري او ببرک کار کاوه چې وروسته د ترویج مالدارۍ برخه د وترنرۍ مدیریت لاندې منځته راغله. په ۱۳۶۴ کال کې دغې برخې د ترویج مالدارۍ عمومي مدیریت ته ارتقا وکړه او لومړنی مدیر یې محمدافضل و. په ۱۳۶۵ کال کې اوسنی تعمیر جوړ شو او د مالدارۍ د عمومي مدیریت لاندې د زنبورداری، د ماهیانو روزنې، پیله وري او مصنوعي القاح برخې فعالې شوې او په پنځو ولسوالیو کې د القاح مصنوعي ستیشنونه جوړ شول. (۲۲، ۱۳)

د ننګرهار کانال ریاست په چوکاټ کې د وترنرۍ او مالدارۍ پس منظر:

په کال ۱۳۴۵ کې کله چې د ننګرهار کانال ساختماني چارې بشپړې شوې، نو د زیتونو، ستروسو او نورو ونو د اینبودلو لپاره د شاوخوا سیمو د اوسېدونکو څخه حیواني سره خریداري کېدله چې ددغه ستونزې د حل او د سیمې او هېواد خلکو ته د لازمو حیواني محصولاتو غوښې، شیدو، مستو او پنیر د تهیې په خاطر په ۱۳۴۵ کال کې د مالدارۍ لومړی فارم د ننګرهار ولایت د ثمرخېلو په سیمه کې د روسي متخصصینو په مشوره او د افغاني لوري متخصصینو هر یو محترم محمدصدیق (ددغه فارم لومړی مدیر) او همکار یې محمداشرف بهسودي تر نظر لاندې تاسیس شو. د څارویو محلي نسلونه (کونړي، قندهاري، سیستاني، ترپارکر او ساهیوال) د قندهار، هلمند، کابل او کونړ ولایتونو د خلکو او د خارجي (براون سویس، فریز او جرسي) نسلونه د بني حصار او هلمند د دولتي او اعلیحضرت محمدظاهرشاه د شخصي فارم څخه راوړل شول، چې په ۱۳۴۸ کال کې د غازي اباد فارم ته چې په فني او میکانېزه شکل جوړ شوی و، انتقال شول. بلاخره په کال۱۳۵۱ کې د فریز مختلط نسل فارم هډې ته انتقال او د براون سویس نسل په غازي اباد کې پاتې شو چې په کال ۱۳۵۳کې د فارم هډې د غواوو شمېر۵۲۰ او د غازي اباد ۸۰۲ سرو ته ورسېد چې اوسط کلنی تولید یې د غوا په سر ۳۱۷۵ لېتره و. په کال۱۳۶۲ کې په جلال اباد کې د مصنوعي القاح نوی ستیشن تاسیس شو چې ددغه پروژې څخه ورته دوه غوایان انتقال شول چې په دې توګه په ۱۳۶۳ کال کې د شاوخوا سیمې۳۵۰۰ غواوې ددغو غوایانو څخه د مایع سپرم د انتقال په طریقه القاح شوې. (۱۸)

د مالدارۍ رادیویي او تلویزیوني خپرونې:

په۱۳۶۱ کال کې د ننګرهار رادیو تاسیس شوه او ورسره جوخت د کرنې او مالدارۍ خپرونه پیل شوه چې دا خپرونه د نیم ساعت لپاره په اوونۍ کې یو ځل د چارشنبې په ورځ د مازدیګر د 5:30- 6:00 بجو خپرېدله. ددغې خپرونې لومړی پرودیوسر امان خیرخوا ؤ. په ۱۳۶۳ کال د قوس میاشتې په شلمه د رادیو تر څنګ د تلویزیون خپرونې پیل شوې او په دغه برخه کې هم د یو متخصص له لوري د کرنې او مالدارۍ په برخه کې معلومات ورکول کېدل. په ۲۰۰۸ د نوامبر میاشتې په ۲۸ نېټه د شرق رادیو د کرنې او مالدارۍ پروګرام پیل کړ چې د مالدارۍ برخه یې د چارشنبې په ورځ د مازیګر په ۳:۳۰ پیل تر ۴:۱۵ بجو دوام مومي او بیاځلي د پنجشنبې په سهار ۶:۳۰ بجې خپرېږي. د ۱۳۹۱کال د میزان میاشتې په ۱۲ نېټه د کلید

رادیو د کرنې او مالداری خپرونې پیل کړې چې د یکشنبې په ورځ د ماخوستن اته بجې او بیاځلي د دوشنبې د سهار په ۱۱:۰۰ بجو د ۴۵ دقیقو لپاره خپرېږي. (۲۳،۲،۱۷)

د معارف په چوکاټ کې د وترنرۍ او مالداری پس منظر:

په ننګرهار کې په کال ۱۳۵۵ کې د زراعت مسلکي لېسه جوړه شوه، که څه هم د مالداری او وترنرۍ څانګې یې نه درلودې، خو د وترنرۍ او مالداری یو شمېر مضامین لکه حیواني امراض، مرغداري، حیواني تغذیه، د شاتو مچیو روزنه، ماهیانو روزنه او د پسونو- وزو روزنه پکې تدریسېدل. په ۱۳۸۹ کال کې یې د لېسې څخه انستیتیوت ته ارتقا وکړه او د وترنرۍ دیپارتمنت پکې تاسیس شو؛ بلاخره په ۱۳۹۱ کال کې یې د وترنرۍ له څانګې لومړني ۵۲ تنه فارغان ورکړل. (۱۲)

د ننګرهار پوهنتون په چوکاټ کې د وترنرۍ او مالداری پس منظر:

الف- د وترنري علومو پوهنځی: د ننګرهار پوهنتون د وترنري علومو پوهنځی د هېواد په کچه د وترنري علومو په برخه کې دویم پوهنځی دی چې د سیمې د ضرورت په اساس په کال (۱۳۷۲) کې تاسیس شو چې د اوسني محصلانو چارو په تعمیر کې یې موقعیت درلوده، لومړنی رئیس یې محترم پوهنمل کریم الله (ستانکزی) (۱۳۷۲-۱۳۷۲) بیا په ترتیب سره محترم قاضي سمیع الله (۱۳۷۷-۱۳۷۲)، پوهنمل شادمحمد (همدرد) (۳-۱۳۸۱/۲/۱۳۷۷)، پوهندوی سیدرفیع الله (حلیم) (۲۵/۲/۳-۱۳۸۵/۸/۱۳۸۱)، پوهنیار محمدطاهر (کاکړ) (۳۰/۸/۲۵-۱۳۸۸/۱/۱۳۸۵)، پوهنوال سیدرفیع الله (حلیم) (۱۲/۱/۳۰-۱۳۹۰/۱۱/۱۳۸۸) ددغې پوهنځي رئیسان وو او اوس مهال پوهنمل سیدضیاالحق (بنوري) د رئیس په توګه دنده ترسره کوي. (۵،۲۴)

په کال ۱۳۷۴/۷/۸ نېټه یاد پوهنځي ته یو تن مسلکي استاد پوهنیار شفیع الله (نظیمي) د کرنې پوهنځي څخه ورتبدیل شو، دغه وخت په ننګرهار کې د FAO اداري د پوهنځي سره تدریسي همکاري لرله. په ۱۳۷۴/۷/۸نېټه د پري کلنیک، په ۱۴۲۲/۲/۱۸نېټه د کلنیک او په ۱۳۸۴/۱/۴ د پارا کلنیک څانګې ایجاد شوې. دغې پوهنځي ته په کال ۱۳۷۲ کې ۲۴ تنه محصلین د کانکور له لارې ورمعرفي او په ۱۳۷۸ کال د جوزا د میاشتې په یودېرشمه نېټه لومړني۱۷ تنه فارغا ن ورکړي چې د ختیزو ولایاتو څخه علاوه د هېواد نورو ولایتونو اوسېدونکي هم پکې شامل وو. د وترنرۍ پوهنځي اوسنۍ ودانې په کال ۱۳۸۳د لړم په میاشت کې د پوهندوی سیدرفیع الله (حلیم) او امریکایي وترنر ډاکتر جکسن د هڅو په نتیجه کې د Eng:Mike Ryan لخوا ډیزاین او د امریکا د متحده ایالاتو په مالي مرسته د وترنرۍ پوهنځي د موجوده تعمیر د بنسټ ډېره د وخت د ولایت مرستیال ډاکتر محمداصف په لاس کېښودل شوه چې په ۱۳۸۵/۸/۲۳ د لوړو زده کړو وزیر ډاکتر دادفر له خوا پرانیستل او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه. دا ودانې په دغه پوهنتون کې د اسلامي انقلاب نه راپدې خوا لومړنۍ عصري ودانې ده چې پکې پنځه درسي خونې، پنځه لابراتوارونه، یوه د مجلس خونه، شپږ دفتري خونې او یو کتابتون شتون لري. (۵،۱،۲۴)

په کال ۱۳۸۷کې ددغه پوهنځي د عملي کارونو په خاطر یو کلنیک تاسیس شو او په ۱۳۸۸ کال کې د ننګرهار پوهنتون د ریاست له خوا ورته ۵ جریبه ځمکه او هالنډ کمېټې له خوا ورته اووه سره حیوانات په اختیار کې ورکړل شول؛ یو تن سریلانکایي متخصص د سلوا په نامه په دغه کلنیک کې کار کاوه. د یادونې وړ ده چې ددغه پوهنځي څخه تر اوسه ۲۰۷ تنه وترنر ډاکتران فارغ او ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې شوي دي. (۵)

ب- د کرنې په پوهنځي کې د مالداری څانګه: په ۱۳۵۷کال کې د کرنې پوهنځي د منظورۍ سره سم د همدې پوهنځي په چوکاټ کې د حیواني علومو څانګه منظوره او لومړی امر یې پوهیالی حسن امان ؤ. په دغه څانګه کې د مالداری اړونده مضامینو تر څنګ د وترنرۍ یو شمېر مضامین لکه ساري امراض، حیواني اناتومي او حیواني فزیالوژي هم تدریسېدل. دغې څانګې څخه ۱۳۶۲ کې لومړني ۱۷ تنه فارغ شوي دي.(۲۵)

مسلکي ټولنې (اتحادیې):

الف- د وترنرانو اتحادیه: په ۱۹۹۲کال د اوومې میاشتې په نهمه په دارالمعلمین کې یو شمېر وترنرانو غونډه وکړه او د افغانستان د وترنرانو د اتحادیې بنسټ یې په ننګرهار کې کېښود چې لومړی مشر یې عبدالباقي مهربان، د زون په سطحه مسوول محمد امین صافی و او ۱۹۹۲/۱۲/۲۳ نېټه په ننګرهار کې ورته دوو تنو حق العضویت ورکړ. په ۱۹۹۷ کې د

اتحاديې دفتر د کېمياوي سرو کوڅې د حاجي محمود په سرای کې و. په ۱۳۸۲/۲/۱۹ کال کې د وترنري امريت په ملکيت کې په نيم جريب ځمکه د ختيځ زون د وترنرانو اتحاديې لپاره اوسنی تعمير چې په دوه منزله او ۱۵خونې لري، د تعمير جوړولو اجازه يې د جمهوري رياست څخه واخيستل شوه او۱۳۸۸/۴/۱۰ دا وداني د نړيوال بانک په مالي مرسته تکميل او د ختيځ زون د وترنرانو اتحاديې ته وسپارل شوه. (۸،۱۴)

ب- د چرګانو د فارم لرونکو اتحاديه: د چرګانو د فارم لرونکو اتحاديه په ۱۳۸۲ کال کې تاسيس او ۱۳۸۲/۵/۳ نېټه يې د فعاليت جواز تر لاسه کړ. لومړی مشر يې خليل الله (حبيب زی) ؤ چې وروسته بيا د سپين غر د چرګانو د فارم لرونکو اتحاديې په نوم ونومول شوه چې اوسمهال يې۱۵۰۰تنه د چرګانو فارم لرونکي عضويت لري. له يادې ټولنې سره تراوسه USAID زياته مرسته کړې ده.

ج- د ماهيانو فارم لرونکو اتحاديه: د ننگرهار د ماهيانو فارم لرونکو اتحاديه په۱۳۸۲ کال کې تاسيس شوه چې لومړی مشر يې مطيع الله (فضليار) و، اوس مهال ۱۳۰ تنه غړي لري. د يادونې وړ ده چې د خصوصي سکتور په برخه کې لومړنی د ماهيانو فارم په پتاو کلي کې د ريليف نړيوالې موسسې په مالي مرسته جوړ شوی دی.(۱۴)

د- د مچيو د فارم لرونکو اتحاديه: د مچيو د فارم لرونکو اتحاديه په کال ۱۳۸۲ د ثور په مياشت کې تاسيس او لومړی مشر يې رياض احمد رودوال ؤ چې د يوې غونډې په ترڅ کې چې په ننگرهار هوټل کې وټاکل شو. ياده ټولنه اوس مهال۳۲۰ تنه غړي لري چې۲۰۰ يې رسمي غړي او۱۲۰يې صرف راجستر دي؛ دغه راز په ۱۳۸۹ کې د شاتو د تصفيې کارخانه جوړه شوه. د مچيو لومړنی خصوصي فارم په ۱۳۴۵ کال کې د مامور ظاهر په وسيله تاسيس شوی دی چې نوموړي تر دې وړاندې دولتي مچۍ ساتلې.

مالداري تصدۍ او کوپراتيفونه:

د کېمياوي سرو، زراعتي، وترنري درملو او وسايلو دولتي شرکت د جلال اباد ښار ملي بانک ته څېرمه چېرته چې اوس مهال هديره ده، په ۱۳۵۳ کال کې تاسيس شو او له همدغه ځايه به د ختيزې سيمې نورو سيمو ته توزيع ترسره کېدله. د خصوصي سکتور په برخه کې د زراعتي، وترنري درملو او سامان الاتو پلورنځی په ۱۳۵۷ د ميزان په مياشت کې د حاجي شاولي په وسيله د سرو په کوڅه کې جوړ شو، چې اوس هم موقعيت لري.(۱۱،۱۷)

کوپراتيفونه:

الف- د شيدو غواوو کوپراتيف: د شيدو غواوو لومړنی کوپراتيف په کال ۱۳۸۹/۱۰/۲ د بهسودو ولسوالۍ کې جوړ شو، رييس يې حاجي اجمل او ۳۲ تنه غړي يې درلودل. لومړنۍ ثانوي اتحاديه په ۱۳۹۰/۳/۴ کې په سرخرود کې تاسيس او لومړنۍ ولايتي اتحاديه په ۱۳۹۰/۱۰/۱۳ تشکيل چې مشر يې اجمل و. په دغه اتحاديه کې د څلورو ولسواليو (بهسودو، سرخرود، غني خېل او کامې) څخه ثانوي اتحاديو عضويت لري، چې ۱۱۲۰ شيدو غواوې لري. FAO/IFAD په مالي مرسته د ختيز زون د شيدو د پروسس مرکز په فارم هډه کې جوړېږي. (۳)

ب- د مچيو روزونکو کوپراتيف: په کال ۱۳۸۷ کې د مچيو روزونکو لومړنی کوپراتيف د روداتو په ولسوالۍ کې تشکيل شوی چې مشر يې رياض احمد و او لومړني غړي يې۱۲ تنه وو. (۱۹)

د وترنرۍ په برخه کې د بهرنيو موسساتو فعاليتونه:

UN د حيواني صحت په برخه کې ۱۹۲۴، FAO/UN د مالدارۍ حيواني صحت او ناروغيو د تشخيص په برخه کې1392 ، ASMEDد مچيو روزونکو او د مالدارۍ اړونده برخه کې مرسته، USAID/ ريليف اينترنشنل۲۰۰۲ د چرګانو او ماهيانو فارمونو جوړولو او د قولبيي غوايانو توزيع برخه کې مرسته؛ MADERA د حيواني صحت په برخه کې په ۱۹۹۴، GAF د حيواني صحت په برخه کې د کلنيکونو تجهيز او تمويل 1995 .(۷،۵)

ALP-E/USAID مالدارۍ پروګرام چرګانو، ماهيانو، غوښينو غوايانو، د فارمونو جوړونه او د اړونده اتحاديو سره تخنيکي او مالي مرسته ۲۰۰۲ مارچ. DAI/USAID د مالدارۍ پروګرام، چرګانو، ماهيانو د فارمونو جوړونه او د اړونده اتحاديو سره تخنيکي او مالي مرسته ۲۰۰۹ جولای. BRAK/WB د مالدارۍ او حيواني صحت په برخه کې ۲۰۰۳ اګست. (۲۰)

AWSP /CRAA د اسونو او نورو بارکښه حيواناتو تداوي او د چرګانو او محلي غواوو روزنه 1990. FHIM د مالدارۍ حيواني صحت او توسعې په برخه کې ۱۹۹۷، RAMP/ د مالدارۍ په برخه کې ۲۰۰۴، IFAD/FAO د لبنياتو د پروسيس او حيواناتو تغذيې په برخه کې. (۱۵،۱۴)

پايله او مناقشه:

که وکتل شي د ننگرهار په ولايت کې د فارمونو جوړېدل د يو هراړخيز هدف درلودونکي وو، چې په خپل وخت سره يې تحقق موندلی و چې ورسره يوځای روغتيايي خدمتونو، کلنيکونو، لابراتوارونو او مسلکي کارکوونکو د روزنې کار د خارجي او داخلي متخصصينو په وسيله ترسره کېده او د نسل د اصلاح په منظور د مصنوعي القاح مرکزونه جوړ شوي وو چې د کارونو دغه انسجام د کاميابۍ او پرمختګ په لور د ګامونو لپاره لازمه زمينه سازي کوله. که وکتل شي د حيواني صحت او مالدارۍ نزول په دوامداره توګه تر سترګو کېږي چې لاملونه يې غير متوازن انکشاف، کمه مسلکي پوهه او د وترنرۍ او مالدارۍ کارکوونکو ته په دولتي چوکاټ کې د کمو تشکيلاتو او امتيازاتو ورکول او هم د خصوصي سکتور بې ځايه مداخله ده.

وړانديزونه:

- په هغو برخو کې چې د مالدارۍ او وترنرۍ خدمتونه په نزول کې ليدل کېږي، دولت او موسسات دې ورته پاملرنه وکړي.
- د لابراتوارونو تجهيز او په دغه برخه کې دې د مسلکي افرادو روزنه ترسره شي.
- د حيواني صحت او مالدارۍ په برخه کې د دولت د تشکيلاتو زياتوالی اړين دی.
- د پخوانيو تجربو څخه بايد کار واخيستل شي.
- د خصوصي سکتور ونډه که څه هم په يو شمېر برخو کې موثره ده، خو دولت بايد د مالدارۍ او وترنرۍ په ساحه کې د چارو واګې په لاس کې واخلي او نظارت وکړي.
- مالدارانو او بزګرانو ته دې ځانګړي امتيازات او رعايتونه ورکړل شي.

Abstract:

In this article the history of modern veterinary and professional animal husbandry is covered on track from the junction with herbal medication of animal. Based on the literature the start point of modern veterinary is year 1327 and gradually elevation is occurred up to year 1364 but veterinary services looks in decline after mention period. After year 1381 the professional veterinary and animal husbandry associations were established by the support of international organizations but the promotion is not comparable with the royal and republic periods, In academic area establishment of veterinary faculty under Nangarhar university after the Islamic revolution and establishment of veterinary and animal husbandry departments during year 1389 under the institute of agriculture are the great improvements.

اخځليکونه او سرچينې:

۱. افغان يووالی. (۱۳۸۵). د شهيد عبدالحق ټولنې نشراتي ارګان، اوولسمه ګڼه م ۱۸-۱۴.
۲. حليمي، مارشال. (۱۳/۱۰/۱۳۹۱). د شرق راديو د راديويي خپرونو مدير- شخصي معلومات.
۳. حميدي، بصير. د کرنې رياست د ترويج عمومي مدير- رسمي معلومات (۱۳۹۱/۱۰/۱۲).
۴. درمل، بايز. د ننگرهار پوهنتون علمي خپرونه (پوهه مجله). د (چرګانو والګی) علمي ليکنه
۵. دوربين، سياف؛ ا، بارکزی او ا، قيامي. (۱۳۹۰). تاريخچه مختصر وترنری در جهان و کشور عزيز ما افغانستان.
۶. رحيمي، غلام حسن. د کرنې رياست د وترنرۍ امر- شخصي معلومات (۱۳۹۱/۱۰/۱۲)
۷. زړه سواند، اجمل. د ختيځ زون د وترنرانو اتحاديې مشر- شخصي او رسمي معلومات (۱۳۹۱/۱۰/۱۰)

۸. سيدحسن، د ننگرهار د مچيو اتحاديې مرستيال- شخصي معلومات (۱۳۹۱/۱۰/۱۲)
۹. شريفي، ميرک شاه. (۱۳۴۹). تاريخ وترنرى تحول بزرگ در جهان، قسمت دوم مجله ساينس- د علومو پوهنځي خپرونه؛ اووم کال دريمه گڼه
۱۰. شاولي، د جلال اباد په ښار کې د زراعتي- وترني درملو او سامان الاتو پلورنځي مسوول- شخصي معلومات
۱۱. شماس گل، د کرنې رياست د وترنرۍ کلنيک- رسمي معلومات (۱۳۹۱/۱۰/۹)
۱۲. شماس گل، د کرنې رياست د وترنرۍ کلنيک- شخصي يادښتونه
۱۳. صافي، محمدامين. د ننگرهار پوهنتون د وترني علومو پوهنځي استاد- شخصي يادښتونه (۱۳۹۱/۱۰/۱۱)
۱۴. عاصم، عبدالهادي. د ننگرهار پوهنتون د کرنې پوهنځي استاد. (۱۳۹۱/۱۰/۱۱) شخصي معلومات
۱۵. عالمي، عبدالبصير. د پوهنې رياست د کرنې او وترنرۍ مسلکي انستيتيوت عمومي آمر- رسمي معلومات (۱۳۹۱/۱۰/۱۰)
۱۶. غالب، گلستان. د ننگرهار د باختر اژانس مدير- شخصي يادښتونه (۱۳۹۱/۱۰/۱)
۱۷. غني يف، ز، حميدوف او اخلاص. (۱۳۲۴). پروژه مجتمع ابيارى ننگرهار- جلال اباد
۱۸. فضل الله، د کرنې رياست د ترويج عمومي مديريت د رودانو ولسوالۍ ساحوي مدير- خصوصي معلومات (۱۳۹۱/۱۰/۱۲)
۱۹. گهيځ، منهاج الدين، د DAI موسسې د مالدارۍ برخې پروگرام منيجر- خصوصي معلومات (۱۳۹۱/۱۰/۹)
۲۰. مجددي، شهيم احمد، د ماهيانو د فارم لرونکو اتحاديې مشر- خصوصي معلومات (۱۳۹۱/۱۰/۱۰)
۲۱. محمدافضل، د کرنې رياست د مالدارۍ آمر- رسمي معلومات (۱۳۹۱/۱۰/۱۰)
۲۲. ملکزى، جمشيد، د کليد راديو تحقيقي خيريال- شخصي معلومات (۱۳۹۱/۱۰/۱۳)
۲۳. ننگرهار پوهنتون په اړه د عمومي معلوماتو بروشور او فايلونه
۲۴. نيازى، ميرحاتم. د کرنې پوهنځي د حيواني علومو څانگې مشر- خصوصي معلومات (۱۳۹۱/۱۰/۹)

پوهنمل بهـاوالدين (جـلالي)
انجنيري پوهنځی- د عـمومـي
تخنيکي مضمونونو څـانګـه

د رياضـي او کمپيوټر په مرسته د هندسي مرکبو اجسامو د حجمونو محاسبې د دقت پرتله

لنډيز:

د رياضي، فزيک او نورو طبعي علومو زده کړه د مسلکي اشخاصو د پرمختګ لپاره يو اړين کار دی، مګر د تکنالوژۍ استعمال هم پر توليد زياتې اغېزې لري، له يوې خوا محاسبې په چټکۍ سره اجرا کېږي او له بلې خوا محاسبه دقيقه وي، همدا وجه ده چې په دې څېړنه کې د رياضي د فرمولونو په مرسته د حجمونو او نورو پارامترونو معلومول تر څېړنې لاندې نيول شوي او نتايج يې په ګوته شوي او بيا د اټوکيډ د سافټوير په مرسته د مرکب جسم د حجم کمپيوټري محاسبه تر سره شوې او نتيجه يې په ګوته شوې. بيا وليدل شول چې د حجمونو کمپيوټري محاسبه ډېره دقيقه، اسانه او سمه ده چې د هر ډول منظمو او غيرمنظمو جسمونو د حجمونو په معلومولو کې ترې ګټه اخيستل کېږي چې د کمپيوټري محاسبې استعمال په ټولو برخو کې يوه مناسبه او چټکه طريقه بلل کېږي.

سريزه:

لکه څنګه چې معلومه خبره ده، رياضي د ساينسي علومو اساس تشکيلوي او په هره ساينسي څېړنه کې رياضي خپل رول لري، څېړنې خپلې موخې لري او هره موخه ځانګړې ميتودونه، کړنلارې او طريقې لري چې څېړونکي يې د ارتباط له مخې مناسبه طريقه، کړنلاره يا ميتود غوره کوي، تر څو د لوستونکو لپاره په زړه پورې مسايل وړاندې کړي چې په دې څېړنه کې له مقايسوي ميتود څخه په ګټې اخستنې سره رياضيکي او کمپيوټري محاسبې ترسره شوې دي. د اجسامو اوږدوالي، حجمونو، مساحتونو، مقاومتونو او نورو پارامترونو محاسبه په تخنيکي او ساختماني توليداتي چارو کې يو له اړينو محاسبو څخه دي چې په دې څېړنه کې د هندسي اجسامو د حجمونو محاسبه او دقت د رياضي او کمپيوټر په مرسته په مقايسوي توګه تر مطالعې لاندې نيول کېږي او کمپيوټري اسانتياوې په ګوته کوي. په دې څېړنه کې درې پرزې (مخروط، استوانه او منشور) حجمونه په جلا جلا ډول د رياضي او کمپيوټر (د Auto Cad د سافټوير) په مرسته او بيا د وصل په حالت کې په يو ځای توګه معلوموو او نتيجې يې پرتله کوو.

موخې:

- د رياضي ميتودونو، فرمولونو او د کمپيوټر د Auto CAD سافټوير په مرسته د مخروط، استوانې او منشور د حجمونو محاسبه کول.
- د رياضي او کمپيوټري محاسبو د ځانګړتياوو او نيمګړتياوو روښانول.

رياضي ميتودونو او فرمولونو په مرسته د منشور، مخروط او استوانې د حجمونو محاسبه:

د پورتنۍ موضوع د حل لپاره لومړی شکل په نظر کې نيسو، که د مخروط د قاعدې قطر3cmØ، ارتفاع h=4cm وي، حجم يې مساوي کېږي په I..... $V = \frac{\pi R^2 . h}{3}$ د قيمتونو په وضع کولو سره لاسته راځي چې: $V_1 = \frac{3,1428571.1,5^2.4}{3} = 9,4285\,cm^3$ يعنې د مخروط حجم مساوي کېږي په 9,4285 سانتي متر مکعب سره. (282م3)

د قايم منشور حجم مساوي کېږي په II..... V =L.W. h چې د منشور د قاعدې طول يعنې اوږدوالی L = 4cm، د قاعدې عرض يعنې W = 3cm او لوړوالی يعنې h = 5cm چې د قيمتونو د وضع کولو په صورت کې د منشور حجم

مساوي کېږي په $V_2 = 4.3.5 = 60cm$. د استوانې حجم عبارت دی له $v = \pi R^2 . h$ ..... III چې د استوانې د قاعدې شعاع R=3cm، لوړوالی h=4cm څخه چې د قیمتونو د وضع کولو په صورت کې: $V_3 = 3{,}1428571 . 3^2 . 4 = 113{,}1428\ cm^3$ چې د درې واړو مجموعي حجم مساوي کېږي په: =
$V_1+V_2+V_3$.....IV $V = 9,4285 + 60 + 113,1428 = 182,5713\ cm^3$



1شکل: د مخروط، منشور او استوانې شکلونه.

د کمپیوټر د Auto CAD سافټویر په مرسته د مخروط، استوانې او منشور (مرکب جسم) د حجمونو محاسبه:
که چېرته لومړي شکل ته وګورو د مخروط، منشور او استوانې درې واړه حجمونه یوه پرزه یعنې یو مرکب جسم جوړوي چې د مطلوب مرکب جسم د حجم معلومول د اټوکیډ د سافټویر درې مخیز سیستم (3D) کې تر مطالعې لاندې نیسو.

د (3D) په سیستم کې د نوموړي مرکب جسم د جوړولو طریقه:

1- د مخروط رسمولو لپاره لومړی په اټوکیډ کې (3D) فعالوو او مخروط د ایزومتري په حالت کې رسموو چې د (3D) د مودل جوړونې مینو له لارې د مخروط جوړونې کماند اخلو او د سکرین پر مخ کلیک کوو، د مخروط د قاعدې د شعاع او لوړوالي اندازې ورکوو چې په دې توګه مخروط په ډک (Solid) حالت کې رسمېږي، چې کمپیوټري عملیه یې عبارت ده له:

3D ⟶ modeling ⟶ frustum cone ⟶ specify base radius (1.5) units ⟶
Specify top radius (0) ⟵ specify height (4) units ⟵



2 شکل: د 3D په **حالت** کې د مخروط شکل

2- د اټوکیډ په سیستم کې د منشور جوړونې لپاره لومړي (3D) فعالوو او منشور د ایزومتري په حالت کې رسموو، یعنې لومړی د منشور قاعده د rectangale د کماند په واسطه او بیا د extrude د عملیې په واسطه لوړوالی ورکوو، وینو چې منشور په ډک حالت (solid) کې رسمېږي چې په عملي ډول په لاندې توګه لاسته راځي:

3D ⟶ isometric ⟶ rectangle ⟶ D ⟵ (4) (3) ⟵ ⟵
Ext ⟵ select object to extrude ⟶ specify height (5) ⟵



4 شکل: استوانه د 3D په حالت کې.



3 شکل: منشور د 3D په حالت کې.

3- د دریم جسم (استوانې) د رسمولو لپاره د 3D سیستم فعالوو او استوانه د ایزومتري په حال کې رسموو، یعنې لومړی د استوانې قاعده د Circle کماند له لارې رسموو او بیا د Extrude د عملیې په واسطه لوړوالی په مطلوبه اندازه ورکوو چې په عملي توګه په لاندې ډول لاسته راځي:

Circle + click on screen + specify centre and radius (3 units) ⟵
Extrude ⟵ s/ob ⟵ specify height (4 units) ⟵

چې په دې ترتیب قایم استوانه په ډک (Solid) حالت کې لاسته راځي، لکه په (5) شکل کې:



5 شکل: مرکب جسم د 3Dپه حالت کې

4- په څلورمه مرحله کې درې واړه پرزې سره يوځای کوو، يعنې په استوانې باندې منشور او په منشور باندې مخروط ته د مرکز (base point) په نظر کې نيولو سره قرار ورکوو. د ټول حجم د معلوملو لپاره لومړی بايد درې واړه پرزې سره يو (Union) شي چې ددې کار لپاره لاندې عمليه کوو:

Uni ↵ s/all objects ↵

اوس نوموړی جسم د يو واحد جسم په توګه ښکاري او په اسانۍ سره يې حجم معلومولای شو.

5- د نوموړي مرکب جسم د حجم معلومولو لپاره په لاندې توګه عمل کوو:

د حجم د پيدا کولو لپاره د لاندې کمانډونو څخه ګټه اخلو. (۸م۳۶)

د موضوع د حل لپاره 5 شکل د 3D په سيستم رسموو او بيا يې د 3D په سيستم د کمانډونو په واسطه په لاندې توګه عمل کوو: (۲م۹۱)، (۳مم۲۸۲-۲۹۰)

Tools menu ⟶ inquiry ⟶ volume ↵
S/object clicks on edge of object.



6 شکل: مرکب جسم د 3Dپه حالت کې

کله چې 5 شکل د ايزومتري (3D) په ډک (Solid) حالت کې رسم کړو د ټول حجم د معلومولو په اسانۍ سره دارنګه عمل کوو، د Tools د ټولز مينو له لارې inquiry په مينو کې حجم Volume ته ځو او د هغه ځای څخه د Volume حجم کماند اخلو او انټر کوو يې، له انټر څخه وروسته کمپيوټر وايي چې د اړتيا وړ ابجکټ Object يعنې جسم باندې کليک وکړه او له کليک څخه وروسته يو مينو خلاصېږي چې په دې مينو کې ټول هغه د ضرورت وړ پارامترونه لکه اوږدوالی، مساحت، حجم، او نور په کې موجود دي چې په يوه پارامتر باندې کليک وکړو، په اتومات ډول د اړتيا وړ پارامتر محاسبه رابښيي.

د رياضي او کمپيوټري محاسبو ځانګړتياوې او نيمګړتياوې:

په ساختماني او تخنيکي توليداتي چارو کې د اوږدوالي، مساحتونو، حجمونو، مقاومتونو او نورو پارامترونو پيدا کول ډېر اړين دي، لکه څنګه چې رياضي د ټولو ساينسي علومو اساس تشکيلوي، نو د ساده اجسامو حجمونه د رياضي د فرمولونو په مرسته په اسانۍ سره محاسبه کېږي، يعنې په هغه صورت کې چې ساده هندسي منظم اجسام وي او که چېرې يو جسم د څو پرزو څخه جوړ شوی وي، د هغه د پارامترونو (د حجم) د پيدا کونې لپاره په لومړي سر کې د نومړي جسم په ساده اجسامو (عناصرو) باندې ويشو او د هر يو جسم حجم جلا جلا معلوموو او بيا يې سره جمع کوو، لکه IV فرمول کې. له لومړي شکل څخه معلومېږي چې نومړی جسم په خپلو اجزاوو يعنې ساده جسمونو منشور، مخروط او قايمه استوانه ويشل شوی دی او بيا د هر يو حجم معلوم او سره جمع شوی دی چې V لاسته راغلی دی. لکه څنګه چې نننۍ عصري تکنالوژي او تخنيک ورځ په ورځ پرمختګ کوي او نوې برياوې ترلاسه کېږي او کمپيوټري محاسبات منځته راځي، نو د Autodesk کمپنۍ د محاسباتو د حل لپاره د Auto CAD په نوم يو سافټوير منځته راوړی چې د کمپيوټر په مرسته کار کوي او هر ډول ستونزمنې محاسبې په چټکه، شفافه، اسانه او دقيق ډول سره ترسره کوي او د محاسبې څو مرحلې په يوه کماند کې ځوابوي؛ لکه په پورتني مثال کې پرته له دې چې نومړی جسم په خپلو اجزاوو وويشل شي، په يوځلې د يوه کماند په واسطه د ټول جسم حجم او يا نورو پارامترونه په دقيقه توګه لاسته راځي چې دا يو ستر پرمختګ دی چې نه د رياضي فرمولونو ته اړتيا شته او نه د حساب ماشين ته؛ پس ويلای شو چې کمپيوټري محاسبه ښه، چټکه، اسانه او دقيقه ده.

پايله:

له پورتنۍ څېړنې څخه معلومه شوه چې د هرې موضوع د څېړنې لپاره مختلفې لارې او ميتودونه وجود لري، خو موخه يوه ده. د ميتودونو پرتلنه د پرتله کوونکي لپاره دا امکان ورکوي چې څېړونکی هغه طريقه يا ميتود غوره کړي چې تر ټولو ښه وي، په لږ وخت، لږ مصرف، او لږو امکاناتو تر سره شي. همدا وجه ده چې په ټوله نړۍ کې نن سبا مسلکي کسان په خپلو توليداتي پروژو کې د وخت سپما، مصارفو مخنيوی، دقت، حساسيت او شفافيت په نظر کې نيولو سره کمپيوټري محاسبې ته مخه کړې او په دې برخه کې زياتې لاسته راوړنې لري چې البته دا ټولې لاسته راوړنې د رياضي له علم څخه پرته نه ترسره کېږي. له پورتنۍ څېړنې معلومېږي چې کمپيوټري محاسه چې د Auto Cad د سافټوير په مرسته ترسره کېږي، ښه، دقيقه، اسانه او چټکه طريقه ده.

وړانديزونه:

وړانديز کېږي چې له پورتنيو څېړنو څخه په ګټه اخستنې سره د ساختماني او توليداتي پروژو د عناصرو د محاسبې لپاره يو انجنير يا هر يو مسلکي شخص مخکې له هر څه بايد ځان په رياضي ښه پوه کړي، تر څو وکولای شي خپلې محاسبې کنترول کړي او د موضوع د چټک او دقيق حل لپاره په عصري تکنالوژۍ او کمپيوټري محاسبو ځان سمبال کړي، تر څو د نقشو په ډيزاين کولو او محاسبوي چارو کې ورته ستونزې رامنځته نه شي او د کارونو پايلې يې مثبتې وي.

Abstract:
Learning of math, physics and other subject of sciences is very important for advancement. Perhaps using of technology have more effects on produce, with this calculation can do very fast and precise, on the mentioned researching with the help of mathematics formulas we can find the volume and others parameters and also have the result, then the computing calculation have been done by the Auto CAD Software, at last we seen the result of computing calculation for volume was very keen and correct. To find the volume of every kind of arranged and disarranged we can take condensed from the Auto CAD Software. In every field using of computing calculation is very fast and keen method.

اخځليکونه:

۱. احمد شاه. (1387ل). په فضا کې د اجسامو جوړول- (دويمه برخه). کندهار
۲. ديدبان، محمد. (1388 ل). اټوکيډ 2010. تهران
۳. صادقی رفسنجانی، محمدرضا. (۱۳۹۰ل). رياضيات پايه. تهران
۴. غفوري، محمدانور. (۱۳۸۷ل). عمومي رياضي. کابل: اقرا خپرندويه موسسه

5- George B. Thomas J. (1992)Calculus and Analytic geometry 8th edition Wesley publishing New York.(p-g787).

6- Dygdon J .T.(1986) Technical drawing New York.

7- А.Ф.Кокошко(2009) основы начертательной геометрии Минск.

8- Э. К.Волошин Челпан(2009) начертательная геометрия-инж-ая графика Москва (cmr.36).

پوهنمـــل محمـــد زبير (نورمـــل)
اقتصاد پوهنځی- ملي اقتصاد څانګه

د انفلاسيون نسبت د اندازه ګيرۍ ميتودونه

لنډيز:
انفلاسيون چې يوه دوامداره اقتصادي منفي پديده ده، د خپل نسبت له پلوه په څلور ډوله د اندازه کولو وړ دی او د اقتصاد بحراني حالت کې ځانګړی مفهوم لري. انفلاسيون د نشر شويو او په دوران يا چلند کې موجودو پيسو د پېرودنې قدرت او د بهرنيو اسعارو په مقابل کې د تبادلې ټيټ ليست څخه نماينده ګي کوي؛ دا يو Rate يا نسبت Qw په موجود وخت کې د تېر وخت په پرتله کولو سره د فيصدي په واسطه ښودل کېږي يا د انفلاسيون نسبت هغه يو ډول شاخص او Index دی چې په مورد نظر زمان کې د پيسو د پېرودلو د توان سلنه او بدلون په ګوته کوي. د دغه نسبت لپاره معين ميتودونه شته، لکه د مولد قيمت شاخص يا (Producer price index) د مستهلک د قيمت شاخص يا (consumer price index) او د ملي ناخالص عايد ضريب. بناءً که چېرې په اقتصادي تحليلونو او د ثبات د ساتنې لپاره له دغه ميتود څخه کار واخيستل شي، د انفلاسيون نسبت او د شدت درجه به وټاکل شي. دغه منفي پديده په سرمايه ګزارۍ، د بانکونو له خوا د کريډيټونو په ورکړه، استخدام، د مستهلک د رجحاناتو، د مارکېټ په وضعيت او لنډه دا چې د اسعارو په ټولو برخو ناوړه اغېزه کوي.

سريزه:
انفلاسيون او د انفلاسيون نسبت خورا ارزښتناکه اقتصادي موضوع او پديده ده، دا ځکه چې د انفلاسيون له امله نه يوازې مستهلکين او مولدين ډېر سخت ځپل کېږي، بلکې ګڼ شمېر ټولنيزې ستونزې رامنځته او حکومت له مشکلاتو سره مخامخ کوي او د اقتصادي بحران يوه منفي علامه ده. د بېلګې په توګه مستهلکين نشي کولای چې خپل عايد د خپلو ضرورت وړ شيانو د اخستلو لپاره پوره کاندي، مولدين په توليد کې له ستونزو سره مخامخ کېږي، د دولت کړنې ګډوډېږي او بالاخره اقتصاد له رکودي حالت سره مخامخ کېږي. بنا پر دې اهميت او ارزښت په دغه مقاله کې د انفلاسيون مفهوم او ډولونه څېړل شوي او په اخر کې مو د انفلاسيون نسبت د اندازه ګيرۍ ميتودونو باندې رڼا اچولې ده.

د څېړنې موخې:

- په علمي توګه د انفلاسيون پېژندنه.
- د انفلاسيون د رامنځته کېدو عواملو پېژندنه.
- د انفلاسيون د منفي اغېزو پېژندنه.
- د انفلاسيون د تغير لپاره د حل لارو په ګوته کول.

د انفلاسيون پېژندنه:

انفلاسيون د قيمتونو په عمومي سطحه کې د لوړوالي په توګه تعريف شوی، خو دا لوړوالی بايد دوامداره وي، نه يو ځل او په ناڅاپي توګه، په بله وينا انفلاسيون يا پولي تورم هغه منفي پديده ده چې په دوامداره ډول د پيسو د خريد توان پکې له معمول او عادي حد څخه ټيټ وي. انفلاسيون يوه داسې مسئله ده چې له ډېرې مودې راهيسې وګړي ورسره لاس او ګرېوان دي، د انفلاسيون په وجه عام وګړي ډېر ځپل کېږي، ځکه چې د اجناسو او خدماتو د اخستنې قدرت او توان له لاسه ورکوي. د پيسو د حجم زياتوالي ته پولي تورم او د اجناسو او خدماتو د پېرېدلو په وړاندې د پيسو د ارزښت کمښت ته د پيسو د پېرېدلو د توان له لاسه ورکول هم وايي. انفلاسيون په خاص ډول سره په قرض ورکوونکو باندې ډېره بده اغېزه

غورځوي، ځکه کله چې دوی خپل په قرض ورکړشوې پيسې بېرته ترلاسه کوي، نو په هغې کې د خپل لومړني ارزښت په اندازه د اخستنې قدرت موجود نه وي. يو شمېر اقتصاد پوهانو انفلاسيون په لاندې ډولونو تعريف کړی دی:

۱- کرودر انفلاسيون داسې راپېژني: انفلاسيون هغه حالت دی چې د پيسې ارزښت پکې کم شي او ياهم په بل عبارت د اجناسو قيمتونه لوړ شي.

۲- کلبورن انفلاسيون داسې تعريفوي: انفلاسيون هغه حالت دی چې د ډېرو پيسو په واسطه لږ اجناس خريداري کېږي. په لنډه توګه د انفلاسيون مفهوم په لاندې ډول بيانولی شو:

۱. د قيمتونو په سطحه کې مسلسل زياتوالی د انفلاسيون په نامه يادېږي، که د ځينو اجناسو قيمتونه د يو ځل لپاره لوړ شي او دا لوړوالی په مسلسل ډول سره نه وي، نو انفلاسيون نه ګڼل کېږي.

۲. د قيمتونو په سطحه کې مسلسل زياتوالی د مجموعي تقاضا د زياتوالي په نتيجه کې رامنځته کېږي.

۳. د قيمتونو په سطحه کې لوړوالی د عرضې مقدار د کموالي له امله رامنځته کېږي. (۱)

د انفلاسيون د رامنځته کېدو لاملونه:

۱- د اجناسو او خدماتو تقاضا او د پيسو په عرضه کې زياتوالی: د انفلاسيون د رامنځته کېدو يو اساسي سبب د اجناسو او خدماتو د عرضې په نسبت د تقاضا زياتوالی دی، کله چې پانګه اچوونکو ته په دغه کاروبار کې د ګټې امکانات ښکاره شي، نو هغوی په خپلو توليداتو کې د زياتوالي کوښښ کوي؛ موجوده کارخانو کې د پراخوالي او د نوو کارخانو لپاره د خامو موادو، ماشين الاتو او د توليد نورو عواملو ته تقاضا زياتېږي چې له دې کبله د هغوی په قيمتونو کې زياتوالی راځي. پانګه اچوونکي ددغې تقاضا د پوره کولو لپاره د بانکونو څخه په قرض پيسې اخلي چې له دې امله د پيسو په عرضه کې زياتوالی راځي چې دغه زياتوالی هغه وخت نور هم زياتېږي، کله چې مرکزي بانک د کاروبار د پرخوالي لپاره په سود کې کموالی راولي چې په نتيجه کې شيانو او خدماتو ته تقاضا زياتېږي چې دا د قيمتونو د لوړوالي سبب ګرځي.

۲- د حکومت په مصارفو کې زياتوالی: د بوديجې د کمښت جبران کولو لپاره د نوو نوټونو چاپول او ياهم د بانکونو څخه د قرض اخستلو په صورت کې د اشياو او خدماتو په تقاضا او د پيسو په عرضه کې زياتوالی رامنځته کېږي، مګر د اجناسو او خدماتو عرضه د اجناسو او خدماتو د تقاضا او د پيسو د عرضې په نسبت کم وي چې په دغه حالت کې انفلاسيون زياتېږي او د حکومت په غيرتوليدي چارو کې مصارف زياتېږي، لکه په دفاعي چارو کې د مصارفو زياتوالی.

۳- احتکار: د انفلاسيون يو مهم عامل دی، ځکه چې محتکر په دې اميد چې په راتلونکي کې به د اجناسو قيمتونه لوړ شي، اجناس خريداري کوي او ذخيره کوي چې پدې ترتيب د اجناسو تقاضا نوره هم زياتېږي او قيمتونه ورسره لوړېږي.

۴- د توليد په مصارفو کې زياتوالی: کله چې د توليد په مصارفو کې زياتوالی د توليداتو قيمتونه زياتوي، نو د انفلاسيون سبب کېږي چې د لاندې علتونو په وجه توليد په مصارفو کې زياتوالی راځي:

A- په مزدونو کې زياتوالی

B- د خامو موادو قيمتونو کې زياتوالی

C- په ټيکسونو کې زياتوا لی

D- د ربح او تکتاني په نسبتونو کې زياتوالی

۵- ټولنيزې او ناڅاپي پېښې: د ټولنيزو حادثاتو په دوران کې لکه جنګونه، سيلابونه او زلزلو په نتيجه کې د اجناسو او خدماتو عرضه کمېږي او انفلاسيون سبب کېږي.

۶- د خلکو په مصارفو کې زياتوالی: کله چې د خلکو په مصارفو کې زياتوالی راشي، نو د پيسو په عرضه کې زياتوالی راځي او د انفلاسيون سبب شي.

۷- د نفوسو زياتوالی: کله چې په يو هېواد کې نفوس زيات شي، نو د هغې سره سم د شيانو او خدماتو په تقاضا کې په مسلسل ډول اضافه والی راځي، مګر د مصرفي اجناسو توليد د نفوسو د زيادت په نسبت نه زياتېږي چې په نتيجه کې قيمتونه لوړېږي او انفلاسيون رامنځته کېږي. (۵م۵۷)

د انفلاسيون ډولونه:

1- د تقاضا د فشار له امله انفلاسيون: دغه انفلاسيون هغه وخت رامنځته کېږي چې مجموعي تقاضا د عرضې څخه زياته شي. تقاضا د مختلفو وجوهاتو له امله زياتېدلی شي، مثلاً د نفوسو او د حکومت د مصارفو د زياتوالي په وجه د پيسو د عرضې د زياتوالي په وجه د ذوق بدلون، د عايد زياتوالی او داسې نور.

2- د توليدي لګښتونو د فشار له امله انفلاسيون: دا ډول انفلاسيون د توليد لګښت د زياتوالي له امله رامنځته کېږي، د مثال په ډول که چېرې د تېلو بيه اوچته شي، نو د ټولو هغو صنعتي فابريکو چې د توليد لګښت زياتېږي، د تيلو له انرژۍ ګټه اخلي چې په دې صورت کې دوی اړ کېږي چې يا توليد کم او يا د توليداتو قيمتونه لوړ کړي، يا دواړه اقدامات يوځای ترسره کړي. دغه انفلاسيون درې عمده علتونه لري:

a- که چېرته د کارګرانو اتحاديي منظمې وي، د قيمتونو د لوړوالي په وجه لوړ مزدونه غواړي چې ددې په نتيجه کې توليدي لګښت زياتېږي.

b- هغه لويې تصدۍ چې پر بازار اغېزه غورځولی شي، د خپلو ګټو د زياتوالي لپاره خپل لګښت لوړوي.

c- که په نړيواله کچه د خامو موادو په عرضه کې زياتوالی رامنځته شي او يا هم په قصدي ډول سره د يو جنس عرضه کمه شي، نو په دې صورت کې د جنس قيمت لوړېږي چې دا هم د توليدي مصارفو د لوړوالي سبب ګرځي، لکه انرژي.

3- ساختماني انفلاسيون: د تقاضا د زياتوالي او يا د مصارفو د زياتوالي انفلاسيون څخه علاوه پروفيسور چارلز شلټرز د ساختماني انفلاسيون نظريه هم وړاندې کړې ده. د نوموړي د نظريې مطابق دغه انفلاسيون هغه وخت منځته راځي چې په يو هېواد کې د داخلي تقاضا په جوړښت کې تغيرات رامنځته شي، نوموړی عالم وايي کله چې په هېواد کې په ځينو سکتورونو کې اجناسو ته تقاضا زياته شي، نو له دې سره سم په قيمتونو او مزدونو کې هم اضافه والی راځي، مګر برعکس په ځينو هغو سکتورونو کې چې اجناسو ته تقاضا کمه شي، نو ورسره قيمتونه او مزدونه نه کمېږي. ددې نظريې په اساس انفلاسيون ددې په وجه نه دی رامنځته شوی چې مجموعي تقاضا لوړه شوې، بلکې ددې په وجه انفلاسيون رامنځته شوی چې د مصرف کوونکو په ذوق کې ځينې تغيرات رامنځته شوي، نو له دې کبله مصرف کوونکي بعضې صنعتي اجناس زيات خوښوي او بعضې نه خوښوي. هغه اجناس چې تقاضا ورته کمه شوې، په قيمتونو کې د کموالي هېڅ ميلان نه ليدل کېږي او هغه صنعتي اجناس چې تقاضا ورته زياته شوې، ددې سره سم ددغو اجناسو قيمتونه او هم يې د توليدي وسايلو قيمتونه په موازي ډول لوړېږي او انفلاسيون رامنځته کېږي او دا انفلاسيون ددې په وجه رامنځته کېږي چې په بعضې سکتورونو کې اجناسو ته په تقاضا کې ځينې بدلونونه رامنځته شوي.

4- د پيسو د حجم زياتوالي انفلاسيون: که په يو هېواد کې د پيسو د مقدار زياتوالي (تورم) په وجه په مسلسل ډول سره په قيمتونو کې هم زياتوالی راشي، نو دغه ډول انفلاسيون ته پولي انفلاسيون ويل کېږي.

5- د اعتباري پيسو انفلاسيون: که په يو هېواد کې د بانکونو د زياتو قرضونو د ورکولو په وجه انفلاسيون رامنځته شي، نو دغه ډول انفلاسيون ته د اعتباري پيسو انفلاسيون ويل کېږي.

6- د بوديجې د کسر په وجه رامنځته کېدونکی انفلاسيون: اکثره وختونه کله چې د حکومت په بوديجه کې کسر رامنځته شي، په دې معنی چې عوايد يې نظر مصارفو ته کم شي، نو په دې صورت کې حکومت د بوديجې د کسر د پوره کولو لپاره نوي بانکنوټونه چاپوي چې په دې سره تقاضا زياتېږي او د انفلاسيون د رامنځته کېدو سبب ګرځي. (۵م،۲۵)

7- پرانيستی يا ازاد انفلاسيون: که چېرته په قيمتونو کې په مسلسل ډول نامحدود اضافه والی رامنځته شي او ددې د مخنيوي لپاره وسايل پکار وانچول شي، نو له دې امله چې کوم انفلاسيون رامنځته کېږي، دېته پرانيستی انفلاسيون ويل کېږي. د پروفيسور ملتن فريډمن له نظره پرانيستی انفلاسيون هغه وخت ښکاره کېږي، کله چې قيمتونه پرته له کوم مانع يا د حکومت د فشار او يا د قيمتونو د کنترول څخه اضافه کېږي.

8- خفيف انفلاسيون: که په يو هېواد کې په قيمتونو کې ورو-ورو اضافوالی راشي، نو دېته خفيف انفلاسيون ويل کېږي.

9- شديد انفلاسيون: کله چې په يو هېواد کې په ډېر سرعت سره په قيمتونو کې اضافه والی راشي، نو دې ته شديد انفلاسيون ويل کېږي چې دغه انفلاسيون د جنګ او نورو غيرمترقبه پېښو څخه ورسته رامنځته کېږي چې ددغه

انفلاسيون په نتيجه کې عايد او پانګه اچونه کمېږي چې په دې صورت کې خلک د خپل ملک په پولي واحد اعتبار نه کوي، احتکار او تور بازار وده کوي، د ټاکلي عايد خاوندان سخت متاثره کېږي، د دولت په ويش کې بې عدالتي خپلې لوړې کچې ته رسېږي؛ اجتماعي جرايم لکه غلا، رشوت او نور ډېرېږي، همدارنګه د مزدورانو او مالکانو ترمنځ هم جنجالونه زياتېږي. شديد او ګړندی انفلاسيون په فيصدی سره ښودل کېږي، مثلاً د څلوېښتمې لسيزې په جريان کې په آلمان کې واقع شوی انفلاسيون او ډېر ګړندی انفلاسيون به وروسته توضيح شي.

د نسبت له نظره د انفلاسيون اقسام:

۱- خاپوړې کوونکی انفلاسيون (Creeping Inflation): دا هغه ډول انفلاسيون دی په کوم کې چې د انفلاسيون نرخ د دوه فيصده پورې پورته شي؛ دا ډول نسبت تر ټولو نورو ډولونو ټيټ دی.

۲- قدم وهونکی انفلاسيون (Walking Inflation): دا هغه ډول انفلاسيون دی چې د انفلاسيون نرخ په کې د دوه نه تر پنځه فيصده پورې پورته شي.

۳- منډه وهونکی انفلاسيون (Running Inflation): دا هغه ډول انفلا سيون دی چې د انفلاسيون نرخ په کې د ۸٪تر ۱۰٪ پورې پورته شي.

۴- شديد انفلاسيون (Hyper Inflation): دا هغه ډول انفلاسيون دی چې د انفلاسيون نرخ په کې۱۰٪ يا له دې نه هم زيا ت وي. (۵م۲۲)

د انفلاسيون اغېزې:

۱- پر توليد د انفلاسيون اغېزه: د کېنزيانو په نظر که اقتصاد په خپل کامل ظرفيت سره کار نه وي کړی او بېکاره عوامل موجود وي، نو انفلاسيون په توليد کې د زياتوالي سبب هم ګرځي، ځکه چې د پيسو رشد د قيمت لرونکو اشياوو د زياتوالي سبب ګرځي او د سود نسبت يا فيصدي کمېږي، ددې په اغېز د پانګې اچونې لپاره تقاضا زياتېږي، عايد او مجموعي مصرف لوړېږي او اقتصاد د تعادل په يوه لوړه سطحه کې قرار نيسي. مګر ددې وضعې ادامه ساختماني مشکلات رامنځته کوي، د توليد ځينې عوامل کم يافته کېږي او د هغې قيمتونه په چټکۍ سره زياتوالی مومي چې دغه زياتېدنه د زيات انفلاسيون سبب ګرځي چې د سود نرخ او مزدونه لوړوي چې د انفلاسيوني او په اقتصاد باندې د متصديانو او مصرف کوونکو د عدم اعتماد سبب ګرځي او د رکود لاره شروع کېږي. د پيسو کمېدل او د پيسو د مقدار زياتوالی انفلاسيون نور هم زياتوي چې په نتيجه کې توليد کموي او استخدام ټيټوي.

۲- پر استخدام د انفلاسيون اغېزه: کله چې انفلاسيون دوامداره شي پر استخدام د هغې منفي اغېز داسې دی لکه څرنګه چې د توليد په کموالي باندې د هغې اغېز دی. که چېرې استخدام د کامل استخدام مرحلې ته نژدې وي، نو د پيسو د مقدار زياتېدل قيمتونه د استخدام په پرتله زيات لوړوي. د پانګې اچونې کموالی، احتکار زياتېدل او د غيرمنقولو اجناسو اخيستل ټول يو د بل سره لاس يو کوي او د استخدام د کموالي سبب ګرځي.

۳- پر ثروت د انفلاسيون اغېزه: داسې ويل کېږي چې انفلاسيون شتمن لاپسې شتمن کوي او خصوصاً هغه کسان چې احتکاري فعاليتونه سرته رسوي. څرنګه چې د پيسې ارزښت د زېرمه يا پس انداز په حيث او په شديدو حالاتو کې خپله دنده د حسابي واحد په توګه نشي اجرا کولی (په اجناسو کې تېښته صورت نيسي). هر څوک غواړي چې کم ارزښته کېدونکې پيسې زر ترزره مصرف کړي او په اجناسو يې تبديلي کړي چې په دې سره د اجناسو قيمتونه ورځ په ورځ لوړېږي او انفلاسيون نور هم زياتېږي. شتمن زياتره غير منقول اجناس لکه کورونه، ښاري ځمکې او داسې نور خريداري کوي چې ددغې اجناسو قيمتونه په چټکۍ سره زياتوالی مومي.

۴- د عايد پر ويش يې اغېزه: انفلاسيون په اقتصاد کې د عايد ويش ته بدلون ورکوي، اما دا بدلون په دې ترتيب نه دی لکه څرنګه چې اقتصادي پاليسي جوړوونکي توقع کوي، څرنګه راتلونکې پيسې نظر اوسنيو پيسو ته کم ارزښت لري، نو په دې اساس د داين او مديون رابطه د مديون په ګټه تغير خوري، په داسې حال کې چې داينين اکثره عام خلک وي او متضرر کېږي، ځکه چې هغوی باارزښته پيسې په قرض ورکوي او کم ارزښته پيسې ترلاسه کوي. همدارنګه پس انداز کوونکي هم متضرر کېږي، ځکه چې اوس يې پس انداز کم ارزښت لري او ياهم کم اجناس خريداري کولی شي؛ همدارنګه متقاعدين او

هغه خلک چې ثابت عايد ولري متضرر کېږي، ځکه چې عايد يې د اخيستلو قدرت بايللی. له بلې خوا هغه خلک چې احتکاري فعاليتونه کوي زياته ګټه ترلاسه کوي، حکومت چې لوی مديون دی، د ټولو څخه زياته ګټه کوي چې په دې توګه اجتماعي عدالت له منځه ځي.

۵- پر پس انداز د انفلاسيون اغېزه: که چېرته خلک په نغد ډول خپلې پيسې وساتي د انفلاسيون له امله تاواني کېږي او د پيسو د ارزش د کموالي په وجه د هغوی شتمني کموالی مومي او په مجموع کې د پيسو واقعي ارزښت کمېږي، په همدې خاطر خلک خپلې نغدې پيسې په هغو شيانو تبادله کوي چې د قيمتونو د لوړوالي په مقابل کې مقاوم وي.

۶- پر اقتصادي ثبات د انفلاسيون اغېزه: په عام ډول سره داسې ويل کېږي چې که چېرته د قيمتونو په سطحه کې په ورو ورو ډول زياتوالی راشي، دغه حالت د متشبثينو د تشويق سبب ګرځي، ځکه په دې حالت کې د ګټې په مقدار کې زياتوالی راځي چې دغه ګټه دوباره په کار اچول کېږي چې ددې په وسيله په کار او عوايدو کې زياتوالی راځي؛ خو که چېرته په يو ملک کې د قيمتونو په سطحه کې په پرله پسې او ګړندي ډول زياتوالی راشي او يا هم د قيمتونو په زياتوالي کې کوم کنترول وجود ونلري، نو دغه حالت د کاروباري افرادو، پانګه اچوونکو او حکومت لپاره د تشويق وړ دی. په قيمتونو کې د ډېر زياتوالي په وجه پانګه اچوونکي خپل ترجيحات بدلوي، وسايل د غيرتوليدي سکتورونو طرف ته سوق کېږي او په تقاضا کې کموالی راځي چې دا حالت په اقتصادي ثبات منفي اغېز کوي.

۷- پر اقتصادي پرمختګ د انفلاسيون اغېزه: که په يو هېواد کې حقيقي ملي عايد د يوې اوږدې مودې لپاره مخ په زياتېدو وي، دې حالت ته اقتصادي وده ويل کېږي. وروسته پاتې هېوادونه زر ترزره ترقي حاصلول غواړي، ليکن دوی سره مالي وسايل په کافي اندازه وجود نلري، ځکه اقتصادي وده د اضافي ارزش او پس انداز په اساس ممکن کېدای شي. زيات اقتصادپوهان لکه ارترليوس داسې باور لري چې وروسته پاتې هېوادونه د تمويل د رامنځته کېدو په وسيله د پانګې اچونې رفتار تېزولی شي او که دغه حالت په ملي عايد کې د اجرينو برخه لوړه شي، نو د پس انداز عمل شروع کېږي چې ددې په واسطه اقتصادي پرمختګ ممکن کېدای شي، ليکن انفلاسيون په اقتصادي ترقۍ منفي اغېز غورځوي او د انفلاسيون په وجه د خلکو د خريد قوت راټيټېږي او همدارنګه انفلاسيوني شرايطو کې د پس اندازونو تشويق کېږي چې په نتيجه کې په پانګه اچونه باندې منفي اغېز کوي چې د پانګې اچونې د کموالي په وجه د عايداتو او توليداتو په اندازه کې کموالی راځي او د اقتصادي ترقۍ هدف نشي حاصلېدی، ددې څخه علاوه داسې هم ويل کېږي چې د اقتصادي ودې لپاره يوازې مالياتضرور ندي، بلکې د طبيعي منابعو، تکنالوژۍ، کارګرانو او نورو څخه هم بايد صحيح استفاده وشي، اقتصادي ترقي او انفلاسيون دواړه د ياغي اسونو په څېر وي چې په يو وخت کې د يو کس له خوا نشي کنترول کېدی.

۷- پر مزد د انفلاسيون اغېزه: د انفلاسيون په وخت کې د اجناسو قيمتونه زياتېږي، نو کارګران زيات مزد غواړي او مزد هم زياتېږي.

۸- پر ټولنه يې اغېزه: انفلاسيون او پولي تورم په ټولنه ډېرې بدې اغېزې لري. انفلاسيون په ټولنه کې د فقر د زياتوالي، بې سوادۍ زياتوالي، د عايد غيرعادلانه ويش، د جرمونو او شخړو د رامنځته کېدو باعث ګرځي. (۲م۱۴۵)

اوس چې د انفلاسيون په ډولونو او مفهوم باندې پوه شو، راځو دې ته چې د انفلاسيون نسبت څه شی دی او څنګه اندازه کېږي:

د انفلاسيون نسبت (Inflation rate): د تېرې دورې څخه د قيمت په شاخص کې د تغيراتو سلنه عبارت ده له انفلاسيون نرخ څخه، چې فرمول يې دا دی:

$$\text{inflation rate} = \frac{P_0 - P_{-1}}{P_{-1}} \times 100\%$$

يا:

$$Inflation\ rate = \frac{Current\ Period\ Price\ Index - Preciding\ Period\ Price\ Index}{Preciding\ Period\ Price\ Index} \times 100$$

د انفلاسيون نسبت د اندازه گيرۍ ميتودونه: لکه څرنگه چې پوهېږو انفلاسيون د بيو په عمومي سطحه کې پرله پسې لوړوالی دی، نو ځکه لومړی بايد د قيمت عمومي سطحه په يو ټاکلي وخت کې د قيمت يو شاخص د رامنځته کولو په ذريعه مشخص کړو او وروسته له هغې څخه د نومورې شاخص په مرسته د انفلاسيون نسبت معلوم کړو. د قيمت عمومي سطحې مشخصولو لپاره درې عمده شاخصونه يا ميتودونه وجود لري چې عبارت دي له:

۱- PPI (د مولد د قيمت شاخص) ۲- CPI (د مستهلک د قيمت شاخص) ۳- GDP deflator (د ملي ناخالص عايد ضريب). (۳)

CPI-1 (Consumer Price Index) يا د مستهلک د قيمت شاخص: دا شاخص د هغه ټاکلي مقدار استهلاکي شيانو او خدماتو قيمتونه چې د يو عادي مستهلک په واسطه په مصرف رسېږي، ټاکي. دغه شاخص په هره مياشت کې د مرکزي احصايې په واسطه سنجش او نشر ته سپارل کېږي او بيا د همدغې شاخص په مرسته د انفلاسيون نسبت سنجول کېږي.

د (CPI) سنجش طريقه: لکه څرنگه چې مخکې مو وويل چې دغه شاخص د ټاکليو شيانو او خدماتو قيمتونه ټاکي چې دغه ټاکلي مقدار ته (Market Basket) ويل کېږي. په دغه ټاکلي مقدار (Market Basket) کې ثقلت ورکړل شوي اجناسو او خدماتو قيمتونه مد نظر نيول کېږي او بيا د هغې له مخې د قيمتونو عمومي سطحه او د انفلاسيون نرخ سنجول کېږي، لکه په لاندې مثالونو کې:

لومړی مثال: په دغه مثال کې مونږ د دوو اجناسو (مالټه او منه) ټاکلی مقدار په ټاکليو کلونو (۲۰۰۳، ۲۰۰۴، ۲۰۰۵) کې مد نظر نيولی:

لومړی مرحله: د اجناسو ټاکلی مقدار (FIXED BASKET OF GOODS) (۴ منې او ۲ مالټې)		
ويمه مرحله: په هر کال کې د هر جنس قيمت پيدا کول		
د مالټو قيمت ($)	د منو قيمت ($)	کلونه
۲	۱	۲۰۰۳
۳	۲	۲۰۰۴
۴	۳	۲۰۰۵
دريمه مرحله: په هر کال کې د ټاکل شوي مقدار مجموعي مصرف ټاکل		
د ټاکل شوي مقدار مجموعي مصرف		کلونه
(1$ Per apple x 4 apples)+(2$ per apple x 2 Oranges) = 8$		۲۰۰۳
(2$ Per apple x 4 apples)+(3$ per apple x 2 Oranges) = 14$		۲۰۰۴
(3$ Per apple x 4 apples)+(4$ per apple x 2 Oranges) = 20$		۲۰۰۵
څلورمه مرحله: د پورتنيو کلونو څخه يو کال د اساس کال په توگه ټاکل او د هغې پر بناء د مستهلک قيمت شاخص معلومول اساس کال: ۲۰۰۳		
د مستهلک قيمت شاخص		کلونه
(8$/8$) x 100 = 100		۲۰۰۳
(14$/8$) x 100 = 175		۲۰۰۴
(20$/8$) x 100 = 250		۲۰۰۴
نځمه مرحله: د مستهلک قيمت شاخص څخه په استفادې سره د تېر کال په پرتله د انفلاسيون نسبت معلومول		
د انفلاسيون نسبت		کلونه
(175-100) / 100 x 100 = 75%		۲۰۰۴
(250-175) / 175 x 100 = 43%		۲۰۰۵

دويم مثال: په دغه مثال کې هم مونږ د دوو اجناسو (بوره، غوړي) ټاکلی مقدار په ټاکليو کلونو (۲۰۰۷، ۲۰۰۸، ۲۰۰۹) کې مدنظر نيولی:

لومړۍ مرحله: د اجناسو ټاکلی مقدار (FIXED BASKET OF GOODS) (۱۰ کیلو وړه او ۵ لیتره پطرول)		
دویمه مرحله: په هر کال کې د هر جنس قیمت پیدا کول		
د پطرول قیمت ($)	د وړو قیمت ($)	کلونه
۱۰	۵	۲۰۰۷
۲۰	۱۰	۲۰۰۸
۳۰	۱۵	۲۰۰۹
دریمه مرحله: په هر کال کې د ټاکل شوي مقدار مجموعي مصرف ټاکل		
د ټاکل شوي مقدار مجموعي مصرف		کلونه
(5$ Per Kg x 10 Kg Flour)+(10$ per Lit x 5 Lit Pet) = 100$		۲۰۰۷
(10$ Per Kg x 10 Kg Flour)+(20$ per Lit x 5 Lit Pet) = 200$		۲۰۰۸
(15$Per Kg x 10 Kg Flour)+(30$ per Lit x 5 Lit Pet) =300$		۲۰۰۹
څلورمه مرحله: د پورتنیو کلونو څخه یو کال د اساس کال په توګه ټاکل او د هغې پر بنا د مستهلک قیمت شاخص معلومول اساس کال: ۲۰۰۷		
د مستهلک قیمت شاخص		کلونه
(100$/100$) x 100 = 100		۲۰۰۷
(200$/100$) x 100 = 200		۲۰۰۸
(300$/100$) x 100 = 300		۲۰۰۹
پنځمه مرحله: د مستهلک قیمت شاخص څخه په استفادې سره د تېر کال په پرتله د انفلاسیون نسبت معلول		
د انفلاسیون نسبت		کلونه
(200-100) / 100 x 100 = 100%		۲۰۰۸
(300-200) / 200 x 100 = 50%		۲۰۰۹

دریم مثال: په دغه مثال کې هم مونږ د دوو اجناسو (وړه، پطرول) ټاکلی مقدار په ټاکلیو کلونو (۲۰۰۷،۲۰۰۸،۲۰۰۹) کې مدنظر نیولی:

لومړۍ مرحله: د اجناسو ټاکلی مقدار (FIXED BASKET OF GOODS) (۱۰ کیلو وړه او ۵ لیتره پطرول)		
دویمه مرحله: په هر کال کې د هر جنس قیمت پیدا کول		
د پطرول قیمت ($)	د وړو قیمت ($)	کلونه
۱۰	۵	۲۰۰۷
۲۰	۱۰	۲۰۰۸
۳۰	۱۵	۲۰۰۹
دریمه مرحله: په هر کال کې د ټاکل شوي مقدار مجموعي مصرف ټاکل		
د ټاکل شوي مقدار مجموعي مصرف		کلونه
(5$ Per Kg x 10 Kg Flour)+(10$ per Lit x 5 Lit Pet) = 100$		۲۰۰۷
(10$ Per Kg x 10 Kg Flour)+(20$ per Lit x 5 Lit Pet) = 200$		۲۰۰۸
(15$Per Kg x 10 Kg Flour)+(30$ per Lit x 5 Lit Pet) =300$		۲۰۰۹
څلورمه مرحله: د پورتنیو کلونو څخه یو کال د اساس کال په توګه ټاکل او د هغې پر بنا د مستهلک قیمت شاخص معلومول اساس کال: ۲۰۰۷		
د مستهلک قیمت شاخص		کلونه
(100$/100$) x 100 = 100		۲۰۰۷
(200$/100$) x 100 = 200		۲۰۰۸
(300$/100$) x 100 = 300		۲۰۰۹
پنځمه مرحله: د مستهلک قیمت شاخص څخه په استفادې سره د تېر کال په پرتله د انفلاسیون نسبت معلول		
د انفلاسیون نسبت		کلونه
(200-100) / 100 x 100 = 100%		۲۰۰۸
(300-200) / 200 x 100 = 50%		۲۰۰۹

د لومړي مثال د مراحلو تشریح:

۱- لومړۍ مرحله (د اجناسو ټاکلی مقدار ټاکل): د مستهلک قيمت شاخص سنجولو لپاره لومړي قدم يا مرحله کې د اجناسو ټاکلی مقدار تعينېږي، په تېره بيا هغه اجناس چې د يو عادي مستهلک لپاره ډېر ضروري وي؛ دا په دې مانا چې لومړي قدم کې هغه قيمتونه مشخص کېږي چې د يو عادي مستهلک لپاره ډېر ضروري وي، د پورتني مثال د ارقامو پر بنا که چېرې مستهلک نسبت مالتو ته ډېرې منې واخلي، نو د منو قيمتونه نسبت د مالتو قيمتونو ته ډېر ضروري دي او د مستهلک قيمت شاخص سنجولو کې بايد ډېر ثقلت ورته ورکړل شي. د هر هېواد د مرکزي احصايې اداره دغه ثقلتونه د مستهلکونو د سروې ګانو پر بنا تعينوي او د اجناسو او خدماتو هغه ټاکلی مقدار پيدا کوي چې د يو عادي مستهلک په واسطه اخيستل کېږي، لکه د پورته مثال په شان چې يو عادي مستهلک د څلورو منو او دوه مالتو ټاکلی مقدار اخستی دی.

۲- دويمه مرحله (د قيمتونو پيدا کول): په دويم قدم کې د ټاکل شويو اجناسو قيمتونه د ټاکليو وختونو لپاره تعينېږي، يعنې کوم کلونه چې مدنظر نيول شوي، په هر يوه کې د هر ټاکل شوي جنس او خدمت قيمت تعينېږي.

۳- درېمه مرحله (د ټاکل شوي مقدار مجموعي مصرف سنجول): په درېمه مرحله کې د ټاکل شوي مقدار مجموعي مصرف سنجول کېږي، يعنې د هرې ټاکلې دورې لپاره د هغې دورې د اجناسو قيمت ضرب د هغوی د مقدار او بيا د حاصل جمع کول، لکه پورتني جدول کې درېمه مرحله.

۴- څلورمه مرحله (د اساس کال ټاکل او د شاخص سنجش): په څلورمه مرحله کې يو کال د اساس کال په توګه ټاکل کېږي او د هغې له مخې د هر کال لپاره شاخصونه سنجول کېږي.

۵- پنځمه مرحله (د انفلاسيون نرخ سنجول): په پنځمه يا نهايي مرحله کې د تېرکال په پرتله د انفلاسيون نرخ سنجول کېږي.

۲-PPI (Producer Price index) (د مولد د قيمت شاخص): دا هم د CPI په شان يو شاخص دی، خو دا شاخص د مستهلک په ځای مولد مدنظر نيسي، يا د هغو اجناسو او خدماتو قيمتونه اندازه کوي چې د مولد په واسطه اخيستل کېږي. ددې شاخص د سنجش ميتود هم د پورتني شاخص په شان دی، صرف په (Basket) کې د اجناسو ډول توپير کوي، يعنې په CPI کې نهايي اجناس وو، خو په دې کې نيمه کاره يا خام مواد وي. ددې مېتود څخه ډېر زياته استفاده نه کېږي، ځکه چې د خامو موادو نرخونه او په هغې باندې مصارف په نهايي اجناسو کې منعکس کېږي. (۲م م۱۵۲-۱۵۴)

۳- GDP Deflator (د ملي ناخالص عايد ضريب): لکه د پورتنيو شاخصونو په شان د GPD Deflator هم يو شاخص دی، ددې په ذريعه هم د قيمتونو عمومي سطحه او انفلاسيون درجه اندازه ګيري کېږي، خو دا شاخص مولد او مستهلک نه، بلکې مجموعي توليد يا ملي عايد مدنظر نيسي، يعنې دا شاخص د مجموعي توليد د قيمت سطحې شاخص دی چې د اسمي او حقيقي ملي ناخالص عايد د نسبت ضرب سل څخه لاسته راځي. (۳م۵۰۳)

اوس راځو دېته چې اسمي او حقيقي ناخالص ملي عايد څه شی دی:

اسمي ناخالص ملي عايد: هغه ملي عايد دی چې د موجوده قيمتونو پر بنا سنجش شي.

حقيقي ناخالص ملي عايد: هغه ملي عايد دی چې نظر د يوه ثابت (د اساس کال) قيمتونو پر بنا سنجش شي. د ملي ناخالص عايد ضريب، اسمي او حقيقي ناخالص ملي عايد او په نهايت کې د انفلاسيون نرخ د سنجولو لپاره لاندې مثالونه په نظر نيسو (۲م۱۴۳):

لومړی مثال: په دې مثال کې دوه اجناس (مالتې او منې) مدنظر نيول شوي:

قيمتونه او مقدارونه				
د منو مقدار	د منو قيمت	د مالتو مقدار	د مالتو قيمت	کلونه
50 unite	2$	100 unite	1$	۲۰۰۳
100 unite	3$	150 unite	2$	۲۰۰۴
150 unite	4$	200 unite	3$	۲۰۰۵
د اسمي ملي ناخالص عايد سنجش				کلونه

۲۰۰۳	(1$ x 100 Oranges)+(2$ x 50 Apples) = 200 $
۲۰۰۴	(2$ x 150 Oranges)+(3$ x 100 Apples) = 600 $
۲۰۰۵	(3$ x 200 Oranges)+(4$ x 150 Apples) = 1200 $
کلونه	(۲۰۰۳ اساس) د حقيقي ناخالص ملي عايد سنجش
۲۰۰۳	(1$ x 100 Oranges)+(2$ x 50 Apples) = 200 $
۲۰۰۴	(1$ x 150 Oranges)+(2$ x 100 Apples) = 350 $
۲۰۰۵	(1$ x 200 Oranges)+(2$ x 150 Apples) = 500 $
کلونه	ناخالص ملي عايد ضريب سنجش GDP Deflator = (Nominal GDP/Real GDP) x 100
۲۰۰۳	(200$/200$) x 100 = 100
۲۰۰۴	(600$/350$) x 100 = 171
۲۰۰۵	(1200$/500) x 100 = 240
کلونه	د انفلاسيون نسبت سنجش
۲۰۰۴	(171-100)/100 x 100 = 71%
۲۰۰۵	(240-171)/171 x 100 = 40%

دويم مثال: په دې مثال کې هم دوه اجناس (بوره او غوړي) مدنظر نيول شوي:

قيمتونه او مقدارونه				
د غوړيو مقدار	د غوړيو قيمت	د بورې مقدار	د بورې قيمت	کلونه
100 Cans	8$	150 Kg	2$	۲۰۰۷
150 Cans	10$	200 Kg	4$	۲۰۰۸
200 Cans	12$	250 Kg	6$	۲۰۰۹
د اسمي ملي ناخالص عايد سنجش				کلونه
(2$ x 150 Kg Sugar)+(8$ x 100 Cans Oil) = 1100 $				۲۰۰۷
(4$ x 200 Kg Sugar)+(10$ x 150 Cans Oil) = 2300 $				۲۰۰۸
(6$ x 250 Kg Sugar)+(12$ x 200 Cans Oil) = 3900 $				۲۰۰۹
(۲۰۰۷ اساس) د حقيقي ناخالص ملي عايد سنجش				کلونه
(2$ x 150 Kg Sugar)+(8$ x 100 Cans Oil) = 1100 $				۲۰۰۷
(2$ x 200 Kg Sugar)+(8$ x 150 Cans Oil) = 1600 $				۲۰۰۸
(2$ x 250 Kg Sugar)+(8$ x 200 Cans Oil) = 2100 $				۲۰۰۹
د ناخالص ملي عايد ضريب سنجش GDP Deflator = (Nominal GDP/Real GDP) x 100				کلونه
(1100$/1100$) x 100 = 100				۲۰۰۷
(2300$/1600$) x 100 = 144				۲۰۰۸
(3900$/2100) x 100 = 186				۲۰۰۹
د انفلاسيون نسبت سنجش				کلونه
(144-100)/100 x 100 = 44%				۲۰۰۸
(186-144)/144 x 100 = 29%				۲۰۰۹

درېيم مثال: په دې مثال کې هم دوه اجناس (وړه او پطرول) مدنظر نيول شوي:

قیمتونه او مقدارونه				
د پطرولو مقدار	د پطرولو قیمت	د وړو مقدار	د وړو قیمت	کلونه
100 Liters	10$	150 Kg	5$	۲۰۰۷
150 Liters	15$	200 Kg	10$	۲۰۰۸
200 Liters	12$	250 Kg	15$	۲۰۰۹
د اسمي ملي ناخالص عاید سنجش				کلونه
(5$ x 150 Kg Flour)+(10$ x 100 Lit Petrol) = 1750 $				۲۰۰۷
(10$ x 200 Kg Flour)+(15$ x 150 Lit Petrol) = 4250 $				۲۰۰۸
(15$ x 250 Kg Flour)+(20$ x 200 Lit Petrol) = 7750 $				۲۰۰۹
(۲۰۰۷ اساس) د حقیقي ناخالص ملي عاید سنجش				کلونه
(5$ x 150 Kg Flour)+(10$ x 100 Lit Petrol) = 1750 $				۲۰۰۷
(5$ x 200 Kg Flour)+(10$ x 150 Lit Petrol) = 2500 $				۲۰۰۸
(5$ x 250 Kg Flour)+(10$ x 200 Lit Petrol) = 3250 $				۲۰۰۹
د ناخالص ملي عاید ضریب سنجش GDP Deflator = (Nominal GDP/Real GDP) x 100				کلونه
(1750$/1750$) x 100 = 100				۲۰۰۷
(4250$/2500$) x 100 = 170				۲۰۰۸
(7750$/3250$) x 100 = 238				۲۰۰۹
د انفلاسیون نسبت سنجش				کلونه
(170-100)/100 x 100 = 70%				۲۰۰۸
(238-170)/170 x 100 = 40%				۲۰۰۹

پایله:

څرنګه چې د انفلاسیون عوامل زیات دي، مګر په زیاترو هېوادونو کې شدید انفلاسیون د داخلي او خارجي جنګونو، انقلابونو او سیاسي بې ثباتیو په وجه رامنځته کېږي، ځکه چې جنګونه او بحرانونه ددې سبب کېږي چې ددغو هېوادونو حکومتونه د جنګ لپاره خپل مصارف لوړ کړي؛ همدارنګه د جنګ او سیاسي ناارامۍ په دوران کې له یوې خوا ددغو هېوادونو تولیدات او صادرات کمېږي او له بلې خوا د حکومت عایداتي منابع (مالیات) هم کمېږي چې دا هم په بودیجه کې کسر رامنځته کوي چې د حکومت لپاره د بودیجې د کسر د پوره کولو اسانه لار د پیسو د مقدار ډېرول دي چې د پیسو په مقدارکې ددغه حد څخه ډېر زیاتوالی ددې سبب کېږي چې د مزدونو او قیمتونو په سطحه کې یو مجموعي تغیر راشي چې په نتیجه کې د پیسو د خرید قوت (ارزش) کمېږي. د اقتصادي ثبات د تولید د سطحې د دایمي انکشاف د عادلانه ویش د هدف د تحقق په خاطر باید په دوامدار ډول د انفلاسیون نسبت شاخص وسنجول شي، ددغه شاخص له مخې د پیسو د حجم کنترول، د پیسو د نشر پالیسي، د مارکېټ وضعیت او د استخدام او مزدونو تناسب او نور ټاکونکي فکتورونه به تر کنترول لاندې راشي. ضرور نه ده چې د دولت مداخله په بازار کې ناوړه اثرات پېښ کړي، بلکې مرکزي بانک د بانکونو مولدینو، تجار او مالیه آزادي موسسات ډېره ښه لارښوونه کولای شي.

وړاندیزونه:

۱- څرنګه چې سیاسي ثبات د یو هېواد پر ټولو برخو مثبت اثر کوي، نو د انفلاسیون د مخنیوي لپاره سیاسي ثبات یو اساسي عامل دی.

۲- په ملک کې دننه باید په بهرنیو پیسو راکړه ورکړه بنده شي.

۳- طبيعي منابع بايد استخراج او اعظمي استفاده ترې وشي، ترڅو اقتصادي خودکفايي رامنځته شي.
۴- حکومت بايد انحصار او احتکار له منځه يوسي او سالم رقابت تشويق کړي.
۵- حکومت بايد په داسې لويو پروژو کې پانګه اچونه تشويق کړي چې ډېر کارګران پکې استخدام شي، ترڅو چې د استخدام سطحه لوړه شي.
۶- حکومت بايد د امکان تر حده خپل غيرضروري او لوکس مصارف کم کړي، ترڅو په بودیجه کې کسر رامنځته نشي.
۷- حکومت بايد پرته له ضرورت څخه د زياتو پيسو د نشر مخنيوی وکړي.
۸- حکومت بايد د امکان تر حده صادرات زيات او واردات کم کړي.

Abstract:

Inflation is a rise in the general level of the price. It is a negative phenomenon in economy. Inflation effects on an economy are various and can simultaneously waste the fiscal assets. Inflation effect all goods and services over a period of time. When the prices level rises, each unit of currency buys fewer goods and services. Consequently inflation reflects a reduction in the purchasing power per unit of money (for example Afghani in our country). Achieve measure of price inflation is the inflation rate, the annualized percentage change in general price index over the time. These are some clear factor for inflation. The types of inflation are: creeping inflation, walking inflation, running inflation and hyper inflation. In this article we compare them. Inflation rate is the change in price index which is show by percentage. It is measurement indexes are: PPI (producer's Price index) CPI (consumer price index), GDP deflators. Some economists maintain that high rates of inflation and hyper inflation are caused by an excessive growth of the supply, while others take the view that under the conditions of liquidity large injections are pushing on a string and cannot cause significantly higher inflation. The inflation rate is widely calculated by calculating the movement or change in a price index usually the consumer price index. We are illustrating the methods of calculation in this article.

اخځليکونه:

۱. شبان، محمدانور. اسد ، محمدنعيم (۱۳۷۲). امکانات استفاده از تيوری و سياست پولی و بانکداری در افغانستان

2- Froyan, T. Richard, (2009) Macro Economics Theories and Policies 8th Edition

3- Colander Economics

4- Mishkin, S. Frederic (2001) The Economics Of Money Banking and Financial Markets Seventh Edition

5- Nasir, M.Saeed. (2011) Money Banking & Finance for B.com Part1, KITAB MARKAZ Aminpur Bazzar, Faisalabad.

6- Robin, E.Stonecash, Joshua. S.Gans, Stephan P. King, N.Gregory Mankiw. (2002) Principles of Macroeconomics, Second Edition

7- Vaseer, Habib ullah. (2011) Fundamentals of economics Part 2

۸. يو شمېر وګړو سره مخامخ مرکې او د پوښتنليکونو ځوابونه

پوهنمل دوکـــتور عبيدالرحمن (الکوزی)
شرعياتو پوهنځی- فقهې او قانون څانګـه

د مفقود احکام د اسلامي فقهې او قانون له نظره

لنډيز:

په دې څېړنيزه ليکنه کې چې د (د مفقود احکام د اسلامي فقهې او قانون له نظره) تر سرليک لاندې ليکل شوې، د مفقود پېژندنه، ضروري احکام، ورکېدو موده، د ښځې جداوالی، دده څخه ميراث، دده لپاره له بل څخه ميراث او د موضوع په اړه يو شمېر نور بېلابېل مسايل څېړل شوي دي.

سريزه:

دا چې ټولنيز ژوند د الله (ج) له طرفه يو لوی نعمت دی، بايد په ښه او سوکاله ژوند کې د الله (ج) شکر وويستل شي او هم يې عبادت په اخلاص سره وشي، مګر کله ځينې ناخوالې هم پېښېږي، هغه که په شعوري او يا غيرشعوري ډول وي چې يو د هغې څخه د مفقود مسئله ده. کله ناکله انسان د ځينو داسې مشکلاتو سره مخامخ کېږي چې تصور يې نه کېږي او دې ته اړ کېږي چې له خپله کوره ووځي او ټول کور او اهل بې سرنوشته پرېږدي او يا د دښمنانو له لوري وتښتول شي چې د مرګ او ژوند يې هېڅ معلومات نه کېږي او يا د ځينو سياسي حالاتو ښکار شي چې د نامعلومه بند په توګه په نامعلوم ځای کې د بندو دروازو تر شا ساتل کېږي او يا د جنګ له ميدانه ورک شي چې د مرګ او ژوند پته يې نه وي او يا د رواني او روحي امراضو له کبله داسې ورک شي چې هيڅ درک او پته يې نه وي؛ نو کله چې په داسې ډول او يا دې ته ورته ستونزې يو انسان ته پېښې شي، چې له يوه طرفه دده او دده د فاميل، اولادونو او نورو برخليک چې د نوموړي پورې اړه لري، په څه ډول فيصله شي. څرنګه چې د يادې ستونزې ډېرې بېلګې زمونږ په جګړه ځپلې ټولنه کې هم ليدل کېږي، نو د همدې اړتيا په بنا مې په دې موضوع کار وکړ.

موخې:

د اسلامي فقهې او قانون له نظره د مفقود پورې د اړوندو بېلابېلو مسايلو څېړل.
په اړونده برخه کې د مسلک خاوندانو، زده کوونکو او مينه والو ته د ګټورو معلوماتو وړاندې کول.

د مفقود تعريف:

مفقود په لغت کې د فقد فقدانا وفقودا څخه اخستل شوی دی چې په معنی د غاب عنه و عدمه افقد الشئ اعدمه اياه يعني غايب او ورک شويدی او يا فقده طلبه عند غيبه، تفاقد القوم فقد بعضهم بعضا؛ يعني يو شی غايب او ورک شي او يا د غيابت او ورکې مطالبه يې کوي او يا يو قوم کې يو د بل سره ورک شول يا غايب شول. (۵/ج۱م۵۸۹)

په اصطلاح کې مفقود هغه غايب شخص دی چې خبر يې قطع شوی وي، نه يې ژوند معلوم وي او نه يې مرګ او نه يې ځای معلوم وي او نه يې حال، نو داسې شخص مفقود او ورک ګڼل کېږي. (۳/ج۸م۴۱۹)

ځينې علماء وايي مفقود هغه څوک دی چې د ځان په هکله ژوندی او د بل په حق کې مړ دی، يعني دده مال به په نورو ورثه و نه ويشل کېږي او نه به يې ترېنه ښځې جلا کېږي، لکه چې په حقيقت کې ژوندی وي او له بله پلوه د مړي حکم پرې کېږي چې د بل چا څخه ميراث نشي اخستلای. (۲ج۲م۱۹۲)

مفقود پورې اړوند احکام: مفقود پورې درې ګوني احکام اړه لري:

- د مفقود موده او وخت چې په واسطه يې په مرګ او ژوند حکم او فيصله وشي.
- د مفقود د ښځې اړوند مسايل.
- د مفقود پاتې مال او دده ميراث د نورو نه او د نورو له دده څخه.

د مفقود موده (وخت): په دې اړه د علماوو مختلف نظريات دي:
احناف: په دې اړه د احنافو علماوو دوه نظرونه دي:
الف: د مفقود په مرګ به هله حکم کېدای شي چې تر څو د هغه هم مثله (هم سن) خلک په قريه او يا ښار کې ژوندي نه وي، بلکې ټول مړه وي، نو هله به دده په مرګ حکم کېږي. (۳ج۸م۴۲۵)
ب: محمدبن حسن الشيباني له امام ابوحنيفه نه نقل کوي چې دوی ورته (۱۲۰) کاله ټاکلي دي، مګر د وخت د ولادت څخه له ده څخه نقل دی چې يو سړی د صفين په جنګ کې ورک شوی ؤ -د حضرت علي (رض) په وخت کې- بيا امام ابوحنيفه دغه مسئله په داسې حال کې چې يو سل او شل کاله ورباندې تېر شوي وو، په مفقود يې د مرګ حکم ورکړ او مال يې تقسيم کړ. د امام محمد په نظر که سل کاله په مفقود تېر شول، نو بيا يې په مرګ حکم کولای شو. (۲ج۲م۱۸۷)
د امام ابو يوسف په نزد (۱۱۰) کاله او د مذهب فتوا په (۹۰) کاله ده او يا به د قاضي اجتهاد ته کتل کېږي. (۴م۱۳۷)
شوافع: شوافع علماء پدې اړه وايي چې ددې اندازه نشي معلومېدلای، مګر که دده هم سن خلک په ښار يا قريه کې پاتې نشي او ټول مړه شي، نو بيا يې حکم په مرګ کېدای شي. (۳ج۸م۴۲۰)
وروسته له دې څخه به قاضي پرې د مرګ حکم کوي او په همدې وخت کې که کوم ورثه ژوندي وي، نو متروکه مال به په همدوی تقسيمېږي او دا ځکه چې په مقاديرو کې قياس ته ضرورت نه وي، ترڅو پورې چې پکې نص نه وي راغلی، نو همدا سبب دی چې د همزولو او هم سن اشخاصو سره به يې پرتله کوو. (۲م م۱۳۸-۱۳۷)
د مفقود د ښځې پورې اړوند مسايل: دا چې د مفقود حالت معلوم ندی چې ايا مړ دی او که ژوندی؟ نو څنګه کېدای شي چې دغه ستونزه حل شي. د احنافو په نزد که داسې قضيه پيدا شي، نو بيا به دده په خپلوانو کې يو څوک د قاضي لخوا تعين شي، ترڅو ددغه مال ساتنه وکړي او د فاميل نفقه به له دې مال نه ورکول کېږي. حضرت علي (کرم الله وجهه) فرمايي: (دا يوه ښځه ده چې امتحان پرې کړای شوی دی، نو صبر دې وکړي، ترڅو مرګ د مفقود او يا طلاق ورکړی شي، تر هغې پورې به انتظار کوي). (۸ج۱م م۲۱۲-۲۱۳)
د مفقود اموال او متروکه: ټول علماء په دې متفق دي چې د مفقود مال به محفوظ وي او څوک به پکې تصرف نه کوي، نو په همدې اساس مفقود د مال د تقسيم په اساس ژوندی دی، يعنې مال يې نه ويشل کېږي، ترهغې وخته پورې چې شاهدان شاهدي ونه وايي چې فلانی مفقود مړ دی، نو بيا به يې مال د ورثه و ترمنځ تقسيمېږي او يا د وخت په تېرېدو د شرعي او قانوني دلايلو په رڼا کې د قاضي د حکم پر اساس يې په مړينه محکوم شوی وي، نو د همدې تاريخ نه به يې ورثه مال تقسيموي او که چېرې د شاهدانو د شاهدۍ پر اساس يې د مړينې تثبيت وشو، نو د همغې ورځې نه به مړ شمېرل کېږي او مال به يې له همدې نېټې څخه ترکه کېږي. که څوک د ورثه و څخه ژوندي وو، نو مال به په طريقه د ارث او د ترکې له لارې ويشل کېږي. د يادونې وړده چې مخکې له دې څخه چې دده د مرګ او ژوند حالت معلومېږي، نو تر هغې وخته چې دده فيصله کېږي، مال لپاره به يې د قاضي لخوا يو نماينده ټاکل کېږي، ترڅو يې مراقبت او هغه مصارف چې د ورثه و لپاره ضروري ګڼل کېږي، له همدې مال څخه دې ورکړل شي. (۳ج۸م۴۲۰)
د مدني قانون (۲۰۵۲) مادې (۱) فقره کې راغلي (په کوم ورک شوي چې ددې قانون د(۳۲۲) مادې د حکم سره سم د هغه په مړينې حکم نه وي شوی، نو د هغه د برخې تخصيص د مورث د متروکې څخه ورکول کېږي، که ژوند يې ثابت شو، نو خپله مستحقه حصه به واخلي او که په مړينې يې حکم صادر شوی و، نو پر نورو وارثانو چې د مورث د مړينې په وخت کې د ميراث مستحق وو، ويشله کېږي. (۲) فقره (که ورک شوي د مړينې د حکم د صادرولو وروسته ژوندی پيدا شو، نو کوم شی چې د هغه د برخې څخه د وارثانو سره پيدا شي، همغه به واخلي). (۷ج۴م۵۹)

ايا مفقود د بل چانه هم ميراث وړلای شي؟

د احنافو علماوو په نزد مفقود هغه څوک دی چې د بل څخه ميراث نشي وړلای، دا په دې صورت کې مړ حسابېږي او کله چې د مرګ حکم پرې وشو، نو د بل نه ميراث نشي وړلای. (۲ج۲م۱۹۲)

د وصيت په هکله يې همدا حکم دی چې نوموړي ته به برخه نه ورکول کېږي، نو ددې موجوده استصحاب يوازې ددې لپاره کافي دی چې مال يې د توزيع څخه بچ شوی دی او دا نده چې نوموړي ته د بل چا نه ميراث ورکړل شي. جمهور علماء وايي مفقود د بل چانه ميراث اخلي، اګر که له ده نه څوک ميراث نه اخلي او دغه موجوده دليل د مفقود د اثبات دليل دی، ترڅو پورې بل د منع دليل نه وي راغلی، ځکه چې د مفقود ژوند اصل دی، نو د بل چانه ميراث اخلي او له ده څخه څوک ميراث نشي اخستلای. د حنبلي علماوو په نزد د څلورو کلونو څخه وروسته مفقود له چا څخه ميراث نشي وړلای، اما له ده څخه ميراث وړلای شي. د مصري قانون په (۴۵) ماده او د سوري قانون په (۳۰۲) ماده کې چې په دې توګه صراحت کوي. د مفقود لپاره به د خپل مورث څخه مال جدا کېږي، که چېرې معلومه شوه چې ژوندی دی، نو مال به ورکول کېږي او که چېرې د مرګ حکم پرې وشو، نو مال به هغه چاته واپس کېږي چې د مورث د مرګ په وخت کې څوک ژوندی و، نو په مال کې يې برخه شته. (۳ج۸م م۴۲۱ـ۴۲۲)

د مفقود د مال د ويش طريقه: نوموړي مسئله په لاندې حالاتو کې تر نظر لاندې نيسو:

الف: که چېرې خپله همدا مفقود يوازې او تنها وي او بل وارث ونلري، نو ټول متروکه مال به د توقف په حالت کې پاتې کېږي، ترڅو د ده حال معلوم شوی نه وي.

ب: که چېرې له ده سره نور ورثه نه وو، نو د متروکه مال به دوه حالتونه فرض کوو يعنې داسې به فرض کړو چې ژوندی دی او يا داسې چې مړ دی، نو په کومه برخه کې يې چې ګټه وي، همغه برخه ورکول ورته پکار دي. يوڅو بېلګې يې وړاندې کوو:

که چېرې يو شخص مړ شو او يو مفقود زوی ترېنه پاتې شو او يا يو زوی او دوه د مور له طرفه ورونه وي، نو په دې دواړو صورتونو کې مفقود يوازې وارث دی او اخيافي ورونه محجوب دي په دې سره، نو که ښکاره شوه چې مفقود ژوندی دی، نو ټول مال به اخلي او کنه نو بيت المال ته به انتقال شي او که ورسره ورونه وو او د مفقود ژوند ثابت نشو، نو اخيافي ورونه به يې اخلي.

د مفقود لپاره موده: د مفقود لپاره د مودې او وخت ټاکل چې له هغې وروسته يې په مرګ حکم وشي، علما يې په اړه بېلابېل نظرونه لري:

د احنافو په نزد يوسل او شل کاله دی او په ظاهر مذهب کې د همزولو د مرګ څخه دا هم مړ شمېرل کېږي او د امام ابويوسف په نزد سل کاله دی او د ځينو په نزد نوي کاله دی چې د احنافو علماوو فتوا په همدې ده. (۸/ج۱م۳۱۵)

د شوافع علماوو په نزد که چېرې څوک ورک شي او يا پټ شي او خبر يې هم قطع شي، نو په مرګ به يې حکم نه کېږي، ترڅو چې شاهدان دده په مرګ شاهدي ونه وايي او يا دومره وخت پرې تېر شي چې غالباً ترې نه معلومېږي چې دا به ژوندی وي او کنه، لکه څنګه چې دده په خپلوانو کې دومره وخت څوک پاتې نشي، نو بيا به پرې د مرګ حکم کېږي. (۳/ج ۸ م۴۲۰)

مالکي علما وايي چې د مفقود د ورکېدو له ورځې څخه وروسته چې څلور کاله تېر شول، د مرګ حکم به پرې کېږي او کله يې چې ښځې قاضي ته مراجعه وکړي، نو ښځه به يې عدت متوفا تېروي، يعنې څلور مياشتې او لس ورځې به تېروي او بيا وروسته له دې نه که وغواړي، دوهم مېړه کولای شي. (۳/ ج ۸م۴۳)

مفقود له کوم وخت نه ورک شمېرل کېږي؟ کله چې شاهدانو د ګواهۍ پر اساس د مفقود مرګ ثابت کړ، نو که قاضي دده د مرګ او وفات حکم صادر کړ، نو بيا به د همغه تاريخ څخه چې د ګواهۍ په واسطه يې د قاضي حکم

وشو، حسابېږي؛ نو ښځه به يې ورڅخه جدا شي او که مدبر مريي يې درلوده، هغه به يې ازاد ېږي او مال به يې د ژوندیو ورثه و ترمنځ ويشل کېږي. (۲/ج ۲م۱۹۷)

که چېرې فيصله د اجتهاد يا غالب ګومان په اساس وشوه، نو دې کې دوه قوله دي:

۱- امام ابوحنيفه او مالک: د مرګ حکم به يې د هغه وخت نه حسابېږي، د کوم وخت نه يې چې د ورکېدو تاريخ او نېټه ده، يعنې کله نه چې ژوندی او ورک هم نه ؤ. (۳ج ۸م۴۲۲)

۲- امام شافعي او احمد وايي: د کوم تاريخ نه چې د وفات حکم پرې وشو، د همغه تاريخ نه مړ حسابېږي، نو ميراث د حکم د تاريخ څخه اخلي او له ده څخه هم هغه څوک ميراث اخلي کوم چې د حکم تر وخته پورې ژوندي دي. (۳/ج۸م۴۲۲)

پايله:

که چېرې د مفقود ستونزه په يوه کورنۍ کې رامنځته کېږي، نو ګڼې ستونزې ترې راولاړېږي، په دې معنی چې که چېرې دې ته وکتل شي چې کومې مودې چې فقهاوو معلومې کړيدي چې يوسل او شل کاله او يا نوي کاله آن تردې چې د هم سنه خلکو د نه شتون له امله يې حکم په مرګ کېږي، نو ايا دومره وخت به کورنۍ بې سرنوشته وي؟ او ژوند به په څه ډول وي او څومره مشکلات به پکې وي او که چېرې يې په کوم وخت فيصله وشي لکه څلورکاله، نو بيا که احياناً لومړنی مېړه بيا ژوندی راپيدا شي، نو بيا به يې معضله په څه ډول حلېږي او د اولاد، د ښځې نفقه، ميراث، مهر، حمل، اولاد او دې ته ورته مشکلات به په څه ډول حلېږي. که چېرې مفقود پس له دې چې ښځې يې بل مېړه کړی وي او هغه يا د ډېر وخت په تېريدو سره وي او يا د قاضي د حکم په اساس يې په مرګ فيصله شوې وي او بيا هم دا ژوندی بېرته خپلې کورنۍ ته راستون شي، نو په دې وخت کې يې د ښځې په اړوند داسې کېږي چې لومړني مېړه ته به ورکول کېږي، په دې شرط که لومړني مېړه غوښتله او که نه يې غوښتله، نو دويم مېړه سره به پاتې کېږي. د مدني قانون له مخې چې هغوی د مالکي فقهې څخه استنباط کړی او هغه يې تاييد کړي، په دې ډول چې په دې کې د ټولنې اړخ ته کتل شوي چې ډېرې ستونزې له دې لارې حلېدلای شي او کله چې حکم وشي، نو بيا به يې مال ويشل کېږي او ښځې ته يې اجازه شته چې که وغواړي بل چا سره نکاح کولای شي او اړوند مسايل د همدې فيصلې پر اساس هم حلېدلای شي.

وړانديزونه:

۱. که چېرې يو څوک په اختياري ډول ځان ورک کړي او خپل اولاد بې سرنوشته پرېږدي، نو دا شرعاً او قانوناً ناروا عمل دی او که د کوم مجبوريت له مخې دغه کار صورت ونيسي، نو بيا پرې تداوم او ټينګېدل پکار نه دي.

۲. که چېرې يو څوک د کوم مفقود په اړه معلومات ولري، نو د الله(ج) د رضا لپاره دې يې فاميل خبر کړي.

۳. که چېرې کومه کورنۍ له دغه ډول برخليک سره مخ شي، نو بايد له زغم او صبر څخه کار واخلي.

۴. که څوک د مفقود په اړه محکمې ته وغوښتل شي، نو بايد د نوموړي په اړه صحيح او موثق معلومات ورکړي، ترڅو اړوند ارګان په درسته توګه قضاوت وکړي او جانبين ورڅخه متضرر نشي.

۵. د مفقود له کورنۍ سره بايد مسئول چارواکي، خپل- خپلوان او دوستان د انساني او اسلامي اخوت او ورورولۍ له مخې هر راز مرسته او کومک ترسره کړي.

خلاصة البحث:

قد بحثت فی هذا الموضوع من معرفة المفقود لغة و اصطلاحا اولا، بیان الاحکام التی تتعلق باموال المفقود و حالة فقدانه، تعین مدة المفقود عند العلماء المذاهب والقول الراجح فی هذا، لکی تحل المسایل المتعلق به، و بیان ما یتعلق بحال الزوجة من النفقات والطلاق، والنکاح مع الغیر و میراثها و حق المهر و غیرها من الحقوق، و بیان تقسیم الاموال بین الورثة بکتاب الله و هکذا حق المفقود من ناحیة الاموال من الا خرین با لتوریث و بیان مدة المفقود من وقت فقدانه او من حکم القاضی بوفاة المفقود بای قول من اقوال علماء المذاهب و فی الاخر خلاصة البحث و نتیجته و بعض الاقتراحات حول هذا الموضوع.

اخځلیکونه:

۱. القرآن الکریم
۲. جرجانی، شریف علی. ( ). شریفیة شرح سراجیة. لاهور: مکتبه مدینه
۳. زحیلی، دکتور وهبة. (۱۹۸۹). الفقه الاسلامی و ادلته. دارالفکر ط ثالث
۴. سجاوندی، سراج الدین محمد بن عبدالرشید. (۱۹۵۲). السراجی فی المیراث. کراچی: سعید کمپنی
۵. لویس معلوف. (۱۳۲۵). المنجد فی اللغه- جزء۲. تهران
۶. الکاسانی، ابی بکر مسعود. (۱۴۰۰). البدایع الصنایع. کراچی: سعید کمپنی
۷. مدني قانون. (۱۳۸۷). د افغا نستان عدلیې وزارت
۸. مرغینانی، برهان الدین. ( ). الهدایة، یوسفی لکهنوی

پوهنمل فـضل الـرحيم (ناصـري)
طب پوهنځی- عقلي عصبي څانګه

ليوني سپي ناروغي (Rabies)

لنډيز:
د ليوني سپي ناروغي د يوه نيورو تروپيک ويروس له کبله منځ ته راځي چې د يو ککړ ژوي څخه بل ژوي او يا انسان ته لېږد ېږي، يو ډول ماښام الوتونکی(bat) ددې ناروغۍ جوړ لېږدوونکی ګڼل شوی دی. د تفريح دوره يې د چېچل شوې برخې په ځای او د زخم په ژوروالي پورې اړه لري. ياده ناروغي درملنه نلري، خو له نېکه مرغه د ناروغۍ د منځته راتلو څخه مخکې ساتونکې درملنه شته چې د ناروغۍ مخه نيولی شي.

سريزه:
څرنګه چې زمونږ ګران هېواد افغانستان غرنی او د وګړو کورونه د غرو په لمنو او په غرونو کې د ځنګلونو تر څنګ د وحشي ژويو د استوګنې ځايونو سره نژدې وي، وخت په وخت ډېری وګړي د همدې وحشي ژويو تر برید لاندې راځي چې د (Rabies) د ناروغۍ لېږدوونکي وي. همدارنګه په ځنګلونو کې د ناروغۍ د لامل ځانګړې ذخيره چې يو ډول ماښام الوتونکي دي، هم ژوند کوي له بلې خوا زمونږ د وګړو د پوهې کچه ټيټه او په هغه اندازه نه ده چې د Rabies د ناروغۍ د خطرونو په اړه پوره پوهاوی ولري او خپل کورني سپي واکسين او يا د هغوی روغتيايي حالت ته پاملرنه وکړي. همدارنګه په ښارونو او کليو کې د بې خاونده سپيو شمېر ډېر دی چې د ډول ډول حيواني ناروغيو سربېره د ليوني سپي ناروغۍ په ويروس هم ککړ او د ناروغۍ د لېږدوونکو په توګه کار کوي. دغه راز ډېری وګړي په دې هم نه پوهېږي چې د ليوني سپي ناروغۍ د مخنيوي لپاره له کومو لارو چارو کار واخلي او چې کله څوک د سپي په واسطه وداړل شي، که ککړ وي او يا نه وي، د بې پروايۍ نه کار اخلي او که چېرې د ککړ سپي ګومان پرې وشي، نو د کلتوري بدو رواجونو له مخې داړل شوی شخص په زيارتونو او دمګرو ګرځوي چې په پای کې د ناروغۍ د ګيلو په څرګندېدو سره داړل شوی د مرګ کومي ته ورسوي؛ له همدې امله د طب پوهنځي عقلي- عصبي څانګې اړينه وګڼله او ماته يې دنده وسپارله چې په دې اړوند يوه علمي مقاله وليکم، څو د هېوادوالو د عامه پوهاوي لامل وګرځي.

موخې:
- طبي کارکوونکو او هېوادوالو ته د Rabies د ناروغۍ په اړه د ګټورو معلوماتو وړاندې کول.
- دولتي چارواکو او د ښاروالۍ کارکوونکو ته د ناروغيو د مخنيوي په برخه کې وړاندیزونه.
- د ناروغۍ څخه د ځان ساتنې لارې- چارې په ګوته کول.

پېژندنه (تعريف):
د ليوني سپي ناروغي د مرکزي عصبي سيستم يو ببړنی ويروسي انتان دی چې د ککړ ژوي د داړلو په واسطه له يوه څخه بل ژوي ته او يا له ککړ ژوي څخه انسان ته لېږد ېږي؛ همدارنګه که په ويروس ککړې لارې په لوڅ ټپ ولو ېږي، هم د شخص د ککړتيا لامل ګرځي. دې ناروغۍ ته په يوناني کې lyssa او rage هم وايي. (۱،۵)

پتالوژي:
ددې ناروغۍ توپير له نورو ناروغيو سره د Esonophlic inclusion cytoplasmic او Nigribody د موجوديت له مخې کېږي چې دا د hypocomp او perking حجراتو په pyramidal کې بارز وي، مګر کېدای شي چې د مرکزي عصبي سيستم په ټولو حجراتو کې وليدل شي. سربېره پر دې په Meanings کې په پراخه ډول د لمفوسايت او مونوسايت حجرو Infiltration او کوچني التهابي نکروزونه موجود وي. دغه التهابي غبرګونونه په brainstem کې ډېر زيات وي. د

Microgalia راټولېدل چې په دې ناروغۍ کې موجود وي، د babes nodules سره اړيکه لري. ويروسي انسفلايتس او نيوروني Degeneration د انساني Rabies ککړتيا لومړني پتالوژيکي موندنې دي. د ناروغۍ دويمې اختلاطات د Hypoxia او دماغي اذيما څخه عبارت دي، په ډېرو لږو پېښو کې په يوازې ډول د کوربه په response کې د ميکروب په وړاندې بدلونونه ليدل کېږي. غټ بدلون په دماغ کې د رګونو پړسوب او اذيما دی. د ماشومانو څخه پرته د مننجايتس نښې په ناروغ کې موجودې نه وي، د ميکروسکوپيکي معاينې له مخې Rabies encephalitis د نورو ويروسي انسفلايتس سره ورته والی لري. د ناروغۍ په لومړنيو وختونو کې کېدای شي د P M N ژونکې شتون ولري او د لومړني نخاعي اوبو په نمونه کې ليدل کېږي، که څه هم دغه انتخابي ژونکې د مړينې په وخت کې په ريښتيني ډول شتون نلري او په اوتوپسي کې په غير معمول ډول ليدل کېږي. (۳،۴،۸)

د لمفوسايتونو او پلازما حجراتو پرانشيمايي انفلتريشن د رګونو شاوخوا کې د Perivasular coffing په ډول دماغ زياته برخه نيسي، تر ټولو ډېرې او ښکاره موندنې معمولاً په Paleo encephalon کې ليدل کېږي. انسفلايتس معمولاً ۳۸.۱سلنه په ميډولا، ۳۸.۱ سلنه په Pons، ۳۵.۷ سلنه په شوکي نخاع کې ليدل کېږي. تلاموس، د دماغ قشر او Basal ganglion په ۲۵ سلنه پېښو کې اخته کېږي. کوچنی دماغ، هايپوکمپس او Peripheral ganglion د انسفلايتس په ۹۴ سلنه ناروغانو کې Perivascular coffing شتون لري. په ۵۷ سلنه پېښو کې Neuronophagia او په ۴۲ سلنه پېښو کې Babes nodules معمولاً ليدل کېږي. د نيورنونو بدلونونه په هغه کچه نه ليدل کېږي په کومې سره چې کلنيکي اعراض ليدل کېږي. د Negri body شتون د Rabies انتان لپاره پتوګونوميک پېژندل شوی دی، خو د تل لپاره شتون نلري. نژدې۲۰ سلنه انساني يا مغزونه چې د کلچر وړ رابيس ويروسونه ساتلی شي، تور جوړښتونه نلري او يوازې د۷۲ نه تر۹۰ سلنه پورې انساني مواد يې لري. Negri body معمولاً په زياته کچه په کوچني دماغ (۵، ۵۹سلنه) او هايپوکمپ (۹، ۴۲ سلنه) کې ليدل کېږي او په لږه کچه په ميدولا، pontine nuclei ، شوکي نخاع، دماغي قشر، mesen cephalon ، Basal ganglion ، تلاموس او محيطي ganglion کې ليدل کېږي. انسيفلاتيس معمولاً د تورو جسمونو د رامنځته کېدو نه وړاندې تاسس کوي. د رابيس ويروس کېدای شي چې د مغزو نه بيرون په نورو انساجو کې هم وليدل شي چې معمول ځايونه يې عبارت دي د لاړو مرغيړي، د قرنيې اپيتل حجرې او د پوستکي عصبي نسجونه. د لاړو مرغيړي acini ډېر ويروس لري چې د ميکوجينک حجرو د غشاوو څخه پورته کېږي. د Rabies وايرس انتي جن د ويښتانو د فوليکلونو د خارجي شيټ د عصب په نهاياتو کې د بدن په څټ، شونډو، زيږمو او سر کې عموماً د همدې حجرو د Immuno fluorescence په واسطه ليدل کيدای شي. د ماښام الوتونکو او انسانانو olfactory bulb نيورونونه کېدای شي چې ويروس ولري. رابيس ميوکاردايتس په ځينو وختونو کې واقع کېږي. انتان کېدای شي چې د په ميوکس ممبران د وايروس د تويېدو، تنفس کولو يا د منتنو قرني انساجو د پيوند په نتيجه کې منځته راشي. د مرکزي عصبي انتان کېدای شي مرکز ته د محيطي عصبي انتان د لېږد نتيجه وي، که څه هم مرکز ته د خپرېدلو دقيق ميکانېزم څرګند نه دی، داسې ښکاري چې ويروس د محيطي اعصابو څخه C N S ته د passive neural transit په واسطه وړل کېږي. ځينې وخت کېدای شي د ويروس ويرون د اکسون په اندوپلازوميک ريتکولم او رانوير غوټو کې وپېژندل شي. کله چې انتان spinal cord ته ورسېږي، نو د ويروس جينوم د Dorsal root ganglia په حجرو کې ښکاره شي، spinal cord د رسېدو وروسته مغزو ته د ويروس پرمختګ په ځينو حيواني ډولونو کې ډېر په چټکۍ سره په ساعتونو کې منځته راځي. (۶،۲،۷)

پتوجينيسس: رابيس د ويروس او د هغه د کاپي کولو دوران د کوربه د دفاعي ميکانېزم څخه پټېږي چې دغه کار انتان ته زمينه برابروي چې مرګوني حالت ته پرمختګ وکړي. د نورو C N S ويروسي انتاناتو پرتله چې پکې قوي انفلتريشن موجود وي، په رابيس کې په لږه اندازه التهابي مونو نوکلير انفلتريشن موجود وي، د طبيعي معافيت مخکې له مخکې جوړېدل د رابيس د انتان څخه ساتنه کوي. د انتي باډي passive جوړېدل ژغورنه جوړوي او د مخ کېدو څخه وړاندې ژوي او انسانان ساتي. د لومړي واکسين کولو څخه پرته په طبيعي انتاناتو کې د انتي باډي ټيټر هغه وخت لوړېږي چې ناروغي ښه تاسس کړی وي او د ناروغۍ د منځته راتلو څخه نه خوندي کېږي. په انساني انتاناتو کې د سيروم خنثی کولو

انتي باډي ناوخته څرګندېږي چې په پايله کې ناروغي منځته راځي. د ويروس انتي جن د ناروغۍ په لومړيو وختونو کې لږ وي او څرنګه چې ويروس داخل الحجروي خپرېږي، نو د انتي جن توليد او معافيتي جواب وروسته کېږي. (۳، ۴، ۱)

ايتولوژي: د دې ناورغۍ لامل يو R N A لرونکی Neurotropic وايرس دی چې د Rhabdo viridae family سره تړاو لري. د ککړ ژوي د خولې په لاړو کې موجود او د داړلو له لارې د انسان بدن ته داخلېږي، ويروسونه بيا د محيطي اعصابو له لارې ځان مرکزي عصبي سيستم ته رسوي او د يوه حاد Encephala myelitis لامل ګرځي. يو شمېر وحشي ځناور لکه ګيدړ، Raccoon، لېوه، پړانګ، Mangooses, cattle, jackals skunk، ماښام الوتونکي او په کورنيو حيواناتو کې سپي او پيشوګان د ناروغۍ لېږدوونکي دي. د ناروغۍ نېغ لېږد حيوان ته د ماښام الوتونکي (bat) له لارې وي او ماښام الوتونکی د ناروغۍ سالم لېږدونکی پېژندل شوی دی. نادرې پېښې يې په حيواناتو کې د inhalation له لارې د ماښام الوتونکي په څڅول شويو ويروسونو څخه منځته راځي، په لږو پېښو کې د ککړتيا سرچينه ښکاره نه ده. (۴، ۵)

د تفريح دوره (Incubation period): د تفريح دوره د لسو ورځو نه تر څو کلونو پورې کېدای شي، لاکن په منځني ډول ۲۰-۲۰ ورځو پورې ده. د ناروغۍ د تفريح د دورې وخت د داړل شوې برخې په ځای او د زخم پراخوالي پورې اړه لري. که چېرې داړل شوی ځای سر ته نژدې وي، د تفريح موده يې لنډه او که داړل شوی ځای د سر څخه لرې وي، د تفريح موده يې اوږده وي. همدارنګه که چېرې د داړل شوي ځای زخم ژور او پراخه وي، د تفريح موده يې لنډه وي او که د داړل شوي ځای زخم کوچنی او سطحي وي، د تفريح موده يې اوږده وي. که چېرې داړل شوی ځای د پنډو جامو لاندې وي، ددې شتون ډېر کم دی چې ويروسونه به زخم ته ننوتي وي او يا به هيڅ ويروسونه زخم ته ورغلي نه وي. (۱، ۴)

کلنيکي لوحه: د تفريح دورې د تېرېدو وروسته لومړنۍ ګيله چې په ناروغ کې منځته راځي، په داړل شوې برخه کې له درد او Paresthesia څخه عبارت ده چې آن د زخم تر جوړېدو وروسته هم موجوده وي، بيا ناروغ کې Apathy, Dizziness، سرګرځېدل، سردرد او بې اشتهايي منځته راځي. دا دوره په چټکۍ سره په يو حمله کوونکي حالت بدلېږي، ناروغ ته تخرشيت، عصباني کېدل، هذيانات او برسامات پيدا کېږي؛ کوچنی اواز او يا پارونه د ناروغ په سر شديده اغېزه کوي او د ټکان او اختلاجاتو سبب کېږي. Disarthria، د مخ بې حسي، د مخ د عضلاتو سپزم او تشنج د Medullary tegmental nucli د اخته کېدو له امله د ناروغۍ په Rabid ډول کې منځته راځي. تبه موجوده او په ناروغ کې د مرۍ، بلعوم، حجاب حاجز او نورو تنفسي عضلاتو سپزم د غذا خوړلو او اوبو څښلو په وخت کې پيدا کېږي؛ له همدې امله د اوبو څښلو، ليدلو او حتی د اوبو د اواز له اورېدو وېره لري چې پخوا دا ناروغي د Hydrophobia په نوم يادېده. ناروغان د هوا د پوکي سره هم وېره (Aerophobia) پيدا کوي، دا ګيله په بيړه وړاندې ځي او په ناروغ کې فلج او کوما پيدا کېږي. د رابيس نښې يا ګيلې د انتان په اناتوميک موقعيت پورې اړه لري، د ټولو نه ډېر انتان په هايپوکمپ، براين ستېم، ګنګلين حجرو او د سيربيلوم په پرکنج حجرو کې منځته راځي. د انتان په لومړني پړاو کې پرله پسې وينښتيا شايد په نيو کورتکس کې د لږ انتان له کبله وي، تېری کوونکی او غير نورمال جنسي سلوک د extensive limbic system د انتان په پايله کې منځته راځي. پريوديک تنفس کېدای شي د Mid pontin يا د ponto medullary junction له امله وي. د تنفسي عضلاتو سپزم کېدای شي د inferior olivary nucleus او central brain stem tegmentum د اخته کېدو پورې تړلی وي. Hydrophobia يا د اوبو څخه وېره د اعصابو د انتان پايله نه، بلکې د pharyngeal او Laryngeal سپزم له کبله ستوني درد ته د ځواب په شکل منځته راشي. وروسته له دې چې دماغي انتان منځته راغی، نو ويروس د محيطي اعصابي لارو په اوږدو کې د سنترفيوژ په ډول تېرېږي چې په پايله کې د olfactory ختمېدونکو اعضاوو او د خوند غوټې په انتان اخته کړي. په انسانانو او ژويو کې د ويروس اعصابي خپرېدل حشوي غړو ته څرګند شوي، مګر کېدای شي يوه غير معمولي حادثه وي. د مايوکارد التهاب ډېر لږ تشريح شوی، په پای کې ناروغ د تنفسي عضلاتو د فلج له امله مري. د دې ناروغۍ يو بل فلجي ډول هم شته چې په حيوان او انسان دواړو کې ليدل کېږي، دغه ډول ماښام الوتونکی د داړلو او واکسين د تطبيق له امله منځته راځي. په دې فلجي ډول کې ناروغي نېغ په نېغه د يو غړي له فلج سره پيل او دا حالت په بيړه خپرېږي او ټول بدن نيسي، له هغې وروسته ناروغ مري. (۸، ۷)

لابراتواري معاينات: په وينه کې Leukocytosis او په CSF کې Lymphocytosis موجود او پروتين لوړ وي. (۲)

تشخيص: د کلينکي ګيلو او د ناروغ حيوان په واسطه د شخص د داړولو د تاريخچې له مخې اينبودل کېږي. همدارنګه د حيوان او هغه انسان چې مړ شوی وي، په مغزو کې د Negri body د موندلو په واسطه کېږي، مګر چټک Immuno fluorescence تخنيکونه د corneal impression smear او د پوستکي د Biopsy په واسطه antigen بېلولی شي. (۲،۳)

درملنه: د ناروغۍ د ګيلو د پيل نه وروسته درملنه ناشونې ده، يوازې sedative درمل ناروغ ته ورکول کېږي، ترڅو تهيجي حالت کم شي. ديازيپم ۱۰ ملي ګرامه هر ۴-۶ ساعته وروسته ورکول او د اړتيا په وخت کې کلوروپرومازين ۵۰-۱۰۰ ملي ګرامه ورسره زياتېږي؛ ناروغ ته غذا او مايعات د ورید او N.G Tube له لارې ورکول کېږي. (۱،۷)

وقايه (prevention): که چېرې وقايوي درملنه په وخت او درست ډول ترسره شي، نو په شخص کې ناروغي منځته نه راځي او له حتمي مرينې مخينوی کېږي. Pre exposure prophylaxis په لاندې حالاتو کې تطبيقېږي:

A ـ هر هغه څوک چې ککړ ژوی لېږدوي.

B ـ د Rabies virus په لابراتوارونو کې کارکوونکي لابرانت، ويترنر او نور.

C ـ هغه وګړي چې په Endemic area کې اوسېږي.

D ـ هغه خلک چې د Rabies د خطر سره مخ وي.

په پورتنيو حالاتو کې Human diploid strain cell واکسين د تماس څخه مخکې په وقايوي ډول تطبيق کېږي. 0,1ml د پوستکي لاندې او يا 1 ml په غوښه کې لومړي ځل، څلور اوونۍ وروسته بيا او هر کال يو Buster دوز ورکول کېږي. (۲)

Post exposure prophylaxes: زخم بايد د Detergent موادو يا صابون سره پرېمنځل شي، بيا د ammonium chloride benzyl (zephiran) په واسطه پاک شي، کوم چې د ويروس غير فعال کوونکي دي، مړه انساج لرې او زخم ونه ګنډل شي. د تيتانوس واکسين او Human rabies immune globulin ۲۰ I u ./ kg Bw نيم دوز د داړل شوي ځای شاوخوا او نيم دوز په عضله کې زرق شي. دا کار د ۱۰-۲۰ ورځو لپاره passive immunity ورکوي. Duck embryo vaccine (DEV) د Active immunization لپاره ورکول کېږي، خو په زياته کچه په CNS کې د شديدو الرژيک غبرګونونو لامل ګرځي او هم يې د دوزونو اندازه زياته (۲۳) ده. اوس وخت تر ټولو ښه واکسين Human diploid cell line يا Human diploid cell vaccine(HDCV) دي چې د انتي باډي د ځواب کچه يې لوړه ده. الرژيک غبرګونونه يې لږ (۵) دي چې ۰-۳-۷-۱۴-۲۸ ورځو کې ۱ ملي ليتر عضلي زرق کېږي. د ليوني سپي د ناروغۍ ضد واکسين په روټين او ازاد ډول نه تطبيقېږي، ځکه کله کله په لږه سلنه الرژي او وژونکي فلجونه منځته راوړي. لاندې حالتونه بايد د واکسين کولو پر وخت په پام کې ونيول شي:

۱- ډاډه اوسو چې حيوان ليونی دی. منتن حيوان هغه دی چې د پارولو پرته داړل کوي او کورنی سپی په خپل خاوند هم حمله کوي.

۲- د حيوان د ليونتوب له يقيني کېدلو څخه مخکې هغه وژل شوی وي.

۳- په لابراتواري کتنه کې د حيوان په مغزو کې Nigri body تثبيت شي.

۴- له داړلو څخه وروسته حيوان تښتېدلی او شکمن حالت موجود وي.

۵- که چېرې داړل شوی ځای سر او غاړه کې وي، نو د تفريح دوره لنډه وي، لومړی بايد Hyper immune سيروم تطبيق او سمدلاسه واکسين شي.

Immunization: په لاندې توګه د څو ډوله واکسينونو يادونه کېږي:

Anti-Rabies Serum (A R S): د اسونو څخه چې د رابيس د واکسين په واسطه له اندازې ډېر معافيت ورکړل شوی، لاسته راځي او بيا تصفيه کېږي. که څه هم دغه په passive معافيت ورکولو کې يو موثر لامل دی، لاکن ۴۰ سلنه هغه لويان چې A R S يې اخستی وي، Serum sickness پکې منځته راځي.

Rabies Immune Globulin (R I G): د A R S پر ځای د passive معافيت لپاره R I G هم ورکول کېږي، نوموړې جوړه شوې ماده په هر ملي ليتر کې د خنثی کوونکي انتي باډي ۱۵۰ بين المللي واحدونو لرونکي دي. نوموړي واکسين فعال معافيت لوړوي؛ اوسمهال په پرمختللو او مخ پر وده هېوادونو کې د غيرفعالو واکسينو ډېر ډولونه استعمالېږي.

Simple vaccine: د معافيت ورکولو څخه وروسته يې د انتي باډي توليد د قناعت وړ دی، مگر په هرو ۱۰۰۰ تنو واکسين شوو وگړو کې ۴،۲ يا له دې ډېر عصبي اختلاطات لري. په هغو واکسينو د معافيت ورکولو څخه چې د ميالين اساسي پروتين لرونکي وي، کېدای شي الرژيک انسفالوميليتس منځته راوړي.

Suckling Mouse Brain Vaccine: نوموړي واکسين ډېر اميونولوجيک دي. د لوړي انتي باډي سبب کېږي چې انساني اخستونکي کې ۹۳ سلنه لوړېږي مگر داهم د الرژيک انسفالايتيس او نورو عصبي ناروغيو لوړ خطر لري.

Duck Embryo Vaccine: موضعي يا ډېرلږ سستميک غبرگون يې ډېر عام دي لاکن د پوستکي غبرگونونه پکې غير معمول دي.

Human Diploid Cell Vaccine (H D C V): د ناروغي سره د مخکيدو وړاندي او وروسته دواړه حالتونو مخنيوي کې د کتني وړ ښه معافيت مينځته راوړي. د غوښې دننه تطبيق يې په هغه وگړو کې چې د ناروغي سره د مخکيدو وروسته درملنه کېږي ۱۰۰ سلنه ساتونکي انتي باډي منځته راوړي. د پوستکي دننه تطبيق يې هم دښه ټايټر سبب کېږي لاکن عمر يې د عضلي داخل څخه لنډ دي.

Other Human Vaccine: يو غير فعال واکسين ته اوس اجازه ورکړل شوې چې د Diploid Fetal Rhesus د سړو د حجراتو څخه لاسته راغلي، له ۹۹ سلنې څخه زياتو خلکو کې چې واکسين يې اخستی، د معافيت په واسطه د انتي باډي کچه يې په پوره ډول خنثی کوونکې ده. يو بل ډول غير فعال واکسين چې په چين کې پراخ استعمال لري، د نورو Diploid حجراتو د واکسينو په پرتله لږه بيه لري او د خنثی کوونکې انتي باډي تنبه کول د هغه کچه سره يو شان دي چې د H D C V د معافيت په واسطه منځته راځي. (۱،۵،۳)

پايله:

که چېرې د مقالې متن ته ځير شو ليدل کېږي چې د ليوني سپي ناروغي ډېره کړکېچنه ده او انسان تر ډېره بريده د مړينې سره مخ کوي، درملنه نلري، لاکن له نېکه مرغه مخنيوونکي واکسين لري، که په خپل وخت وکارول شي، نو ژغورونکي اغېزه لري. دا ناروغي په ټوله نړۍ کې شتون لري او تل په طبيعت کې شته وي، لاکن پېښې يې په پرمختللو هېوادونو کې ډېرې دي. بدن ته د ناروغۍ د لامل (ويروس) د ننوتلو او د ناروغۍ د ګيلو او نښو د منځته راتلو ترمنځ وخت ډېر وي؛ له همدې امله له پامه پټ پاتې کېږي. کله چې د ناروغۍ ګيلې او نښې منځته راشي، نو بيا وخت له وخته تېر او درملنه يې ناشونې وي. ښه دا ده چې کله څوک د کوم داړونکي ژوي او يا ماښام الوتونکي په واسطه وچيچل شي، چيچونکی ژوی تر کتنې لاندې ونيول شي، د شک په صورت کې داړل شوی واکسين شي او پرېښودل شي چې د ناروغۍ ګيلې او نښې ښکاره شي.

وړانديزونه:

ټولو طبي کارکوونکو، ناروغانو، ناروغ لرونکو، دولتي چارواکو، د ښاروالۍ کارکوونکو او په عامه توگه ټولو وگړو ته په لاندې ډول وړانديزونه لرم چې د Rabies د مخنيوي لپاره په لاندې ډول تدابير په پام کې ونيسي:

- د ټولو وحشي او کورنيو حيواناتو په واسطه داړلو ته ځانگړې پاملرنه ولري.
- د کورنيو سپيو لپاره ليسنس او د هغوی د واکسين کارت ولري.
- کوڅه ډب او بې خاونده سپي بايد ووژل شي.
- د انتان د ميزبان څارنه وشي.
- د نوو وارد شوو ژوو قرنتين او کنترول وشي.
- د خطر سره مخ انسانان او حيوانات بايد واکسين شي.
- ناروغان په خپل وخت تر درملنې لاندې ونيول شي او دې ته يې پرېنږدي چې د ناروغۍ ګيلې او نښې پکې منځته راشي.

Abstract:

It is due to a neurotropic virus Transmitted from contaminated or infected Animal to animal or human body. Specific flay is known as healthy vector. Incubation period is Dependent to bitten site & Deepness, it is untreatable but we can prevent by Vaccination.

References:

1- Behrman. Richard E/K Liegman .Robertt-M-Nelson-Textbook of Pediatrics 17th edition-Saunders and Imprint of Elsevier; 2004 pp 1993-2009.

2- Cowen Philip; Gelder Mechael; Harrison Paul; Shorter Oxford Text Book of Psychiatry, 5th Edition Oxford University Press. Gain Book Depot .2005 PP: 408-428.

3- MC-phee istephonji Moxino-A peepdakis Carrent medical diagnosis and treatment Edition; Mc Graw Hill Lange Coampany 2012; pp: 1036-1037-1038-1046-1052.

4- Donaghy Michael, Brain Diseases of the Nervous System, Oxford University press 11th Ed.2001 pp-432-437.

5- Ghai-O.P,Gupta-Piych-Essontials of podiatrics-16th Edition- Publishod-by-op Ghai Dolhi-2004-pp645,1175.Current-Pediatrics Diagnosis and treatment 17th Edition 6- Hay.William.W;Levin-Myroin Mc-Graio-Hill- Lange-Medical Books 2005;PP-743-751-759Kapser-Dennis.L;Braunwald;Eugene;Fauci-Anthonys;Harison's-Principles

7- Internal-Medicine- McGraw-Hill-2005; PP-2357-2372–edition- Volume- ll 16th

8- Kumar& Saunder's Clinical Medicine 4th edition2004-PP1055-1062

پوهنمل عـــــلاوالـــدين (حـــــسام)
ښوونې او روزنې پوهنځی- پښتو څانګه

مولير او اثـــار يې

لنډيز:
مولير د خپلې ټولنې د اصلاح او سمون لپاره ډېر په زړه پورې اثار ليکلي، چې پر ټولنې بې اغېزې نه دي پاتې شوي، په فرانسوي ټولنه کې يې دوستان او دښمنان د همدې فرهنګي او پوهنيزو کارونو پايله ګڼل کېږي. ده د خپلې ټولنې پر ډېرو اخلاقي کمزوريو، بې اتفاقيو او مذهبي ځان ښودنو ملنډې وهلي او د سمون لپاره يې هلې ځلې کړي دي. د ننداري د لوبغاړي، ليکوال او هم د تياتر لارښود په توګه يې خپلو خلکو ته نه هيرېدونکي خدمتونه ترسره کړي، زندان يې تېر کړی، د ټولنې له هر ډول قشر سره بلد او اشنا ښکاري؛ کومې کمزورۍ او بداخلاقي يې چې ليدلې، هغه يې رسوا کړې ده.

سريزه:
ننداره په لوېديزه نړۍ کې اوږده تاريخي مخينه لري، تر نورو هنرونو که زياته نه وي پالل شوې، نو کمه هم نه ده، تر ننه پورې يې خپل ژوند له ستيج څخه رانيولې، راډيو، تلويزون پورې په بېلابېلو بڼو غځولې. اوولسمه پېړۍ کې چې د مولير د ژوند زمانه ده د ننداره بازار ښه تود و، ده هم د پلار دنده چې په دربار کې د پردو ګنډل، د پادشاه د خوب تخت څارنه، د فرنيچر ترتيبونه وو او دغه مقام هم ورته د پلار له خوا په بيه اخيستل شوی و، پرېښود او ننداره ليکنې ته يې پام وګرځاوه. د يو شوخ طبعه خندوونکي او لوبغاړي په توګه يې تل خپل خلک او خپل ولس له پامه نه دي غورځولي. دربار ته يې د خپلې ځيرکۍ له امله لار پيدا کړه او ننداري يې په کې وښودې، دی نه يوازې ننداره ليکونکی دی، بلکې ښه شاعر او ليکوال هم دی. نوموړي خپلې ننداري په نظم هم ليکلې، ژبه يې تېزه او خوندوره ده.

موخې:

- د پښتو ادب مينه والو ته د فرانسوي ټولنې تجربې او د ليکوالو د کار ډول لېږدول.
- شعر او شاعرۍ تر څنګه د نثري ادبي اثارو تخليق په برخه کې د ادب مينه والو دې ته هڅول چې د نړيوالو ليکوالو او شاعرانو د تجربو لاسته راوړلو په رڼا کې خپل ولس ته داسې اثار وليکي چې د ټولنې د پرمختګ او سوکالۍ سبب شي.

مولير پېژندنه

زوکړه: مولير د فرانسې د کلاسيکي دورې ډېر لوی کومېډي ليکوال دی. (۲م۱۰۴۷)
بشپړ نوم يې ژان باتيست پوکلن مولير دی چې په (۱۶۲۲ز) کال کې په پاريس کې زېږېدلی (اونوره سنت د کوڅې (۹۶وم) کور پر دراوزې په سروزرو دا ليکنه زوړنده ده، دغه مانۍ پر هغه ځای جوړه شوېده چې په (۱۶۲۲زيږديز کال) کې مولير پکې نړۍ ته سترګې پرانستې دي) پلار يې د (۱۴) لويې د دربار پرده ګندونکی و. مولير د درېيم پوکلن په کور کې وزيږېد، له ماري کرسه سره يې واده وکړ؛ ښځې ورته (۲۲۰۰) فرانسوي ليرې په جهيز کې راوړې، له دې مېرمنې سره يې (۱۰) کاله ګډ ژوند تېر کړ، چې په دې موده کې له همدې مېرمنې څخه د شپږو زامنو پلار شو. څلورم پوکلن د پلار مشر زوی د مور زياتې خاطرې يې په ذهن کې نه درلودې، بلکې يو تت انځور پکې ځای درلود، په خپلو ننداروکې يې هم د خپلې مور يادونه نه ده کړې. د مولير پلار په (۱۶۳۳ز) کال کې دويم واده وکړ، مېره يې هم په (۱۶۳۷) کال کې مړه شوه، پلار يې اړ شو چې د خپل نابغه زوی روزنه په غاړه واخلي. (۸م۲۴۴)

زده کړه: (۱۲۳۷ز) کال يسوع کلرمون کالج کې په زده کړو پيل وکړ، په نوموړي کالج کې د ژبې پښوبې د رومي ليکوالو (ترنس او پلاتوس) اثار يې ولوستل، په کالج کې تر پنځو کالو زده کړو وروسته د حقوقو په زده کړه يې پيل وکړ؛ کولژ دوکلرمون ته د زده کړو لپاره ولېږل شو، لاتيني ژبه يې زده کړه، د ترنيوس د اثارو له مطالعې څخه يې ډېره ګټه پورته کړه؛ هغه نندارې چې د يسوعيانو له خوا د لاتيني ژبې او ادبياتو او ويناوالۍ د زده کړې لپاره وړاندې کېدې، ورسره يې ډېره مينه لرله ښايي چې په دې نندارو کې يې د لوبغاړي په توګه ګډون هم کړی وي، ددې تر څنګه يې اپيکور په فلسفه کې هم ډېره مطالعه وکړه، د روم ناتورا (د اشياوو طبعيت) د حماسې زياته برخه يې وژباړله. (۸م۲۴۵)

دندې:

شپږکاله يې د (۱۴) لويي په دربار کې د خپل پلار دنده پر غاړه وه، تر شپږو کلونو وروسته يې نوموړې دنده پرېښوده چې پلار له خپل ورور څخه ورته په بيه اخيستې وه، د کال (۳۰۰) ليرې يې ورته ورکولې چې (۱۲۳۷) کال کې د لويي له خوا په رسمي ډول ددې دندې وارث په توګه ومنل شو. د مولير نيکه د نندارو مينه وال و، خپل لمسی به يې له ځان سره د نندارو ليدو لپاره بيوه. (۳م۴۲۲)

په دربار کې د پاچا د خوب تخت څارنه، تنظيمونه يې تر سره کړه، په دې وخت کې د لنډ وخت لپاره يې د وکيل دعوه په توګه دنده هم سرته رسولې. په دربار کې و چې د يوې (۲۴) کلنې مېرمنې مادلن بژار سره يې واده وکړ، ژان باتيست په دربار کې خپله دنده په (۲۲۰) ليره خرڅه کړه، په دې ډول يې ځان تياتر ته وزګار کړ؛ (۱۲۳۴) کال کې له خپل پلار څخه جلا او د مادلن بژار کور ته لاړ، ترڅو ورسره يوځای ژوند وکړي. ده د شاعر، تياتر لوبغاړي او ليکوال په توګه ډېرې فرهنګي چارې سرته رسولې، ژان باتيست پوکلن په ۱۵۴۳کال کې د ايلوستر تياتر په رسمي توګه پرانست، د ايلوستر شرکت د نندارو ښودلو لپاره يې د تېنسي د لوبو ډګر په اجاره واخيست، خو نندارې يې ډېر نندارچيان ځانته راکش نه کړل، ځکه له اقتصادي ماتې سره مخ شو. په ۱۲۴۵کال کې درې ځلې بندي شو، د بند لامل يې د پورونو نه ورکړه ښودل شوې، د مولير پلار په دې هيله چې زوی يې له دغو ترخو تجربو څخه اغېزمن شوی وي او له نندارو څخه به لاس واخلي، پورونه يې ورکړل، کله چې د پلار په مرسته له زندان څخه خلاص شو، بېرته د ايلوستر په جوړولو يې پيل وکړ؛ دا ځل يې کوښښ وکړ چې (۱۳)کاله د فرانسې بېلابېلو ښارونو ته هنري سفرونه وکړي، خپلې نندارې خپلو هېوادوالو ته وړاندې کړي، په همدې بهير کې د ګوبين واکمن ودک د، اپرنون ورسره مالي مرسته وکړه. مولير سره د خپلو ملګرو، ناريون، تولوز، البي، کارکامون، نانت، اژن، ګرنوبل، ليون مونپيليه، بردوديژن، نيون او راون ته سفرونه وکړل چې له بريالیتوبونو او ماتو سره مل وو، تر (۱۲۵۰) کال پورې وشو کولی چې خپل ملګري يوازې په خېټه ماړه وساتي. (۲م۱۲۹)

د مالوف د هنرمندانو له دود سره سم د مولير نوم ځانته غوره کړ، دی د فرنسز کوميډي د خپل اوږد هنري ژوند پيلامه ګڼې، په حاضر ځوابۍ کې د ښې قريحې خاوند ؤ. کوميډي ډوله نندارې پرانترک (دسيسې) او کله به په بې خونده بريا باندې ډډه لګوله. مولير د شخصيت کوميډي ليکوال ګڼل شوی، ټولنيزو اخلاقي کمزوريو ته يې هم پام اړولی، پر ځانښودونکو يې د ژبې د نيوکو متروکه ورولې، د شخصيت مثبت اړخونه يې د مبالغې تر کچې ستايلي، د کينه کښ په بڼه له هيجان او تحرک سره لوبېده، کله به هم د بې سواده رنځپوه په جامه کې څرګندېده، د نندارو اتلان يې دده لومړني خيالي او ايډيال اتلان وو. د مولير بريا په تېزۍ سره خپرېده، نور لوبغاړي يې تر فرهنګي اغېز لاندې راغلي، ځکه نو د خپلې ډلې مشر په توګه وګمارل شو او په خپل هنري شرکت کې دننه او بهر له تاودو وېنو (بحث) سره مخ شو. (۵م۴۵۱۵)

د مولير نندارې ليکنې قريحه د لويو ولسونو او روښانفکرانو له خوا ستايل کېده، د خپل هنري ګروپ د لارښوونې سربېره، نندارو ته يې نوی رنګ وروباښه. په خپلو کارونو کې يې لوی لاس درلود، کړنلارې يې چمتو کولې، په جشنونو کې به يې د نندارې د وړاندې کولو وسايل برابرول، د شاه په حضور کې يې نندارې وړاندې کولې. (۴م۱۲۹۲)

د مولير اثار:

۱- ځان ښودونکې ښځې: نوموړې نندارې د مولير ستره کوميډي نندارې ده، د ۱۲۵۹ د نوامبر په ۱۸يې ښودانه د صحنې پرمخ پيل شوه، چې د فرانسوي نندارو د ښودانې د څرنګوالي پيلامه ده، په همدې نندارې سره د شهرت او پانګې خاوند شو. نوموړې نندارې ځغلنده، خو ډېره اغېزناکه وه، د لنډ وخت لپاره د ليدونکي په ذهن کې پاتې کېده، خو ډېر وخت يې د

پيغور ټپونه نه رغېده؛ په دې ننداره کې د رامبويه په هوټل کې د فرهنګي ټولنې ښځو نازونه او اداګانې تر پيغور او نيوکو لاندې راوستل شوې وې. ددې ننداري اتلانې دوه د تره لونې وې، يوه يې ماګدرلون او بله يې کاتوس نومېده چې دواړه د پاريس د فرهنګي ټولنو مينه والې وې، دوه تنه له نوموړو ښځو سره د واده کولو لپاره چمتو شول، خو دا چې د واده دود يې د تعليم لرونکو وګړو له دود سره سم نه شو تر سره کولای، نو د واده غوښتنې يې هم ونه منل شوې، دوه چوپړان د اشرافو په جامه ورغلل، دوی بايد د تعليم يافته ګانو په دود مينه کړې وی، نجونو ددغو طلبګارانو سيمه ييزې کړنې د فرهنګي او لوړې پوړۍ د کړنو غوره بېلګې وګڼلې، په پای کې د دوی اره څېره ښکاره شوه. نوموړې ننداره د پتې بوربون په تالار کې وښودلی شوه، د خلکو زيات پام يې ځانته راواړاوه، کينه کښې سيالان يې د کينې له مخې تر هغه پورې پرمخ ولاړه، تر څو يې په (۱۲۲۸) کې په لورو کې بدلونونه راغلل او د (پتې بوربون) د ننداروتالار يې رنګ شو. له دې وروسته مولير خپلې ننداري د شاه په اجازه په پاله روايال کې چې يو ډېر ښکلی تالار ؤ، وښودله، ده پر دې تالار ډېر لګښت وکړ، تر څو ترې ننداري تون جوړ شو، مولير تر (۱۲۷۲ز) پورې د (۱۴) لويي له ملاتړ څخه برخمن ؤ.

۲- اړشوی رنځپوه: د اثر اتل سګانارل په دې اړشوی چې د لالي لوسيند درملنه وکړي، دی پوهېږي لالي لوسيند ځان په درواغو په ناروغۍ اچولی وي، ځکه چې لوسيند د خپل پلار (ژرونته) له خوا اړه شوې وي چې داسې يو کس سره واده وکړي چې مينه ورسره نه لري. سګانارل لوسيند ته سپارښتنه وکړه چې وتښتي، لوسيند له ليااندر سره وتښتېده؛ په دې وخت کې سګانارل درواغ رسوا شول او ددې رسوايۍ له امله په اعدام محکوم شو. ليااندر ته په ناڅاپي ډول خبر راورسېد چې لوسيند ورته زيات مال په ميراث راوړي، ژرونته ليااندر په زوم ګلوۍ مني، اصلي طنز د لربه سګال نارل او د ژرونته د ساده ګۍ په اړه دی، سګانارل داريست تر ملنډو لاندې نيول کېږي چې د خپلو هوسونو په دام کې راګير شوی دی. د زړو اخلاقي اصولو په له منځه تلو او نويو نسلونو په بې بندوبارۍ نيوکه کوي، هوډ کوي چې خپلې شاګردې ته سخت انظباط ورزده کړي، ترڅو منونکې يې وروزي، اوږدې جامې واغوندي، د يوې ښې مېرمنې په توګه د خپل کور کارونه سرته ورسوي، په ښکارۍ کې زړو جامو ته پيوندونه واچوي او نارينه جورابې و اوبې.

۳- د ګريز خلک: تراژيدي ته ډېره نږدې پنځه پرده ييزه ننداره ده، يو څه بريا يې وګټله، ادبوالو هم وستايله او اوس د مولير شهکار ګڼل کېږي. په دې ننداري سره د مولير مخالفينو خپل مخالفت ته ادامه ورکړه، د (۱۴) لويي وزير کولبر اړ شو چې مداخله وکړي او مخالفين خپاره کړي؛ په ۱۲۲۷کال کې مولير له ګوابنونکې ناروغۍ سره مخ شو چې څو مياشتې د ننداري له صحنې څخه ووت. د ځينو کره کتونکو په اند ددغې ننداري موضوع د مادلن بژار او مولير د واده پر موضوع څرخي. (۳م۴۲۹)

۴- ژرژداندن (ګنګس مېړه): ۱۲۲۸ز کال کې ليکل شوې، د فرانسې د بريالتوب په جشنونو کې وښودل شوه، د خلکو زياته خوښه شوه او ويې ستايله.

۵- تارتوف: مولير په دې ننداره کې مذهبي ځان غوښتونکي او دوه مخې تر نيوکو لاندې نيولي، کله چې په (۱۲۲۴) کال کې ننداري ته وړاندې شوه، نو پر دوه مخو مذهبيانو يې زياته او سخته نيوکه د ننداري د تحريم سبب شوه. په نوموړې ننداره کې پر مذهب هيڅ ډول نيوکه نشته، بلکې هغه رياکاران غندي چې په ښکاره پر ايمانداري ټينګار کوي، خو په حقيقت کې بيا داسې نه وي. ددې ننداري اتل تارتوف له اورګون سره په کليسا کې وليدل، د تارتوف تر اغېزې لاندې راغی، خو د اورګون د ښځې او کورنۍ د غړو د پام وړ ونه ګرځېد، تارتوف غواړي چې د پرهيزګاره مذهبي په جامه کې خپله مينه المير د اورګون ښځې ته ښکاره کړي، اورګون يې له بد نيت څخه خبر شو، نه يوازې دا چې پرې باور يې ونکړ، بلکې خپله ټوله دارايي يې د تارتوف په نامه کړه. تارتوف داسې ښيي چې ګوندې د اورګون د دارايي د منلو لپاره د زور او فشار له لارې چمتو شوی دی؛ په پايله کې د المير په تدبير سره خبره روښانه کېږي، اورګون تر مېز لاندې پټېږي، المير تارتوف ځانته راغواړي، کوښښ يې وکړ چې د تارتوف پټ راز ځانته ښکاره کړي، په ښځينه نازونو سره تارتوف ته ښکاره کوي چې مينه ورسره کوي، کله چې د تارتوف راز څرګندېږي، نو اورګون د مېز له لاندې څخه راوځي، تارتوف وايي چې له کور څخه يې ووځي، خو تارتوف ورته وايي چې په خپله امضا دې کور راته راکړي، د پاچا ماموران رارسېږي او

تارتوف د مجرم په ډول چې له مخکې تر تعقيب لاندې ؤ، نيول کېږي. اورګون خپله دارايي بېرته ترلاسه کوي، ننداره د پاچا د عدالت په ستاينه پای ته رسېږي. (۱م۲۲۰)

۶- پوهې مېرمنې: په پال روايال کې ننداري ته وړاندې شوېده چې ستره بريا يې ورپه برخه شوه، نوموړې ننداره د (۱۴) لويي په دربار کې ۲۵ځلې وښودل شوه، په دې ننداره کې د هغو کورنيو د ژوند تابلو وړاندې شوې چې په ژوندکې يې ډېرې ستونزې لرلې.

۷- خسيس: نوموړې ننداره کومېډي ننداره ده چې د هارپاګون پر شخصيت څرخي، خسيس پانګوال او سودخور، داسې سودخور چې له خپل زوی څخه هم سود اخلي. په دې ننداره کې ښودل کېږي چې بخل د ټولنې لپاره څومره ناوړه پايله لري، کورنۍ او ټوليز نظامونه څومره کمزوري کوي، زياتره برخې يې د ليدو کتو پايله ده او يا هم د مولير له ژوند سره تړاو لري. انترک يا دسيسه يې د الولاريا يا مارميت چې د پلت تاليف دی، د بنسټونو اړول شوې بڼه ده. کله کنجوس هارپاګون يو ژوندی او چالاکه ټيپ او مالداره برژوا دی، خو کنجوستوب يې د بدنامۍ سبب شوی دی، اسونه يې ګوډ دي، زړې جامې اغوندي، کله چې مېلمستيا ته يې زړه وشي، غواړي په کمو پيسو ډېر ښه خواړه چمتو کړي. نوموړی د داسې يوې کورنۍ پلار دی چې دوه زامن لري، خپله پلرنۍ دنده يې پرې ايښې او خپل زامن يې د خپل حرص قرباني کړي، يعنې هيڅکله يې ورته د جيب خرڅ نه دی ورکړی؛ ودونه يې ورته د هغو د خوښې په خلاف کړي، نو ځکه يې زامن غواړي چې ددې ټولو غچ له خپل پلار څخه واخلي ....کليانت پيسې په پور اخلي، ګوري چې پلار يې چاته په سود پيسې ورکړې، اليز د هارپاګون لور يو ځوان له ځان سره کور ته دننه کوي، په دې برخه کې ښيي چې دغه کورنۍ څومره بې اداري ده، هارپاګون چې پر ماريا مينؤ، په حقيقت کې د خپل زوی رقيب وي، د هارپاګون بخل پرې اغيز کوي. (۷م۱۰۴)

د (کله انت) نوکر د هارپاګون د پيسو صندوقچه غلا کوي او بېرته يې ورته نه ورکوي، هارپاګون اړ کېږي چې د خپل زوی کله انت واده له ماريا سره وکړي، د هارپاګون لور اليز هم له خپل محبوب (والر) سره د دواده کولو اجازه ترلاسه کړه. (۳م۴۳۰)

۸- دون ژوان: دون ژوان د ۱۶۶۵زيږديز کال رښتيني تراژيدي ننداره ده چې منځپانګه يې د ايټالوي وتلي افسانوي اتل دون ژوان مينه رانغاړي.

نجيب زاده بورژوا: په ۱۶۱۹کال کې د عثماني ترکيې سفير د فرانسې هېواد ته د څوارلسم لويي دربار ته راغی، لويي خپل شان او شوکت ورښکاره کړ، ترڅو سفير تر خپلې اغېزې لاندې راولي، سفير هم وغوښتل چې په مناسب ډول دده د څرګندونو ځواب ورکړي. د لويي له خوا مولير وګومارل شو چې د سفير د سپکاوي په موخه يوه د سپکاوي ډکه ننداره وړاندې کړي. مولير لومړی د ننداري طرحه په هجوي بڼه چمتو کړه، په دې ننداره کې يې د کسب خاوندان تر سختو نيوکو لاندې راوستل چې له رښتينو بورژوا او نجباوو څخه پيروي کوي. (۵م۴۵۱۴)

د مولير پر ننداروکره کتنې:

د مولير د ننداروکې نيمګړتيا داده چې له زغم څخه يې کار نه اخيسته، تر ټولو ښکاره نيمګړتيا د ننداروکې د طرحې د غوټې په پرانستلو کې وه، د پېښو احتمالي پېښېدل، زياته غولونه، زياتې ټوکو يې ننداروکې ته زيان رسولی؛ کوچنيو شخصيتونو يې دومره سره توپير نه درلوده چې په بېلابېلو نومونو سره راڅرګندېدل، ټول يو بل ته سره ورته وو. يادې نيمګړتياوې د مولير د ښو او مثبو ټکو په وړاندې په نشت شمېرل کېږي، لومړی ښه والی يې ژور فکر دی چې نړيوالو ورته د ستر مفکر نوم ورکړی، د انسان د طبعيت ژوره څېړنه کوي، کمزوري يې پيدا کوي، بيا يې په نښه ييزو، تجسمي او انځوريزو غونډلو کې بيانوي. دويمه ښېګڼه يې داده چې سليم عقل له منځنيو کړنو سره يوځای کوي. د مولير په اند تراژيدي او کومېډي ننداري دومره سره ګډېږي چې برابرښت او ټوليزتوب ته رسېږي. دريمه ښېګڼه يې داده چې ننداري يې طبيعي دي، د حقيقت ښودانه کوي او ښه ډيالوګ وړاندې کوي. څلورمه ښېګڼه يې داده چې شخصيتونه يې فوق العاده دي، ډېری شخصيتونه يې په ټيپيک ډول انځور شوي، له هر ډول پېچلتيا څخه خالي دي چې په غښتلې استادۍ سره وړاندې شوي دي. (۳م۴۳۰)

پايله:

موليير د ټولنې د سمون او بې عدالتيو ، اخلاقي کمزوريو په وړاندې په هنري ژبه او د يو لوبغاړي په توګه په هنري حرکاتو سره مبارزه کړېده، په ټوکو او مسخرو يې د خپلې ټولنې نابرابريو ته ګوته نيولې او د خپلې ټولنې خلک او خپل ولس يې راويښ کړي، ترڅو هغو کړنو ته پام واړوي چې د دوی د برخليک په ټاکنه کې رول لري؛ د خپل وخت ټولو ټولنيزو اقشارو ته چې نيمګړتيا په کې وه، په طنزي ژبه ګوته نيولې او د سمون غوښتنه يې ترې کړې. دا چې دربار د پام وړ ګرځېدلی لامل يې دادی چې دی د داسې يو کس زوی دی چې د دربار په نزاکتونو پوهېده او خپل زوی يې هم په همدې روحيه وروزه. موليير هنر ته د ټولنې د سمون د يوې وسيلې په نظر کتل، که څه هم ده په حقوقو کې تعليم وکړ، خو خپلې اړيکې يې تل له نندارو سره وساتلې، له اقتصادي ستونزو سره سره يې ترې لاس وا نخيست.

وړانديزونه:

۱. په نړيواله کچه داسې ليکوال او هنرمند شته چې د انساني اخلاقي روزنې په اړه بشپړه تجربه لري او هم هنري اړخ يې په زړه پورې او خوندور وي، د داسې ليکوالو او هنرمندانو د اثارو ژباړه خپلې ژبې ته بې ګټې نه بولم.

۲. د هېواد ليکوالو ، شاعرانو او د نورو فرهنګي کارکوونکو اړيکې دې د نړۍ د نورو هېوادونو له ليکوالو او شاعرانو سره پيدا شي، ترڅو خپلې تجربې يو بل ته ولېږدوي.

۳.د سولې، هېواد او خلکو سره د مينې اثار وپنځول شي او د لوستوالو لاسته دې ورسول شي، ترڅو په ټولنه کې شته حالات سم شي.

Abstract:

Jean baptiste poquelin Moliere: Jean baptiste was a comedian Drama writer player and critic of social behaviours. He was not only a writer and author and group of people have been criticized by him in order to enlight and develop his skill He was imprisoned and faced ambarrassemnt He not leave has mission. He died before shwing his drama naded immaginan sick.

اخځليکونه:

۱- اسکار، ګ، براکت، هوشنګ ازادی ور. (۱۳۸۰). تاريخ تياتر جهان. تهران: انتشارات مرواری

۲- اطلاعاتو او کلتور وزارت. (۱۳۵۵هـ ش). پښتو اريانا دايرة المعارف، اووم ټوک. کابل: دولتی مطبعه

۳- باکنر، تراويک؛ عربعلی رضايی. (۱۳۷۳). تاريخ ادبيات جهان. تهران: ليتوګراف و چاپ صدر

۴- خانلری، زهرا. (۱۳۷۵). فرهنګ ادبيات جهان. ايران: انتشارات خوارزمی

۵- خزايل، حسن. (۱۳۷۵). فرهنګ ادبيات جهان. تهران: چاپ حيدری

۶- ده بزرګی، غلام حسين. (۱۳۸۳). تاريخ ادبيات جهان از اغاز تا پايان قرن بيستم. شرکت قلم

۷- سپهبدی، عيسی. (۱۳۲۹). تاريخ ادبيات فرانسه. تهران: انتشارات دانشګاه تهران

۸- ويل دورانت؛ شادروان، عباس. (۱۳۸۳). تاريخ تياتر. تهران: شرکت انتشارت علمی و فرهنګی کتبيه صحافی مهرايين

پوهنمل محمد ناصر (نصرتي)
طب پوهنځی- اناتومي څانګه

په ماشومانو کې د توري او پښتورګي د اوږدوالي نسبت ارزونه

لنډيز:
د توري اوږدوالی مونږ په ۱۲۰ نارمل ماشومانو کې د هيليوم له لارې د التراساونډ په واسطه د ننګرهار پوهنتون روغتون راډيولوژي څانګه کې وکاته او نظر عمر، جنس او د اوسېدو ځای ته مو د توري او پښتورګي د اوږدوالي نسبت ارزونه ترسره کړه، په دې منظور چې معلوم کړو ايا دا د اوږدوالي نسبت ثابت دی او يا دا چې توپير شته. په دې منظور چې Splenomegaly معلومه کړو زمونږ په دې څېړنه کې تر ۱۵کلنۍ عمر پورې په ماشومانو کې نوموړی نسبت 1.04يعنې د توري په اوږدوالي کې لږ توپير موجود و او له ۱۵کلنۍ پورته عمر کې نوموړی نسبت 1.007 و، تقريباً د يو په شاوخوا کې نظر جنس ته په ښځو کې نوموړی نسبت 1.05 او په نرانو کې 1.07 و؛ نظر د اوسېدو ځای ته د کليو او باندو په ماشومانو کې نوموړی نسبت 1.003او په ښاري ماشومانو کې1.02 و.

سريزه:
څرنګه چې ننګرهار ولايت د هېواد له ګرمو سيمو څخه دی او په ځانګړې ډول د اوړي او مني په موسمونو کې د ملاريا ناروغۍ پېښې په کې فوق العاده زياتې او د ملاريا لپاره انديميک سيمه ده او ډېری کسان خصوصاً ماشومان د ملاريا ګڼ شمېر حملې تېروي چې د توري له غټوالي سره مل وي، ددې په خوا کې توری د انسان په بدن کې د دفاعي سيستم د غړو له جملې يو برجسته غړی دی چې د انتان يا مکروب د مداخلې په صورت کې له ميکروب سره مجادله کوي او د انسان بدن تر يوه حده پورې د ميکروبونو له ضرر څخه ساتي. زمونږ د ټولنې ماشومان ډېره هڅه کوي چې له کوره بيرون چاپېريال کې لوبې وکړي او دغه چاپېريال د محيطي حفظ الصحې له نظره پاک چاپېريال نه وي. له بلې خوا د خوراک او څښاک په وخت کې ماشومان عادتاً خپله حفظ الصحه نه مراعاتوي، کله هم چې ميکروب بدن ته داخل شي، له انتان سره د مجادلې په نتيجه کې ددې غړي د کار زياتوالی د نوموړي غړي په غټوالي منتج کېږي او په نتيجه کې Splenomegaly تاسيسوي چې اکثراً خفيف وي او د کلينيک له نظره توری د جس وړ نه وي، ددې لاملونو له کبله زه دې ته وهڅېدم چې د توري او چپ پښتورګي د اوږدوالي نسبت د التراساونډ په واسطه معلوم کړم، تر څو خفيفه Splenomegaly فيصدۍ کچه په ماشومانو کې معلومه شي، له دې سره يو ځای د پښتورګي د جوړښت په اړوند لازم معلومات په دې علمي مقاله کې د طب مينه والو ته وړاندې کړم.

موخې:
- د هغو عواملو په هکله معلومات وړاندې کول چې د توري د لويوالي لامل ګرځي.
- په ماشومانو کې د توري د خفيف لويوالي د فيصدۍ کچه معلومول.

په ماشومانو کې د توري او پښتورګي د اوږدوالي نسبت ارزونه:

توری د انسان په بدن کې د معافيتي سيستم مهم غړی دی، معافيتي سيستم د انسان بدن د ميکروب د داخلېدو په صورت کې له انتان سره مجادله کوي، له همدې کبله دغه سيستم ته د بدن معافيتي سيستم ويل کېږي. دغه سيستم له لمفاوي اوعيو او لمفوئيد انساجو څخه جوړ شوی چې مهم لمفوئيد انساج يې د لمفاوي عقداتو، توري، تايمس غدې او يو تعداد د لمفاوي نسج له وړو کتلو نه چې د تنفسي، هاضمې او بولي تناسلي سيستمونو د ځينو برخو په مخاطي

غشاوو کې موقعيت لري او د Mucosal Associated lymphoid tissues (MALT) په نوم يادېږي، جوړ شوي دي. مونږ په دې ځای کې ددې سيستم د اعضاوو له جملې توری چې زمونږ د څېړنې عمده برخه ده، د اناتومۍ، هستالوژۍ او فزيولوژۍ له نظره وربانديې بحث کوو. له توري سره يوځای د پښتورګي په ساختمان هم بحث کوو. د اناتومۍ له نظره توری د بطن په جوف کې د ۱۱-۹ پښتيو برابر په Left Hypchondrium کې موقعيت لري، شکل يې فاني ته ورته دی چې اوږدوالی يې په کاهلانو کې پنځه انچه يا دولس نيم سانتي متره او په ماشومانو کې نوموړې اندازه د يو کلنۍ په عمر کې اوه سانتي متره او د عمر د زياتوالي سره په کال کې درې ملي متره زياتېږي چې له دې اندازې زياتوالي د توري په غټوالي منتج کېږي، د توري اوږدوالی نسبت د پښتورګي اوږدوالي ته شل فيصده زياتوالی لري.



۱- شکل: د توري اناتوميک موقعيت.

وزن يې په لويانو کې دوه سوه ګرامه يا اوه اونسه دی، رنګ يې تېره بانجاني دی چې لرونکی د دوه نهايتو (قدامي او خلفي) درې کنارو (علوي، سفلي او وسطي) او دوه وجهو (حجاب حاجزي او حشوي) دی. (۳)

د نسجي جوړښت له مخې توری له دوه برخو جوړ شوی چې يوه برخه يې د ستروما او بله برخه يې د پرانشيم په نوم يادېږي. د ستروما برخه يې له کپسول، ترابيکولاو او ريتيکولار اليافو څخه جوړه شوې، کپسول يې توری احاطه کوي او د کپسول له داخلي سطحې نه يو تعداد پردې نشئت کوي چې هره پرده يې ترابيکولا نومېږي. د ترابيکولاو ترمنځ برخه کې ريتيکولار يا شبکوي الياف قرار لري چې د پرانشيم حجراتو لپاره تقويوي رول لري. د توري د پرانشيم برخه له اسفنج سره شباهت لري چې Splenic pulp هم ورته ويل کېږي او له دوه برخو جوړه شوې ده چې د White pulp او Red pulp په نومونو يادېږي. د White pulp او Red pulp نامګذاري نظر ددې ساحو رنګ ته اينښودل شوې، په دې ډول چې کله مونږ توری قطع کړو په دې قطع شوې ساحه کې سپين رنګه ساحه او تېره رنګه ساحه ليدل کېږي چې سپين نقاط يا ساحه يې د White pulp او د دوی تر منځ ساحه د Red pulp په نوم يادېږي. د نسجي جوړښت له مخې white pulp له لمفاوي نسج نه چې عمده برخه يې له سروکرويا تو، مونوسايتو، لمفوسايتو، پلاتليتس ګرانوسايتونو او ماکروفاژ حجراتو، ارتيريولو او وريدي حيوبونو څخه جوړ شوی دی.



۲- شکل: د توري هستولوژيک جوړښت

د Red pulp او White pulp ترمنځ Marginal area قرار لري چې په دې ساحه کې نظر White pulp ته د لمفوسايتو تعداد کم او نظر Red pulp ته زيات دی. د توري اروا د Splenic artery په واسطه صورت نيسي، کله چې دا شريان د توري هيلوس ته ورسېږي، په متعددو شعباتو ويشل کېږي او هره شعبه يې د ترابيکولا په ضخامت کې سير کوي، کله چې ترابيکولا نه خارج شي، د توريWhite pulp ته داخلېږي چې د Arteriol په نوم يادېږي او ددې شريان قطر د ترابيکولا شريان له قطر څخه په مراتبو کم وي. دغه ارتيريول په White pulp کې د لمفوسايت په واسطه احاطه شوی وي، په دې معنی چې په دې ساحه کې د Advantetia طبقې په عوض لمفوسايتونه د شريان بيرونی پوښ جوړوي او بيا په نورو شعبو ويشل کېږي، کله چې همدا شرياني شعبه Red pulp ته داخل شي، په قطر کې يې کموالی مشاهده کېږي او د فاگوسايت حجراتو په واسطه احاطه کېږي، له همدې کبله د Sheated arteriol په نوم هم يادېږي چې بالاخره وروستی قسمت يې د Penicilli په نوم يادېږي او په وريدي جيوبو ختمېږي.



۳- شکل: د توري اروا (Blood supply)

د فزيولوژۍ له نظره توری لاندې وظايف اجراء کوي:
د وينې د حجراتو جوړېدنه: په جنيني ژوند کې توری د لمفوسايتو، مونوسايتو، ګرانولوسايتو، پلاتليتس او سرو حجراتو په توليد کې رول لري چې وروسته له زيږون څخه د وينې جوړېدنه د هډوکو د سور مغز په واسطه صورت نيسي. د ناروغۍ په وخت له زيږون څخه وروسته هم توری د وينې د جوړېدو پروسه تعقيبوي چې دغه حالت د Extra Meddullary haemoposis په نوم يادېږي.
د سرو کروياتو تخريب: توری د سرو کروياتو د قبرستان په نوم هم يادېږي، زاړه سره کرويات او هغه سره کرويات چې جوړښت يې غير نارمل وي او يا غير نارمل شوي سره کرويات لکه په ملاريا او کالازار ناروغيو کې په توري کې تخريبېږي چې دغه عمليه په Red pulp کې صورت نيسي او وروسته له هغه تخريب شوي سره کرويات د مکروفاژ حجراتو په واسطه بلع کېږي، د اوسپنې برخه يې د نورو سرو کروياتو په جوړېدنه کې کارول کېږي. سره کرويات ټول 120 ورځې عمر لري چې له دې وروسته بايد تخريب شي چې دغه پروسه د توري په واسطه پر مخ وړل کېږي.
Immunity: توری د معافيتي سيستم عمده غړی دی، په توري کې لمفوسايتونه وجود لري چې له انتان سره مجادله کوي او کله چې د دوران له لارې انتان توري ته ورسېږي، دغه عمليه هلته اجراء کېږي. له بلې خوا په توري کې مکروفاژ حجرات قرار لري چې دغه حجرات مکروبونه کوم چې د دوران له لارې توري ته ورسېږي، بلع کوي، له دې نه داسې معلومېږي چې توری د انسان په بدن کې د فلتر کولو دنده لري، لکه لمفاوي عقداتو غوندې چې لمفاوي عقدات لمف فلتر کوي او توری وينه فلتر کوي، نو د لمفاوي عقداتو او توري تر منځ توپير په دې کې شو چې لمفاوي عقدات لمف فلتر کوي او توری وينه فلتر کوي.
د وينې ذخيره کېدل: دا چې د توري Red pulp اسفنجي خاصيت لري، نو د همدې خاصيت په لرلو سره وينه ذخيره کوي او د اړتيا په وخت کې يې دوران ته ازادوي او د دموي کتلې د زياتوالي سبب کېږي چې په همدې وجه توری د وينې د بانک په نوم هم يادېږي، په انسانانو کې د وينې ذخيره کېدو پروسه ناچيزه، ولې په نورو حيواناتو کې له اساسي وظايفو حسابېږي. (۱)
پښتورګي (The kindeys): پښتورګي د لوبيا په شان شکل لري چې د بطن په خلفې جدار کې د پريتوان شاته د ستون فقرات په دواړو خواوو کې قرار لري. پښتورګي عموداً د دولسمې صدري فقرې د پورتنې سرحد څخه د درېيمې Lumbar فقرې د جسم منځنۍ برخې پورې امتداد لري. د پښتورګي طولاني محور ښکته او شاته او عرضاني محور يې وحشي او شاته تمايل لري، په همدې وجه د پښتورګو پورتني سرحدونه نظر ښکتنيو سرحدونو ته متوسط خط ته نژدې قرار لري؛ چپ پښتورګی د ښي پښتورګي په نسبت 1,25 سانتي متره پورته موقعيت لري (د ځګر د ښي فص د موجوديت له کبله) بنا پردې Transpyloric line د ښي پښتورګي د Hilus له علوي برخې او د چپ پښتورګي د Hilus د سفلي برخې څخه تېرېږي. هر پښتورګی تقريباً يوولس سانتي متره طول، شپږ سانتي متره عرض او درې سانتي متره ډبلوالی لري. د چپ پښتورګي طول د ښي پښتورګي څخه لږ څه زيات او ډبلوالی يې ورڅخه کم دی، د پښتورګي وزن په نارينه و کې 150 ګرامه او په ښځو کې 135 ګرامه دی. پښتورګي سور نصواري رنګ لري، هر پښتورګی دوه نهايته (علوي، سفلي) دوه کناروونه (وحشي چې محدب او انسي چې مقعر دی) او دوه وجهې (قدامي وجهه چې غير منظمه او خلفي وجهه چې هموار ده) لري. پښتورګي د پريتوان خلف کې قرار لري، بناءً قسماً په قدام کې د پريتوان په واسطه پوښل شوي دي. (۴)



۴- شکل: د پښتورګي شکل او موقعيت.

د پښتورګي جوړښت:

۱- Macroscopic جوړښت: که چېرې له پښتورګي څخه اوږده مقطع واخستل شي، نو وبه ليدل شي چې پښتورګی له درې برخو نه جوړ شوی دی چې عبارت دي له:

1-Renal cortex (سور نصواري رنګ لري)

2-Renal medulla (خاسف رنګ لري)

3-Renal Sinus (د يو جوف شکل لري)

۱. Renal cortex د پښتورګي Cortex دوه برخې لري چې عبارت دي له:

a) Cortical arches: د Cortex دغه برخه د Renal pyramids قاعده پوښوي او هر Pyramids د مربوطه Cortical arches سره د پښتورګي lobe جوړوي.

b) Cortical columns: د کورټکس دغه برخه د Renal pyramids په مابين کې ښکته کېږي.

2. Renal Medulla: د پښتورګي دويمه برخه د Renal Medulla په نوم يادېږي او د پښتورګي دا برخه له لس مخروطي کتلو څخه چې Renal pyramids نومېږي، جوړه شوې ده، د هر يو Renal pyramids زروه د Renal papilla په نوم يادېږي چې اړونده Minor calyx سره اړيکه لري.

3. Renal sinus: Renal sinus د Minor calices له ابتدايي قسمتو څخه شروع تر Hilus پورې امتداد لري او دا په حقيقت کې د Mijor/Minor calices او Renal pelvis له يوځای کېدو څخه منځته راځي، په دې ډول چې د څو عدده Minor calices له يو ځای کېدو څخه Major calices چې په هر پښتورګي کې يې تعداد لس عددو ته رسېږي او د Major calices له يو ځای کېدو څخه Renal pelvis منځ ته راځي. (۴،۲)



۵- شکل: د پښتورګي ماکروسکوپيک جوړښت.

II- Microscopic جوړښت: د پښتورګو ساختماني او وظيفوي واحد چې نفرون بلل کېږي او هر پښتورګی له 3-2 ميلونه پورې نفرونونه لري. نفرون د ادرار او نورو خطرناکو موادو په Filtration کې له وينې څخه رول لري، يعنې کوم مضره مواد چې بايد له بدن څخه اطراح شي، د همدې نفرونو په واسطه يې Filtration صورت نيسي. د نفرون جوړښت په لاندې ډول دی، يعنې هر نفرون له لاندې برخو څخه جوړ شوی دی:

1- The renal corpuscle: د Malpeghian corpuscle په نوم يادېږي، د نفرون دا برخه له Glomerulus او Bowman;s capsule څخه جوړه شوې ده چې د پلازما نه د فاضله موادو په جذب کې رول لري.

2- The renal tubules: Renal tubules د ځينې موادو په دوباره جذب کې له Glomerular Filtration نه دوران ته رول لري او د لاندې جوړښتونو لرونکي دي:

a) Proximal convoluted tubule

b) Loop of henle: د Henle loop د Descending او Ascending برخو لرونکې دي.

c) Distal convoluted tubule: هر يو Destal convoluted tubule د Collecting tubule سره ارتباط لري چې بالاخره د څو عدده Collecting tubule له يو ځای کېدو نه Bellini duct منځ ته راځي چې Bellini duct د اړونده Minor calyx سره اړيکه لري او خپل مختوي چې عبارت له ادرار نه دي، په همدې Minor calyx کې تخليه کوي. (۵)



۲- شکل: د پښتورګي مايکروسکوپيک جوړښت

(Juxtaglumerular apparatus): دغه جوړښتونه چې د Glumerule په وعايي قطب کې موقعيت لري او د Henle loop د Ascending limp سره Distal onvoluted tubule ته نژدې صميمي اړيکه لري، Juxtaglumerular apparatus د لاندې برخو لرونکې ده:

۱. Macula densa

۲. Juxtaglumerular cells

۳. Polkissen cells (نوموړي حجرات ګرانيول نه لري، د Macula densa او Glomerulus تر منځ قرار لري)

Juxtaglumerular apparatus په Ischemic حالاتو کې يو انزايم چې رينين نومېږي، ترشح کوي. رينين د وينې Angiotensinogen په Angiotensin-I بدلوي. Angiotensin-I د Converting enzyme په واسطه په Angiotensin- II بدلېږي، دغه وروستۍ ماده له يوې خوا د شريانونو د تقبض سبب کېږي او له بلې خوا د Aldosteron ترشح د Adrenal

cortex په واسطه زياتوي چې ددې دواړو عمليو په موجوديت کې د وينې فشار پورته ځي او تر يوې اندازې د Ishemia نه جلوګيري کېږي.

د پښتورګو اروا: هر پښتورګی د Renal artery په واسطه چې د Abdominal aorta څخه منشاء اخلي، اروا کېږي. Renal artery د پښتورګي د Hilus په برخه او يا Hilus ته نژدې په دوه شاخو (قدامي او خلفي) ويشل کېږي او دا بيا د پښتورګي په داخل کې په پنځو برخو يا ښاخونو ويشل کېږي. د پښتورګي هر Segment ته يو يو Segmental artery ورځي Segmental artery بيا په Interlobar arteries ويشل کېږي، کوم چې هر يو ددې شريانو د اړونده Pyramid په دواړو خواوو کې پورته سير کوي. Interlobar artery بيا په دوه شاخونو چې Arcuate artries نومېږي، ويشل کېږي، هر يو Arcuate artery د پښتورګي د Pyramid په قاعده کې د يو قوس په شکل سير کوي چې بيا د اړونده Pyramid په قاعده کې په دوه شعبو ويشل کېږي چې هره يوه شعبه د Interlobular artery په نوم يادېږي چې نوموړی وروستی شريان د پښتورګي د Cortex خواته پورته ځي، د Interlobular artery واړه شاخونه Renal capsule سوري کوي او نورو وړو شريانو سره تفمم کوي. Afferent glumerular arteriols د Interlobular arteries شاخونه دي، لاکن کېدای شي چې حتی Afferent glumerular arteriols د Arcuate arteries او حتی د Interlobar شريانو څخه نشئت وکړي. Efferent glumerular arteriols چې کوم وخت له Glumerule نه خارج شي، د Proximal / Distal convoluted tubules په شاوخوا کې Pretubular capillary plexus جوړوي چې دا بيا په interlobular veins کې تخليه کېږي.



۷ شکل: د پښتورګي اروا (Blood supply).

د پښتورګو تعصيب: پښتورګي د Renal plexus په واسطه تعصيب کېږي، دغه plexus د سمپاتيک اليافو لرونکې دي چې نوموړی الياف د نخاع د (T10-L1) سګمنتو نه منشاء اخلي.

د پښتورګي وريدي تخليه: وړاندې مونږ وويل چې کوم وخت Efferent glumerular arterioles له Glumerule نه خارج شي، د Proximal/ Distal convoluted tubules په شاوخوا کې يوه شبکه د Pretubular capillary په نوم جوړوي چې دا بيا په Interlubular vein کې او بيا Interlubular veins په Arcuate vein او Arcuate veins په Interlobar vein کې چې Interlobar veins په Segmental vein او بالاخره Segmental veins په Renal vein او Renal vein په Inf. vena.cava کې تخليه کېږي.

د پښتورګو لمفاوي تخلیه: د پښتورګو لمفاوي اوعیې د Lateral aortic nodes په هغه برخه کې له کومه چې Renal vein منشاء اخلي تخلیه کېږي. (۸)

د پښتورګي تکامل:

د پښتورګي پرانشیم له میتانیفروز نه جوړېږي، لاکن اطراحي قناتونه یې د یو ډایورتیکول له تکامل نه د Uretric bud په نوم چې د Mesonephric duct له ښکتني قسمت نه نشئت کوي، په لاندې ډول جوړېږي:

د Uretric bud هغه قسمت چې د میتانیفروز په طرف د انکشاف په حال کې دی، توسع کوي او د Uretric ampula په نوم ساختمان جوړوي؛ بیا نوموړې امپولا په دوه برخو ویشل کېږي. د تشعب له ناحیې لاندې د امپولا برخه د Renal pelvic په جوړولو کې برخه اخلي او شعبات یې Major calices جوړوي. د Major calices بعدي تقسیمات Minor calices جوړوي او د Minor calices تقسیمات Collecting duct جوړوي. هر یو Collecting duct په متعددو شعباتو ویشل کېږي او د هرې شعبې نهایي قسمت متوسع کېږي چې دا متوسع برخه د امپولا په نوم یادېږي. د میتانیفروز هغه حجرات چې له دې امپولا سره په اړیکه کې دي، د نفرون په جوړېدو کې برخه اخلي؛ په دې ډول چې د حجراتو یوه کتله چې وروسته په یوه ناک مانند کیسه بدلېږي او همدا کیسه په امپولا کې خلاصېږي، په تعقیب یې کیسه د S د توري شکل اختیاروي او د کیسې په Distal قسمت کې د شعریه عروقو یوه شبکه ورننوځي، کوم چې ګلومیرول جوړوي. (۷)



۸ شکل: د پښتورګي تکامل.

مواد او کړنلاره:

په دې څېړنه کې د ننګرهار پوهنتون روغتون د راډیولوژي څانګې التراساونډ ماشین او هم له یو جدول او قلم نه ګټه اخستل شوې ده. دغه راز ۱۲۰ تنه د مختلفو عمرونو ماشومان ما د التراساونډ له نظره د ننګرهار پوهنتون روغتون د راډیولوژي څانګې د التراساونډ په برخه کې د منظم مهالویش له مخې له ۱۳۹۱/۸/۱۲ څخه تر ۱۳۹۲/۲/۱ نېټې پورې وکتل، د توري او چپ پښتورګي د اندازه ګیرۍ لپاره د هیلیوم برخه معیار نیول شوې او په Supine او ځینو ماشومانو کې په Anterior oblique وضیعت التراساونډ معاینه اجراء شوې. د کتنې په وخت کې هغه ماشومان چې د پښتورګي او توري ناروغي یې درلوده، له نمونه ګیرۍ څخه لیرې شوي دي.

پایله:

مونږ په دې څېړنه کې ټول ۱۲۰ تنه ماشومان د التراساونډ له نظره د ننګرهار پوهنتون روغتون د راډیولوژۍ څانګې کې وکتل چې په دې واقعاتو کې د پښتورګي/ توري د اوږدوالي نسبت خلاصه نظر عمر، جنس او د اوسېدو محل ته په لاندې ډول دي:

۱- نظر عمر ته تر ۱۵ کلنۍ عمر پورې د پښتورګي/ توري د اوږدوالي نسبت له یوه نه پورته (1,04) او له ۱۵ کلنۍ پورته عمر کې د یو په شاوخوا کې(1,007) دی.

عمر	د نمونې ٪	د توري منځنی اوږدوالی	د پښتورګي منځنی اوږدوالی	نسبت
له ۱۵ کلنۍ پورته عمر	33	104,18	103,43	1,007
له ۱۵ کلنۍ ښکته عمر	87	79,95	76,74	1,04

پورته جدول نظر عمر ته د پښتورګي/ توري د اوږدوالي نسبت په ګوته کوي.

۲- نظر جنس ته په ښځینه جنس کې نوموړی نسبت (1,05) او په نارینه ماشومانو کې نوموړی نسبت (1,07) دی.

جنس	د نمونې ٪	د توري منځنی اوږدوالی	د پښتورګي منځنی اوږدوالی	نسبت
نارینه	74	83,31	77,83	1,07
ښځینه	46	80,22	76,03	1,05

پورته جدول نظر جنس ته د پښتورګي/توري د اوږدوالي نسبت په ګوته کوي.

۳- نظر د اوسېدو ځای ته په کلیوالو ماشومانو کې نوموړی نسبت 1,03 او په ښاري ماشومانو کې 1,02دی.

د اوسېدو ځای	د نمونې ٪	د توري منځنی اوږدوالی	د پښتورګي منځنی اوږدوالی	نسبت
کلیوال ماشومان	67	83,11	80,06	1,03
ښاري ماشومان	53	83,42	81,1	1,02

پورته جدول نظر د اوسېدو ځای ته د پښتورګي/ توري د اوږدوالي نسبت په ګوته کوي (۹)

مناقشه:

دغه څېړنه چې ما په ننګرهار ولایت کې په ۱۲۰ تنه نارینه او ښځینه ماشومانو کې تر سره کړې ده، له هغې څېړنې سره چې په Department of Radiology king Hossein Medical Center Amman jordan کې په ۲۰۰۳ کې شوې وه، پرتله کړه؛ په هغې څېړنې کې د توري او پښتورګي د اوږدوالي نسبت تقریباً د یو په شاوخوا کې و او زمونږ څېړنې هم دا وښوده چې په ماشومانو کې د پښتورګي/ توري د اوږدوالي نسبت له یوه څخه لږ څه زیات و.

وړاندیزونه:

۱- ګرانو هم مسلکانو لپاره وړاندیز کېږي چې د توري او پښتورګي نورماله اندازه چې ددغې څېړنې په ترڅ کې ما ترلاسه کړې، باید ورته پاملرنه وکړي، تر څو د ناروغۍ او نورمال حالت تر منځ توپیر وشي.

۲- په ښاري سيمو کې د محيط د ککړوالي د مخنيوي په خاطر د ښاروالۍ خاصه پاملرنه.
۳- والدين بايد خپل ماشومان پاک وساتي، د خوړو له خوړلو وړاندې او وروسته د لاسونو وينځل او هم کنار اب نه له راتګ وروسته د لاسو وينځل اړين دي.
۴- په ښوونځيو کې بايد د حفظ الصحې په اړه معلمين او نور پرسونل زده کوونکي دې ته وهڅوي چې شخصي او محيطي حفظ الصحې ته پاملرنه وکړي.
۵- په ګرم موسم کې له ماشو څخه د ځان ساتنې په خاطر د پشه خانو استعمال.
۶- د خوسا اوبو او ډنډونو له منځه وړل چې دغه عمل د ماشو له زياتېدو څخه مخنيوی کوي.

Abstract:

This is to be mentioned that the lengths of spleens in 120 children were observed in Ningarahar university hospital department of radiology through ultrasound. Their ratio evaluation was carried out from age, sex and residence point of views , in order to find out whether the ratio is constant or not. The ratio was 1.04 in children under 15 years and 1.007 approximately 1 in children over 15years.The ratio is 1.05 in females , 1.07 males ,1.003 in rural children and 1.02 in urban children.

اخځليکونه:

۱. انور، دوکتــور محمد افضل. (۱۳۸۴). هستولوژي جهازات. کابل طــبي پوهنتون، معالجوي طب.
۲. بهسودوال، دوکتور خليل احمد. (۱۳۸۹). طبي هستولوژي. ننګرهار پوهنتون. طب پوهنځی.
3- Chaursia BD Human Anatomy Regional and Applied Dissection and Clinical CBS PUBLISHERS AND DISTRABUTERS 4819 /XI,Parahlad Street,24 Ansari Road -Daryagani,new dehli- 110002 (India) Fifth Edition2008 PP(301)
4- Chaursia BD Human Anatomy Regional and Applied CBS PUBLISHERS AND DISTRABUTERS. 4596/1A,11- Daryagani,new dehli- 110002 (India) Third Edition 2001 PP(256)
5- Henry-GRAY'S Anatomy Charchill livingstone EDINBURGHLONDON MELBOURNE and YORK Fortieth Edition 2008, pp(1233,1234)
6- GRAY'S Anatomy for Students Richard.Drake Wayne Vogl Adam W.M.Mitchell First Edition 2005 PP(323).
7- Langman Medical Embriology 12th Edition 2012 PP(233,234,235)
8- Snil. S.Rechard Clinical Anatomy for Medical Students 9th Editon 2012. PP(208,209)
9-Nangrahar University Hospital (Radiology Unit).

پوهنمل نظرمحمد
ساينس پوهنځی
رياضي او فزيک څانگه

د انتگرالي مجموعې هندسي او تخنيکي اهميت

لنډيز:

انتگرالي مجموعه د رياضي د اساسي مفاهيمو له جملې څخه ده چې د هغې په مرسته د انتگرال تعريف او د هغې د تطبيق ساحه په گوته کېږي. ددې استعمال نه يوازې په رياضياتو کې، بلکې د ساينسي علومو په مختلفو برخو کې صورت نيولی دی. په دې ځای کې د دې مجموعې د شته والي تاثير په هندسي او تخنيکي موضوعاتو او هم د هغو معلوماتو لاسته راوړل دي، کوم چې د هغې په واسطه وکولای شو، د نوموړو موضوعاتو مفاهيم او روابط لاسته راوړو او رياضيکي بڼه ورته ورکړو.

سريزه:

هندسي مسايل کوم چې په اوسني عصر کې د $\int_a^b xdx$ او يا $\int_a^b x^2\,dx$ په شکل ښودل کېږي، ډېر پخوا د ارشميدس (Archimedes,212-287 B.C) په واسطه چې يو له مشهورو رياضي پوهانو او فزيک پوهانو څخه دی، ايښودل شوي وو. په اوسني عصر کې چې کوم انتگرالي محاسبات په هندسه، ميخانيک او فزيک کې تر سره کېږي، د نيوټن (I.Newton1643-1727) او لايبنيتز (G.W.Leibniz 16461716) لخوا چې د مشتق او انتگرال د اساس ايښودونکو په نوم هم يادېږي، په۱۷قرن کېښودل شوه. لايبنيتز د d او $\int$ سيمبولونه او هم د نامعين انتگرال نيولو قواعد تشريح کړل. د منحني الخطو انتگرالونو اساس د کليروت (Clairaut.1743) په واسطه کېښودل شو. د انتگرال دقيق تعريف يعنې د انتگرالي مجموعې لمټ د لومړي ځل لپاره د کوشي (A.L.Couchy1821) فرانسوي رياضي پوه له خوا ورکړل شو او د دې تعريف له مخې يې وکولای شو چې د مختلفو کلاسونو توابعو لپاره د انتگرال موجوديت تر څېړنې لاندې ونيسي. په (1875) کال کې داربو(G.Darbux1875) فرانسوي رياضي پوه د لومړي ځل لپاره د غيرمتمادي توابعو د انتگرال موجوديت په لنډه توگه تر څېړنې لاندې ونيول. په 19 قرن کې ريمان (G.F.B.Rieman) او لوبيگ (H.Lebesyue) فرانسوي سترو رياضي پوهانو له خوا د انتگرال نيولو د قابليت لپاره لازمي او کافي شرايط تر څېړنې لاندې ونيول شول. په 1902 کال کې د لوبيگ له خوا د انتگرال نوي مفاهيم تر مطالعې لاندې ونيول شول چې په اوسني عصر کې د اهميت وړ دي. (۲م۳۹۲)

موخې:

- د انتگرالي مجموعې او د هغې هندسي او تخنيکي اهميت څېړل.
- په اړونده برخه کې د مسلک خاوندانو، زده کوونکو او مينه والو ته د گټورو کومکي موادو برابرول.

د انتگرالي مجموعې تشکيل:

ددې لپاره چې په يوې مسلې کې د انتگرالي مجموعې څخه کار واخستل شي، لازم دي تر ټولو دمخه دا په گوته شي چې آيا د نوموړي مسئلې عامل يوه متمادي پروسه ده؟ د متماديت په صورت کې د انتگرالي مجموعې څخه په گټې اخستنې د مسئلې حل لاسته راوړل کېږي. البته که د مسئلې عامل متمادي نه وي، دا حالت تر څېړنې لاندې نه دی نيول شوی. د انتگرالي مجموعې د تشکيل لپاره لاندې مرحلې په نظر کې نيسو:

فرضوو چې $y = f(x)$ تابع د $[a,b]$ په قطعه خط متمادي ده.

1- د $[a,b]$ قطعه خط د $a = x_0 \leq x_1 \leq \cdots \leq x_m = b$ نقطو په واسطه د $[x_k, x_{k+1}]$ په کوچنيو قطعه خطونو ويشو، په دې ځای کې $x_0, x_1, \ldots, x_n$ ته د $[a,b]$ قطعه خط تقسيم کوونکې نقطې ويل کېږي.

2- د $[x_k, x_{k+1}]$ په هر قطعه خط کې د ξ_k اختياري نقطه په نظر کې نيسو $(k = 0,1,2,\dots,n-1) x_k \le \xi_k \le x_{k+1}$,
په دې صورت کې ويل کېږي چې د $\prod = [a = x_0 \le \xi_0 \le x_1 \le \xi_1 \le x_2 \le \cdots \le x_{n-1} \le \xi_{n-1} \le x_n = b]$
يوه ويشنه د $\xi_0, \xi_1, \dots, \xi_{n-1}$ په نښه کوونکو نقطو سره ورکړ شوې ده. د $x_{k+1} - x_k$ تفاضل د Δx_k په واسطه ښيو. د $d(\prod) = \max \Delta x_k$ عدد ته د $\prod$ ويشنې پارامتر وايي. د $[a, b]$ پر قطعه خط د $y = f(x)$ تابع لپاره لاندې مجموعه چې نظر د $\prod$ ويشنې ته د انتگرالي مجموعې په نوم يادېږي، تشکيلوو: $S_{\prod}(f) = \sum_{k=0}^{n-1} f\left(\xi_k\right) \Delta x_k \dots (*)$
انتگرال: د I عدد ته د $f(x)$ تابع انتگرال د $[a, b]$ پر قطعه خط ويل کېږي (د ريمان په مفهوم) که چېرې د هر $\varepsilon > 0$ اختياري عدد لپاره د $\delta > 0$ عدد موجود شي، داسې چې د هرې $\prod$ ويشنې لپاره چې $d(\prod) < \delta$ شرط صدق کوي، لاندې غير مساوات صدق وکړي:
$|I - S_{\prod}(f)| < \varepsilon$
وينو چې I د $[a, b]$ مجموعې په ويشلو او د ξ_k نقطو په انتخابولو پورې اړه نه لري. I په لاندې توگه د ليبنيتز له خوا وښودل شوه: $I = \int_a^b f(x)\, dx$

(۳م م۳۳۰-۳۵۰)، (۴م م۳۴۴-۳۶۲)

اوس غواړو انتگرالي مجموعه د تحليل او تر څېړنې لاندې ونيسو.
انتگرالي مجموعه يو له هغه مهمو مجموعو څخه ده کومه چې د عددي او تابعي مجموعو څخه فرق کوي. دا مجموعه يوه مغلقه مجموعه ده چې ددې مجموعې په هکله لاندې پوښتنې رامنځته کېږي:
1- آيا نوموړې انتگرالي مجموعه د رياضياتو او طبيعي علومو په کومو برخو کې استعمالېږي؟
2- تر کومو شرايطو لاندې د نوموړې انتگرالي مجموعې ليمټ وجود لري؟
3- نوموړې انتگرالي مجموعه د کومو خواصو لرونکې ده؟
د امکان تر حده پورته پوښتنې په لاندې ډول تر څېړنې لاندې نيسو:
1) دا چې نوموړې انتگرالي مجموعه په رياضياتو او يا نورو طبيعي علومو کې چېرې او په څه شکل استعمالېږي، د هغې اهميت له مخې چې نوموړې انتگرالي مجموعه يې لري، مونږ دلته نه شو کولای چې ټول د استعمال ځايونه يې په گوته کړو. د انتگرالي مجموعې څخه معين انتگرال تعريف او د معين انتگرال د استعمال ځايونه په عالي رياضياتو او نورو طبيعي علومو کې خورا زيات دي. د نمونې په توگه کولای شو ووايو چې د نوموړې انتگرالي مجموعې په مرسته په تقريبي ډول د منظمو او غير منظمو هندسي اشکالو مساحت، د منحني د قوس اوږدوالی، د حجم محاسبه، د ثقل مرکز، انرشيا مومنټونه او داسې نور محاسبه کړو. ددې ټولو محاسباتو په تر سره کولو کې د جمعي خاصيت څخه گټه اخيستل کېږي؛ په دې معنی چې که د نوموړو مفاهيمو عددي قيمت د يو کل په شکل په نظر کې ونيسو او دغه کلي قيمت په معينو برخو وويشو، نو ددې معينو برخو مجموعه بايد د کل سره مساوي شي چې دې خاصيت ته جمعي خاصيت ويل کېږي. (۲م م۳۰۰-۳۱۲)
2) لکه څنگه چې ليدل کېږي په انتيگرالي مجموعه کې د سگما تر علامې لاندې د $f(x)$ تابع وجود لري، که چېرې د $f(x)$ تابع د $[a, b]$ پر قطعه خط متمادي وي، نو د نوموړې مجموعې ليمټ کله چې $\max \Delta x_k \to 0$ وي، وجود لري. همدارنگه دغه مفهوم کولای شو د هغو توابعو لپاره چې د غير متماديت لومړی نوعه او هم د شمېرولو وړ وي، انکشاف ورکړو يعنې په دې حالت کې هم د نوموړې مجموعې ليمټ موجود دی.
3) د نوموړې مجموعې خواص د عددي سلسلو د خواصو سره ورته والی لري او هغه کولای شو دا رنگه وليکو:

$$i) \sum_{i=1}^{n} k\ f(\xi_i)\Delta x_i = k \sum_{i=1}^{n} f(\xi_i)\, \Delta x_i$$

$$ii) \sum_{i=1}^{n} [f(\xi_i) + g(\xi_i)]\Delta x_i =$$

$$= \sum_{i=1}^{n} f(\xi_i)\,\Delta x_i + \sum_{i=1}^{n} g(\xi_i)\ \Delta x_i$$

وي، نو iii) که $f(x) \equiv 1$

$$\sum_{i=1}^{n} f(\xi_i)\,\Delta x_i = \sum_{i=1}^{n} \Delta x_i = b - a$$

iv) که چېرې د $\prod$ ويشنه د $d(\prod) < \delta$ شرط صدق کړي، نو د $\prod$ هرې فرعي ويشنې لپاره لاندې شرط صدق کوي:

$$\left|s_{\prod'}(f) - s_{\prod}(f)\right| \le \omega_f(\tau)(b-a)$$

په دې ځای کې $\omega f\ (\tau) = \sup\left|f(x') - f(x'')\right|$ همدا رنګه $\lim_{\tau\to 0} \omega_f\ (\tau) = 0$

$$|x - x'| < \tau$$

v) که چېرې د $\{a, b\}$ پر قطعه خط $f(x) \le g(x)$ وي، نو $s_{\prod}(f) \le s_{\prod}(g)$

vi) که چېرې د $f(x)$ تابع د $[a, b]$ پر قطعه خط محدوده، يعنې $m \le f(x) \le M$ وي، په دې صورت کې

$$m(b-a) \le s_{\prod}\ (f) \le M(b-a)$$

vii) که چېرې $\prod = \prod_1 \cup \prod_2$ وي، په دې صورت کې $s_{\prod} = s_{\prod_1} + s_{\prod_2}$ په دې ځای کې د $[a, b]$ پر قطعه خط $\prod_1$، $\prod$ او $\prod_2$ ويشنې دي. (۵م م۳۴۴-۳۶۲)

د انتګرالي مجموعې هندسي اهميت:

ددې لپاره چې د انتګرالي مجموعې هندسي اهميت وڅېړو، لازم دي د هندسي مفاهيمو په باب ستندرد مفاهيم په نظر کې ونيسو، يعنې د مساحت د مفهوم لپاره د مستطيل مساحت، د منحني د قوس طول اندازه کولو لپاره د مستقيم خط اوږدوالي، د حجمونو د محاسبه کولو لپاره د استوانې حجم د ستندردو مفاهيمو په شکل په نظر کې نيول کېږي. لکه څنګه چې ليدل کېږي، د انتګرالي مجموعې هر حد د هندسي تعبير له مخې د پورته ذکر شوو مفاهيمو ارايه کوونکي دي. د مثال په توګه د مساحت په پيداکولو کې Δx_k د مستطيل عرض او $f(\xi_k)$ د مستطيل طول راښيي. د قوس د اوږدوالي په پيداکولو کې د انتګرالي مجموعې لاندې تابع د $\sqrt{1 + [f'(\xi_k)]^2}$ په شکل او د حجم په پيداکولو کې د انتګرالي مجموعې لاندې تابع د $S(\xi_k)$ په شکل نظر کې نيول کېږي. په دې حالتونو کې د لميټ په اخستلو سره مطلوب کميتونه په دقيق ډول لاسته راځي.

د انتګرالي مجموعې فزيکي اهميت:

ددې لپاره چې د انتګرالي مجموعې فزيکي مفهوم په نظر کې ونيسو، يو ځل بيا هم د فزيکي مفاهيمو د محاسبه کولو لپاره بايد ستندرد مفاهيم وپېژنو. د مثال په ډول د يوې ميلې د کتلې د ستندرد مقدار لپاره د مستقيمې متجانسې ميلې کتله، د کار ستندرد مقدار لپاره د ثابتې قوې کار د يو مستقيم خط په استقامت، د ثقل مرکز لپاره په مستوي کې د متجانس شکل د ثقل مرکز او داسې نور فزيکي مفاهيم په نظر کې نيول کېږي چې د هر کميت د محاسبې په پايله کې د انتګرالي مجموعې لاندې تابع مختلف شکلونه غوره کوي. د انتګرالي مجموعې څخه د لميټ په اخستلو د نوموړو کميتونو دقيق قيمت تر لاسه کولای شو. (۲م م۴۹۵-۵۲۲)

اوس غواړو د نمونې په توګه د انتګرالي مجموعې اهميت په يوې هندسي او يوې فزيکي مسئلې کې وښيو:

مثال: د هغې ساحې مساحت لاسته راوړئ، کوم چې د $y - \sqrt{x}\ ,\ x - 1\ \ x - 4$ او $0x$ محور په واسطه احاطه شوې وي؟ (1) شکل.



حل: څرنګه چې راکړ شوې ساحه يو منظم هندسي شکل نه لري، نو مونږ نشو کولای، د هندسي فورمولونو په مرسته د نوموړې ساحې مساحت لاسته راوړو. ددې منظور لپاره د مستطيل مساحت د ستندرد مساحت په شان ټاکو او انتګرالي مجموعه يې تشکيلوو.

د انتګرالي مجموعې لپاره $x_0 = 1 \le \xi_1 \le x_1 \le \xi_2 \le x_2 \le \cdots x_{k-1} < \xi_k \le x_{k+1} \le \cdots \le x_n = b$ ويشنه په نظر کې نيسو، ددې ويشنې $k-$ ا مې برخې مساحت چې په شکل کې ښودل شوی، لاسته راوړو،

$$s_k = f(\xi_k)(x_{k+1} - x_k) = \sqrt{\xi_k}\Delta_k \quad k=0,1,2,\ldots,n-1$$



شکل (2)

دا د هغې مستطيل مساحت دی، کوم چې طول يې $f(\xi_k) = \sqrt{\xi_k}$ او عرض يې Δ_k دی. نوموړی مساحت د هغې منحني الخط مستطيل مساحت په تقريبي ډول راښيي، کوم چې د پورته خوا څخه د $y = \sqrt{x}$ او د ښکته خوا څخه د $[x_k, x_{k+1}]$ قطعه خط په واسطه احاطه شوی دی. په دې توګه د S مساحت دارنګه ليکو: $S = \sum_{k=1}^{n-1} f(\xi_k)\,\Delta x_k = \sum_{k=1}^{n-1}\sqrt{\xi_k}\,\Delta x_k$

د پورته مساوات ښي خوا انتګرالي مجموعه ده چې د لميټ په اخستلو سره دقيقه محاسبه ارايه کوي.

2مثال: (د آزاد وزن تر تأثير لاندې انبساط) د يوه استوانه يي شکل فلزي فنر چې ارتفاع يې H او د قاعدې مساحت يې A وي، په نظر کې نيسو. (۱م۵۱۸)

که چېرې نوموړی فنر وځړول شي، نو د فنر طول زياتېږي. د فنر اوږدېدنه محاسبه کوو. نوموړې استوانه د هغو مستوي ګانو په واسطه چې پر مؤلد عمود وي، په n وړو استوانو ويشو. د مستوي ګانو فاصلې يوه له بلې څخه د $l_1, l_2, \ldots, l_{n-1}$ پواسطه ښيوو. (شکل ته وګورئ).



شکل (3)

k- امه استوانه په نظر کې نيسو، ددې استوانې ارتفاع عبارت ده له $l_k - l_{k-1} = \Delta l_k$ دغه طول د هغه وزن په نتيجه کې لاسته راغلی چې په لاندېنۍ برخه کې ځړول شوی دی. دغه وزن د $A(H - l_k).\delta$ سره مساوي دی. په دې ځای کې مادې کثافت راښيي. د λ_k اوږدېدنه د هوک (Hook) د قانون له مخې مساوي ده په $\frac{A(H-l_k)\delta(l_k-l_{k-1})}{AE}$ دلته E د کشش قوې مطلقه قيمت دی.

په دې ډول $\lambda_k = \frac{\delta}{E}(H - l_k)(l_k - l_{k-1})$ له دې ځايه د ټولو اوږدو شوو برخو د طولونو مجموعه کولای شو دارنګه وليکو:

$$\frac{\delta}{E}\sum_{K=1}^{n-1}(H-l_K)(l_K-l_{K-1})=\frac{\delta}{E}\sum_{K=1}^{n-1}(H-l_K)\Delta l_K$$

پورته مجموعه په تقريبي ډول د فنر اوږدېدنه راښيي، کوم چې د ځړول شوي وزن په نتيجه کې لاسته راځي. دغه مجموعه يوه انتګرالي مجموعه ده چې د لميټ په نيولو سره يې کولای شو، په دقيقه توګه محاسبه کړو، يعني:

$$\lim_{n\to\infty}\frac{\delta}{E}\sum_{K=1}^{n-1}(H-l_K)\Delta l_K=\frac{\delta}{E}\int_0^H(H-l)\,dl=\frac{\delta H^2}{2E}$$

پايله:

دا چې په عالي رياضياتو کې معين انتګرال کوم چې د انتګرالي مجموعې په مرسته تعريف کېږي، يو له مهمو او عمده برخو څخه دی او په انجنيري، هندسه، فزيک او اقتصاد کې په پراخه پيمانه د تطبيق وړ دی؛ له دې امله انتګرالي مجموعه چې يوه پيچلې مجموعه ده او د نورو حسابي او تابعي مجموعو سره توپير لري، نو په عالي رياضياتو کې د ستر اهميت لرونکې ده. د انتګرالي مجموعې عمومي حد ددې مجموعې اهميت او د تطبيق ساحه زياته کړې ده چې دې مطلب ته د مقالې په متن کې ځای ورکړ شوی دی. د انتګرالي مجموعې د لميټ موجوديت د اهميت وړ دی او د لميټ د موجوديت په صورت کې د مسايلو دقيق حل لاسته راځي.

وړانديزونه:

دا چې انتګرالي مجموعه په عالي رياضياتو، انجنيري، هندسه، فزيک او اقتصاد کې په پراخه توګه د تطبيق وړ ده، لازم دي ددې مجموعې د تشکيل لپاره لاندې ټکو ته ډېره پاملرنه وشي:

1. کومه پروسه چې د انتګرالي مجموعې په واسطه پر مخ وړل کېږي، عامل يې بايد متمادي وي.
2. که د پروسې د عامل عددي قيمت د يو کل په شکل په نظر کې ونيسو، نو بايد دغه کلي عددي قيمت د جمعي خاصيت لرونکی وي.
3. د انجنيري، هندسي، فزيکي او اقتصادي مفاهيمو د محاسبه کولو لپاره بايد ستندرد مفاهيم وپېژنو او ددې ستندردو مفاهيمو په مرسته مربوطه مسئله حل کړو.
4. د انتګرالي مجموعې د لاسته راوړلو لپاره ستندردي شيما ته ضرورت دی او د انتګرالي مجموعې لميټ د ويشنې په ټاکلو پورې اړه نه لري.

Abstract:

Integrating Sum (Riemann Sums) has one of the basic contexts of Mathematics; with the help of this context we can define the integral and obtain the applicable field Integrating Sum not only important and essential in mathematic but as well as we use in all parts of Since and technology Actually by the Integrating Sum we would like to obtain the exact efficiency in Geometric and technique. And we may find the relation between them and made the mathematic model for them.

Conclusion:

We know integral in mathematic define by integrating sum (Riemann sums) and it is too necessary part of mathematic it's applicable in Engineering, Geometric, physic and economic integrating sum is the most difficult sum and it is different than other sum like Arithmetic and functions sums . and it is important and essential in higher mathematic the most impartment parts of the integrating sum are term and it has more applicable field .however the integration sum limit in higher mathematic has a exact meaning of to know the context of defiant integrals . Actually I discussed all of these contexts in my essay.

References:

1. Бохан.К.А.Курс Математического анализа.1972.Том.I ,М ,с 518.
2. Гребенча.М.К и .С.N.Новоселов 1951.Курс Математического анализа.Наука Масква Том . I с495 – 522.
3. Ильин.В.А , В.А.Садовичий , Бл.Х.Сендов . 1985. Математический анализ. С 330-350.
4. Larson.R.E, R.P.Hostetler, 1990.Calculus.D.C.HeatandCompany.USA.p403--462.
5. Early.T, S.James, 2008.Single Variable Calculus 6th Edition,central Michgon University 2008. P 251-252.
6. Smith.R .T . , R .B .Minton .2002. Calculus... McGraw in North America's 344-362.
7. Robert. T. S,B.M.Roland. Calculus second Edition 2002.Millersville university Pennselyunia. P 401-439.
8. Шилов. Г. Е. 1969. Математический анализ . Наука Масква Том . I . с 300-312 . с 396.

پوهنمل صلاح الدين (رحيمي)
طب پوهنځی- داخـــله څانگـــه

برېښنانيــونه

(Electrical Shock)

لنډيز:
څرنگه چې برېښنانيونه بيړنۍ طبي پېښه ده او ډېر ناروغان په بيړني ډول سره خپل ژوند له لاسه ورکوي چې مړينه يې د ډول ډول اختلاطاتو له امله وي او هم کېدای شي چې په سطحي ډول سره د انساجو ويجاړېدو لامل شي، لکه د انساجو پړسوب، نکروز او سوځېدنه او په وخيمو اختلاطاتو کې د بطيناتو د ريتم گډوډي ventricular fibrillation د بډوډو حاد پاتې والی، pneumothorax Rhabdomyolysis او د شعور گډوډي گډون لري.

سريزه:
څرنگه چې برېښنانيونه زمونږ په هېواد کې يو ستره ستونزه گڼل کېږي، ځکه له يوې خوا زمونږ د وگړو د پوهې کچه ټيټه ده او د بلې خوا د تخنيک سره پوره بلدتيا نه درلودل او وخت ناوخت د خپلو کورونو د برېښنا په جوړولو کې په بې احتياطۍ سره د برېښنا پايو ته ختلو او سويچونو سره په بې احتياطۍ گوتې وهلو له امله دا ناوړه پېښه رامنځته کېږي؛ نو د پورته ستونزو په نظر کې نيولو سره دا غوره وگڼل شوه، ترڅو د electrical shock تر عنوان لاندې يوه علمي مقاله وليکم، څو ولسي خلکو او ډاکتر صاحبانو ته ښه لارښود شي او په راتلونکي کې ورسره د برېښنا نيونې پېښو پر مهال مرسته وکړي.

موخې:
څرنگه چې برېښنانيونه (Electrical Shock) يوه بيړنۍ طبي ستونزه ده او د سطحي افاتو څخه نيولې، تر مرگه پورې ستونزې منځته راوړي چې سطحي اختلاطات يې په اسانۍ سره پېژندل کېږي او درملنه يې کېږي، خو وخيم احتلاطات يې چې د بطيناتو فبريليشن، نموتوراکس، د بډوډو حاد پاتې والی، د شعور خرابوالی او نورې ستونزې پکې گډون لري، درملنه يې تر يوه بريده ستونزمن دي، نو د ليکنې موخه داده چې په دې اړه د امکان تر بريده خلک پوه شي، ترڅو د برېښنا په واسطه د رامنځته کېدونکو ناوړو پېښو څخه مخنيوی وشي.
د برېښنا په واسطه د انساجو د تخريب اندازه لاندې شيانو پورې تړلې ده:

1. د جريان ډول
2. د جريان مقدار
3. د تماس موده
4. د جريان سير
5. د انساجو مقاومت
6. د رطوبت موجوديت
7. ورسره مل ترضيض

جريان د هغو انساجو څخه تېرېږي چې مقاومت يې کم دی او کله چې د برېښنا جريان د انساجو څخه تېرېږي، تودوخه توليدوي چې دغه تودوخه د انساجو د ويجاړېدو لامل گرځي. د برېښنا جريان په مقابل کې حساس ترين نسج دماغي نسج دي چې د جريان د داخلېدو او خارجېدو په ساحه کې انساج زيات تخريبېږي. (۱،۲،۵)

مستقيم جريان (Current Direct): مستقيم جريان يو طرفه جريان وي چې زياتره وخت په يوه ځانګړې ساحه کې ويجاړتيا منځته راوړي او د اسيستول لامل ګرځي. (۲،۵)

غير مستقيم جريان (Indirect Current): غيرمستقيم جريان چې د Alternative Current په نوم هم يادېږي، دوه طرفه جريان دی چې په حلقوي شکل بېرته راګرځي او د عضلاتو د سپزم لامل ګرځي، کوم چې د جريان د دوامداره کېدو لامل ګرځي او دا څرګنده ده چې هر څومره د جريان دوام زيات وي، په هماغه اندازه د انساجو ويجاړېدنه ډېره وي. (۱،۲)

که چېرې د برېښنا د جريان سير د سينې د قفس په امتداد وي د Respiratory arrest او ventricular Fibrillation لامل ګرځي او هغه مرګ چې د برېښنا د جريان په واسطه د Ventricular Fibrillation په تعقيب منځته راځي، د Electrocutionپه نوم يادېږي. هر څومره چې د جريان ولټيج زيات وي، په هماغه اندازه د ژورو انساجو د تخريبېدو چانس زياتوي. (۲،۳،۵،۶،۸)

يادښت: لوړ ولټيج د برېښنا هغه جريان ته ويل کېږي چې ولټيج يې د۱۰۰۰ولټ څخه ډېر وي او ټيټ ولټيج چې د جريان ولټيج د۱۰۰۰ولټ څخه کم وي.(۵،۴)

کلنيکي موندنې (Clinical Finding):

د برېښنا په واسطه درې ډوله سوځېدنه منځته راځي:

۱- Flash burns چې د arcing burn په نوم هم يادېږي، د غشي په شان ښکاري.

۲- Flame burns

۳- په دې ډول کې په مستقيم ډول د برېښنا جريان د تودوخې په واسطه انساج ويجاړوي چې معمولاً څنډې يې څرګندې او شکل يې ګرد يا بيضوي وي او د يوه بې درده او زيړ رنګه ساحې په ډول ښکاري چې د Joule burn په نوم هم يادېږي. (۲،۳)

ګيلې او نښې: ګيلې او نښې پکې ډېرې متغيرې وي چې د پوستکي د خارښت څخه نيولې تر د پوستکي سطحي سوځېدنې، درد، کوما، فلج او د انساجو کتلوي تخريب او مړينې پورې توپير کوي. په هغه صورت کې چې د جريان د داخلېدو او خارجېدو په ساحه کې انساج ويجاړ شوي وي، د داخلي انساجو د زيات تخريب احتمال شتون لري. د يادونې وړ ده چې د برېښنانيونې په پېښو کې کلينک دومره د باور وړ نه دی او غولوونکی وي، په دې معنی، کېدای شي چې د رنځور پوستکی جوړ وي، خو د ناروغ داخلي انساج په شديد ډول زيانمن شوي وي، نو پر دې بنسټ د برېښنانيونې په پېښو کې ټول قربانيان بې له کومې استثنی څخه لومړی احياءِ مجدد شي او په کلنيکي وضعيت يې دومره باور ونشي. (۴،۵،۷،۸)

اختلاطات (Complications):

۱- د زړه د نظم ګډوډي (Dysrhythmia)

۲- اختلاجات (Seizure)

۳- سرخوږ (Headache)

۴- د شعوري حالت خرابوالی (Alterd Mental Status)

۵- نموتوراکس (Pneumothorax)

۶- د رګونو ويجاړتيا (Vascular Damage)

۷- د انساجو پړسوب او نکروز (Tissue edema and necrosis)

۸- ربدو مَيلاسز (Rhabdomyolysis)

۹- ورسره مل ترضيضات (Associated Trauma)

۱۰- د بډوډو بيړنی پاتې والی ((Acute Kidney Injury (Acute Renal Failure)

۱۱- هايپو واليميا (Hypovolemia): Hypovolemia ځکه منځته راځي چې مايعات پتالوژيک مسافو(Third Space) ته ورننوځي.
۱۲- انتانات (Infections): په ځانګړې ډول سره clostridial انتانات چې د ګاز ګانګرين او تيتانوس لامل ګرځي.
۱۳- د کترکت ناڅاپه او وروستي جوړېدل (Acute or Delayed Cataract formation). (۲،۵،۲)

درملنه (Treatment):

بيړني اهتمامات (Emergency Measure): دا چې برېښنانيونه زياتره وخت د ترضيض سره مل وي، نو بايد د برېښنانيونې ناروغان د تروما د ناروغانو په شان ارزيابي او درملنه يې وشي. لومړی بايد په ډېر محفوظ ډول سره د برېښنا د قرباني او د برېښنا د منبع تر منځ اړيکه له منځه يوړل شي چې دا کړنه په مختلفو لارو ترسره کېدای شي:
۱- که ممکن وي، برېښنا د سوچ څخه بنده شي.
۲- د يو شي په واسطه چې لاس يې د وچ لرګي وي، د برېښنا مزی لرې کړو.
۳- همدارنګه کولی شو چې د لاس څخه وچې کپړې يا کاغذ تاو کړو او د برېښنا مزی پرې لرې کړو. که چېرې رنځور تنفس ونکړای شي، نو بايد خوله په خوله تنفس ترسره شي او همدارنګه که چېرې د رنځور زړه درېدلی وي، نو بايد زړه ته يې مساژ ورکړل شي، يعنې Cardiopulmonary resuscitation ترسره شي؛ رنځور بايد په داسې ډول په اوږدو وغزول شي چې سر يې د تنې څخه لږ شاتنې ښکته وي او سفلي اطراف يې د تنې څخه لوړ وي. د بيړنيو پېښو شمېرو ته بايد زنګ ووهل شي، که چېرې د برېښنا ولټيج لوړ وي، ژغورونکي بايد لږ تر لږه د۲۰ فوټو په اندازه د برېښنا د قرباني او مزي څخه لرې موقعيت غوره کړي، تر هغې چې د برېښنا جريان پرې شي. (۱،۲،۵،۸)

په روغتون کې درملنه (Hospital Measures):

تر ټولو لومړی بايد تنفسي لاره، تنفس او دوراني سيستم ارزيابي شي او د تشوش په شتون کې بايد مناسبه کړنه ترسره شي او ورپسې د تروما درملنې د پروتوکول سره سم درملنه ترسره شي، مرستندويه تنفس شروع شي، د مايعاتو او الکترولايتونو څارنه وشي، که رنځور شاک کې وي، بايد درملنه وشي، د مکروب ضد درمل بايد ورکړل شي، ترڅو د برېښنا په واسطه د سوځېدلو نواحيو د منتن کېدو څخه مخنيوی وشي؛ د برېښنانيونې په درملنه کې د مايعاتو معاوضه ډېره مهمه ده.

معاينات (Investigations):

۱- د زړه د ارزيابۍ لپاره بايد ECG او د زړه انزايمونو لپاره څېړنه ترسره شي، دا ځکه که د برېښنا ولټيج لوړ وي، د زړه د عضلاتو د ويجاړېدنې لامل ګرځېدای شي. يادښت: دا چې د برېښنانيونې په زياتره پېښو کې تخريبات Epicardial وي، نو په ECG کې د اسکيميا شواهد شتون نلري.
۲- د وينې بشپړ معاينات بايد ترسره شي.
۳- الکترولايتونه بايد اندازه شي.
۴- د بډوډو دنديز معاينات (Renal Function Test) بايد ترسره شي، urinanalysis ادرار کې مايوګلوبين کچې او serum creatin kinase کچه بايد اندازه شي، ځکه که د برېښنا ولټيج لوړ وي، د عضلاتو د تخريب لامل ګرځي چې په تعقيب يې مايوګلوبين يوريا منځته راځي چې د بډوډو د پاتې والي لامل ګرځي. په وختي ډول سره د مړو شوو انساجو لرې کول او د تيتانوس لپاره وقايه د انتان خطر کموي. که چېرې يوه حامله ښځه د لوړ ولټيج جريان سره مخ شي، نو جنين کېدای شي د تنفسي ناراحتۍ او يا هم د مرګ سره مخ شي، نو بايد د جنين د څرنګوالي لپاره څېړنې ترسره شي. د ابتدايي درملنې څخه مخکې جريان کې او وروسته د درد د ارامولو لپاره هڅه وشي او د درد ضد درمل وکارول شي. (۵،۲،۸)
په درملنه کې لاندې شيان ګډون لري:
۱- درمل: opoids, acetaminophen, NSAIDs,
۲- Heat therapy

۳-massage

۴- psychotherapy. (۴،۵)

انزار (Prognosis):

د برېښنا نيونې انزار لاندې شيانو پورې تړلې ده:

۱- د ژوبلېدو ساحه ۲- د ژوبلېدو اندازه ۳- د انساجو ابتدايي ويجاړېدنه ۴- ورسره مل نور زخمونه

۵- اختلاطات. (۱،۲،۴)

د برېښنانيونې رنځوران په لاندې حالاتو کې د جراحي متخصص ته سپارل کېږي:

۱- په هغه صورت کې چې compartment syndrome منځته راغلی وي.

۲- د مړو شوو انساجو لرې کولو لپاره ضرورت احساس شي.

۳- يا هم واړه رګونه ويجاړ شوي وي.

په لاندې حالاتو کې د برېښنانيونې قربانيان په روغتون کې بسترکېږي:

۱- که ECG changes يا dysarrhythmia شتون ولري. ۲- که د برېښنا ولټيج لوړ وي.

۳- د سوځېدو اندازه ډېره وي.

۴- که قلبي، تنفسي او يا هم عصبي ناوړه ګيلې شتون ولري. ۵- که د ژورو انساجو د ويجاړتيا شک شتون ولري.

۶- که د جريان سير Trans thoracic وي، دا ځکه په دې حالت کې د Rspiratory Arrest او Ventricular Fibrillation خطر زيات وي.

۷- که د زړه ناروغيو لپاره تاريخچې مثبتې وي. ۸- جراحي مداخلې ته اړتيا وي. (۲،۷،۸)

پايله:

د پورته ليکنې څخه جوته شوه چې برېښنانيونه يوه بېړنۍ طبي پېښه ده چې ډول ډول روغتيايي ستونزې منځته راوړي او ژوند ته ګواښونکې ده، له دې امله د سطحي سوځېدنې څخه تر مرګه رسېږي، لکه د انساجو سوځېدنه، پړسوب، نکروز او په وخيمو حالاتو کې د بطيناتو ريتم ګډوډي، د بډوډو حاده عدم کفايه، Pneumothorax، Rhebdomyolysis او د شعور ګډوډي منځته راځي چې د پېښېدو پر مهال بايد پورته ذکر شوې لارښوونې په پام کې ونيول شي او په وخت او زمان يې درملنه وشي، نو د ډېرو ناوړو ستونزو څخه مخنيوی کېدای شي.

وړانديزونه:

۱- ټولو هېوادوالو ته وړانديز کېږي چې د برېښنا مزو، سويچونو او نورو برېښنا لرونکو الو څخه په ډېر احتياط استفاده وکړي.

۲- ډاکتر صاحبانو ته وړانديز کېږي چې دې ناروغانو سره سطحي برخود ونکړي، ځکه چې ثابته کلنيکي لوحه نلري.

۳- ددې ناروغانو د مراجعې پرمهال د شعور، زړه، سږو او عضلاتو تخريباتو ته متوجه شي.

۴- د برېښنانيونې قرباني ته بايد د وينې او الکترولايتونو بشپړ معاينات توصيه شي او هم ورته د زړه برېښنايي ګراف توصيه شي، تر څو د زړه د نظم ګډوډي وپېژندل شي.

۵- روغتيايي چارواکو ته وړانديز کېږي چې د برېښنانيونې په اړه د رسنيو له لارې تبليغات وکړي.

۶- د برېښنا اړونده مسوولينو ته وړانديز کېږي چې د برېښنا مزو د خرابوالي او پايو د ايجاد پرمهال په بېړني ډول ترميم ترسره کړي، تر څو د ناوړه پېښو څخه مخنيوی وشي.

۷- د برېښنا کارکوونکي بايد د دندې پر مهال غير مسوول کسان له ځان سره نږدې پرېږدي.

۸- د برېښنانيونې ناروغ ته دې د تيتانوس ضد واکسين په بېړني ډول سره تطبيق شي.

Abstract:

As it is conspicuously known ,that electrical shock is not only a common casualty but also a critical casualty of which victims need very urgent assist, overseeing, investigation, and treatment due to the fact that electrical shock causes not only superficial tissues damage but also core tissues damage resulting in renal failure ,cardiac arrhythmia , vascular damage ,acute or delayed cataract ,pneumothorax ,ventricular fibrillation and even electrocution ,death due to electrical shock. So as to people be precluded from hazards Mentioned earlier, should be wary, vigilant and not to get close to the electricity, but eligible staff. Finally, I can conclude my remark by telling; It is acknowledged world widely that electrical shock is a life threatening casualty.

References:

1- Christopher-Haslett,EDVIN.R. Chilver's-Davidson's(2002) Principle and Practiceof Medicine 20th edition Churchill-Livingston,Engloand.

2- FAUCE– HAUSER, JAMESON, LONGO, LOSCALZO, Harrison's (2012).Principle of Internal Medicine 18th edition, McGra-Hilline New York.

3- Fish RM.Electrical injuries .In:Tintinalli JE, Kelen GD, Stapczynski JS, Ma oJ.Cline DM, eds. Emergency Medicine: A Comprehensive Study Guide.6th ed. NEW YORK, NY:McGraw-Hill: 2004:chap 201

4- KUMAR AND CLARK (2009) Clinical Medicine 7th edition W.B Saunders Company, England.

5- LAWRENCE-M. TIERNEY-STEPHEN (2012) Current Medical Diagnosis and Treatment 51th edition, McGraw-Hill-Company, USA.

6- Price TG,Cooper MA.Electrical and lightening injuries. In: MarxJA, Hockberger RS, Walls RM, et all, eds. Rosen's Emergency Medicine:Concepts and Clinical practice. 7th edition. Philadelphia, Pa: Mosby Elsevier; 2009: chqp140.

7- Schwartz LR, Balakrishnan c. Thermal burns. In: Tintinalli JE, Kelen GD, Stapczynski JS, Ma OJ, Cline DM,: Emergency Medicine: A Comprehensive Study Guide. 6th edition. New York, NY McGraw-Hill: 2004: chap199

8- S.P.Gupta/ D.K.Gupta (2004) MEDICAL EMERGENCY IN GENERAL PRACTICE 7TH Edition. W.R GOYAL Publisher and Distributers.

پوهـــــنیار عـــبدالوحـــید (وحـــید)
ښوونې او روزنې پوهنځی- فزیک څانګه

بلــوتوت وړانګــه

(Blue tooth Rays)

لنډیز:

بلوتوت د دوو الکترونیکي وسایلو لکه موبایل تیلفون، Laptop، پرنټر، ډیجیټل کمرې او نور چې الکترو مقناطیسي یا راډیویي موجونه کاروي، د معلوماتو د انتقال یوه پرمختللې تکنالوژي ده چې پرته د لین او واسطې څخه د دوو یا څو الکترونیکي وسایلو ترمنځ د معلوماتو د راکړې- ورکړې اړیکې ټینګوي. د بلوتوت د تکنالوژۍ څخه د نږدې فاصلو لپاره استفاده کېږي، ددې تکنالوژۍ څخه د استفادې لپاره کولای شو د دوو الکترونیکي دستګاوو تر منځ چې ددې تکنالوژۍ درلودونکي وي، پیغامونه، عکسونه او نور الکترونیکي اطلاعات تبادله کړو. د بلوتوت لرونکو آلو په داخل کې یو مایکرو چیپ قرار لري چې په GHz 6 4, 2 فریکونسۍ عمل کوي، ددې چینل د موجونو جهت 1600 ځلې په یوه ثانیه کې تغیر کوي چې دا تغیر د غیرمجاز او نابللي موجونو د تداخل په مخنیوي کې مرسته کوي؛ په دې سربېره ددې وسیلې په مرسته د مقابل اړخ کود چیک او پېژندل کېږي. ددې دستګاه د استفادې د ساحې پراخوالی په یوه ثانیه کې 720 کیلو بایټه دی. ددې تکنالوژۍ څخه هم د اخیستونکي سیستم Receiver په توګه او هم د لېږدوونکي سیستم Transmitter په توګه استفاده کېږي. بلوتوت نه یوازې دا چې د لینونو استعمال ته ضرورت نه لري، بلکې د بیسیم یوه څانګه ده چې د کمپیوټرونو وصلول د ټولو الکترونکي وسایلو سره ایجادوي. د بلوتوت لرونکو وسایلو ترمنځ ارتباط زموږ د مستقیمې مداخلې څخه پرته هم صورت نیسي، د معلوماتو د انتقال لپاره لومړی د معلوماتو د مقدار وړانګه، د یوې بلې وړانګې پر مخ چې لوړې فریکونسۍ لري، ځای پر ځای کېږي.

سریزه:

بلوتوت څه شی دی، څرنګه منځ ته راځي، چېرته منځ ته راځي، څه ډول کار کوي، ولې او څرنګه یې ساینس پوهان، د تخنیک ماهرین او عام خلک استعمالوي؟، دې او دې ته ورته پوښتنې زموږ د ورځنې ژوند یوه برخه ګرځېدلې ده؛ په دې مقاله کې هڅه شوې ده چې پورته پوښتنو ته ځواب ارایه شي. بلوتوت د دوو الکترونیکي وسایلو لکه موبایل تیلفون، Laptop، PCS، پرنټر، ډیجیټل کمرې او د ویډیوګیم سیستم چې راډیویي موجونه کاروي، د معلوماتو د انتقال یوه لنډه او مهمه تکنالوژي ده. کولای شو چې موږ بلوتوت دارنګه تعریف کړو:

بلوتوت د معلوماتو د نږدې فاصلې انتقالوونکې تکنالوژي ده چې پرته د لین او واسطې څخه د دوو یا څو الکترونیکي وسایلو تر منځ د معلوماتو د راکړې- ورکړې اړیکې ټینګوي، یا په بله وینا: بلوتوت د رادیویي موجونو یوه معیاري تکنالوژي ده چې د بیسیم د سیستمونو او کمپیوټرونو تر منځ د پیغامونو، عکسونو او نورو اطلاعاتو چې د لېږد رالېږد وړ وي، د لینونو څخه پرته د اړیکو او معلوماتو یعنې Data اړیکې برقراروي. په لرغوني یونان کې چې مورخین یې دقیق وخت نه دی په ګوته کړی (خو بیا هم تر ډېره بریده لسمه پېړۍ تصور کېږي) په پخواني ډنمارک کې چې د اوسني ناروې ځینې لیرې پرتې سیمې هم پکې شاملې وې، یو سکاندنویایي پاچا اوسېده چې د خپل دین څخه عیسویت ته په اوړېدو مشهور و، د پاچا نوم هېرالډ بلوتوت Herald Bluetooth ؤ، نوموړی د ګورم (Gorm) زوی و او سره له دې چې د ډنمارک هېواد زیاتې سیمې یې سره یو ځای کړې او د ډنمارک هېواد او ولس ته یې خدمت وکړ، خو په پای کې بیا هم د خپل زوی په

واسطه چې سون فورک بيرډ Sven fork beard نومېده ونيول شو او د والهالا په لوري وشړل شو او د کورنۍ او واکمنۍ واک يې ترې زوی ونيوه. قابو زر کاله ددې پېښې څخه وروسته د سويډن د ټيليکام موبايل جوړولو يو شرکت چې اريکسن Ericsson نومېږي، پرېکړه وکړه تر څو خپله يوه د بيسيم شبکه د هرالډ بلوتوت په نوم جوړه کړي. د اريکسن شرکت نه يوازې دا چې هرالډ بلوتوت ته يې ويار وبخښه، بلکې په دې هم وتوانيد چې نور شرکتونه او سيال ګروپونه لکه نوکيا (Nokia)، توشيبا (Toshiba)، آيې بي ام (IBM) او اينټل (Intel) شرکتونه قانع او راضي کړي چې د اريکسن د شرکت سره يو ځای شي او دغه نوی کمپنۍ د بلوتوت په نوم مشهوره کړي. د 1999 م کال د دسمبر د مياشتې په لومړۍ نېټه درې نورې کمپنۍ چې لوسينټ Lucent، مايکرو سافټ (Microsoft) او د موټرولا (Motorola) څخه عبارت دي، د بيسيم بلوتوت په ګروپ کې ورشاملې شوې؛ په پای کې 1200 شرکتونه په SIG يعنې Bluetooth special interest group کې ګډون وکړو او ټولو په شريکه د بلوتوت په اړه په تجارت کې زيات پوښښ رامنځ ته کړ.

موخې:

بلوتوت د الکترونيک فزيک د راديو تخنيک د برخې يو په زړه پورې سرليک دی چې د نوی تکنالوژۍ په قوانينو ولاړ او د الکترومقناطيسي يا راډيويي تشعشعاتو پر بنسټ په الکترونيکي سرکېټونو کې استعمالېږي. بلوتوت يوه ارزانه تکنالوژي ده چې نن سبا کولای شو له هغه څخه د الکترونيکي آلو تر منځ د اړيکو د ټينګولو لپاره استفاده وکړو. څرنګه چې زموږ د هېواد په ښارونو کې قابو له هر تن بالغ نارينه هېوادوال سره يو موبايل تيلفون شته او په هر موبايل تيلفون چې په يوويشتمه پېړۍ کې جوړ شوی د معلوماتو د انتقال لپاره يوه وسيله چې د بلوتوت د وړانګې په ذريعه کار کوي، موجود دی؛ بنا پردې لازمه ده چې ددې وړانګې د کار او فعاليت، توليد، ځانګړتياو، کارونې او د سرکېټ د فني اصولو او خواصو په هکله لږ تر لږه معلومات ولرو. د بلوتوت د پېژندلو څخه موخه ددې پلوشې په اړه بشپړ فني او تخنيکي معلومات او په سم او ګټور ډول ددې وړانګې څخه استفاده ده.

د بلوتوت سرکېټ (Circuit of Bluetooth):

د بلوتوت د تکنالوژۍ څخه د نېږدې فاصلو لپاره استفاده کېږي او بيسيم لپاره يوه ارزانه تکنالوژي ده، ددې تکنالوژۍ څخه د استفادې لپاره کولای شو د دوو الکترونيکي دستګاوو تر منځ چې ددې تکنالوژۍ درلودونکي وي، پيغامونه، عکسونه او نور الکترونيکي اطلاعات تبادله کړو. د بلوتوت لرونکو آلو په واسطه د Data د انتقال لپاره په سيمه ييز ډول يو ملي واټ برقي انرژۍ ته اړتيا لرو چې ددې برېښنايي انرژۍ په واسطه 10m پورې ساحه تر پوښښ لاندې راوستلای شو. د بلوتوت لرونکو آلو په داخل کې يو مايکروچيپ قرار لري چې په 2.46 GHz فريکونسۍ عمل کوي، دا تکنالوژي د Frequency Hoping Spread spectrum سيستم څخه استفاده کوي چې ددې چينل د موجونو جهت په يوه ثانيه کې 1600ځلې تغير کوي چې دا تغير د غير مجاز او نابللي موجونو د مداخلې په مخنيوي کې مرسته کوي، په دې سربېره ددې وسيلې په مرسته د مقابل اړخ کود چيک او پېژندل کېږي، نو ځکه موږ اطمينان حاصلولای شو چې ددې وسيلې په واسطه زموږ اطلاعات، عکسونه او پيغامونه يوازې زموږ د نظر وړ ځای ته رسېږي. (8) د بلوتوت موجونه په دوو بڼو او ډولونو کار کوي:

۱. کولای شي چې کوچنی چاپېريال تر پوښښ لاندې ونيسي، لکه د يو دفتر په داخل کې خپل فعاليت سر ته ورسوي.

۲. کولای شي چې د منځنۍ کچې چاپېريال تر پوښښ لاندې ونيسي چې د خپرېدو اندازه يې د لسو مترو څخه تر سلو مترو پورې وي. د بلوتوت ګټه داده چې ددې سيستم په واسطه کولای شو چې د دوو نقطو تر منځ اړيکې ټينګې کړو او هم کولای شو چې د يوې نقطې څخه د څو نورو نقطو سره ارتباط ونيسو او استفاده ور څخه وکړو. ددې دستګاه د استفادې د ساحې پراخوالی په يوه ثانيه کې 720 کيلو بايټه دی او د لسو مترو څخه تر سلو مترو پورې د انتقال قدرت لري. ددې تکنالوژۍ څخه هم د اخيستونکي سيستم Receiver په توګه او هم د لېږدوونکي سيستم Transmitter په توګه استفاده کېږي. دا تکنالوژي کولای شي چې راډيويي موجونه Radio waves د دېوالونو او يا هم د نورو غير فلزي موانعو څخه تېر کړي. که د درېيمې دستګاه امواج لومړۍ دستګاه ته داخل شي، د نوموړو دوو دستګاوو تر منځ د اطلاعاتو په انتقال کې

مزاحمت رامنځ ته کوي او دومره اغېزه ورباندې کوي چې د انتقال فعاليت يې بطي کېږي، خو انتقال کاملاً نه متوقف کېږي. په نننی عصري سيستمونو کې د اوو څخه زياتې دستگاه گانې کولای شي چې پخپلو کې سره دا ډول اړيکې ټينگې کړي او د موجونو د توليد له امله په يوه بله دستگاه کې فعاله شي چې دې طريقې ته Pico net وايي او کولای شو څو Pico net يو د بل سره وصل کړو چې دغه وصليه Scatter net تشکيلوي. بلوتوت د بيسيم ځانگړی څانگه ده چې نېږدې لېږدوونکی او ارتباط يې د کوچنيو او مجهزو وسايلو په واسطه صورت نيسي. (2)

د بلوتوت ځانگړتياوې(Specification of Bluetooth):

بلوتوت نه يوازې دا چې د لينونو استعمال ته ضرورت نه لري، بلکې د بيسيم يوه څانگه ده چې د کمپيوټرونو وصل د ټولو الکترونکي وسايلو سره ايجادوي او کمپيوټري وړې او خصوصي شبکې چې Personal Aria Network نومېږي، منځته راوړي. بلوتوت د مختلفو الکترونيکي وسايلو تر منځ يوه مشترکه ژبه منځ ته راوړي ده چې د هغې په واسطه ددې وسايلو تر منځ د ارتباط امکان آسانه کوي. هغه وسايل چې په بلوتوت مجهز دي، د لس مترو څخه تر سل مترو پورې د محتوياتو انتقال 720 kb/sec په چټکتيا سره د لږ اتومي شيانو له منځه انتقالوي او تر ټولو زيات مهم خاصيت يې دادی چې د بلوتوت لرونکو وسايلو تر منځ ارتباط زموږ د مستقيمې مداخلې څخه پرته هم صورت نيسي، کله چې دوه بلوتوت لرونکې وسيلې يو بل ته نېږدې کېږدو، د بلوتوت لېږدوونکې او رانيوونکې آلې يا Client او server په اتومات ډول پخپلو کې يو ارتباط برقراروي او محتويات انتقالوي. (11)

د بلوتوت R.F سيستم:

دا سيستم د 2,4,GHz په څپه جريان لري چې د گاوشين د اهتزازاتو په وسيله د معلوماتو په انتقال کې مرسته کوي. د بلوتوت په وسيله انتقال يا ذخيره شوي معلومات محدود وخت لپاره په يوې فريکونسۍ کې پاتې کېږي. که چېرې کوم مانع موجود وي، کېدای شي چې د معلوماتو انتقال يو څه وخت ونيسي، البته دا په هغه صورت کې چې Signal په مختلفو چينلونو باندې بدل شي. (3)

مودولېشن(Modulation):

د معلوماتو د انتقال لپاره لومړی د معلوماتو د مقدار وړانگه، د يوې بلې وړانگې پر مخ چې لوړې فريکونسۍ لري، ځای پر ځای کېږي. د دوو ډولو (فريکونسيو) وړانگو گډوډولو ته موډولېشن وايي. د بلوتوت وړانگې له طريقه معلومات لومړی انتخاب او بيا يې د وړانگې اندازه ټاکل کېږي، انتخاب شويو وړانگو لپاره د فريکونسۍ يو ډول د G.F.S.K يا Gaussian frequency shift key يو سيستم کارول کېږي او د انتقال کوونکې فريکونسۍ د موډولېشن د انتقالولو په موخه استعمالېږي. په دې ځای کې د فريکونسۍ دوه ډوله د بنې تغير منځته راځي، يو د مثبتې فريکونسۍ په بڼه او بل د منفي فريکونسۍ د تغير په ډول څرگند ېږي. (1)

د انتقال د توان کچه(Transmitter power level): د معلوماتو د انتقال وړتيا د بلوتوت وړانگې لپاره ډېر ټيټ دی، سره له دې چې د بلوتوت لپاره په تخنيک کې درې مختلفې ټولگې موجودې دي:

لومړی ټولگه: د غټو يا اوږدو ارتباطي وسايلو چې تقريباً 100m ساحې پورې چې د 20 DBM سره معادل دی د محتوياتو د انتقال قدرت لري.

دويمه ټولگه: هغه دی چې د معمولي ارتباطي وسايلو سره د معلوماتو د انتقال په ډول استعمالېږي چې تقريباً 4DBM معلومات د 10 m په فاصله انتقالوي.

دريمه ټولگه: د لنډو ارتباطي وسايلو لپاره چې 5 DBM معلومات د 1m فاصلې په درلودلو سره انتقالوي. همدارنگه د بلوتوت لپاره ځينې نور فکتورونه د فريکونسۍ د دقت لپاره ضروري دی، خو په دې کې بايد د انتقال د لومړي مرکز ظرفيت 75 KHz وي. (6)

د بلوتوت وړانگې د موج طول او فريکونسۍ:

د بلوتوت د تکنالوژۍ د موج طول $2,4GH_Z$ دی، د راديويي موجونو هغه فريکونسۍ چې د I.S.M ، صنعتي، علمي او طبي معلوماتو په ډول د انتقال لپاره استعمالېږي، د 400 MHz څخه تر 483.5 MHz پورې فريکونسي لري. نو ويل کېږي

چې بلوتوت په ټوله نړۍ کې د ارتباط یوه ستره وسیله ده؛ د طیف یا Spectrum د انتخاب له امله په نړۍ کې بلوتوت وړانګې ته ډېره اړتیا لیدل کېږي. (7)

د معلوماتو د انتقال طریقې Data transfer : د معلوماتو د انتقال لپاره دوه طریقې وجود لري:

لومړۍ طریقه: لومړۍ طریقه د Asynchronous connectionless link په نامه پېژندل کېږي چې دغې طریقې د معلوماتو د انتقالولو لپاره استعمالېږي.

دویمه طریقه: د S.C.O یا Synchronous connection oriented په نامه پېژندل کېږي چې دا طریقه د درخواستونو لکه Digital audio د انتقال لپاره استعمالېږي. د بلوتوت له لارې معلومات په اعظمي سرعت 732,2 kb/sec انتقالېږي، خو دغه عملیه په هغه وخت کې صورت نیسي چې کله وسایل په متناظر ډول وي. (3)

بلوتوت څرنګه اړیکه ټینګوي:

بلوتوت وړانګه یوه کوچنۍ ساحه د خپل پوښښ لاندې راولي چې په دې سره د بلوتوت د استعمالوونکو هغه اړتیاوې پوره کېږي چې د معلوماتو په انتقال کې یې لري او د معلوماتو د انتقال لپاره به یې پخوا زیاته انرژي مصرفوله. د بلوتوت له لارې د معلوماتو انتقال د ډېرې لږې انرژۍ په وسیله صورت نیسي چې په دې انتقالي طریقه کې د بیټرۍ چارج محفوظ پاتې کېږي. بلوتوت په اصل کې یوه معیاري شبکه ده چې په دوو سطحو کار کوي:

د موافقې له مخې په تخنیکي سطحه د بلوتوت شبکه چې Radio frequency بلل کېږي، په دې حالت کې بلوتوت لرونکې آلې باید د معلوماتو د لېږدولو پر مهال یو د بل سره توافق وکړي چې معلومات به څه وخت لېږل کېږي او په څومره وخت کې به لېږل کېږي او څومره معلومات به لېږل کېږي او د مفاهمې دواړه خواوې به څومره اندازه مطمینې دي چې د دوی ترلاسه شوي پیغامونه د دوی د لېږل شوو پیغامونو سره یو شان دي. (5)

د بلوتوت او انفرارېډ I.R اړیکو پرتله:

د انفرارېډ په وسیله د معلوماتو د انتقال طریقه د لږې فریکونسۍ لرونکې کوچنۍ شعاع ګانې دي چې د انسان سترګې هغه لیدلای او تعبیرولای نه شي، دغه پلوشې زیاتره په ریموټ کنترولر سیستم کې کارول کېږي چې دغه اړیکې په ډېر کم ډول د اعتبار وړ دي او په الکترونیکي آلو کې دا هم ارزانه کارول کېږي، خو دا تکنالوژي دوې نیمګړتیاوې لري:

لومړی دا چې دغه اړیکه یوه په لیکه پرته متقابله اړیکه ده، دا په دې معنی چې کله موږ ددې وړانګې څخه کار اخلو نو ددې وړانګې دواړه کارېدونکي آلې به یو د بل سره مخامخ کوو، د مثال په توګه کله چې څوک غواړي په تلویزیون یا DVD کې د ریموټ په واسطه تغیرات راولي، نو باید ریموټ د نوموړو آلو په لوري مخامخ کړو، تر څو د ریموټ کنترولر په وسیله تولید شوی انفرارېډ څپې د تلویزیون یا DVD ریموټ سنسنګ دستګاه ته په مستقیم ډول پرته د مانع څخه ورسېږي او هلته ټاکل شوی ولتاژ تولید او ټاکل شوی سګنال فعال کړي، که چېرې دواړه آلې سره په مستقیم ډول قرار ونه لري، انفرارېډ ارتباط نه ترل کېږي. دویمه نیمګړتیا یې داده چې د انفرارېډ تکنالوژي تل یو په یو (one to one) تکنالوژي ده، د مثال په ډول کولای شئ چې ددې تکنالوژۍ په کارولو سره خپل معلومات یوازې د خپل Desktop او Laptop کمپیوټرونو تر منځ تبادله کړئ؛ مګر نشئ کولای چې د خپل laptop کمپیوټر څخه په عین وخت Desktop او PDA ته ولېږدوئ. همدارنګه که ریموټ کنترولر ته وګورو، نو یو طرفه او د یوې ځانګړې آلې لپاره کار کوي، د انفرارېډ تکنالوژي دغه دوه کیفیته د ځینې ملحوظاتو په نظر کې نیولو سره ځینې وخت ګټور هم تمامېږي، ځکه چې ددې اړیکې په کارولو سره باید ددې اړیکې د لېږدوونکي او اخیستونکي آلې یو بل ته مخامخ او د مستقیم خط پر مخ کېښودل شي چې په دې ترتیب ددې دواړو آلو تر منځ د نورو آلو تماس یا مداخله ډېره لږه پېښېږي او یو په یو خصوصیت دا ګټه هم لري چې ددې اړیکې کارکوونکي په دې مطمین کېږي چې د دوی لېږل شوی پیغام یوازې هغې آلې ته ځي چې دغه پیغام ورته لېږل غواړي؛ آن تردې چې که چېرې په دفتر یا خونه کې د انفرارید تکنالوژۍ ګڼ شمېر اخیستونکي آلې یا Receiver هم موجود وي، خو د بلوتوت په سیستم کې هغه ستونزې له منځه تللې دي چې په انفرارید په سیستم کې موجودې دي. پخواني بلوتوت سیستم یعنې (0.1) 1MB/s د انتقال وړتیا درلوده، خو (2.0) بلوتوت کولای شي چې په یوه ثانیه کې تر درې میګا بایټ پورې معلومات انتقال کړي. (7)

د بلوتوت د استعمال ځایونه:

بلوتوت په لاندې الکترونیکي آلو کې کارېدلی شي:

۱. په ډیجیټل کمرو کې
۲. په Mp3 player کې
۳. په G.P.S Receiver کې
۴. په غوږیزه آله یا head phone کې
۵. په تورو عینکو یا Sunglasses کې
۶. په موبایلونو کې
۷. په لپټاپ کمپیوټرونو کې
۸. په ساعتونو کې
۹. په راډیو او زنګ خپروونکي ساعتونو کې
۱۰. په تلویزیونونو کې
۱۱. د کوچنیو موټرونو په داخل کې یا in car hands free kits کې
۱۲. په پرنټرونو کې
۱۳. په سکېنرونو کې
۱۴. په کورني سامان آلاتو لکه د کالیو د پرېمینځلو او وچولو ماشین، یخچال او داسې نورو کې
۱۵. په P.D.A کې
۱۶. په لیکمن یعنې Keyboard او موس Mouse کې. (9)

- په ډیجیټل کمره کې د لومړي ځل لپاره بلوتوت په 2002 م کال کې وکارېده.
- په G.P.S Receiver کې بلوتوت د لومړي ځل لپاره په 2003 م کال کې استعمال شو.
- Mp3 player کې بلوتوت د لومړي ځل لپاره ۲۰۰۳ م کال کې استعمال شو.
- په غوږیزه آله یا Head Phone کې بلوتوت د لومړي ځل لپاره په 2004 م کال کې استعمال شو.
- په تورو عینکو کې بلوتوت د لومړي ځل لپاره په 2005 م کال کې استعمال شو.
- په لاسي ساعت کې د لومړي ځل لپاره بلوتوت په 2006 م کال کې استعمال شو.
- په تلویزون کې د لومړي ځل لپاره بلوتوت په 2007 م کال کې استعمال شو.
- په PRC mobile mover او shaker آلو کې د لومړي ځل لپاره په 2008 م کال کې وکارېده.
- په A.H.M او A.P.A.C آلو کې د لومړي ځل لپاره په 2009 م کال کې بلوتوت استعمال شو. (10)

د بلوتوت د پوښښ ساحه:

د بلوتوت لرونکې آله د کار فعالیت له مخې په دوه ګروپونو ویشل شوې ده:

لومړی ډول یې په ځینو آلو لکه لپټاپ Laptop په Plug کې کارېدل، دغه ډول تکنالوژي تر ډېرې ساحې یعنې 100m پورې کارکوي.

دویم ډول یې د 10m فاصلې پورې کار کوي چې په 1m watt برېښنایي انرژۍ کار کوي، دا تکنالوژي یعنې دویم ډول ډېره ګټوره تمامېږي، ځکه د یو شخص د بلوتوت لرونکو آلو ترمنځ د نورو بلوتوت لرونکو آلو د مداخلې چانس کمېږي. (12)

د بلوتوت او انټرنیټ تر منځ اړیکه:

کولای شو چې د بلوتوت څخه داسې هم کار واخلو چې د انټرنیټ سره وصل شوې آله د بلې آلې سره چې د انټرنیټ سره اړیکه نه لري، وصل کړو؛ د مثال په ډول تاسې کولای شئ چې د بلوتوت په واسطه خپل PDA د خپل Laptop کمپیوټر سره وصل کړئ او بیا خپل لپټاپ کمپیوټر د Wi-Fi اړیکې په واسطه د بلې Wi-Fi لرونکې آلې سره چې د انټرنیټ سره وصل

ده، وصل کړئ، ددې لارې ستاسې لپټاپ او PDA دواړه د انټرنيټ سره وصلېدای شي. ځينې وخت خلک د الکترونيکي آلو په اخستلو کې متردد او شکمن وي چې د Wi-Fi تکنالوژي لرونکی آله واخلي او که Bluetooth تکنالوژي لرونکې آله واخلي، نو د اشخاصو لپاره د Bluetooth تکنالوژي لرونکې الکترونيکي آلې غوره دي، ځکه سره له دې چې د Wi-Fi تکنالوژۍ د کار ساحه يا Ring يې د سلو څخه تر ۳۰۰ مترو پورې ده، خو ددې تکنالوژۍ Hoots Pots ډېر لږ او تر منځ يې فاصله ډېره ده، د بلوتوت د لارې په آسانۍ سره کولای شو خپل الکترونيکي آلې لکه Laptop او P.D.A ، ډيجيټل کمره، هيډفون او داسې نور د انټرنيټ سره د G.P.R.S Bluetooth په واسطه وصل کړو او محتويات د انټرنيټ څخه چې يوه پراخه معلوماتي شبکه ده خپلو الکترونيکي آلو ته انتقال کړو. (4)

پايله:

الکترونيک د فزيک هغه برخه ده چې د الکترونيکي آلو د جوړښت او د کار طرز بيانوي. د الکترونيکي آلو د هغې برخې څخه چې په دې وروستيو کلونو کې جوړه شوې او په پراخه کچه ترې استفاده کېږي، يو هم د بلوتوت وړانګه ده. د بلوتوت وړانګه د هغه تخنيکي وړانګې څخه عبارت ده چې کولای شي د يوې دستګاه څخه بلې دستګاه ته تصويرونه، پيغامونه او نور معلومات په لږ وخت کې انتقال کړي. د انتقال پر مهال بلوتوت وړانګه چاپېريال ته تاوان نه رسوي او په همدې ترتيب د کار لپاره يې ډېرې لږې برقي انرژۍ ته اړتيا ليدل کېږي.

وړانديزونه:

څرنګه چې بلوتوت وړانګه د الکترونيکي آلو تر منځ لکه د کمپيوترونو، د کمپيوتر او پرنټر تر منځ، د ګرځنده ټېلفونونو، د پلېرونو تر منځ او په سلګونو نورو تخنيکي الاتو ترمنځ ارتباط ايجادوي او دغه ارتباط پرته د لينونو يا کېبلونو تر سره کوي. له بله اړخه د بلوتوت وړانګې په کارولو سره چاپېريال ته هيڅ ډول زيان نه اوړي، د دوو الکترونيکي آلو تر منځ د ارتباط پر مهال د مقابلې آلې کود چک کېدای شي، زموږ معلومات غلطې ساحې يا آلې ته نه انتقالېږي؛ بنا پر دې وړانديز کېږي چې لږ تر لږه بايد د بلوتوت د وړانګې د ځانګړتياوو او کارونې په هکله معلومات ولرو او د اړتيا وړ اړيکو لپاره د بلوتوت وړانګې د تخنيکي آلو څخه استفاده وکړو.

Abstract:

Bluetooth wireless technology is a short-range communications technology intended to replace the cables connecting portable and/or fixed devices while maintaining high levels of security. The key features of Bluetooth technology are robustness, low power, and low cost. The Bluetooth specification defines a uniform structure for a wide range of devices to connect and communicate with each other. Bluetooth wireless technology is a short-range communications system intended to replace the cables connecting portable and/or fixed electronic devices. The key features of Bluetooth wireless technology are robustness, low power, and low cost. Many features of the core specification are optional, allowing product differentiation. The Bluetooth core system consists of an RF transceiver, baseband, and protocol stack. The system offers services that enable the connection of devices and the exchange of a variety of data classes between these devices. The big draws of Bluetooth are that it is wireless, inexpensive and automatic. There are other ways to get around using wires, including infrared communication. Infrared (IR) refers to light waves of a lower frequency than human eyes can receive and interpret. Infrared is used in most television remote control systems. Infrared communications are fairly reliable and don't cost very much to build into a device, but there are a couple of drawbacks. First, infrared is a "line of sight" technology. For example, you have to point the remote control at the television or DVD player to make things happen. The second drawback is that infrared is almost always a "one to one" technology. You can send data between your desktop computer and your laptop computer, but not your laptop computer and your PDA at the same time. (See How Remote Controls_Work to learn more about infrared communication.) These two qualities of infrared are actually advantageous in some regards. Because infrared transmitters and receivers

have to be lined up with each other, interference between devices is uncommon. The one-to-one nature of infrared communications is useful in that you can make sure a message goes only to the intended recipient, even in a room full of infrared receivers. Bluetooth is intended to get around the problems that come with infrared systems. The older Bluetooth 1.0 standard has a maximum transfer speed of 1 megabit per second (Mbps), while Bluetooth 2, 0 can manage up to 3 Mbps. Bluetooth 2, 0 is backward-compatible with 1.0 devices.

References:

1. Jeans William (2004). Introduction to How Bluetooth_Works wikipedia.org/wiki/Bluetooth
2. www.logicom.ae How Bluetooth Creates a Connection by Amine Mudra 2004
3. www.seminarpaper.com How Bluetooth Operates. by Curt Franklin and Julia Layton 2003
4. HowStuffWorks.com Bluetooth Pico nets by Stephen Hawking 2006
5. Tagu.com.ar Bluetooth Security by Lawrence Mc Adams 2004
6. www.bluetooth.com/userschoice Lots More Information by Asiya SultanAli 2009
7. lairdtech.com what is Bluetooth wireless technology by John Ford 2008
8. Hearst Communications.UK who is the Bluetooth special interest group by Charles Goodman 2008
9. About .com. Wireless/Networking Bluetooth core specification versions by Edward Replete 1998
10. Bell Laboratories.com Bluetooth low energy wireless technology by Jacobson and Wetzel 2010
11. Nokia. FreeBSD.com Specifications for Wireless Personal Area Networks by Thomas Barite 2010
12. Bluetooth stack.com what is Bluetooth - Definition and Examples of Bluetooth Technology by Donald Sanders 2009

...په تېر پسې:

د ننګرهار پوهنتون د اقتصاد پوهنځي مرام او موخې

مرام:

- ✓ د هېواد لپاره د پوهو او مسلکي کدرونو روزنه
- ✓ د علمي بنسټ پر بنا د هېواد د اقتصادي موسساتو پیاوړتیا
- ✓ د بشري سرچینو (Human Resources) د ظرفیت لوړول
- ✓ د عاید د عادلانه ویش لپاره تیوریکي لارښوونې
- ✓ د اقتصادي مؤسساتو د ښه مدیریت او د ملي اقتصاد لپاره د اغېزمنو پلانونو د جوړولو وړتیا رامنځته کول
- ✓ د (ANDS) د تطبیق لپاره په علمي کدرونو د مؤسساتو سمبالول
- ✓ د اقتصادي ستونزو د حل، د ملي تولیداتو د لوړولو او د استخدام د فرصتونو د ایجاد لپاره د علمي تحقیقاتو اجرا
- ✓ او په نهایت کې د انکشاف د ډېرو ښو لارو موندل او د ملي اقتصاد د رهبرۍ لپاره د معنوي زېرمې رامنځته کول

موخې:

- ✓ د اقتصاد پوهنځي فارغ باید د اقتصاد پوه په توګه اداري مهارت ترلاسه کړي، مسلکي پوهه ولري، اداري حقوق وپېژني، دندې او مسوولیتونه ومني.
- ✓ ملي ګټو ته په خپلو شخصي ګټو ترجیح ورکړي؛ متعهد، وطنپال او خلکو ته د خدمت جوګه وي.
- ✓ د همکارۍ او همغږۍ د روحیې په ارزښت پوه او په کاري ساحو کې د لازمو تدابیرو او تخنیکي وړتیاوو په لرلو سره د ښه خدمت مصدر وګرځي.
- ✓ د خپلې پوهې او خلاق تفکر څخه په عمل کې ګټه واخلي او د سالم تفکر په اساس ټولنه د ترقۍ او پرمختګ په لور وهڅوي.
- ✓ د اقتصاد د علم په کلي مفاهیمو او عمومي طریقو پوه او په معاصرو مسایلو خبر وي.
- ✓ د اقتصاد د علم د تاریخي- تکاملي پړاوونو او نظریاتو په نظر کې نیولو سره د مختلفو سکتورونو تر منځ د عمومي روشونو ارتباط ورکوونکی او خپلې ترلاسه کړې پوهې د ښه تشریح کولو وړتیا ولري.
- ✓ د وضعیت په تحلیل سره ستونزې مشخصې او د حل لارې ورته وسنجوي او د هغې مطابق عمل وکړي.
- ✓ دندو ته د لومړیتوب په ورکولو سرچینې تدارک او همغږې کړي.
- ✓ په شفاهي او تحریري بڼه وړاندیزپاڼې، پالیسۍ، د تحقیق نتایج او نظریات خلکو ته توضیح کړای شي.
- ✓ د اقتصاد په برخه کې د نوښت، لوړ ذکاوت او عمل په اجرا سره نورو ته د تشویق او ترغیب مصدر وګرځي.
- ✓ له نوې تکنالوژۍ او علومو سره په هماهنګ ډول د پرمختیا لپاره تدابیر وسنجولای شي.
- ✓ نوښتګر اوسي او د خطرونو منونکی وي.
- ✓ خپلې سیمې او د ټول هېواد د وګړو عنعناتو او مقدساتو ته درناوی ولري.
- ✓ په ټولو تولیدي او خدماتي سکتورونو کې د اقتصاد علم نظریات وکارولای شي.
- ✓ د هېواد تولیدي سکتورونو ته د نویو مارکېټونو د رامنځته کولو په برخه کې مخکښ وي.